Ketabton.com

(c) kotabton.com: The Digital Library



PROPERTY OF ACKU 4499

د

# رحمان بابا دیوان

خپروونکی

# پښتو ټولنه

د

۱۳۵۶ کال دزمری پنځلسم

۳۰۰۰ ټوکه

دچاپ شمیر

دولتی مطبعه

(c) kotabton.com: The Digital Library



خپل پیر ترلاسه د قدر وړ او ښایسته ملګری، او پیر لښه ملګری او پیر لښه ورور عنایت حال (شغل) ټاټوبی ته پیره مینه او ښه هیله ؤ وایی نوم د یادګار په دول ئې وساتي.

## چې کشور دافغانانو معطر کړي

خو راو ملګری دی ګل ملی رخانم)

## دهر بیت مصرع مې زلفي د خوبان کړي

(۹۰/۱۵۱/۲۸۵)

وړې لړنه مودې راهیسې د رحمان بابا د دیوان چاپي نسخې ناپیدا کیدلې نایابه ټوکې له پښتو ټولنې تصحیم ونیوچې د بابا یو نسبتًا جامع او ښه چاپ دیوان چاپ کړي. خرګنده چې کتاب دیوي علمي او ادبي اکاډمۍ له خوا خپریدلو لازمه وه چې ټرو سه وسه پوري اکاډمیک او علمي پرنسیپونه پلټنې وتاتل شي. د دې هدف د تحقق دپاره، له پخوا چاپي او شپاږس قلمي نسخو څخه استفاده وشوه. دا باور ې خبره ده چې د رحمان بابا د دیوان قلمي نسخې د پښتونخوا په هرګوټ کې پیدا کیږي خو له دیوي خوا د ملګرو ادبي ټولنو او علمي کړیو تاسو له بلي خوا د پښتو ټولنې مالي مرکې نا تو ان ځنډه نه وړ کوله چې دا کار نور هم وځنډیږي.

په همدې اساس، د پښتو ټولنې د کتاب او فولکلور لوی مدیریت ته وظیفه ورکړه چې د بابا د دیوان یو ښه اکاډمیک متن تیار کړي. د دې دیوان په څېړنیزه مقدمه کې د بابا ادبي سبک، "ژبه"، او د نظر طرز په ټولګړو څېړنیزو برخو کې د بابا اشعار و پر ماهیت باندې هم رڼا اچول شوې ده.

دلدیا خیرونکی د خپلو علمی خیرنو دپاره، البته، په دې نسخه باندې بسنه آوفناعت نشي کولی
ځکه سره له دې چې کتاب له یوشمیر نسخو څخه ترکیب توی دی خو هره نسخه یې د متنې کره کتنې -
textual criticism له مخې څانګړې مطالعه اوڅېړنه غواړي. له دې امله، د دې
نسخې په چاپیدلو سره دادبي کره کتونکو وظیفه پای ته نه رسیږي بلکه په نوي افق کې د خپلو خیرنو
ته دوام ورکوي.

زه دلته درحمان بابا د فکر او درحمانیه تعبیر اوتفسیر څخه مه په کوم حرکت یې هر څوک یې له
هیلکو څخه یې بل رنګ وینې اوبهره به دې څیړنه کې په دې باره کې څانګړې رسالې یا کتابونه وړاندې شي.
سره له دې، دلوهاب اد فوکلور دلوړ مدیریت له خوا درحمان بابا یو لنډ بیوګرافي ترتیب توې ده
چې مبتدي لوستونکي له ځینو عمده اوڅرګنو اساسي ټکو سره آشنا کړي اود بابا ژوند درناوي څېړنې په
چلېنج ودروي.

دغه کتاب پنځه تدوین کې د لوهاب اد فوکلور د لوړ مدیریت مسلکي غړو نه غلي محمد عارف غمدال،
نه غلي عزیز الله، نه غلي شاه ولي اونه غلي محمد عمر اونورو ډېرو ښاغلو پوهانو نه پرلپسې ګډې
په دې وسیله دوی دزیار اوډېر اهتمام یادونه کوي اود پښتو ژبې اوادبیاتو خدمت په لاره کې دوی
دنوي تو بر یالیتوب ښودنه کوي.

۱۳۵۵/۷/۱

خیرنوال محمد صدیق روهي
د پښتو ټولنې رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رحمان بابا

## ژوند پېژندنه او دیوان

لیکوال

حبیب الله رفیع

ما غوښتل چې په دې لیکنه کې د رحمان بابا په ژوند پسې،
فکر او فن لږ شپږ خبرې وکړو. لټون مې پیل کړ، یادداشتونه
مې راغوندې کړل، دې پرې نوې خبرې مخې ته راغلې مجبور وم چې په ټولو
وغږېږم نو ځکه خبره د دیوان له سریزې څخه لږه لرې کتاب ته اوږده شوه.
په دې سریزه کې د رحمان بابا د فکر او فن له څېړنې څخه تېر یې مرحلې چې له یوې خوا خبره -
اوږده دې یې اوله ربله پلوه د دې فکر او فن په دې دیوان کې ستاسو په مخ کې دی. نو
یوازې ژوند پېژندنه اوله دیوان سره مربوط مطالب یې راوړې، البته دده په باب به
هر اړخیزې خبرې په هغه ځانګړې کتاب کې چې "رحمان بابا - د پښتو عالمګیر" مې نوم ورته تاکلی دی راوړې شي.

زه عاشق یم سر وکار مې دی له عشقه
نه خلیل، نه داؤدزی یم، نه موسی

# [ I ]

## درحمان بابا تاریخي څېره

د رحمان بابا لکه څومره چې په پښتنو کې وتلی او منلی شخصیت دی هما غومره یې ـ ژوند پېښې تتې اودتاریخ په تیارو کې پټې دي، داځکه چې دی دیوې غریبې کورنۍ غړی وُ اودغریبانو ژوند اومرګ ته چا ددې ارځښت نه ورکاوه چې ځان پرې ـ ستړی کړي او ژوند پېښې یې وکاږي؛ دده ژوند هغه وخت ارځښت ومونده چې دخپل شعر په قوت د پښتنو زړونه اود "روه" سیمه تسخیر کړل اودتولو پام یې ځان ته وراړاوه خو داداسی وخت وُ چې دده ژوند درې خدهېر شوي وو.

دده ژوند پېښو په باب د پرو کسانو داتکل نیلی خُغلولی او د پرې خبرې پرې شوې خو دده په باب د پرحقایق پټ هم پاته شوي او د پرداسې څه هم ورسره ترل شوي چې په اصطلاح دده ارواهم تري خبره نه ده.

**تبر، کلی اوزوکره :** رحمان بابا د پښتنو د روایتی سلسلة النسب له مخې "سربن"[1] په سربن کې غوریاخیل[2] په غوریاخیل

---

(۱) یوکتاب په سربن کې چاونه کړ — بې رحمانه چې یې وکړ دا کتاب
(د رحمان بابا دیوان، کابل پښتو ټولنه، ۴۱ مخ)

سل سربنی دي تر دا یو غزل ځایین دي — من چې دا پښتو د کړلانی خوشال ویلې
(کلیات خوشحال خان خټک، د دوست محمد خان کامل په سریزه ۶۸۰ مخ)

پاتې په (۳) مخ کې

کې "مومند" [۳] په مومند کې "دويزی" [۴] او په دوين يوکې "ابراهيم خپل" [۵] دی.
راورتی دی په مومند وکې غوريا خپل بولي [۶] خوشحال نگه چې مومند د غوريا خپلو
سناخ دی نو ځکه نو موږ ی ختيځ پوه تپروتلی او دخبرې دسنه سپينتابه له پاره له
مومند نه تر سرې بن پورې شجره دلته کاږو :

---

د (۲) مخ پاتې :

فکر کيږی چې له سرې بنی نه مراد رحمان بابا وي او رحمان بابا دابيت دده ځواب گنهل کيږای شي :

يوخوشال يوکم سل ختک نور په طبيعت کې ځار شه د رحمان سرې بني له يوه فرده

(رحمان بابا ديوان ، کابل ، ۱۴۲ مخ)

بيا په دوه دشاه عالم په څير بنو کې راسنگاړه شو په جهان عبدالرحمان

(پيراحمد شاه رضوانی - روهی گلونه ، ۱۲۳ مخ)

(۳) - زه ختک ديار په غم تازه تازه شم غوږيه خپل رحمان که شو وځنې ستری

(عبدالقادرخان ختک ديوان ، داستاد حبيبي تدوين او تصحيح ، ۱۳۴ مخ)

ددې مخ دمتن پايليکونه :

(۱) که يې شعر د رحمان مومند ترغوږ نشی غوږ به نه باسي په شعر دخوشال خوک

(رحمان بابا ديوان ، کابل ، د استاد بينوا په سريزه ، ۹۴ مخ)

خدايه دلبني مومند عبدالرحمان پرې نازل کړې خپل رحمت لکه باران

(ديوان عظيم (عبدالعظيم افغيزی) لاهور ۷۶ مخ)

(۴) ما نجيب هم په دا طور غزل ووې که ويلی دويزې عبدالرحمان دی

(ديوان نجيب ، د پيښور پښتو اکادمی ، ۲۷۳ مخ)

دملا نبا ليسته خان په جونگ کې هم چې د رحمان بابا د ژوند وخت ته ورلنډ کښل شوی ، دده له نامه سره د دويزې کلمه شته

(د ملا نبا ليسته خان جونگ ، قلمی نسخه ، د ليکوالو نکې کتابتون)

(۵) "رحمان بابا لکه چې پاڼې هيوادليکي ابراهيم خپل مومند وُ . د پيښور د مومندو په تپه کې چې کوم خلک ځان د رحمان بابا نسبی او
عزيزان بولي هغوی په ابراهيم خپلو يادوی ... " (رحمان بابا ، دوست محمد کامل مومند ، پيښور ۱۹۵۸ ع. ۸ مخ)

(۶) کامل ، دوست محمد : "رحمان بابا" ، ۵ مخ

# خلورم




---

* . دې شجرې په ترتيب لوکی دخواجه نعمت الله هروي له " مخزن افغانی " په ۱۹۶۲ع . کال کی دکابل چاپ دحافظ رحمت خان له "خلاصة الانساب" په ۱۹۷۳ع . کال د پيښور د پښتو اکيډمۍ چاپ، دافضل خان خټک له "تاريخ مرصع" په ۱۹۷٤ع کال کې د ديوسوسټی بک ايجنسۍ چاپ ، دظفر کاکاخيل له "پښتانه دتاريخ په رڼا کې" په ۱۹۶۵ع . کال کی د ديونيورسټی بک ايجنسۍ چاپ ؛ څخه استفاده شوې ده .

(۷) "پښتانه دتاريخ په رڼا کې" دالوم "گند" کاږي .

(۸) "تاريخ مرصع" دکاسي نوم نه اخلی .

(۹) دالوم "خلاصة الانساب" د "شمخی" محرف بولی، مخزن افغاني يې "شيخا" او "خرخشی" قيدوی، پښتانه دتاريخ په رڼا کې يې په دريو نومونو "شيخا، خونې خاسی" راوړي

(۱۰) د "غوريا" نوم مخزن افغاني "غوري" او "غوړا" اوتاريخ مرصع "غوری" راوړي .

(۱۱) خلاصة الانساب اومخزن افغانی خپلې نسخې (چې دخلاصة الانساب اخځ هم دي) دغوريا زامن پخه بولي په دې ترتيب :
"خليل ، داؤد ، مندك ، يوسف ، مومند " اوبه دې اساس مومند او داؤدزی دخليل وروڼه نه بلکه وروڼه ګڼي اوسبکاري چې رحمان بابا هم دهمدې عقيدې په اغېز کې وايي :
"نه خليل نه داؤدزی يم نه مومند "
دمخزن افغاني خپلې نسخې د "دولت يار" وجود دخپلې فولکلوری روايا تو په اساس ردوي اومومند اوداؤد ده زامنو په توګه غلط بولي.

(۱۲) د مخزن افغاني معتبرې نسخې دغوريا په زامنو کې ترخليل وروسته د "منون لي" په نامه يو نوم نور يا توي اودغوريا زامن پخه بولي.

(۱۳) دالوم د مخزن خپلې نسخو "جوکن" ضبط کړی دی.

(۱۴) د "زيرانی" نوم مخزن افغاني "زيرانه" راوړي دی.

(۱۵) د "ملی" نوم مخزن افغاني اوپښتانه دتاريخ په رڼا کې "ملهی" کښلی دی.

(۱۶) د "ترك" نوم په خلاصة الانساب اومخزن افغاني کې نشته.

(۱۷) د "شجاع" نوم هم خلاصة الانساب اومخزن افغاني نه راوړي.

(۱۸) دالوم خلاصة الانساب اوپښتانه دتاريخ په رڼا کې "مهيار" کاږي.

# پنځم

رحمان بابا په "بهادر کلي" کې چې له پښتنو څخه دی، خلور میله لیرې[19] جنوبي اړخ ته پروت دی[20] له عبدالستار مومندکره وزېږېده[21] پته خزانه د محمد رسول کلاته لاندې د بیاض[22] له مخې د رحمان بابا د زېږېدو کال (۱۰۴۲ هـ.ق.) ښيي[23] چې څه هم ځينې کسانو مخه کړې چې داسې نه وي خو بيا غلي کامل مومند په خپل - "رحمان بابا" نومې تحقيقي اثر کې د زيار ايستلی چې داتکلونو په اساس دې کال په څنګ کې دې نور کلونه وړاندې کړي خو بريالی شوی نه دی او مجبور شوی چې د خپل بحث په پای کې بيا هم دده زېږېدل دهمدې کال شا او خوا وبولي.[24]

د پښتونستان يوبل مؤلف بيا غلی عبدالحليم اثر سره له دې چې د پښتو د پښتو اکېډمۍ د پښتو مجلې د ۱۹۷۶ م. کال د اپرېل په ګڼه کې پته خزانه يو د پر باور ي کتاب بولي خو د بيا غلي مير عبدالصمد خان د "رحمان بابا شاعر انسانيت" د کتاب په سرېزه کې بې له دې چې کوم اخځ وښيي، کاږي چې سوانح ليکونکی د رحمان بابا د زېږېدو کال ۱۰۴۰ هـ.ق. بولي![25] بيا دا کال ر دوي او جالبه" چې د اځل هم بې له دې چې کوم لاسوند ولري، ليکي: "زما د معلوماتو (؟) له مخې رحمان بابا د ۱۰۳۸ هـ. ق. کال د جمادی الثاني په ۲۱ نېټه د جمعې په ورځ د پښتو له مضافاتو څخه په بهادر کلي کې وزېږېد".[26]

د رحمان بابا نومې بې ليکوالو کتابونو هم د رحمان بابا د زېږېدو په باب د فکر نيلی - ژغلولی او د پته خزانې د صراحت په خلاف يې دده د زېږېدو کال ۱۰۶۳ هـ.ق. اتکل

---

(۱۹) عبدالصمد خان، رحمان بابا شاعر انسانيت، ۱۹۷۴ ع. پېښور، ۶۹ مخ.
(۲۰) حبيبي، استاد عبدالحی، پښتانه شعراء (لومړی ټوک)، ۱۳۲۰ ش.، کابل، ۱۹۲ مخ.
(۲۱) محمد هوتک "پته خزانه" د لوی استاد پوهاند عبدالحی حبيبي په سرېزه، سمون او تشريح ۱۳۴۳ ش. کابل ۹۳ مخ.
(۲۲) د دې بياض نسخه محمد هوتک ليدلې وه خو اوس يې چېرته پته نشته او د زماني پېښور له ستر ګو ونيا کړې ده.
(۲۳) پته خزانه، ۹۳ مخ.
(۲۴) وګورئ: له ۷ تر ۱۶ مخ پورې.
(۲۵) رحمان بابا شاعر انسانيت، ۱۳ مخ.
(۲۶) همدا اثر.

## کړی دی.(۲۷)

دهپواد پیاوړی محقق لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبی درحمان بابا دژوند په باب دپښتي خزانې وینا سمه بولي اود هیڅ شک ځای نه پکې وینې (۲۸).

په دې ترتیب وینو چې درحمان بابا دژوکړې په برخه کې دپښتي خزانې دوینا په مقابل کې ماتونکی سند نشته نومونږ په دې برخه کې دده خپل دیوان ګورو چې هلته ددې وینا په رد یا منلو کې څه موندلای شوکه نه ؟

رحمان بابا په خپل دیوان کې دلندې ډیر یوه اوږده بوللرې ، چې ددنیا بې وفایي او دخپل ځان سپینې بږې توب پکې انځورولی اود اورنګ زیب په مړینه بحث اوساندې پکې کوي ، دابوللره ظاهراً په ۱۱۱۸ هـ.ق. کال چې داورنګزیب دمړینې کال دی(۲۹) اویا هم احیاناً په ۱۱۱۹ هـ.ق. کال ویلې شوې ده . په دې بوللره کې یو بیت داسې لولو :

ترپنجاو پنجه تیرشوې  ته لاځان بولې پسر(۳۰)

نوکله چې دی په ۱۱۱۸ هـ.ق. کال ترپنځه پنځوس تیر وبولو اوداترپ والی هم دده شپیته کلنی ومنو نوبیا دده دژوند پدوکال ۱۰۵۸ هـ.ق. راځي اودپښتو خزانې ترسنې (۱۶) کاله راوروسته کېږي خودپښتو خزانې کال له دې سره هم نه ږدېږي. ځکه چې دابیت درحمان بابا دد یوان په بېلو- بېلو نسخو کې یوله بله توپیر لري.

---

(۲۷) محکمهٔ نشر واشاعت قبایل،"رحمان بابا". داکتاب نه دلیکوال لومړلری اوښې دچاپ کال شته اوښکاري چې دکوم غرض له مخې په دې برعجولانه دول درحمان بابا په باب دا افکار و دتشتت پاره خوروشوي.

(۲۸) - حبیبي ، پوهاند عبدالحی ؛ دافغانستان پښتانه ، ۱۳۵۳ ش ، ۱۴۰ مخ.

(۲۹) محی الدین اورنګزیب عالمګیر دکورګاني شاهجهان دریم زوی دی چې په ۱۰۲۷ هـ.ق. کال دهند په احمد آباد کې وزېږېدلې . په ۱۰۶۸ هـ.ق. کال یې خپل پلار بندي کړ اودی پرتخت کښناست ده دخپلې واکمنۍ په دوره کې پښتانه ډېر وکوتل اوپه پښتونخوا کې ددې په ضد پیاوړي مبارزې دملي تاریخ برخه بالونه دي . (دتفصیل له پاره وګورئ : تاریخ افغانستان درعصر کورګانیان هند ، دلوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبی اثر ، دخوشال خټک مرغلرې ، کلیات خوشال خان ، ارمغان خوشحال او نور ....).

(۳۰) دیوان عبدالرحمن ، دپښتو اکیډمۍ ، ۳۸ مخ.

# اووم

او خصوصاً د رحمان بابا د دیوان په یوه هغه نسخه کې چې د پسنتو ټولنې په کتابتون کې ساتلې کېږي، دا بیت داسې دی:

تر پښو وشسته تېر شوې  تـه لا ځان بولې پسر

او په دې متن کې هم همدا بیت داصل په توګه راغلی دی.

د پټې خزانې د سنې له مخې د اوخت د ده عمر ۷۶ کلو ته رسیږي او تر شپیته کلنۍ تېر بېدل شپږ اویا کلنۍ ته رسېدل نه مقید وي نو ځکه د پټې خزانې وینا بیا هم سمه او په ځای ده.

## استوګنه، زده کړه، اوسفرونه:

مونږ مخکې وویل چې رحمان بابا پېښور ته ورځېږمه په لهاد ر کلي کې زېږېدلی دی. راورتی لیکي چې دی د پېښور د مومند و د ټبې په هزارخانۍ نومي کلي کې اوسېده[۳۱] دا چې رحمان بابا په هزارخانۍ کې اوسېدلی له نوره روایا تو څخه هم سنکاري خو اچې دی په خپله علت له لهاد ر کلي څخه هزارخانۍ ته تللی د څېړلو ور ده.

لوی استاد پوهاند حبیبي په دې برخه کې کاږي: "... عبدالرحمن په خپله زمانه کې یو صوفي مشرب او په عشق کې داسې ډوب شاعر تېر شوی دی چې خپلې فقیرمزاجۍ او په خپل عشق کې فنا شوی حالت - دی د خپل کلي (نه) هزارخانۍ ته په تلو او استوګنه مجبور کړ."[۳۲] په دې توګه وینو چې د رونډ او محترم استاد د ده د لېږد علت د ده فقیرمزاجي ګڼي.

د "رحمان بابا" لومړی کتاب نامعلوم مؤلف د ده د دې لېږد له پاره لاندې دوه علتونه توږي: "... لکه څنګه چې مشهوره ده رحمان بابا پیدا شوی خو په لهاد ر کلي کې وخوږ و ستو

---

(۳۱) - کامل مومند، دوست محمد، رحمان بابا، ۹ مخ.

(۳۲) - پښتانه شعراء، ۱۹۲ مخ.

دځینو وجوهاتو له کبله یې خپل کلی پریښود او هزارخوانۍ (؟) ته راغی. په دې وجوهاتو دوه خبرې زما په خیال قیاس ته ډیرې نزدې دي : یوه داچې ده په هزارخوانۍ کې ډیر خواخوږي خپل خپلوان لرل دهغوی کشش دی هلته بوتله اودویمه داچې دی د علم حاصلولو دپاره هزارخوانۍ ته راغلی وي اوبیا دهمدې ځای شوی وي ، بلکه دادواړه قیاسونه یوځای کولی هم شو چې د علم د تحصیل له پاره هزارخوانۍ ته راغلی وي. دلته یې خپل خپلوان وي . استوګنه یې دهغوی کره وي . وروسته یې واده هم دلته کړې وي اوبیا دهمدې ځای شوی وي .(۳۳)

سنا غلی اثر له بها در کلی نه هزارخانې ته د رحمان بابا لپاره د پدل د قبایلي ولسونو(۳٤) له مخې بولي اووایي چې د دې ولسونو په سلسله کې د دوی کور هزارخانې ته راغی(۳۵) دا انګل ځکه سم نه برېښي چې که رحمان بابا د "ولسونو" دوران ته لوړیدلی وای نو باید لس دوولس کاله وروسته په هزارخانې کې هم نه وای پاتې شوی اوکومې بلې سیمې ته لاړ دول شوی وای ، سره له دې چې دده ټول ژوند په هزارخانې کې تېر شوی اوهم هوږې مړ اوخښ شوی دی.

زما عقیده داده چې سنایي د رحمان بابا د کورنۍ اصلی ځای هزارخانې وي اوپه موقتي دول بها در کلي ته تللی وي چې داوخت دی هم هوږې نه ښه پدلی اودماشومتوب دوره یې تېره کړې وي . د دې یو دلیل دادی چې پښتانه خپل مړی په خپله اډیره کې خښوي . نو که د دوی صلي ځای بها در کلی وای حتماً به یې دده مړی بیرته بها در کلی ته وړې وُ ، سره له دې چې دده مړستون (قبر) په هزارخانۍ کې دی اوهم دومره و

(۳۳) رحمان بابا ، محکمهٔ نشر واشاعت ، ۱۷ مخ.

(۳٤) د ولسونو قوانین د پښتنو لوی مفکر او مقنن شیخ ملی جوړ او په خپل دفتر کې یې وکښل د دې ولسونو لړۍ د ولسو د وولسو کلو کې د پښتنو د ټولو - ټولو کورنیو ترمنځ محکمه اوکړه وند سره بدلیدل اود بالغانو په سر به ولسونو کښیده . شیخ آدم ملی په قام یوسفزی اوخپل قام ملی مشر وُ چې د ۸۳۰ هـ. ق کال په حدودو کې یې ژوند کاوه (د تفصیل له پاره وګورئ : د پښتو ادبیاتو تاریخ (دوهم ټوک) ، داستاد حبیبی تالیف له ۲۳۵ تر ۲٤۲ مخ پورې).

(۳۵) رحمان بابا شاعر انسانیت ، سریزه ، ۱۷ مخ.

# نعمت

دویزی په هزارخانه کې استوګن سنکاري څکه چې درحمان بابا تر ټولو فند څوکالنه راوسته دا احمدشاه بابا په دوره کې یوبل دویزی مومند چې رکن الدین نومیږي اوشاعر دی هم په هزارخانه کې میشته وُ ، دی وایي :

که ظاهر لیه ساکن هزارخانه کې  زړه مې خاص دی ستا دد ر په دربانه کې
په نسب کې دیوزی یا مهمند ی یم  ستا ... ددر بندي یم (۳۶)

درحمان بابا داستوګنځی په باب کې حقیقت هرڅه وي خو دامنلی خبره ده چې د ی په لهادر کلي کې زېږېدلی ، په هزارخانه کې استیدلی اوهم هلته مړشوی او خښ شوی دی.

اوس درحمان بابا ژوند کړې اودعلومو تحصیل ته رسیږو ، پښتو خزانه دده ژوند کړې په باب کاږي :

" رحمان بابا له ملا محمد یوسف یوسفزي څخه لوست وکا اوله هغه څخه یې فقه او تصوف زده کړل ، بیا ولاړ کوهاټ ته ، هلته یې هم سبق ونه ولوستل اوبنه عالم شو . په ځوانۍ کې دنیا پرېښو دله اوډیر به په عزوګرځیدی او کله به ولاړ هندوستان پرخوا او د خدای عبادت به یې کاوه ددنیا په کار وبه نه مشغول کیدی ، عبدالرحمان بابا یوعالم ربانی اوعابد سړی وُ "(۳۷)

بنا غلی عبدالحلیم اثر بې له دې چې ډېلې وینا له پاره کوم تاریخي سند ملاتړ وښیي ، دده ژوند کړې په باب ترډېره زیات معلومات وړاندې کوي اولیکي چې : رحمان بابا تر زېږېدو اووه کاله وروسته په ۱۰۴۵ هـ.ق. کال په لهادر کلي کې له مولینا عبدالحق څخه قرآن مجید اولږ لومړنی دیني علوم زده کړل ، په ۱۰۵۲ هـ.ق. کال یې له مولینا محمد یوسف دمولینا محمد یعقوب یوسفزي له زوی څخه د پېښور په سلطان پوره کې

---

(۳۶) شاهنامهٔ احمدشاه ابدالی ، پښتو اکېډمۍ ، پېښور ، ۱۹۶۵ع . ضمیمې برخه ، ۲۰۸ مخ.
(۳۷) پښتو خزانه ، عکسي چاپ - ۱۲۵۴ ش . د پښتو د پرمختیا اوپیاوړتیا آمریت ، ۴۴ - ۴۵ مخونه.

(c) kotabton.com: The Digital Library

لسم

زده کړه وکړه ، بیا حضرت محمد صدیق پښتوړی ته کوهاټ ته ورغی . خرنګه چې محمد صدیق پښتوړے د پښتو لوړ شاعر وُ ، نو دا وخت رحمان بابا ته لږه نه دفیض موندلو موقع لاس ته ورغله ، همدا وخت یې د شعر او شاعرۍ دور پیل شوه ، دخپل استاد په غزلونو یې د پرتوالی غزلونه جوړ کړل چې لمونې یې په دیوان کې شته (۳۸).

په ۱۰۶۱ هـ.ق. کال کې بیا د کوهاټ په شپږ کوټ کې د اخوند محمد یوسف سره وُ ، په ۱۰۶۶ هـ.ق کال په پاس شپږ کوټ کې وُ ، په همدې کال یې د اخوند درویزه له لارې د اخوند کرمیداد سره وکتل او حاجي بهادر کوهاټي چې د اخوند کرمیداد مخلص وُ د رحمان بابا استاد او طریقي لارښود وُ . دې دوه کاله په پښور کې د اخوند کرمیداد په حضور کې وُ او د کبرویه سلسلې بیعت یې ترې وکړ او د شعر او ادب په دې خاص مکتب کې وروزل شو (۳۹).

داسې ، د کار او د رحمان بابا د علمي او ادبي زده کړې په باب ، په زړه پورې معلومات د خوشحال چې سپاغلي اثر خپل سند سنوولی وایي ، خکه په داسې زړورتیا د کلونو او پښتو سنودل او په داسې قاطعیت د پښو بیانول د تاریخي څېړنو په برخه کې د تینګ سند ترسنوولو پورې هیڅ اعتبار نه لري ، تاریخي پښتني او نیټې په قاطعیت سره راوړل د اټکل او اند کار نه دی د کار پوخ سند اولاسوند غواړي. نو کله د سپاغلي اثر دا معلومات رښتینی وای او غوښتی یې چې څوک یې ورسره ومني سپایي د خپلو خبرو ملاتړ یې په تینګو سندونو کړی وای ؛ خو څرنګه چې سند نه لري نو همدومره د پټې خزانې د باور سند په درلودلو سره دا یې سنده خبرې نشو منلای.

---

(۳۸)- رحمان بابا شاعر انسانیت ، داثر سریزه ۱۳-۱۴ مخونه
(۳۹)- همدا اثر ، ۱۵-۱۷ مخونه

مخکې مو وويل چې پښتې خزانې د محمد رسول کلاتوال د کښنې له مخې د ده د زېږېدو کال ۱۰۴۲ هـ.ق. ښودلی اوبل داسې سند نه لرو چې داسې غلطه وباسي نو ځکه د اثر صاحب د اخبره چې تذکره کې لیکونکي د ده د زېږېدو کال ۱۰۴۰ هـ.ق بولي اوده د اخبره چې زما د معلوماتو له مخې د رحمان بابا په ۱۰۳۸ هـ.ق کال زېږېدلی دمنلو وړنه ده د اخبره هم د منلو وړنه ده چې رحمان بابا په ۱۰۴۵ هـ.ق کال په زړه کې پیل کړی وی ځکه چې دی د اوخت د ړې کلن و او په ډېرې کلنۍ کې مېخ ماشوم هم په منظمه زړه کې پیل نشي کولای ، په همدې دول یې نور کلونه هم د رد ولی.

پاتې شوه له محمد صدیق پسښوری څخه د ده د ادبي زړه کړې موضوع ، مونږ په لیسټ تذکرو کې د صدیق په نامه یو شاعر لرو چې د بشپړ دیوان پته یې لا تر اوسه نشته خو دوینا و لمونې یې له دوولاړو مونږ ته رارسېدلې ، لومړی د چمن بې نظیر په خطي نسخه کې (۴۰) د ده د اوولسو غزلونو موجودیت دی چې پا د ړي هیوا د په کلیدِ افغاني (۴۱) کې د دوې غزلې ترې راخیستې او بیا د اغزلې لوی استاد پوهاند عبدالحي حبیبي په لومړی ټوک پښتانه شعرا (۴۲) کې راوړې دي . اوبل د ملا سنا یسته خان په جونګ کې (۴۳) د ده یوه غزل او یو بیت دي چې ما په ادبي ستوري (۴۴) کې ترې راخیستي . د اشاعر لوی استاد پوهاند حبیبي په متوسطه طبقه شعرا وُ کې د رحمان بابا له پیروالو څخه بولي (۴۵)

---

(۴۰) چمن بې نظیر د پښتو شعر یوانتخابی اثر دی چې د پښتو د ۲۹ ټولنو رکو اونامتو شاعرانو شعر ونه پکې راغلي او په الفبایي دول ترتیب شوی دی . ( د برتانوی تاپوګانو په کتابتونو کې د پښتو قلمي نسخو کتلاګ ، د بلوڅارت او د آکټر مکینزي تالیف ، لندن ۱۹۶۵ع .. د اثر ګران ملګری سنا غلی عنایت الله محرابی راته ژباړلی چې په دې وسیله منندوی کوم . )

(۴۱) کلید افغاني د پښتو د نثر او نظم اولیکنو مجموعه ده چې پا د ړی هیوا د تولې کړې ده او موږ نسخه یې چې په ۱۸۷۲ع . کال خپره شوې ۴۱۸ مخونه لري ( د پښتو ټولنې تذکره ، حبیب الله رفیع ، د افغانستان اکاډمي ، د تاریخ اوادب ټولنه ، ۱۳۵۰ ش ، ۶۸-۶۹ مخونه . ) .

(۴۲) وګورئ پښتانه شعرا ، لومړی ټوک ۳۰۸ - ۳۰۹ مخونه .

(۴۳) د ملا سنا یسته خان جونګ د دوولسمې پېړۍ په وروستۍ برخه کې راغونډ شوی او یوه نسخه یې د لیکنو کې په کتابتون کې ده .

(۴۴) وګورئ : ادبي ستوري ، لومړی ټوک ، حبیب الله رفیع ، پښتو ټولنه ، ۱۳۵۳ - ۲۴۷-۲۴۸ مخونه .

(۴۵) پښتانه شعرا ۱ / ۳۰۸

اوا غلب گمان دادی چې تر رحمان بابا کشر اوددوولسمې پیړۍ په دومه نیمایي کې
به یې ژوند کړی وي . که له محمد صدیق پیښوري څخه دسنا غلی اثر همدا صدیق مراد
وي داسې خو ظاهراً تر رحمان بابا را وروسته دی اوکه بل سړی وای نو سنایي سنا غلی
اثر دده په باب مستند معلومات وړاندې کړی وای ، هغه ځای یې سنو دلی وای چې
دده دیوان یې ساتل کېږي اودهغه اثر نومړی اخیستی وای چې دده په باب
معلومات لري ، همدارانه دصدیق په نامه نور شاعران هم تر ده راوروسته دی* ، رحمان
بابا کوم غزلونه اوبیتونه چې اثر صاحب د محمد صدیق پیښوري دغزلونو اوبیتونو
په پیړۍ بللي کېدای شي چې دده له خوا دسند د نه سنو دلو تر وخته پورې داغزلونه
اوبیتونه د رحمان بابا دغزلونو اوبیتونو په پیړۍ وبولو اوصدیق د رحمان بابا شاګرد وګڼو
نه رحمان بابا دده !

همدارانه له اخوند کریمداد د رویزې یې اوحاجي ظاهر د کوهاتي څخه دده علمي اوادبي نړۍ
د کوم سند له خوا نه تأیید ین یې اوخصوصاً دده په دیوان کې داسې اشارې اودلایل
شته چې دی د فکر اوشعر له مخې د رسنانیانو پیړو ؤ اود رسنان په هغه رسنا نه لاړه
یې یون کاوه چې د رویزه یان یې کلک مخالف وو اوددې لارې په وړانولو کې یې تول
ژوند صرف کړی ؤ . (٤٦)

په هرحال ، دپښتو ژبې صراحت اودده دخپلو وینا ؤ شهادت څرګندوي چې رحمان بابا
د وخت د ودې علومو لوستي ووا ود علم تر بشپړ تابه د روسته یې باطني تزکیې او تصوف ته
لاس اوږه کړی ؤ اوپه سنه پوهه اوبصارت یې مسایل څېړلای اوتحلیلولای شوای .
ده سنه علمي اوادبي مطالعه درلوده ، دیني مسایلو یې په شعر ونو کې ځای په ځای بیان

---

* وګورئ هیواد مل ، زلمی : فرهنګ د ژبان وادبیات پښتو ، دص د دیف .

(٤٦) په دې موضوع ما په "رحمان بابا - دپښتو ژبې عالمګیر" نومې اثر کې داسنا دو په رنا کې بشپړ بحث کړی چې څېړنه د ارب د علاقمندانو خدمت ته وړاندې شی .

شوې چې په ديني علومو کې دده د سبو معلوماتو څرګند ولي کوي اوهم دده په شعر وتو کې
دارزاني ، ميرزا ، دولت اوخوشال خان يادونه سبيي چې ده د دې شاعرانو د پوانوته
لوستي وو اوده په ادبي پياوړتيا کې د دې شاعرانو د شعر د وند اغيز و ، همدارنه
ده د دې شاعرانو د پوانوته هم په ژوره توګه کتلي وو اوځاى په ځاى يې د دوى
له ويناوو څخه لفظي او معنوي اخيستنې کړې اود ديوان په هغو دوو نسخو کې چې له ما
سره شته د حکيم سنايي غزلوي لومړۍ احتماً اخيستې اوويلي يې دي :

په لسبتو کې رحمان وويې
په فارسي کې سنايي

دده ادبي لټون دومره پياوړى وُ چې د لسبتو اودې د هغو شاعرانو شعر وته
يې هم لوستي وو چې له ده سره يې د ژوند وخت لږ واټن درلود د لمونې په توګه
ميرزا عبدالقادر بيدل چې په ١٠٥٤ هـ.ق. کال[٤٧] يعني ټوله ورځ وسته زيږيدلى
يو بيت لري

هر که پا کج مينګذارد خون دل ما ميخوريم  شيشهٔ ناموس عالم در بغل داريم ما[٤٨]

او رحمان بابا وايي :

که سبسبه د نام ونګ دې شي تر څنګه  د هر چا په کږ وي به خپل ځيګر خوري

نو که په دې بيتونو کې د تواړ دله موضوع نه ستر ګې پټې کړو ليقيناً رحمان بابا تر د بيدل
پورې تنې بيت ورته سپکې دى .

د رحمان بابا د سفر اوچيرته تګ په باب پته خزانه وايي : "... په ځوانۍ يې دنيا
پرلسبو دله اواګش به په غږ و ګرځيدى او کله به ولايې د هند وستان پرځوا ..." خو
بنا غلى کامل مومند داوينا د رحمان بابا دا ځيني بيتونو له مخې سمه نه بولي اووايي چې دى

---

(٤٧) احوال و آثار ميرزا عبدالقادر بيدل ، دکتور عبدالغني - د ميرمحمد آصف الضاري ژباړه ، کابل پوهنتون - د ادبياتو پوهنځى ، ١٣٥١هـ.ش / ٩ مخ
(٤٨) کليات ميرزا عبدالقادر بيدل . توک

چې ترته نه دی خوږ پدلی . په دې برخه کې په خولو ورو بیتو سره بڼه دا بیتونه راوړي:

هم په داچې نه لرځایه چې ترته خوځښم  نه د چا مخلوق یم منت بار

نه مې سنګته ملک لپدلی دی نه پورته  خبر نه یم په یمین او په یسار

آب وخوړلکه آسیا په ځای را رسي  په خپل کور کې مې سکون دی هم رفتار (۴۹)

په بر سیرن نظر به د دې بیتونو په رڼا کې د پټې خزانې وینا ناسمه وبولو خو له لنډ غور نه وروسته که ووایو څرنګه چې د دې بیتونو دویلو نپټه نه ده څرګنده نو سبا یې هغه ټول بیتونه به چې سبا غلی کامل راوړي رحمان بابا تر خپل سیر اوسیاحت وروسته یې ویلي وي ځکه مونږ ته ثابته ده چې ده شاعري له زلمیتوب څخه پیل کړې او دیوه شاعر په دیوان کې یو دبل ماتوونکي شعر وینه له همدې کبله . مونږ کولی شو چې یو شعر یې د ټرونډ دیوه وخت او بل یې د بل وخت وي . او که په دې پسې د رحمان بابا دا بیتونه هم ولولو چې :

روښنایي مې په طلب کې شوه حاصله  شپه او ورځ لکه آفتاب په لار روان یم

چې صفت د تور وزلفو داشنا کړم  پلی سر په لویه لار د هندوستان یم

داشنا زلفې مې وینوی په لاس کې  * * * * بند په لار د هندوستان ولیدی در یغ

نو نه یوازې دده "سکون" ماتوي بلکه صراحتاً د هندوستان د سفر یادونه کوي او ثابتوي چې دی هندوستان ته تللی دی. او که تر دې وروسته دا بیت هم وګورو :

سنتا په زلفو په رخسار پسې د رحمان شوې بې وطنه  مسافر د هندوستان د خراسان دی زما روح

نو نه یوازې دا تر دې زیاد پرې چې دی هندوستان ته تللی وُ ، دا هم ثابتوي چې دی خراسان ته هم راغلی وُ ؛ ځکه چې پیښور د لرغونی خراسان په ساحه کې نه وُ او دا بل بیت که

---

(۴۹) رحمان بابا ۱۷ مخ .

# پنځلسم

ددې وي[50] چې پرې وړیات کړو :

چې مېوې یې د کابل خورلې نه وي  د هغوله فحمه وخلکې شي گور گوري

دا اتکل هم په لاس راکوي چې دې کابل ته هم راغلی او دلته یې دومره وخت تېر کړی
چې د کابل بېلابېلې مېوې یې خوړلې دي ځکه په هغه وخت کې د ارتباط دحمري
وسایلو دنشتوالي له کبله کابل او پېښور د پرسره لرې وو او د کابل مېوې
په هغه صلحکم او کیف چې رحمان بابا یې ستایي پېښور ته نشوې رسېدلی.

په دې باب دده لور بېتونه هم شته چې دده له کوره وتل او په غزو کې او سېدل
خرګندوي .

عاشقي سړي مجنون کاندې رحمانه
ګنه خوک په هوسیارۍ وزې له کوره

* * *

که لیلی غواړي باید ، دي دا رحمانه
چې مجنون غواندې ساکن د کوه وکا رشي

## خپلوان، اولاد ونه او مالي وضعه :

د رحمان بابا یو بیت دی :

نه شی د خانانو د ملنګو سره کلی  چې ته عزیز خان چې ته ملنګ عبدالرحمان

له دې بیت نه خلکو افسانې جوړې کړې چې عزیز خان دده ورور ګڼلی، چې
نژدې تر بوره بللی او ځینې بیا وایي چې عزیز خان دی بندي کړی و او ځه ځه ...

---

(۵۰) څرنګه چې دا بیت په لږ تغییر د خوشال خان ختک په دیوان کې هم شته نو ځکه د دې ځای پیدا کېدنې چې دا بیت به کاتبانو دده په غزل کې ورزیات کړی او د خوشال بابا له ورته غزلې څخه به یې راانیستی وی (د دې موضوع ته لومړی سنا غلی مومند متوجه شوی او په خپل "رحمان بابا" نومی کتاب کې یې کړې ده).

# شپارسم

خوله بيت نه تر دې زيات صراحت لاس ته نه راځي چې عزيز خان اورحمان بابا
ديوه کلي وو هغه دکلي خان اودی يوملنګ سړی وُ اوپه دې بيت کې رحمان بابا
دخپلې استغنا له مخې اعلان کړی چې دی دخانانو فرمانبردار نه دی.

درحمان بابا له نورو بيتونو څخه داڅرګنديږي چې د ده دخپلوالو سلسله پراخه
وه ، ديوه کور په ځای په کور ونو کې اوسيدل اوده ګه ټولو سره راشه درشه درلوده
په دردې کې دردمن اوپه خوښۍ کې خوښ من وُ ، وايي :

په هر کور کې نخښوان را ته پرانه دي  لاس مې نه رسي دهيڅا په دوا

دده دواده کولو په باب دا بيتونه پوره صراحت لري :

په مجنون باندې قلم راغلی نه دی  که حلال يې په مخ وړشي که حرام
حلال عشق دی په رحمان باندې راغلی  په حلالو کې مدام وي احترام

درحمان بابا دا بيتونه دواسې وخت دی چې دده مينه بربيالی شوې اوشرعي واده
يې کړی دی.

تردې وروسته نو بيا داولاد په عوسښتنه کې داشرطونه نه دي.

خدای له هسې رنګ زوزاده امان راکړه  چې بې دين ، بې ديانت شي ، بې نامه

يو وخت يې چې اولاد موندلی ، وروسته اوخپلوان يې مطالعه کړي نو خپلې مطلبې
نتيجه يې په خپل يوه بيت کې داسې ځای کړې ده :

که مې وروړ ، که مې عزيز ، که مې فرزند دے  واړه غواړي خپله - خپله مدعا

درحمان بابا د ديوان په داخلی شهادت برسېره ځينې مؤرخين هم دده داولاد په
باب روايتونه لري له دې نه يوهم انګليسي څېړنې پوه ميجر راورټي دی اووايي چې درحمان بابا
دلورلې طرفه دهغه اولاد اوس هم دومره وپه شمار کلي کې اوسي خو دهغه ديکې يونوی

# اوولسم

اولاد د پره مورده وشوه چې ختم دي.(۵۱)

درحمان بابا دنور وخپلوانو په سلسله کې "حميدګل" نومي شاعر دارمستتر دده خوږې بولي اود "پښتو نخوا دشعر په هار وبهار" کې يې دده يوه غزله راخيستې ده(۵۲)

درحمان بابا دمالي وضعې په باب هم دده په خپل دېوان کې داخلي شهادتونه شته دي په خپلو پارچوکې له ناداري اوتش لاسۍ څخه سرتکوي ، دنار وغانو د درملو پيسې نه لري اود درهم اودينار مالک نه دی :

په هر کور کې نخورا ن راته پرانستې ... لاس مې نه رسي د هيچا په دوا

د دنيا خبرې وايمه په دنيا شي ... ما به څه کا څوک ، چې نه لرم د دنيا

* * *

څوک دې را کاندې قسم په کردګار ... که درم لرم په کور کې يا دينار

خو بيا هم څرنګه چې چا ته يې لاس اوږد نه دی ، ګونډه يې کېدله اوخای په خای خواږه وړسېدل نو ځکه خلکو فکر کاوه چې دنيا دار دی :

نه درم اودينار نه لرم په کور کې ... ولې نور عالم مې بولي دنيا دار

هم په دا چې نه له خايه چې ته خوځم ... نه د هيڅ يوه مخلوق يم منت بار

نه مې بنکته ملک ليلى دی نه پورته ... خبر نه يم په يمين او په يسار

آب وخوراک که آسيا په خای را رسي ... په خپل کور کې مې سکون دی هم رفتار

دده دوينا په رښتيا سره د اتکل کولاے شو چې رحمان بابا هم لکه د نورو پښتو غوندې دومره ځکه درلوده چې دهغې په حاصل يې ګوزاره کېدله خو محصولات يې دومره نه کېدل چې خرڅ کړي يې واے او پيسې يې پرې ترلاسه کړي واى ، دده د ځکې درلودل دهغې بوللى په ترڅ کې چې د :

هر چې کښت يې په باران اوپه سيلاب وي
دهغوئ مره وايمه په عذاب وي

---

(۵۱) ديوان عبدالرحمن ، د مولانا عبدالقادر سره ليزه ، "ت" مخ ؛ رحمان بابا ، کامل مومند ، ۲۸ مخ .
(۵۲) وګورئ : دارمستتر ؛ د پښتو نخوا دشعر ، د وبهار ، ۱۸۸۸ ع ، د پاريس سرکاري مطبعه ، پښتو متن او فرانسوي سره ليزه .

په کسر پیل شوې ، څرګندیږي . د پښتنو په کلیوالي ژوند کې لا تر اوسه هم داجناسو تبادلې تر د پره حده د پیسو د رلودلو ضرورت تر سره کړی ، نو ځکه هغه وخت هم د درم اودینار نه د رلودل د مفلسۍ او غریبۍ نښه نه وه .

مونږ ته د رحمان بابا وینا دا هم راښیي چې دی که دنیادار وُ او که نه خو د سې لوړهمت یې د رلود چې د دنیا تر لاسه کولو له پاره یې د زړدار و څنګ ته نه پرښودو او په دې جرأت یې په زړداری او زړدار و د وینا وار ونه کول او شعار یې ورکاوه چې :

آدمیت څه په دولت نه دی رحمانه
بت که جوړ شي د سر و زر نو انسان شه

## سماع ، موسیقی او دمینې پرا وونه :

د رحمان بابا د فکري اړخ په څېړلو کې دده په تصوفي لارې او تصوفي منابعو د پرې خبرې کېدای شي خو دلته دده د ژوند دیوه اړخ په توګه دده په سماع ، موسیقی او مینه لنډې خبرې کوو .

د رحمان بابا د تصوف په باب د پرې خبرې شوې خو دده د سماع[۵۳] په برخه کې څه نه دي ویل شوې دا ځکه چې دده تصوفي لار دده له شعر و نوشتې را وزې اوده د د یوان په خو و نسخو کې داسې کومر شعر نه وُ چې د رحمان بابا د سماع په برخه کې

---

(۵۳) سماع په تصوفي اصطلاح کې هغه غږ ته ویله کېږي چې د اورېد ونکي په حالت کې او ښتون راولي . په شرح التعرف کې وایي چې : پخوانیو په خپل نفس د پرمجاهده او دومره د ریاضت بې وکمې چې وه د پرېدل له کاره وه نو ځکه د نفس د پیاوړتیا له پاره یې خپله وغوښتل او دوه بیتونه یې اورېدل البته د حال د ره سم بیت ... څوچې په په وجد راغلل او د ځانه یې خبره شول او د مستۍ په حال کې یې د ځان نشو اداره کولې او په غځاب راتلل ،، (سماع د رسلسلې هو ، محمد جهان بګلو " تجدد " ، ایران ، ۱۳۵۱ ش .) د مولانا جلال الدین بلخي تصوفي رقص لا تر اوسه هم د پیروان لري او په ترکیه کې د کال په تاکلې وخت کې د مولانا د علاقمندانو له خوا تر سره کېږي ، په چشتیه طریقه کې د سماع او موسیقۍ سترې برخې د ، چې تفصیل یې د تصوف په باب په لیکلو آثارو کې شته .

# نولسم

لاسوند شوی وای ، په دې برخه کې دده یکې یوازې غزل متعصبینو د پښتو
دده له دیوان څخه غورځولې وه ، خوله نیکه مرغه دده د دیوان په یوه زړه نسخه کې
دا غزل ومونده شوه چې په دې چاپ کې هم نیول شوې او په صراحت راښیي چې رحمان بابا
سماع او صوفیانه رقص کاوه د غزلې څو بیتونه داري :

ساقي راکړه ته وماته جام درقص
زه ارزو یې زړه لرم مدام درقص

ده وې اوس به دخوښۍ ساعت په تاشي
مغنی راکړه ته وما پیغام درقص

سرتې پاس ترنه فلک څرګند یې
چې په چاوشي ارشاد اعلام درقص

لیاقت یې هر وګړي څخه نشته
په لایقو باندې وي انعام درقص

خویې سا په وجود شته عبدالرحمانه
حقیقت به هومره نه کا تمام درقص

د رحمان بابا د موسیقي او خصوصاً د رباب د زده کړې په باب تر دې پخوا هم خبرې
شوې ، مېجر راورټی او عبدالمجید افغاني دوایه مني چې موسیقی د رحمان بابا په ژوند
ژوراغېز درلود ، رحمان حساس او ژوندی زړه درلود او چې د رباب تار به وکړنګېدو
او دهغه نه به خوږه نغمه راولرزېده نو د رحمان رګ رګ به ورپېده د بابا ګوته به
لکه دده د زړه په تار لګېده - دی به اکثر د استغراق په حالت کې و ... عجب خان -
وایي چې د رحمان آشنا مجنون په هندوستان کې د بزرګانو د خدمت له کبله د بړۍ
خاوند شو او چې څه وخت وطن ته رخصت شده نو د خپل پیر شاه شرف قلندر

نه يې رحمان دپاره هم څه تحفه وغوښته - شاه شرف قلنده په رباب کې رحمان
برخه مقرره کړه او راوايي ستولو - ولې شرط دې کې داوُچې مجنون به ترمخې رباب
نه گوتې نه وروهي ترڅوچې تې رحمان نه وي لېدلې او رحمان نه دې هغه گوته
وهې کومه چې د شاه شرف له لوري يې مقرر شوې وه نو مجنون به مرشي او رحمان
به ژوندی شي هم دغه وشوه . مجنون چې هغه گوته ووهله نو دی خو په ځای پرېوت
مرشو او رحمان دې وځُې بېهوشه وُ اوچې په خودشو نو حال يې بدل وُ...(٥٤)

همدارنګه سنا غلی جعفر اخکزی هم په دې برخه کې کاږي :

" وايي چې په رحمان به کله د آمد دوره راغله نو هغوی به خپل رباب په غېږ کې
ورته کښېښوی او په تارونې گوتې پورې کړې ، د تارونو څه به يو پرسوزه سا ز
پيدا شو او بيا به يې په خپله خپل اشعار ويل شروع کړه ، پرسوزه آواز او دلکش
ساز به په يوه آن کې د عقيدتمند واجتماع جوړه کړه ... "(٥٥) څرنګه چې دې خبرو
له پاره کومرسنډ نه وُ نو دا ترا وسه د مغو فولکلوري خبر وله دلې څخه ګڼلې کېدې چې
په رحمان بابا پسې کېدلې خواوس د همدې رقص په غزل کې يو داسې بيت مومو چې د
رحمان بابا د موسيقۍ په زده کړه دلالت کوي او ښيي چې ده موسيقۍ له استاد څخه زده
کړې او په فني دول يې په موسيقي کې لاس درلودلی دی ، وايي :

مسقی علم خپل استاد راته تعليم کړ
راالمايې کړه تار مقام درقص

اوس موږ چې د رحمان بابا داغزل تر لاسه شوې نو دده د دې بلې غزلې څو بيتونه
يې هم په ملا تړلې وړاندې کولی شو :

---

(٥٤) ديوان عبدالرحمان ، د مولانا عبدالقادر سرېزه ؛ ديوان عبدالرحمان د پروفيسر عبدالمجيد سرېزه ؛
سوانح عمری د ملا عبدالرحمان ، د عجب خان فولکلوری کيسه ، د لاهور چاپ .
(٥٥) اخکزی ، محمد جعفر : " وندر " ١٩٥٩ع . کوټه ، ١٥٣ مخ .

مرهطب چې غوښې تاوکا د رباب  په دا تا وکې زما زړه کاندې کباب
چې سامع يې په نغمه په ترانه شم  ديوانه شم گريوان خيرې مست خراب
هم يې تار هم يې گفتار هسې اثر کا  چې هيڅوک يې نه طاقت لري نه تاب

تر دې وروسته درحمان بابا دمينې پراوونو ته رارسيږو ، دې دمجازي مينې په پورې دحقيقي مينې دمعراج لورته ورختلی ، ځينې کسان دده مينه يوازې حقيقي مينه بولي اوله مجازي مينې نه يې منکر دې خو دده په ديوان کې داسې بيتونه مومو چې هيڅ منکر دانشي ويلی چې ده دې مجازي مينه نه وي کړې . موږ دده له پاڅون نه دا انيستلی شو چې رحمان بابا په سنګلا او سنګلاس مين و ، دژوند ډېره برخه يې دمينې په يادونو او دبېلتون په بادونو کې تېره کړې ده ، ګله جران ځوړولی ، ګله وصال ، ګله يوه پېغمنۍ سنګار کړی او ګله بل ، ګله مينې ګلې ورته اوړکړې او ګله يې په بېديا کې بې تابه کړی دی ؛ دده دژوند داتولې پېښې دده په شعرونو کې نغښتلې شوې او ترمونږ پورې رارسېدلې دي درحمان بابا دژوند ډېره برخه په مجازي مينه کې تېره شوې او دعشق په مدرسه کې يې بې له زلفو ، بې له خطه ، بې له خالونو بل څه نه وولوستی . په مينه کې يې له پېغورنځه عار نه درلود:

زه عار نه لرم په عشق کې له پېغورې  بې پروايم دستي په څېر له اوړې

دده شعرونه سنيي چې ده ژياتې مينې کړې او ژياتو سنګلو يې زړه وړې:

زه رحمان په زړه نرۍ کړم هغو نجونو
چې يې ملاوې دوپسنۍ په دودنۍ

* *

په رحمان دسنايستو وُ قدر ډېر دی
دطبيب له قدره چا نه ده بې ښوره

که مې پېرۍ که مې پلوړۍ چاره نشته
زه رحمان دښایسته وُ خانه زادیم

* * *

ګونبۍ ګونبۍ ښایسته مې زړه وکاږۍ
زه وکوم یوه ته وایم چې تا یوو په

اویو وخت داسې هم پرې راغلی چې :

زړه که یووی ما خو تالره درکړی
مګر نور ولړه نور زړه ونه پیدا کړم

رحمان بابا مینې داسې پوره ته رسولی وُ چې دخپلو نړۍ له کوچنۍ ښکلې نه یې پستلی وُ او ویل به یې :

زه عاشق یم سر وکار مې دی له عشقه
نه خلیل ، نه داؤد زړۍ یم ، نه مومند

دنو خطو مینه رحمان بابا بله مشغولاوه :

خط دې نو ځرفونه مخ دې پانې دکتاب دې
شغل دکتاب دې بل کتاب راتخه یوو په

* * *

په رخسار چې دې دخط غبار څرګند شو
سر بلند ه شوه فرقه دخاکسارانو

* * *

سیاهي دنوي خط دې همسې زیب کا
لکه کسبلی واړه توړی د قرآن

* * *

څه شوکه زه نیم انګشت نما په مینه ستاکې
زیاتله مانه خوښ ته دقاضي هم دملایې

ده ته عشق دومره رښتينی ؤ چې دسر قرباني يې په دې لاره کې هيڅ بلله :
وهغوته عاشق نه ويلی بويه
چې يې فکر يا دسر يا ددستار وي

په هرحال دده مينه دحسن اوسپکلامينه وه له جنسی اونفسی غرضه پاکه وه نوځکه يې په جرأت سره ويل :

پيران دې عار زمالره عشقه نه کا
پاک عاشق، پيراو پلردې واره ليدی

* * *

الف اومنزه دی عشق دنفس له خاصيته
چې رته چاه دگډې، چې رته چاه درنخدان

اوهدې مينې ده ته داسې استغنا اوغرور ورښلی ووچې په لوړه غاړه به يې ويل:

دلبرانو وته خاک تر تلی لاندې
ددې نورجهان په سرلکه آسمان يم

* * *

نوکري دمعشوقو کوم په عشق کې
همينې نه دجلول، نه داورنگ خورم

درجمان بابا په نظر کې دمينې معراج نه رسيدل هسې مرحله ده چې :

که مين يې په خپل يار باندې رښتيا  آواره کړه اول دين پسې دنيا
دجنت له حورو تېرشه که يارغواړې  خدای دې نقد دچا نه کاندې نسيا

* * *

عاشقان دسپين رخسار دتورو زلفو
خه پروالری دکفر داسلام

خبره نه اوښ دوم؛ خو دومره وایم چې دده دمینې مهم پړاو حقیقي اودخدائي مینه ده ، دا پړاو ددده دمینې معراج دی :

رحمان حسن دیار وینم په پرده کې
نه پټیږي لکه د شمعې په فانوس

* * *

دا حجاب چې نور عالم یې حجاب بولي
دا زما دیار ترمیانه حجاب نه دی

* * *

که څوک وایي هنر کومردی؟ وایه داری
چې بې خدایه نوره مینه په چا نکه

## ادبي شهرت اومقبولیت :

---

په وراندې پانوکې مودپښتې خزانې په استناد وویل چې رحمان بابا په ۱۰۴۲ هـ. ق کال سنه پېښ پدلی خوښاغلی اثر یې چې دکوم سند. تر سنو دلو پرته د نه پښ پد وکال ۱۰۳۸ هـ. ق. سنو دلی دانظرهم وکړې چې ده تن خوږلس کلنی وروسته دمحمد صدیق پښتوري نه ادبي زده کړه کړې اوشعر یې ویلی دی . مونږ دا ترخبرې مخکې هم نه وې منلې اودلته یې هم نه منو ؛ خو درحمان بابا روانې طبعې ته چې گورو یقیناً په خوږلس کلنی اوپخلس کلنی کې به یې د شعر ویل پیل کړې وي نو زمونږ په حساب به د ـ ۱۰۵۶ یا ۵۷ - ۵۸ اوان تن ۱۰۶۰ کلو پورې دده د شعر پیلولو وخت وي داوخت په هند اوافغانستان کې د شاه جهان کورګاني د واکمنۍ (۱۰۳۷-۱۰۶۷ هـ.ق) دوره ده . درحمان بابا په دیوان کې داسې بیتونه مونږ ل کېدای شي چې د شاه جهان

دواکمنی په دوره کې یې دویلو وخت واتکلو ولکه دا بیت :

د کاملې عقیدې له برکته
د دولهی په غاړه ناست شاه جهانیم

نو په دې اساس تر ۱۰۵۶ هـ.ق. کال ورو ستې دده شاعري په اتکلي دول اوتر ۱۰۶۷ هـ.ق کال وړاندې په باوري توګه پېښ شوې ده او که دخان خوشالخان ختک دا بیت :

سل سر بنې دې تر دایو غزل ځارپنه
من چې دا پسبتو ده کړلا نی خوشال یولې (۵۶)

دده په برخه کې وبولو بیا نو داهم ویلی شو چې درحمان بابا شاعري تر ۱۱۰۰ هـ.ق کال وړاندې چې دخوشال بابا دمرینې کال دی دومره شهرت موندلی وُ چې خوشال خان غوندې قادرالکلام اوبې جوړې شاعرې چې هم دې ته اړ کړي وُ چې دده دشعر داغښې کمولو له پاره په تعلی لاس پورې کړي او خپل شعر تر ده سنه وبولي .

دخوشال خان ختک خوښ ژبې زوی اشرف خان هجري چې په ۱۱۰۶ هـ.ق کال یې له دنیا نه ستر ګې پټې کړې دخپل وخت دشاعرانو په ډله کې رحمان بابا ته په دې مقام قایل دی:

خوښ زبان په زمانې شکري نولی — هغه واف (۵۷) چې مستقر یې پسبور دی
درحمان په ویل ځای دلقب نشته — چې یې ما شعر منظور کړ معتبر دی (۵۸)

---

(۵۶) کلیات خوشال خان ختک ، ۴۶۸ مخ .
(۵۷) واف بلبل .
(۵۸) رحمان بابا ، کامل مومند ، ۳۴ مخ (دده داشعر دهجري له لیوې داسې قلمي نسخې څخه راغیستې چې دچاپي نسخې په اصل کې نه وُ)

درحمان بابا په شعر دا قضاوت درواسې شاعر له خواشوی چې دخپل شعر په باب داسې نظر لري:

چې یې سحر بولي خوک شعر نه ښادی  نور دواړو شعر شعر سحر دادی
که باور دې په دانه شي پاخه ګوره  زما هر غزل شاهد په دا دعوا دی (۵۹)

پښتانه محققین درحمان بابا په شعر دهجري دوې قضاوت کړلو وخت تر ۱۰۹۲ هـ.ق. کال وړاندې بولي ځکه چې تردې کال وروسته هجري په هندوستان کې دکورګانیانو له خوا په بېلو- بېلو ز ندانونو کې اچول شوی و ُ نو ځکه ده دا قضاوت باید داسې وخت کړی وي چې درحمان بابا داشعار وزیاتې لمونې ورته رسېدلی وی (۶۰).

له دې خبرو نه څرګنده ښي چې درحمان بابا شعر تر ۱۱۰۰ هـ.ق. کال وړاندې سره شهرت موندلی او په ادبي حلقو کې پېژندل شوی او منل شوی و ُ.

همدارانې تر ۱۱۱۹ هـ.ق کال وړاندې دده اشعار د دیوان په بڼه په ټولو پښتنو کې خواره شوي او د پښتو نخوا ګوټ-ګوټ ته رسېدلی و و او ده دخپل دې ادبي اوروحاني شهرت په بدل کې له پښتنو نه د "بابا" اعزازي لقب تر لاسه کړی و ُ ځکه چې په پورتنۍ کال میرویس نیکه په کندهار کې دخپل ملي غورځنګ د پیل لپاره دده په دیوان فال اچوی اوله دې نه په دې الفاظو مشوره غواړي:

"راسئ چې عبدالرحمان بابا قدس سره هم وپوښتو، چې دده دیوان یې خلاص کا هسې شعرونه وو..."(۶۱)

عبدالقادرخان ختک (۱۰۶۳ - ۱۱۲۵ هـ.ق.) چې دده همځولی دی هم دده یادونه کوي:

---

(۵۹) دیوان مجري، مرتب همېش خلیل، ۱۹۵۸ع.، ۵۰۱ مخ.
(۶۰) رحمان بابا، کامل مومند، تر ۳۳ مخ وروسته.
(۶۱) پېښه خزانه (عکسي نسخه)، ۴۶ مخ.

زه خټک دیاں په غم تازه - تازه شم
غوریه خپل رحمان که شو وړنۍ پستړی (۶۲)

درحمان بابا په ژوند دده دادبي شهرت دخوږې لوبې باب دده په خپل دیوان کې هم ځای په ځای ځینې بلیتونه شته چې ځینې یې سره له دې چې دشاعرانه غرور او تعلی نه ډک دی خو بیا هم دده دادبي شهرت دخوږې لوبې نمایندګي کوي :

ستا دحسن دتعریف له برکته
درحمن دشعر کوکې په عالم دي

* * *

چا پیژندم زه چې عاشق ندوم په جهان کې
اوس مې ستا له روې نوم رسوا په درست جهان دی

* * *

خوشالا اودولتا مې غلامان دي
زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم

رحمان بابا دومره ادبي شهرت موندلی وُ چې دیوه ځانګړي ادبي سبک تیوري یې کښوده اودده په ادبي مکتب کې دپښتو دې برخې ژباړلي شاعران وروزل شول اوهغه سبب وُ چې راوروسته شاعرانو په یوه خوله دده ستاینه وکړه اویوه یوه نیم تیوري تعصب له کبله دده په شعري مقام ستر ګي پټې کړې .

دده په مرثیه دده شاګرد یونس خیبري چې په ۱۱۰۰ هـ.ق. کال زیږیدلی یوه له سوزه ډکه مرثیه ووییله اودده ادبي مقام یې پکې وستایه :

چې پیدا له اشنایۍ سره هجران شه  څکه داغ مې په خاطر باندې ارمان شه

---

(۶۲) دیوان عبدالقادر خان ختک ، مرتبهٔ همیش خلیل ، ۱۹۷۲ع. ، ۲۱۶ مخ .

انجمن دسنو یارانو نوبهار دی — جدایی ورباندې پیر وکه خزان شه
چې په قدرګې درونه دریاب وو — اوس صدف دمغو در وګورستان شه
چې په شرق داشنایحد لکه نمر وخوت — په مغرب دجدایې کې نهان شه
داچې باد دجدایې په جهان ګرځي — له هیبته مې صورت بید لرزان شه
دسکوت قلف به یې خرنګ لیرې کېږي — چې په مرګ یې درون بند کلید زبان شه
له رحمانه فیض یاب عبدالرحمان شه — چې له دې سرایه په نوي سرای مهمان شه
مرګ سخي دسنو خبرو هسې شوم کا — چې یې یو کلام زرې ورکېږي پرې ګران شه
چې په ملک یې نام دښکوشه مړینه دی — څه شو داکه په حساب دمردګان شه
په لیښتو شعر یې هسې نامه یو وړه — چې خبر یې په اشعار ایران توران شه
پرلږت شعر به څوک کاندې "یونسه!"
چې په مرګ ځنې خاموش عبدالرحمان شه (۶۳)

مصری خان ګګیانی درحمان بابا دعصر یو بل شاعر دی چې دده دخوا زه شعر ستاینه داسې کوي:

شعر دفارسي وینم شیرین لکه شکره
شعر دلیښتو کړ ترفارسي حمید رحمان لذیذ (۶۴)

معزالله مومندهم چې درحمان بابا دپیړۍ شاعر دی درحمان بابا دادبي قدرت اوقوت ستاینه په دې تکو کې کوي:

دتمامې لیښتو نخوالۍ شاعرانو
معزالله عبدالرحمن دی منتخب

---

(۶۳) دیونس خبرې دیوان، دجمورې ارګ دکتابتون نسخه، ددې غزلې نقل ښاغلي خپرندوی عبدالله خدمتګار راسپارلی چې په دې وسیله منه ترې کوم.
(۶۴) دمصری خان ګګیانی دیوان، دپښتو پښتوا کېډمۍ، ۱۹ مخ

* * *

که دشعر کرامت دچا نه غواړې
معز الله درحمان شعر کرامت دی (۶۵)

کاظم خان شیدا چې درحمان بابا تر مرګې وروسته ژبې بدلې اودپښتو
د پښتو خوږ ژبی شاعر دی درحمان بابا د غزلو پیروي کوي :

درحمان په دا مصرع دشیدا زړه دی (۶۶)
"ته پرې یې، که آهو یې، که جادو کمرې"

اوم په خپل یوه بل بیت کې دی اوحمید بابا د دوومومندو په نامه دسنو اذې
حکیمانو په توګه پیژني :

په دې وخت کې که شیدا دواړه همندوې
ثناخوان به ووهم دم ستا د ویلو (۶۷)

نجیب چې درحمان بابا دادبي مکتب شاګرد دی خای په خای درحمان بابا د
شعرونو په اقتفا اوپیروۍ شعرونه وایي اودده په باب عقیده لري :

دشعرا و سرحلقه عبدالرحمان دی
نو نجیب دده دشعر دامنګیریم
چې یې شعر لامثل دی باندې سنایي
که رحمان وایي په شعر ځانګلیریم (۶۸)

دپښتو خوږ ژبی ببدل چې دپښتنو شاعرانو دیادونې په لړکې رحمان بابا

---

(۶۵) دیوان معزالله خان مومند، دخیال بخاري ترتیب اوتدوین، ۱۹۵۸ع. پښتو اکیډمۍ، ۱۶، ۱۰۰ مخونه.
دیوان معزالله خان مومند، دهمېش خلیل ترتیب اوتدوین، ۱۹۶۱ع. دارالتصنیف، ۲۶، ۱۳۹ مخونه
(۶۶) دیوان کاظم خان شیدا، دهمېش خلیل ترتیب اوتدوین، ۱۹۶۵ع، ۱۴۲ مخ. دابیت دکابل په چاپ کې نشته.
(۶۷) دکاظم شیدا دیوان، داستاد بینوا ترتیب اوتدوین، ۱۳۳۱ ش، پښتو ټولنه، ۵۲ مخ. دیوان
کاظم خان شیدا، دهمېش خلیل ترتیب، ۵۲ مخ.
(۶۸) دیوان نجیب، ۱۵۱ مخ.

ته راسپين يې نو دسلطان الشعراء لقب ورکوي اووايي :

چې مشهوريې په پښتو ژبه ديوان دی  شعرا ؤ کې هغه عبدالرحمان دی
قال وحال يې سره سم زيات وکم نه دي  مسلم ځکه دهر دانا نادان دی
په سلطان الشعراء دی ملقب دی  چې يې بيت مصرع په هر ځای کې برهان دی (۶۹)

عبدالعظيم رانهيزی دده دپښې بل شاعر دی چې ددر ناوی سر دا سې ورته تيښتوی :

دهمند عبدالرحمان صاحب په مثل  هسې خوښ زبان زما وی دريغه دريغه (۷۰)
زه عظيم به خاص غلام ددې همند قوم  اوس ژوندی که په دنيا وی دريغه دريغه

ددې عصر په شاعرانو کې يوازې يې شاعر چې له رحمان بابا سره يې دمومندې اوختکی تعصب کړی نو له ختک دی اوسنايي چې دهغې شاعرانه غرور کسات اخلي چې رحمان بابا دخان خوشالخان خټک په برخه کې کړی ، نو ځکه وايي :

چې په غوښ کا څوک گوهر زما دنظم  درحمان ديوان به ومنډی په جيب
برابر مې کړه غزل دده له شعره  چې د ووزی له خاطره شک اوريب

* * *

په لحد کې به توبه کا نددي له شعره
داغزل که مې څوک ولولي رحمان ته (۷۱)

دپښتو خوښ ژبنی اود ځانګړی ادبي مکتب درلودونکی شاعر پيرمحمد کاکړ چې په همعصروکې ترخپل شعر لوړه نه وينې ، درحمان بابا شعر معجز ګڼي اووايي :

که هرڅو وايي نازک شاعران شعر  ولې دوی ګڼي معجز درحمان شعر

---

(۶۹) ديوان بيدل ، دهمېش خليل ترتيب اوتدوين ، ۱۹۵۷ع . ، ۲۱۲ مخ .
(۷۰) ديوان عظيم ، ۱۳۳۳ ق . ، لاهور ، ۶۳ مخ .
(۷۱) ورکه خزانه ( لومړی ټوک ) ، همېش خليل ، ۱۹۶۰ع . ، ۳ ، ۵ مخونه (ديوان خټک برخه) .

سوز ګداز د محبت یې مګر نهایت ؤ　　چې سوزان یې هسې شان کم بیا شعر
جوړ په شعر کې د رحمان غیب اللسان دی　　په داخبر نشته هرګز دانسان شعر
تر مصرع یې ځار شه لاړم دملغلرو　　په څه تاریخ آوېخته کم یکسان شعر
څخه تر شعره د رحمان به د پښتو کم نه وی　　ومنصف ته دختمک خوشال خان شعر (۷۲)

رحمت داوی د دوولسمې پیړۍ داواخر و یو بل شاعر دی چې په کشمیر کې هستېدلې او د رحمان بابا تر شعر داسې قربانېده :

هر څوک شعر کام لاف د شاعرۍ کا
نه قربان ترشیرین شعر د محمد (۷۳)

شمس الدین کاکړ چې د پیر محمد کاکړ دادبي مکتب پیرو دی ، د خپل استاد په پیروۍ د رحمان بابا په باب وایي :

که څوک ونېسي په لاس میزان د شعر　　په عروض کاسنجیده بیان د شعر
و به نه رسي په شعر له رحمانه　　که هر څو کوی هوس افغان د شعر
په تحقیق سره رسېدلی السان الغیب دی　　لیاقت یې د لوړه لسان د شعر (۷۴)

میرزاحنان بارکزی د رحمان بابا شعر یو تر بل سره ګڼي اووایي :

بل رحمان سر بندی د پښتو ر دی　　په لېښتو یې غزل ېه دی یو تر بل (۷۵)

عبدالله پوپلزی یو بل کندهاری شاعر دی چې د رحمان بابا شعر معجزه بولي اووایي :

د رحمان له شعره بوی د معجزې　　ځېږي
مرید نه رکاندې له پیړه برابر (۷۶)

---

(۷۲) د پیر محمد کاکړ دیوان ، د استاد بینوا ترتیب او تدوین ، ۱۳۲۵ ، پښتو ټولنه ، ۴۲ مخ .
(۷۳) ورکه خزانه ، لومړۍ ټوک ، ۱۵۳ مخ .
(۷۴) د شمس الدین کاکړ دیوان ، پښتو ټولنه ، ۱۳۳۳ ش . ، ۴۱ مخ .
(۷۵) د حنان بارکزی دیوان ، پښتو ټولنه ، ۱۳۳۶ ش . ، ۶۳ مخ .
(۷۶) مرهې ګلونه ، د استاد خادم ټولونه ، ۱۳۲۶ ش . پښتو ټولنه ، ۱۲۱ مخ .

# عبدالغفار هوتك دكلات دسيوري شاعر چې د ديارلسمې پيړۍ په اوايلو كې يې ژوند كاوه درحمان بابا دادبي مكتب پيروي اوځان دده نايب بولي

## په افغان كې شاعران ترحساب تېردي

### عبدالغفار دي درحمان شاعر نايب[77]

دروانې پيړۍ داوايلو شاعر قاضي مير احمد شاه رضوانې درحمان بابا شعرونه له وجد اوجذب څخه دك گڼي اووايي :

بيا په دوردشاه عالم په څېرينو كې — راسنكاره شو په جهان عبدالرحمان
موسيقان ښوندې يې هسې نغمې وكړې — چې يې پورې كمر لوا وړ په كل جهان
تا به وې چې دشپږ ارخواجه حافظ دي — چې پيدا شو په اولس كې دافغان
كه صوفي، كه محتسب اوكه قاضي و — بې له مانه تول يې گډ كړه په مېدان[78]

په دې سربېره احمدي صاحبزاده[79]، قنبر علي خان اپريدي اوقاسم علي خان اپريدي[80] هم درحمان بابا په پيروي شعرونه وائي اويا دوونه يې كوي.

درحمان بابا شهرت اومقبوليت دومره زيات وُ چې په ډېرلږ وخت كې يې شعر تولې پښتو نخوا تسخير كړه اود "ړوه"، لوستې، نيم لوستې اونالوستې تولې طبقې يې ځان ته درجلب اوجذب كړې، صوفيانو يې په شعر كې دمعنوي دنيا وړانگې وليدې، سياستمدارانو اوملي مشرانو دخپلو ملي غورځنگونو په لاروكې دريوې كار تري واخيست. مستانو اوجذوبانو درباب په تاروونو كې دده نغمې ونغوبې، هرڅوك يې په ژبه پوه اودهرچا دزړه تېرونكې ملهم شو، څوك چې لوستې وو

---

(٧٧) دعبدالغفار هوتك قلمي ديوان.
(٧٨) ړوهي گلونه، ١٢٣ مخ.
(٧٩) تېرهېر شاعران، عبدالحليم اثر، ١٩٦٣ع. پښتو اكېډمي، ١٤٢ مخ.
(٨٠) وگورئ دقنبر علي خان ديوان، ديپښور چاپ اودې نومه مؤلف "رحمان بابا".

دده شعر ونه يې په خپله ولوستل ، دنيمه لوستو له پاره يې دلوستو شوق
اوذوق ورو باسنه او د پر داسې کسان پيدا شول چې يوازې د رحمان بابا
دشعر دلوستو مينې دتور اوبو نرده کړې ته اړ کړل . چا چې په خپله نه شوې
لوستى هغوى هغه کسان لوستلو ته مجبور کړل چې لوستاى يې شول ، او
دوى ته يې واورول ؛ مطلب نو اوښتو تولوته دده شعرونه وروررسېدل او
هرچا دخپل زړه هيلې اومرادونه پکې ولتول اوپکې وموندل .

دده په ژوند دده ديوان په توله پښتو ژبه خورشو او د پښتو ژبې د رحمان بابا
دلوړې ادبي مکتب په وړه ديپښتو ژبې دپرشاعران ورښوتل اوله دې منبع څخه يې
دشعر سوغ اوالهام واخيست .

لوى استاذ پوهاند عبدالحى حبيبى د رحمان بابا دادبي سبک سپېڅلتيا اوځانګړنې
داسې ښيې :

۱ ـ په دې سبک کې شاعر د روح الهام مني ، دمادې سړه يې د پرسروکار
نه دى ، له هغې دنيا څخه خبرې کوي چې له دې خاکي دنيا څخه پرته بله دنيا ده او د
معنوي فيوضاتو منبع هم دغه ځاى دى .

۲ ـ په دې سبک کې شاعر له مادي کثافاتو څخه ليرې کېږي اوهلته ځيچې
صلح کل دى اوددې خاورينې نړۍ غوغا اوشور ماشور پکې نشته ، شاعران
يې د دنيا پر بد وتنقيد کوي اوځان يې له کلمو اوکرکيچنو څخه پاکوي .

۳ ـ په ادا اوداحساساتو په تصويرونو اوسپېڅلې داسبک خواږه ژبه
اوسليس دى ، ابهام سره نه ګڼي . دشعر الفاظ اوعبارات ساده اوسپېڅلي غوره کوي .

٤ ـ غزليات ، قصايد ، رباعيات ، تخميس او دشعر نور توله اقسام په سپېڅلي
ډول وايي او د پرله مينې اواخلاقو څخه ښه ښې .

۵ ـ د عشق او مینې په دنیا کې هم دواقعیت خوا ته ځي او د خیال لږ تابع کېږي.
۶ ـ د دې سبک شاعر عشق او الهام د ژوند ون مدار ګڼي ، یقین او ایمان پر
عقلیت باندې خوښوي.(۸۱)

هو ! په دې لاره د پرشاعران روان شول او په سوونو وینا والو
له رحماني غږ څخه الهام واخیست.

د رحمان بابا ادبي لارې مشهور لاروي دادي :

عبدالرحیم هوتک ، احمد شاه بابا ، اخوند ګدا ، عبدالعظیم سواتی ، میانغیم متې زی
ملا جمعه باړکزی ، عبدالنبی بېتنی ، شېر محمد هوتک ، مطیع الله پیر خېل ، ـ
قاسم علی اپریدی ، یونس ، غفور ، صدیق ، شمس وزیر ، دالپوری حافظ(۸۲)
نیاز محمد ، عبید ، نصرت(۸۳) ، ابن یمین ، بانجمد بنګښ ، عبدالرسول ماشوری
عبدالغفار هوتک ، عجب ، فضل شاه ، ګل محمد کاکړ ، شیخ نامدار ، معزالله ـ
خان مومند(۸۴) ، عبدالوهاب اخکزی(۸۵) اونور ...

په پښتو ټولو کې د رحمان بابا شهرت او محبوبیت دومره زیات شوچې ده
شعرونو د خلکو په ورځنیو خبرو کې د متلونو بڼه ومونده اود پاخه سند
په توګه استناد پرې وشو.

د پښتنو دیوه لوی روحاني شخصیت سوات صاحب څخه روایت کېږي
چې ده به ویل : "چې که چېرې د کلام پاک نه علاوه بل کلام کې موږ
کول رواوي نو ما به یقیناً د رحمان صاحب کلام غوره کړی وُ." (۸۶)

---

(۸۱) پښتانه شعراء ۱/ ۳۱
(۸۲) د دې کسانو سوانح په لومړي اود دوهم ټوک پښتانه شعراء کې ولولئ !
(۸۳) د دې شاعرانو سوانح په لومړي ټوک ادبي ستوري کې ولولئ !
(۸۴) دلندې پښتو ژبې ګلوي له پاره یې وګورئ : هیواد مل ، زلمی : فرهنګ ژبان وادبیات پښتو.
(۸۵) وګورئ : زېری ، د لیکونکی مقاله ، د ۱۳۵۶ کال ، ۱۳ ګڼه.
(۸۶) تاریخ ریاست سوات ، محمد آصف خان . ۱۹۵۸ء ، ۱۱۱ مخ.

هغه شاعري چې لا تراوسه يې هم دلري او بري پښتو ځوا شاعران د بابا په مزار کوي دده محبوبيت او مقبوليت ښه ښکاره ند وي کولای شي او څوچې پښتو او پښتون وي "رحمان" به "بابا" اوويناوه به يې د زړونو دواوي.

## مرينه او مزار:

پټه خزانه کاندي چې رحمان بابا "په سنه ۱۱۱۸ هجري وفات شو خلق يې تراوسه د پښور په هديره کې زيارتونه کا."(۸۷) نوړچا دده د مرينې نېټه نده ضبطه کړې خصوصاً د رحمان بابا شاګرد يونس خيبري دده له سوز ډکه مرثيه وايي خوله بده مرغه د مرينې تاريخ يې نه ښيي.

د رحمان بابا په ديوان کې داسې داخلي شهادتونه شته چې دده ژوندون د کال راوړوسته هم ثابتوي، په دې شهادتونو کې يوهغه اوږد نظم دی چې داورنګزيب مرينه پکې يادوه شوې ده، اورنګزيب د ۱۱۱۸ کال د مياشتې په ۲۸ نېټه مړشوی دی خو په دې نظم کې يو بيت دی:

اوس نوبت د شاه عالم دی
دوړاوطوريې شو دګر

اورنګزيب چې شاه عالم د ۱۱۱۹ هـ.ق په عاشورا پاخېره کې خپله پاچايي اعلان کړې نو ځکه سنا غلی کامل داپاړکی د ۱۱۱۹ هـ.ق کال بولي(۸۸) او په دې وسيله دده ژوندون ۱۱۱۹ هـ.ق کال پورې ثابتيږي. همداراز د بابا په ديوان کې د ګل رحمان او جمال خان د مرينې په پښه هم يو نظم شته چې د ا

---

(۸۷) پټه خزانه (عکسي نسخه)، ۴۵ مخ.
(۸۸) رحمان بابا، ۲۲ مخ.

پېښه د رحمان بابا ژوند څېړونکو د اورتۍ دوینالۍ مخ له ۱۱۲۳ هـ.ق. کال سره مربوطه ګڼله او د اورتۍ دوینا په استنادیې دده ژوند تر دې کال پورې هم اتکلا وه[۸۹]؛ خو څرنګه چې د اورتۍ خپل سند نه وُ سنبو دلی داسنه اتکلی بلل کېده، اوس چې د تاریخ مرصع متن د کامل مومند په همت خپور شو هلته په صراحت سره ددې پېښې په باب لیکل شوي:

" پسله فوته د اورنګ زیب بادشاه جمال محمد او بعضی ظاهر بین کوتد اندلیش ورسره سر په شورش پورته کړی وُ - په محمد کې موسرینې وه او موسرینې په محمد وکې کمزورې تېره ده - غرض یې داوه چې په دا شورش کې به د مانامه ناموس وشي - اربابي به بیا مومم - په دامیان کې د پراخراط تفریط وښکنه وشه - هرګاه چې په سن رسل دوه ویشت صوبه داري د دارالملك کابل په نامه د ناصرخان شوه - پښاور قندهار اغې، اربابي یې ورکړه - اما دده ناکردې چې پخواد ناصرخان ترسرداري یا په صوبداري کې یې د ناصرخان کړې وې د ناصرخان په خاطر وې په خپلې اربابۍ کې یې کلی د عیسی محمند هم وواهه - په تل یې ختنه وکړه - عیسی محمند په خپل خپل کې زورور دی - جوړه یې د ناصرخان سره وکړه - د مغل په ویرانی کې پښتانه خپله مدعاده.

مصرع : هر طرف کې شود کشته سود اسلام است

په دامیان کې د جمال د زوی دواده کار پېښ شه - ناصرخان دوه زره روپۍ هم په طریق دانعام ورکړې - لور عیسی په توم د مغل جرې ورلېږي کړه - هغه شپه چې یې د زوی واده وُ د لښکره سره ورروان شه.

---

(۸۹) رحمان بابا، د دوست محمد کامل، ۲۷ مخ. رحمان بابا، د مجهول مؤلف، ۱۲ مخ.

په کور يې ورنځی ـ جمال له دې هسې آفته غافل ؤ مخې ته ورووت ـ تاب يې دجنګ را نه وو ـ ښځی کورته ننوت ـ عيسی يې په کور اوړپوری کړ پکې وسه ـ انتياکسه نږدې ووړکی هلکان دواده هم په هغه کورکې ورسره وسول داواقعه په سمن زهرسل درويشت وه ـ خدائے دې له دې هسې آفته امان وکا. "(۹۰)

موږ وينو چې دې پېښې په باب تاريخ مرصع يو باوړي اود هغه وخت سند دی چې راوړی هم بې له دې چې خپل اخځ وښيي له همدې تاريخه نه ددې پېښې کال سنودلی دی . له بله پلوه رحمان بابا دا تراژيدی په خپل يوه نظم کې په دېرسوز اودرد انځور وي :

دېر ياران وودګل خان اوجمال خان — په کار نه شو يو په وخت درازستان
دهمه وار و يار الوځ دې توره شي — که به خوک وبله ياري کا په داشان
چې يو يار په سوری پروت وي بل په اوړکې — وهغوته به خوک خه وائي يا ران
هيڅ تعريف يې په داش به وايه نه شي — صدر حمت شه په ياره هم دګل خان
په دا پورته د يار ه شرطونه خه وي — چې په اوړکې دواړه وسوځي يکسان
چې له آله له اولاده سره وسول — خدائے دې نه کا خوک دمسې مظلومان
تر يا يه...

څرنګه چې دا دهماغه پېښې انځور دی اود پېښې کال هم ۱۱۲۳ هـ. ق کال دی نو ددې باوړي سند لږمخې تر ۱۱۲۳ هـ. ق کال پورې د رحمان بابا ژوند يقيني کېږي خو تر دې وروسته څرګنده نه ده چې تر کوم کال پورې ژوندی ؤ. اوس په دې برخه کې يو بل ځانګړی هم را منځ ته کېږي او هغه دا چې تاريخ مرصع

---

(۹۰) تاريخ مرصع، افضل خان ختک، ۱۹۷٤ ع.، ٤۰۲ مخ.

او پته خزانه دوارې د پښتنو باوري سند ونه دي او په تاريخ مرصع کې د پښتې کال په توره : "سن زر سل درويشت" کښل شوی او هم د تاريخ مرصع تولې نسخې په دې برخې کې يوه خوله دي ، حکه د دې کال دباور پيوب په باب د شک ځای نه پاتې کيږي ؛ خو په پته خزانه کې د رحمان بابا د مرينې د کال (۱۱۱۸ هـ.ق.) په باب دا اتکل ځای شته حکه چې هلته دا کال په شمېر (۱۱۱۸) کښل شوی اوله بلې خوا د پټې خزانې د تر لاسه شوې نسخې په پای کې کاتب کښلي : "باستجال تمام قلمی شد" نو دې اتکل ځای پيدا کيږي چې سنايي د پټې خزانې په بله نسخه کې به داسې "۱۱۱۸" نه بلکه بل څه او هم احياناً «۱۱۲۸» وي چې دې "استجال" په سيب به "۲۸" ، "۱۸" کښل شوې وي . اوکه دا اتکل ومنو نو بيا به د رحمان بابا ژوند تر ۱۱۲۸ هـ.ق. کال پورې راوغزيږي .

په هرحال ، که رحمان بابا د ۱۱۲٤ هـ.ق. کال په شا او خوا کې مړ شوی وي نو ويلاى شو چې د "۸۲" کالنه عمر کړي او که تر ۱۱۲۸ کال پورې يې ژوند اتکل کړو نو بيا يې ژوند "۸۶" کلونه اوږد بيږي او داکوم غير عادي اوناشونی ژوند نه دی .

د رحمان بابا مزار د پښور سنا رته د پرلنډ په هزارخانی کې دی او د اخون درويزه په هدې برخه کې خښ دی چې خلک يې زيارت ته ورځي او کال په کال يې د پښتو نسټان شاعران په مزار غونډه کوي . د دې قبر څواله پخوا خښتو روغ وُ خو په ۱۹۵۸ ع . کال پښتو تولنې د کابل د هجارۍ اونجارۍ په فابريکه کې د مرمر وله د برې څخه جوړ شوی سنګلی اونفيس تعويذ ورواستاوه او دې په قبر کې پښود ل شو .

رښتيا هم چې :

که نظر که څوک په کار د درويشانو — خو به وويني وقار د درويشانو

هو مړه خلق بې زيارت کا پس له مرګه — چې بازار وي په مزار د درويشانو

زه رحمان پخپل شعار شکر گوزارم
چې راهسې رنګ دیوان مې دموندلی

[II]

# د رحمان بابا دیوان

رحمان بابا د دیوان را تولید لو په باب هم لکه د ده د ژوند په پسنو غوندې هرچا په یلې بیلې خبرې کړې او یې لیکلې دي. بیل نظر وونه پرې د کړل شوي دي چې موږ یې دلته بیل - بیل څېړو:

## فولکلوري روایت:

---

زه د پرکوچنی وم، د رحمان بابا شعر وونه مې له خپلې خورځخه (چې په خوند- به یې لوستل) اوریدلی وو خو په خپله یې لا دلوستلو نه وم، په همدې وخت کې مې له دې نه دا فولکلوري روایت هم اوریدلی وُ: "رحمان بابا یو ملنګ شاعر وُ، له خلکونه به ګوښه دسیند په غاړه ناست وُ، شعر وونه به یې ویل

اوپه هغو کودو رو به يې لپکل چې خپل څنګ ته يې راتول کړي وو ، يو وخت څوک ورنځي اودي يې د شعر په لپکلو بوخت ولېد ، رحمان بابا د پس ځه لپکل شوې کودې سپند ته واچول ، هغه کودې چې ترې پاتې وو هغه سړي سره راتول کړل اود رحمان بابا دا موجوده دیوان يې ترې جوړ کړ."

دا يو منلی روایت وُ چې د رحمان بابا د وينا د عامو علاقمندانو قناعت يې حاصلاوه او اوس يې هم مني.

## له فولکلوري نه متاثر روایت : د رحمان بابا د دیوان د لومړنۍ سرچينې لپکونکی پروفیسر عبدالمجید

افغاني د رحمان بابا د دیوان د راتولېدو په باب لیکي :

"... څه وخت چې مجنون[۹۱] ده ته هغه رباب د طریقهٔ چشتیه وغږ اوه نو مجنون مړ شه او عبدالرحمان د ريځ ورځې. سهوسنه پروت وُ چې څه وخت په هوښ راغی نو حالت دده تبدیل وخوړ اوله نیکانو شمار شه اود يې وجهې نه به ده سر د اور پدلو او آخر پرې د دومره استغراق غالب شه چې نمونځ ترې نه هم پاتې شه او د پسښتنو په اصطلاح د ملا عبدالرحمان نه یو ملنګ جوړ شه ، والي چې شپه او ريځ دې وُ او ژړا وه ترهسې چې د پورې چې اوسنکو يې په مخ باندې لاړې جوړې کړې ، خدای ورکړه یو څو دوستان هم ورکړې وه چې ده به څه ویل هغوی به جمع کول او دا دهغې یادانو برکت دی چې د عبدالرحمان دنړۍ قطرې په هره ځړکې په وینو سړې پرتې دی..."

---

(۹۱) مجنون په رحمان بابا پورې د تړل شوی فرضي معشوق نوم دی چې عجب خان يې په آب وتاب بیانوی او ویوه اوږده کیسه ورته تړي ( وګورئ : سوانح عمری ملا عبدالرحمان ، د لاهور چاپ.)

... بیا هم ددې قابل نه وُ چې خپل اشعار یې جمع کړي وي دوستانو به جمع کول او دهغه د مرګ نه وروسته یې داد دیوان جوړ کړ مګر بیا هم د عبدالرحمان د پر اشعار ضایع شوي او اوس هم دهغه په دیوان کې د پر اختلاف دی ، د پر ې غزلې دي چې په موجوده دیوان کې نشته مګر د پښتنو په مجلسونو کې ویلې کیږي ..."[92]

تر ده وړاندې میږ راورتې هم نظر ورکړی وُ چې رحمان بابا به چې شعر ونه وویل نو دهغو نقل به یې خپلو خاصو دوستانو ته واستاوه ، د ده دوستانو به دغه دځان سره ټولول او سا تل خو دیوبل نه خبر نه وو هر اشنا به یې داخیال کړو چې د ده د مرګ نه پس به دغه یوځای کړي ، د ده دوستانو هم غسې وکړه ، د ده ځینې نیمګړو دوستانو په دې غرض د رحمان په کلام کې خپل کلام ګډ کړو چې دا معلومه شي چې له دوی څخه د رحمان د کلام ذخیره تر نورو زیاته ده ، کلام به د دوی وُ او کسر به یې پرې د رحمان وویلو ددې نتیجه داشوه چې د ده د دیوان دوه دفترې یا حصې جوړې شوې ، دا ټکی برګی په وخت معلومه شوه ځکه چې د رحمان ځینې دوستان لا ژوندي وو او دهغه ویلې اشعار یې پټ ندل هم ، دوی پرته چا ته کړه او سوچه کلام یې پاتې شو خو بیا هم په د پر و نسخو کې اختلاف موجود دی ..."[93]

د راورتې دا نظر هم تر د پره حده په فولکلوري روایاتو ولاړ ښکاري او د کوم باوري سند له مخې نه غږ پرې .

## یوه بله رایه :

د رحمان بابا د دیوان غوندې ولو په باب یوه بله رایه دا ده چې واسناد مولانا عبدالقادر ده :

---

(92) دیوان عبدالرحمان ، د پروفیسر عبدالمجید په سریزه ، د لاهور چاپ .
(93) د دیوان عبدالرحمان ، د مولانا عبدالقادر سریزه ، "خ" او "د" مخ .

چې دنورو رایو په نتیجه کې یې ورکړې ده ، دی وایي چې : "داستغراق په دورکې درحمان کلام دده دوستانو جمع کړی دی اوچې کوم وخت بیارحمان د دنیا څوکندته په راګرځید و مجبورشو اودده کلام کې داولس اوقوم په اخلاق درای زنځه کیفیت پیدا شوی دی - نوشاید ده ته داخیال پیدا شوی وي چې راشه دادیوان راغونډکړه دابعید از قیاس نه ده ، دامم ضروري نه ده چې شاعرچې څه ووایي نوګنې تل دې هغه دده دحافظې په کتاب کې موجود وي، دې ټولې شاعرته خپل کلام نه وي یاد ولې دوستانو شاګردانو یې یادلرلی وي، کیدی شي چې دترتیب په وخت هغه ټول خلك دده شاوخوا موجودنه ووا وځکه دده دې پسې غزلې په ملکو کې خوریې وي ، ولې دیوان کې شاملې نه کړی شوې ... "(۹٤)

## مستند نظر :

لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي (۳٦) کاله پخوا په پښتانه شعراء کې وکښل :

" محققین مورخین دې خبرو ته اهمیت نه ورکوي ( دده د دیوان وروسته تولول ښیي ) او وایي چې رحمان بابا خپل دیوان په خپل ژوند غوندې مرتب کړی دی. لیکن دا موجوده دیوان درحمان ټول اشعار نه دي ځکه چې درحمان دې ډیر اشعار په دې دیوان کې نشته مګر د پښتنو په خولو کې جاري دي..."(۹۵)

ددې نظر په ملاتر کې مون دوه دوله ملاتړی شته دتونه لرو: یو په خپله هغه شاهدتونه دي چې ځای په ځای دده په خپل دیوان کې موندل کېږي.

---

(۹٤) دیوان عبدالرحمان ، د مولانا عبدالقادر سربنه ، " د" او "ذ" مخونه.
(۹۵) پښتانه شعراء ، ۱/۱۹٤

اوبل هم دهغه وخت د معاصر و متنوښو شمېر تونه دي .

مون د رحمان بابا په دېوان کې داسې بېتونه مومو چې نه يوازې دا ښيي چې ده خپل دېوان په خپله ټول کړی بلکه دا هم څرګندوي چې ده له خپلو شعرونو سره د ډېرې مينې له وده او په زيانه علاقه لري په عنوان ولو بوخت وُا ود دېوان ترجوړېدلو مخکې دهغه بياض پته هم راکوي چې ده به خپل شعرونه له ويلو سره سم پکې ثبتول :

هسې زيب کا په بياض د رحمان شعر
لکه زلفې د خوبانو په رخسار

ده له خوا د خپلو شعرونو دلپکلو په برخه کې دا بېت مخې ته راځي :

د رحمان تر قلم مسبک او عنبر اوري
چې آغان يې کړه اشعار د تور و زلفو

له خپلو شعرونو سره ده مينه له دې بېتونو څخه ښکارې :

د رګوهر په تله نه دي چا تللي
د رحمان شعر ګوهر دی خدې تولې

* * *

په غزل کې خو دوه بېته انتخاب وي
د رحمان تمام غزل دی انتخاب

* * *

لکه زه چې سخندان او هنرمند يم
بل به نه وي سخندان او هنرمند

* * *

هم نغمې کاندې هم رقص کا، هم خاندې
د رحمان په شعر تُرکي د باګرام

اودا بیتونه خو یې دهغه وخت دی چې دی د بشپړ دیوان خاوند ؤ :

یو کتاب په سر بن کې چا ونه کړ
بې رحمانه چې یې جوړ کړ و دا کتاب

* * *

د رحمان و سوزان شعر ته حیران یم
چې یې اوربل شوی نه دی په دیوان

* * *

درست دیوان د رحمان زار تر دا غږ اشنه
چې بیان یې کړو کړ دا ر ددې روښانو

* * *

زه رحمان په خپل اشعار شکر ګوزار یم
چې دا هسې رنګ دیوان مې دی موندلی

د "کتاب جوړول" ، " درست دیوان" او " دیوان موندل" په خپله ددې معنۍ لري چې ده خپل دیوان په خپل ژوند ترتیب کړی او جوړ کړی دی .

د رحمان بابا په ژوند دده د دیوان د ترتیب د لو په باب یو بل دلیل دا هم دی چې دی لا ژوندی ؤ چې دیوان یې په ټولو پښتنو کې خورشوی ؤ او پښتنو دده د ذېلوی ادبي قدرت په صله کې د "بابا" درونه لقب ورکړی ؤ ، په ژوند کې یې دده دیوان د پښتو را ودخټې افغانستان ټولې سیمې فتحه کړې وې اودده په ژوند دده له لقب " بابا" سره د افغانستان لوېدیځو سیمو ته ان ترکندهار په پوره پرسیدلی ، خورشوی او منل شوی ؤ او د هره ورځه یې د رحمان بابا دیوه لوی روحانی شخصیت په توګه خلکو ته ور پېژندلی ؤ ، همدا سبب ؤ چې د رحمان بابا ترمړینې خو کاله وروسته ملي مشر میرویس نیکه ده ته دده پر عقیدت درلود لو

له مخې دده په دیوان پال نښې او په خپل ملي اقدام کې دده روحاني ملاتړ ترلاسه کوي او دې لومړۍ ځل ورته وایي :

زه مکتوب غوندې په پته خوله گویا یم　　خاموشي ز ما تېرې کا ترغوغا ز ما
کښېنت د عشق په توده زمکه امان چېرې　　سمندر بویه چې زلیت کا په صحرا ز ما

له خوبیا بل ځل داسې مشوره ورکوي :

چې آسمان یې مخ پټ کړی په سحاب ځ　　خدای و ماوته ښکاره کړه لمر بیا
چې رقیب راته ترلی په زنځیر ځ　　خپل حبیب راباندې پرانست هغه ور بیا

په وصال یې منت باراوسه رحمانه
(۹۶)
په صدف کې دخل نشته دگوهر بیا

اومپرویس نیکه هم درحمان بابا مشوره خلکو ته ابلاغوي او په خپل ملي غورځنګ په ۱۱۱۹ هـ.ق. کال کې پیل کوي.

په دې سرپېره دوخت دودهم داسې ځې چې شاعرانو به خپل دیوانونه په خپل ژوند ترتیبول ؛ مثلاً د خوشال خان خټک هغه دیوان چې دده له مرینې نه یو کال مخکې لپکل شوی ددې خبرې سنه ثبوت دی[۹۷] داچې هر شاعر به محځ ګوله چې د تولوتوروپښتی په خپل دیوان کې ولري په خپله ددې سند دی.

اکثر و شاعرانو چې خپل دیوانونه د "یې" تر ردیفه رسولي ، بیایې سره تول کړي د یوان کړې یې دي او په خلکو کې خواره شوي ، د دیوان له ترتیب نه وروسته یې چې کوم غزلونه ویلي هغه بیا دده یا نورو کسانو له خوا په خپل خپل ځای د دیوان په څنډو او یا هم دوروستیو نسخو په متن کې ورزیات شوي دي.

---

(۹۶) پته خزانه (عکسي نسخه) ، ٤٦ - ٤٧ مخونه.
(۹۷) د خوشال خان خټک د دیوان دا نسخه د پښتو تولنې په کتابتون کې خوندي ده.

کله چې رحمان بابا په ژوند دده دد یوان د ترتیب د او را غوندې پدو په باب دومره کلک اسناد او دلایل لرو نو بیا په دې کې دهیڅ شک ځای نشی پاتې کیدلای چې دده دې خپل دیوان په خپله نه وي ترتیب کړی.

نو ځکه په نتیجه کې ویلای شو چې رحمان بابا خپل دیوان په خپل ژوند په خپله ترتیب کړی دی.

دا چې ځینې غزلې او بیتونه یې کم اوزیات دی او یا یې د دیوان د نسخو ترمنځ زیات تو پیرونه دي دد دې ډول - ډول عوامل دي یو دا چې سنایي ځینې غزلونه له دده نه د تدوین په وخت کې هېر شوي وي او یا یې نقل په لاس کې نه وي، ځینې غزلونه یې سنایي ترتدوین وروسته ویلې وي، ځینې شعرونه یې متعصبینو د دیوان له نسخو څخه غورځولې لکه د "رقص" په ردیف غزل چې په یوازینۍ نسخه کې را پاتې ده او د نسخو ترمنځ سره تو پیرونه خو د "خطاطانو او کاتبانو" خلصه لوړینه (!) ده چې دهرچا او هر تالیف په حق کې یې لري او یوازې د رحمان بابا دیوان یې نمونه نه دی.

یوه بله پوښتنه لا پاتې ده او هغه دا چې د رحمان بابا دیوان ولې په عنعنوي ډول په دوو دفترونو کې را پاتې دی؟

دلته یوا ټکل دا سې هم کېدای شی چې سنایي په یوه دفتر کې د رحمان بابا د ژوند دلومړۍ برخې او په بل دفتر کې یې د ژوند دبلې برخې شعرونه تر ردیف او تدوین شوي وي نو ځکه دا ټکل ومنو هم دلومړی دفتر شعرونه دده د ژوند دلومړۍ برخې نه دي ځکه په دې دفتر کې د رحمان بابا هغه نظمونه شته چې د ژوند لسه وروستۍ برخې سره یې اړه لري لکه دا ورنګزیب مرثیه او د ګل خان او جمال خان کیسه؛ نو عجالتاً د خپل دې ټکل مانې دا سې وړاندې شو چې سنایي د رحمان بابا د خپل ژوند دلومړۍ برخې شعرونه په یوه دفتر کې سره ټول کړی

اوتر ډیف کړي اوترهغه وروسته شعرونه یې په بل دفتر کې راغونډ کړي اوتدوین کړي وي، څرنګه چې ددوهمې برخې شعرونه یې په حمد، نعت اوددنیا په بې وفایۍ پیلیږي نو ځکه دوهم دفتر تر لومړي دفتر وړاندې شوی اویو دبل ځای یې نېولی دی چې دامو ومنله نو باید داهم ومنو چې په خلکو کې دده په ژوند باید دده د دیوان دوهم دفتر خو رشوی وي اولومړی دفتر یې بیا وروسته خلکو ته رسېدلی وي خو کله چې هغو فالونو ته راورسېږو چې مېرویس نیکه درحمان بابا په ژوند پر ۱۱۱۹ هـ.ق. کال کې دده په دیوان اچولي نو بیا زمون دا تهکل دامانې هم وراښېي ځکه هغه دوارې غزلې چې مېرویس نیکه فال پرې نېولی دده د دیوان په موجوده لومړي دفتر کې دي اوپه همدې دفتر کې د ګل خان اوجمال خان دپښتې نظم هم شته چې تر دې فال نېولې پنځه کاله وروسته په ۱۱۲۳ هـ.ق. کال ویل شوی دی.

ځکه چې له دې بحث نه هم نتیجه نه تر لاسه کېږي نو ددې دیوان د وه دفترونه جوړېدل تر اوسه کوم تاریخي اصالت اوروایت ترشا نه لري.

سنا غلي کامل د دوو دفترونو سره ګډ وونکی استاد بېنوا بولي[98]؛ خوداکار د بېرې ښې خوا شوی اوله ما سره درحمان بابا د دیوان یوه زړه قلمي اویوه زړه چاپي نسخه شته چې متاسفانه دواړې نیمګړې دي اودلپکلو اوچاپ کال نه لري، دا دواړې دیوه دفتر په اساس دي اود دواړو دفترو شعرونه یې سره یو ځای کړي اوپه یو ځلي تردیف کړي دي. همدارازد بمبئ د ۱۸۸۳ ع. کال چاپ نسخه هم په یو دفتري دول ده[99] چې سنایي زما نیمګړې چاپي نسخه همدا نسخه وي.

---

(۹۸) رحمان بابا، ۷۰ مخ.
(۹۹) د برتانوي ټاپوګانو په کتابتونونو کې دپښتو قلمي نسخو کتلاګ، ډاکټر میکنزي، لندن، ۸۵ مخ.

الله خلو پښتم

## قلمي نسخې

: څرنګه چې رحمان بابا د پښتنو ملي شاعر دی نو ځکه دده دیوان د پیړیو نسخې لیکلې شوې او خوړې شوې دي . پته خزانه کاږي : " چې ظل الله پادشاه جهان شاه حسین کاتبان واستول اوله پښتونه يې د عبدالرحمان بابا علیه الرحمه د دیوان نقلونه راوړل اوبه قندهار کې علما اوزهاد وو کښل اواوس د پردي. فقرا او د خدای دوستان د عبدالرحمان بابا شعرونه د پرلوړي اوخوښوي اوعام خلق فالونه پرګوري . حتی چې ښځمنې هم داکتاب د پرواي اوخدای تعالی دده وینا کې هسې برکت اپښی دی چې دهر خوښ من زړه دا روپه کا اوهر غریب اومحتاج مستغنی کا . "(۱۰۰)

دا روایت سنیي چې له دې نخوا څخه د رحمان بابا د دیوان د تکثیر او د پرسنت له پاره کار پیل شوی اوبه پښتو نخوا کې يې زیاتې نسخې خوړې شوي دي.

د میچن راوړتي دا خبر چې په نظر کې ولرو چې ده د رحمان بابا دوینا د انتخاب په وخت کې له شپیتو نسخو څخه استفاده کړې(۱۰۱) نو بیا د پښتو تر هر کتاب نه ده د دیوان د نسخو شمیره د پیړه ده ان چې د اخون درویزه تر مخزن الاسلام نه يې هم د نسخو شمیره اوړي خو په موجود وخت کې د رحمان بابا دیوان د قلمي نسخو د شمیر له مخې تر مخزن الاسلام را وروسته دوهم کتاب دی(۱۰۲) او د هیواد اوږدې په پیلو- پیلو سیمي اوشخصي کتابتونو کې يې نسخې شته.

د پښتو خطي نسخو په لاره کې زمالتون دوان دی خو تر اوسه نه يم بریالی شوی چې په ټوله نړۍ کې د پښتو خطي نسخو شمیره تر لاسه کړم ، په همدې توسن

---

(۱۰۰) پته خزانه (عکسي چاپ) ، ۴۵ مخ

(۱۰۱) د دیوان عبدالرحمان ، د مولانا عبدالقادر سرښه ، " د " مخ . " د دوران " مجله ، پیښور ۱۹۵۸ع. (۱۳، ۱۴ ګڼه- د نومورې مولانا مقاله)

(۱۰۲) رفیع ، حبیب الله ؛ "د پښتو قلمي نسخې" وږمه ، ۱۹ کال ، ۴ ګڼه (۱۲۵۴) ، ۸۳ مخ.

درحمان بابا د ديوان د ټولو نسخو شمېره هم زما په لاس کې نشته ؛ خو تر کومه ځايه مې
چې ياد دسته نه راغونډ کړي درحمان بابا د ديوان دا لاندې نسخې راته معلومې دي:

**الف** : د برتانوي تاپوګانو په ښارونو کې درحمان بابا د ديوان ۹ پوره او شېګړې
نسخې شته په دې ډول :

۱ ـ بريتش موزيم : دسيد غلام علي په قلم ، ۱۳٤ پاڼې ، کال نه لري .

۲ ـ دلينډ سيانا کتابتون : خطاط نامعلوم ، ۱۳۳ پاڼې ، بې تاريخه .

۳ ـ دهند دادارې کتابتون : خطاط ميا صدرالدين ، ۱۵۳ پاڼې ، د خطاطي کال ۱۲۷۰ هـ.ق.

٤ ـ بريتش موزيم : خطاط مېرزا محمد اسماعيل ، ۱۶٤ پاڼې ، د ۱۲۷۷ هـ.ق. ، ۱۸۶۱ع. کال لېک.

۵ ـ بريتش موزيم : خطاط غلام جيلاني پېښوري ، ۱۳۹ پاڼې ، د ۱۸۷۲ع. کال لېک.

۶ ـ دهند دارې : ۱۵۷ پاڼې ، خطاط او د خطاطي کال نه لري .

۷ ـ دهند دارې : خطاط فاضل محمد د عبدالغني کاسي زوی ، ۱۱۸۷ هـ.ق ، ۹۳ پاڼې .

۸ ـ بريتش موزيم : خطاط سراج الدين ، ۱۱۱ پاڼې ، د ۱۲۷۱ کال لېک .

۹ ـ بودليان : (د ديوان انتخاب) ، ۸۵ پاڼې ، د ۱۹۰۰ع. کال شاوخوا لېک (۱۰۳) .

**ب** : دلېنګراد په آسيايي موزيم کې درحمان بابا د ديوان درې نسخې خوندي دي :

۱۰ ـ د ۱۸۱۰ع. کال لېک .

۱۱ ـ د ۱۸۳۰ع. کال لېک .

۱۲ ـ د ۱۸۳۷ع. کال لېک . (۱۰٤)

**ج** : دهند په کتابتونو کې ښايي درحمان بابا د ديوان درې نسخې وي چې خو
دا درې نسخې يې فهرست شوې :

۱۳ ـ د رامپور رضا لايبرېري : خطاط محمد شاه بلخي ، د ۱۲۱۹ کال لېک ، ٤۷۰ پاڼې ، مصورې نسخه (۱۰۵)

۱٤ ـ د بنګال د ايشيايي ټولنې کتابتون : د شاه ثناءالله په قلم .

---

د دې مخ د متن پايليکونه په (۵۰) مخ کې وګورئ .

۱۵ - د پلي د پوهنتون کتابتون : د حافظ عبيد الله په قلم.[۱۰۶]

**ل** : د پښتونستان په شخصي اوږسيي کتابتونو کې د رحمان بابا د ديوان ډيرې نسخې شته خو مټا سفانه د ټولو فهرست پي لاس ته نه دی راغلی ، يوازې دالاندې نسخې پيژانده معلومې دي :

۱۶ - د پيښور د اسلاميه کالج کتابتون[۱۰۷]

۱۷ - د پروفيسر ولي محمد خان سيال کاکړ کتابتون : د ملا ولي په قلم ، ۹۰ پاڼې.

۱۸ - د سيال کاکړ کتابتون : د ملا ولي په قلم ، ۱۷۹ پاڼې[۱۰۸]

**ه** : په فرانسه کې د رحمان بابا د ديوان دوه نسخې پته شته :

۱۹ - د فرانسې د ګيمي موزيم : د ۱۲۰۹ ق. کال لیک د ولي محمد په قلم .

۲۰ - د فرانسې د ګيمي موزيم : د ۱۷۹٤ کال لیک[۱۰۹]

**و** : په امريکا کې دیو نسخې پته شته :

۲۱ - د پرنسټن د پوهنتون کتابتون[۱۱۰]

**نا** : د کابل د خطي نسخو په کتابتون کې د رحمان بابا د ديوان دا نسخې موجودې دي:

۲۲ - د ملا ولي په قلم چې ۳۲ انځورونه هم لري ، ۱۸٤ پاڼې .

۲۳ - په کشمير کې د ۱۲۲۷ کال لیک ، د ملا عبيد الله په قلم ، ۱٦۰ پاڼې.

۲٤ - بله نسخه ۱۱۹ پاڼې لري.

---

د ٤۹ مخ پايلیکونه :

(۱۰۳) د برټانوی تاپوګانو په کتابتونونو کې د پښتو قلمي نسخو کتلاګ ، د الټر مکينز په ، ۱۹٦۵ع. له ۸۵ تر ۹۳ مخ.

(۱۰٤) هډوا ( ورځپاڼه) ، ۱۳٤٦ کال وړۍ ، د نباغلي رښتين مقاله .

(۱۰۵) د خان غازي کابلي قلمي يادداشت ، د استاد بينوا د کتابتون .

(۱۰٦) هډوا ، د نباغلي رښتين مقاله .

(۱۰۷) همدا ورځپاڼه .

(۱۰۸) سيال کاکړ ، پروفيسر ولي محمد : " پښتو نسخې " ، قلمي .

(۱۰۹) هډوا ورځپاڼه ، يادونه شوې مقاله .

(۱۱۰) همدا انځور .

۲۵ - بله نسخه چې ۶۵ پاڼې لري.

۲۶ - بله نسخه چې ۱۷٤ پاڼې لري.

(۱۱۱)

۲۷ - بله نسخه یې چې ۱۶۷ پاڼې لري اوله ځینې شعروسره یې دري ژباړه هم شته

ح : د جمهوري آرګ په کتابتون کې د رحمان بابا د دیوان دا نسخې شته:

۲۸ - یوه نفیسه نسخه ده چې ۱۲۰ پاڼې لري(۱۱۲)

ط : د هرات په موزیم کې :

۲۹ - خوشخطه نسخه ده چې ۱۸۲ پاڼې لري(۱۱۳)

ی : د کابل پوهنتون په کتابتون کې هم د رحمان بابا د دیوان دا لاندې نسخه ساتله کیږي:

۳۰ - د ملا ولي د زوی ملا کمال په لیک چې ۱٤٤ پاڼې لري(۱۱٤)

ك : د پښتو ټولنې په کتابتون کې د بابا د دیوان دا لاندې نسخې شته:

۳۱ - د شاه زمان د سلطنت په وخت کې لیکل شوې نسخه ده چې ۲۵۱ پاڼې لري خطاط یې وجه الدین اود خطاطۍ کال یې ۱۲۳۰ هـ.ق. دی.

۳۲ - د سرله خوا نیمګړې نسخه ده چې ۱٤۲ پاڼې یې پاتې دي.

۳۳ - د سراوپای دوارو لخوا نیمګړې نسخه ده چې ۱۳۱ پاڼې یې پاتې دي.

۳٤ - د ملا اختر بیاض دی چې د رحمان بابا د اشعارو چاپ یکې شته(۱۱۵)

ل : د محترم استاد پوهاند عبدالشکور رشاد په کتابتون کې د رحمان بابا د دیوان نسخې شته چې یوه هم نسخه یې داده :

۳۵ - د ۱۱٤۵ هـ.ق. کال لیک ده او کامګار خان ختک د نامدار خان زوی

---

(۱۱۱) "د پښتو قلمي نسخې" د لیکونکي اثر، خطي.

(۱۱۲) د بورکوی د خطي نسخو فهرست، ۱۹٦٤ع. ۶۵ مخ.

(۱۱۳) همدا اثر، ۳۲۹ مخ.

(۱۱٤) ستوده، محمد ابراهیم او عبدالرحمن: "د پښتو د ۱۰۸ قلمي نسخو لنډه پیژندنه"، ۱۳۵۴، ګستنزی چاپ، ۲۵ مخ.

(۱۱۵) "د پښتو قلمي نسخې".

داشرف خان لمسي اودخوشال خان ختك كړوسي يوه مثنوي په خپل قلم
پرې كښلې اوهر يې پرې لگولى دى.(۱۱۶)

م: دښاغلي عبدالقدوس نجيب په كتابتون كې يې دانسخې شته:

۳۶- د ۱۲۷۹ هـ.ق. كال ليك چې ۱۳۶ پاڼې يې پاتې دي اودپاى پاڼې يې نشته.

۳۷- يوه نيمگړې نسخه چې ۵۳ پاڼې يې پاتې دي(۱۱۷).

ن: دښاغلي محمد حليم سليمى په كتابتون كې هم درحمان بابا دديوان دوې نسخې خوندې دي:

۳۸- خطاط يې انعام نومېن يې چې په ۱۱۷۶ هـ.ق. كال يې كښلې ده، دوارې
دفتر ونه يې بېل- بېل گنډل شوي دي چې تولې پاڼې يې ۱۳۴ دي.

۳۹- د ۱۱۹۹ هـ.ق كال په شاوخوا كې كښل شوې، دپاى لخوا نيمگړې ده
او ۷۲ پاڼې يې پاتې دي(۱۱۸)

س: دښاغلي زلمى هيواد مل په كتابتون كې درحمان بابا ددېوان لاندې
نسخې خوندي دي:

۴۰- د ۱۲۱۲ هـ.ق كال ليك چې ۸۴ پاڼې لرې.

۴۱- يوه زړه بې تاريخه نسخه چې ۲۰۰ مخه لري.

۴۲- درحمان بابا دشعرونو يوه انتخابي مجموعه چې ۱۶ پاڼې لري(۱۱۹)

ع: دليکونکي په كتابتون كې درحمان بابا ددېوان دالاندې نسخې خوندي دي:

۴۳- دملا قمرالدين په خط لپكال شوې نسخه ده چې درخو پاڼې يې لوېدلې

---

(۱۱۶) دمحترم استاد، پوهاند عبدالشكور رشاد يادداشت چې په خاصه لوړپېنه يې راسپارلى دى.

(۱۱۷) "دپېښتو قلمي نسخې" دښاغلي نجيب صاحب په دېره مېنه دخپل كتابتون نسخې دمعرفي په غرض راسنوولې چې په دې وسيله مننه تري كوم.

(۱۱۸) "پېښتو قلمي نسخې"، دښاغلي سليمى صاحب هغه سخاوتمندي چې دخپل خاني كتابتون دنسخې په راسنولو كې يې كړې دډېرې مننې وړده.

(۱۱۹) "پېښتو قلمي نسخې". دگران ملگري ښاغلي زلمى هيواد مل لوړپېنه ترتعارف لوړه ده څكه كتابونه مودا سې سره گډ دي چې داسې وختونه هم پېښېږي چې يو دبل كتاب نه سره پېژنو..

اودپای یوځ یې نشته موجودې پاڼې یې ۹۱ دي.

٤٤ - بله نسخه ده چې ځینې پاڼې یې ضایع شوې، دانسخه په یوه دفتر کې ترتیب شوې څونوې غزلې هم لرې چې پاڼې یې ۸٤ دي.

٤٥ - ددې نسخې هم ځینې پاڼې لوېدلې او ۹٦ پاڼې یې راپاتې دي.

٤٦ - ددې نسخې زیاتې پاڼې نیمه خواشوې اویوازې ٤٧ مخه تر ې راپاتې دي.

٤٧ - دایوه زړه نسخه ده چې پنځوس پاڼې یې راپاتې دي.

٤٨ - دملا سنایسته خان جونګ چې درحمان بابا زیاتې غزلې پکې چاپ شوې او خوندي دي.[120]

له دې سره - سره بیا هم دایو ډېر ښه احصائیه یوه ډېره لنډه ګنډه اونیمګړې احصائیه ده ځکه د بابا د دیوان ډېرې ټولې نسخې هم شته چې علاقمندانو ته یې سا تلې دي، ما دا تلونکو احصائیو په هیله داشمېره وړاندې کړه.

## ۱۸ چاپي نسخې:

لکه څرنګه چې درحمان بابا د دیوان قلمي نسخې ډېرې دي همدارنګه د دې دیوان چاپونه هم له پخوا راهیسې روان دي اوپه لسها ځله خپور شوي دي.

د دې دیوان تر ټولو زړه چاپي نسخه چې مالپدلې ده په ۱۲۸۰ هـ.ق. کال کې د بمبئ چاپ نسخه ده چې په سنه صحافت خپره شوې ده.[121]

او تر ټولو نوې چاپي نسخه یې چې د اکټر مکینزیې اود "رحمان بابا" د کتاب پې نوم مؤلف درحمان بابا د دیوان لومړۍ چاپي نسخه ګڼلې، هغه نسخه ده چې مولوي احمد

---

(۱۲۰) "ډېښتو قلمي نسخې" په دې نسخو کې دوې نسخې ګران ملګرې سنا غلی احسان الله آرینزی را ښلې چې کورودانی ورته وایم.

(۱۲۱) دانسخه د سنا غلی زلمي هیواد مل په کتابتون کې خوندي ده.

دتنگی دخوشحاله مخ ترتیب کړې اوپه ۱۸۷۷ع. کال په لاهور کې پادري هیوز چاپ کړې ده (۱۲۲)

ددې دیوان یوه بله زړه چاپي نسخه دحیدري مطبعې چاپ ده چې دقاضي فتح محمد په اهتمام خپره شوې، په ۱۸۸۳ کال کې یوځل په بمبئي اودوه ځل په دهلي کې چاپ شوې اوترهغه وروسته یې چاپونه لړشمېره اوږي. یوه زړه نفیسه نسخه یې چې په ښکلي خط کښلې شوې په ۱۳۲۸ ش. کال پښتو ټولنې داستاد بینوا په زیار خپره کړه اویوبل انتقادي متن یې د پښتو پښتو اکېډمۍ په ۱۹۶۳ع. دارواښاد مولانا عبدالقادر په سریزه خپور کړاوهم یې هم دې اکېډمۍ لړمنظومې اردوترجمې سره یومتن خپور کړ (۱۲۳).

## چاپي انتخاب:

درحمان بابا دد یوان چاپي انتخاب دده ترټولو چاپي نسخو وړاندې دی ځکه لومړی ځل دده غزلې آلماني خېښې پوه دورن په خپل "خرېستوماتیا" نومې کتاب کې چې دپښتو ادبیاتو انتخابي مجموعه ده په ۱۸۴۷ع. کال په پټرزبورګ کې خپرې کړې (۱۲۴) بیا دده غزلې انګریزي خېښې پوه میجر راورټي په ۱۸۶۰ع. کال په خپل "ګلشن روه" نومې مجموعه کې نشر کړې (۱۲۵) اوبیا پادري هیوز په "کلید افغاني" کې درحمان بابا دد یوان غزلې انتخاب کړې چې یوچاپ یې د ۱۸۷۲ع. کال دی (۱۲۶).

همدارازپه "جشن فیروزی"، "ګلشن نوروزی"، "بهارګلشن" اودقاضي میراحمدشاه رضوانی په "بهارستان" اوشکرستان" کې هم دده د دیوان انتخابات شوې او په دې سربېره په دې وروستیو یاتو مجموعو کې درحمان بابا ملکوتي وینا وې خېستلې شوې اوخپرې شوې دی.

---

(۱۲۲) دقلمي نسخو کتلاګ، د الهتر میکنزي، ۸۵ مخ. رحمان بابا، ۲۲ مخ.
(۱۲۳) درحمان بابا دیوشمېر چاپي نسخو دمعرفې لپاره وګورئ: لېنټوکتاب سنوه، دلیکونکي اثر.
(۱۲۴) وګورئ، خرېستوماتي.
(۱۲۵) وګورئ: ګلشن روه ۱-۳۰ مخونه.
(۱۲۶) وګورئ: کلید افغانی.

(c) kelabton.com: The Digital Library

# پنځه پنځوسم

# اخځونه


۱ ـ افضل خان خټک : "تاریخ مرصع"، مقابله ـ تصحیح او نوټونه د دوست محمد خان کامل مومند
۱۹۷٤ ع. یونیورسټی بک ایجنسی ـ پیښور .

۲ ـ حافظ رحمت خان : "خلاصة الانساب" د محمد نواز طائر دیباچه او ترجمه، ۱۹۷۳ع.
پښتو اکېدمی ـ پیښور .

۳ ـ خواجه نعمت الله هروی : "تاریخ خان جهانی و مخزن افغانی"، تصحیح او تنقیح د
سید محمد امام الدین، ۱۹۶۰-۶۲ع. ایشیاتک سوسائټی د اکه (په دوه ټوکونو کې).

٤ ـ محمد هوتک : "پټه خزانه"، د استاد حبیبی سریزه او سمون، ۱۳۲۳ ش پښتو ټولنه کابل

۵ ـ محمد هوتک : "پټه خزانه" (عکسي چاپ)، د استاد حبیبی نوې سریزه، ۱۳۵٤،
د پښتو د پراختیا او پیاورتیا آمریت، کابل.

۶ ـ سایسته خان : "د ملا بنایسته خان جونګ"، د دوو لسمې پیړۍ لیک، د لیکنوکتابتون

۷ ـ حبیبی، پوهاند عبدالحی : "پښتانه شعراء" (لومړی ټوک)، ۱۳۴۰ ش، پښتو ټولنه، کابل

۸ ـ حبیبی، پوهاند عبدالحی : "افغانستان در عصر کورګانی هند" ۱۳٤۱، تاریخ ټولنه.

۹ ـ حبیبی، پوهاند عبدالحی : "د پښتو د ادبیاتو تاریخ"، (دوهم ټوک)، ۱۳٤۲، پښتو ټولنه ـ کابل

۱۰ ـ حبیبی، پوهاند عبدالحی : "افغانستان پبلیک"، د ژوندۍ کتابخپرولو موسسه، ۱۳۵۳ ش کابل

۱۱ - حافظ مرغزی : "شاهنامهٔ احمدشاه ابدالی"، پښتو اکیډمی، ۱۹۶۵ع. پیښور.

۱۲ - کامل مومند : "رحمان بابا"، ادارهٔ اشاعت سرحد، ۱۹۵۸ ع. پیښور.

۱۳ - عبدالصمد خان : "رحمان بابا شاعر انسانیت"، داثر پسریزه، ۱۹۷٤ع. پیښور.

۱٤ - بې نومه مؤلف : "رحمان بابا" محکمهٔ نشر و اشاعت قبایل

۱۵ - ظفر کاکاخیل، سید بهادر شاه : "پښتانه د تاریخ په رنا کې" یونیورسټي بک ایجنسي ۱۹۶۵ع. پیښور

۱۶ - حبیبي، پوهاند عبدالحی (تصحیح او سریزه) : "د خوشال خان خټک مرغلرې"، طلوع افغان ۱۳۱۷ کندهار

۱۷ - کامل، دوست محمد (سریزه او سمون) : "کلیات خوشال خان خټک"، ادارهٔ نشر و اشاعت سرحد، ۱۹۶۰ (دوهم چاپ) پیښور.

۱۸ - رسا، سید رسول (سریزه او ترتیب) : "ارمغان خوشال"، یونیورسټي بک ایجنسي، پیښور.

۱۹ - بینوا، عبدالرؤف (سریزه او سمون) "د رحمان بابا دیوان"، پښتو ټولنه، ۱۳۲۸ کابل

۲۰ - عبدالقادر، مولانا (سریزه) : "دیوان عبدالرحمن"، پښتو اکیډمی" ۱۹۶۳، پیښور.

۲۱ - عبدالمجید، پروفیسر (سریزه) : "دیوان عبدالرحمن مع رباعیات دیوان عبدالحمید"، صابر الکټرک پریس - لاهور.

۲۲ - غږدال، څېړنیار محمد عارف (سمون) : "د رحمان بابا دیوان" (همدا متن) لاسکښلی نسخه

۲۳ - خادم، قیم الدین (تولوونکی) "د رحمی ګلونه"، پښتو ټولنه ۱۳۲۶ کابل

۲٤ - حبیبي، پوهاند عبدالحی (سریزه او سمون) : "د عبدالقادر خان خټک دیوان"، طلوع افغان ۱۳۱۸ کندهار.

۲۵ - عظیم : "دیوان عظیم"، ۱۳۳۳ هـ.ق.، مطبع اسلامیهٔ لاهور.

۲۶ - بخاری، خیال (ترتیب او تدوین) : "دیوان نجیب"، پښتو اکیډمی، ۱۹۷۲ پیښور.

۲۷ - دارمستتر : "د پښتنخوا د شعر هاروبهار"، د پاریس د ختیځ ټولنه، ۱۸۸۸ ع. پاریس.

۲۸ - همېش خلیل (ترتیب او سریزه) : "دیوان هجری" ۱۹۵۸ع. پیښور.

۲۹ - همیش خلیل (ترتیب اوسریزه) : " دیوان عبدالقادر خان ختک " ، ۱۹۷۲ ع . پېښور .

۳۰ - دیونس خیبری دیوان ، دارګ دکتابتون قلمی نسخه .

۳۱ - عبدالقادر ، مولانا (سریزه) : " دیوان مصری خان ګګیانی " . پښتو اکېډمی ، پېښور

۳۲ - بخاری ، خیال (ترتیب اوتدوین) : " دیوان معزالله خان مومند " ۱۹۵۸ ع . پښتو اکېډمی پېښور

۳۳ - همیش خلیل (سریزه اوترتیب) : دیوان معزالله خان مومند " ، ۱۹۶۱ پېښور .

۳۴ - همیش خلیل (سریزه اوترتیب) : " دیوان کاظم خان شیدا " ، ۱۹۶۵ ع . پېښور

۳۵ - بېنوا ، عبدالرؤف (سریزه اوترتیب) : " کاظم خان شیدا دیوان " ۱۳۳۱ کابل

۳۶ - همیش خلیل (سریزه اوترتیب) : " دیوان بېدل " ۱۹۵۷ ع . پېښور

۳۷ - همیش خلیل : " ورکه خزانه " (لومړی ټوک) ، ۱۹۶۰ ع . پېښور

۳۸ - بېنوا . عبدالرؤف ( ترتیب اوسریزه ) : " د پیر محمد کاکړ دیوان " ، ۱۳۲۵ ، پښتو ټولنه کابل

۳۹ - " د شمس الدین کاکړ دیوان " ۱۳۳۳ ، پښتو ټولنه کابل .

۴۰ - " د حنان بارکزی دیوان " ۱۳۳۶ ، پښتو ټولنه کابل .

۴۱ - " د عبدالغفار هوتک دیوان " ، قلمی نسخه .

۴۲ - اثر ، عبدالحلیم : " تېرې چېرش ارمان " ، ۱۹۶۳ ع . پښتو اکېډمی ، پېښور .

۴۳ - همیش خلیل (سریزه اوترتیب) : " دیوان قنبر علی خان " .

۴۴ - دورن ( ټولونکی ) : " خریستوماتیا " ، پترزبورګ ، ۱۸۴۷ ع .

۴۵ - راورټی ، میجر ( ټولونکی ) : " ګلشن روه " ، ۱۸۶۰ هرټفورډ .

۴۶ - هیوز ، پادری ( ټولونکی ) : " کلید افغانی " ، ۱۸۷۲ ع . لاهور .

۴۷ - محمد آصف خان : " تاریخ ریاست سوات " ۱۹۵۸ ع . سوات .

۴۸ - خان غازی کابل (قلمی یادداشت) : " کتابخانه رضا " ، د استاد بېنوا کتابتون .

۴۹ - سیال کاکړ ، پروفیسر ولی محمد خان : " پښتو نسخې " - د سیال کاکړ ځانی کتابتون دنسخو معرفی

لاسکښلي نسخه .

۵۰- بورکوی : " د افغانستان خطي نسخې " ، ۱۹٦٤ ع .

۵۱- میکنزی ، ډاکټر : " د برتانوی تاپوګانو په کتابتونو کې د خطي نسخو کتلاګ " (د دې کتاب لپاره متن ګران ملګری عنایت الله محرابی راته ژباړلی ) .

۵۲- عبدالغنی ، دکتور : "احوال و آثار میرزا عبدالقادر بېدل" ژباړن میر محمد آصف انصاری ، کابل پوهنتون ، ۱۳۵۱ .

۵۳- "کلیات بېدل" ، د پوهنې وزارت ، ، کابل .

۵٤- تجدد ، محمین جهانګلو : " سماع در سلسله ها " ۱۳۵۱ ، تهران .

۵۵- اچکزی ، محمد جعفر : " وندر " ۱۹۵۹ ع . کوټه .

۵٦- عجب خان د چګګی : " سوانح عمری د ملا عبدالرحمن " (فولکلوریکه) ، لاهور .

۵۷- رښتین ، صدیق الله : " د پښتو نسخو فهرست " ، هېواد ( ورځپاڼه ) ، ۱۳۵٦ ، د سدا د سنبلي ګڼه .

۵۸- ستوده ، محمد ابراهیم او عبدالرحمن : " د پښتو د ۱۰۸ قلمي نسخو لنډه پېژندنه " ۱۳۵٤ ، ګستنزي چاپ د کابل پوهنتون کتابتون .

۵۹- هېواد مل ، زلمی : " فرهنګ زبان و ادبیات پښتو " . لاسکښلی نسخه .

٦۰- رفیع ، حبیب الله : " عبدالوهاب اچکزی " زیری ، ۱۳۵٦ ، د جوزا ۱۳ ګڼه .

٦۱- رفیع ، حبیب الله : " د پښتو ژبې د تذکرې " ، افغانستان اکاډمی ، د تاریخ او ادبیاتو ټولنه ۱۳۵۰ کابل

٦۲- رفیع ، حبیب الله : " ادبي ستوري " (لومړی ټوک) ، پښتو ټولنه ، ۱۳۵۳ ، کابل

٦۳- رفیع ، حبیب الله : " د پښتو قلمي نسخې " ، ویژه ، نولسم کال ، لسمه ګڼه ، ۱۳۵٤ ش .

٦٤- رفیع ، حبیب الله : " د پښتو خطي نسخې " ( په نړۍ کې د پښتو خطي نسخو معرفي ) ، قلمي .

٦۵- رفیع ، حبیب الله : " د پښتو کتاب ښوونه " ، قلمي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه پوهوسم

# د دې څخه نسخې

د رحمان بابا د دیوان د انتقادي
متن پاڼې او لوګې له د خوچاپي ها و
خطي نسخو څخه ګټه اخیستل شوې دي:

د رحمان بابا د دیوان د دغه انتقادي متن په تیارولو کې له خلورو
چاپي نسخو، شپارسو خطي نسخو، خریستوماتي یادو ورځنو مجموعو
او د شورويي اتحاد څخه د راغونډ شوي میکروفلم څخه کار اخیستل
شوی دی. کوم څرګند توپیر چې په کومه نسخه کې په نظر راغلی
یا کوم نوی غزل او نوی بیت موندل شوی دی په لمن لیک کې د هغې نسخې حواله ورکړل
شوې ده د غو نسخو ته مونږ مخفف نومونه ورکړي دي تر څو محققین او لوستونکي له زیاتو
خنډ ونوسره مخامخ نه شي؛ مثلاً د پښتو ټولنې نسخې مود "پ"، د اطلاعاتو او کلتور
د خطي کتابخانې نسخې مود "خ" نسخې په نامه او د پښتو چاپي نسخو ته مود "پ، پ"
یعنې پښتو اکیډمۍ چاپ، "ق، ك" یعنې قدیمي کتابخانې چاپ او "ق" یعنې قصه خوانۍ
چاپ نومونه او د پښتو ټولنې د بېنوا صاحب له خوا چاپ شوی دیوان ته مود "پ" چاپ
نوم ورکړی دی. د غه انتقادي متن مولکه د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوي دیوان
غوندې په یوه دفتر کې ترتیب کړی او د پښتو ټولنې د مسلکي غړي او ځوان

خطاط سبا غلي نصيږ "هنر" پسنتون له خو اخطاطي شوی دی.
ددې د پاره چې د رحمان بابا د دیوان د دغه انتقادي متن محترم لوستونکي له دغو
چاپي او خطي نسخو سره سنه بلدشي هره نسخه په څانګړې توګه معرفي کړي:

د کابل د پښتو ټولنې چاپ :- د دغې نسخې کچه ۱۵×۱۰ سانتي متره ده
او په کوچنۍ قطع چاپ شوې ده د دغې
نسخې مصحح، مدون او مقابله کوونکی استاد بینوا دی چې د شاعر ضمیر الدین کیلی له خوا
خطاطي شوی او په ۱۳۲۸ کال کې د کابل د عمومي مطبعې په آفست کې چاپ شوی دی.
مقدمه هم د استاد بینوا له خوا پرې لیکل شوې چې د رحمان بابا د پېژندګلوی په باب
خورا په زړه پورې مواد لري.

د دغه چاپي د دیوان تول " ۲۶۰ " مخونه دي چې (۱۳۰) پاڼې کېږي، په دغه
د دیوان کې (۳۳۸) پارکي راغلي دي او د تولو بیتونو شمېر یې (۳۸۵۳) دی. د دغه نسخه
د رحمان بابا دنورو چاپي او خطي نسخو پر خلاف په یوه دفتر کې ترتیب او چاپ شوې ده.

د پېښور پښتو اکېډمۍ چاپ :- کچه یې ۲۰×۱۶ سانتي متره
ده. د دغه چاپي د دیوان دلومړۍ ځل
له پاره د ۱۹۶۳ ع. کال د جولای د میاشتې په دېرشمه نېټه د هغه وخت د پښتو اکېډمۍ
د مشر مولانا عبدالقادر په تمهید چې د ۱۳۶۸ هـ. کال د صفر المظفر د میاشتې په ۱۸
نېټه چې د ۱۹۴۸ عیسوي کال د دسمبر له شلمې نېټې سره برابره ده کښلی،
چاپ شوی دی د رحمان بابا دغه نسخه په دوو دفترونو کې چاپ شوې چې د مخونو شمېر
یې (۲۸۵) ته رسېږي او مقدمه یې د الفبا په ترتیب وروسته چاپ شوې ده.
په دغه د دیوان کې (۳۴۴) پارکي راغلي دي چې تول (۳۷۰۰) بیته دي.

## د پېښور قدیمي کتابخانې چاپ :- درحمان بابا د دغه چاپي دیوان کچه ۱۵ X ۲۴ سانتي متره ده ،

د پېښور د کالج د پېښو د فېسر عبدالحمید او شاه افضل صاحب په سربرو په (۱۷۷) مخونو کې د پېښور د قصه خوانۍ د تاجرالو حاجي فضل احمد او حاجي عبدالرحیم له خوا چاپ شوی دی . دچاپ نېټه یې نه ده معلومه ، د پارکوشمېر یې (۳۴۷) او د بیتونو شمېر یې (۳۷۶۴) دی ، دغه نسخه هم په دوو دفترونو کې ترتیب او چاپ شوې ده.

## د پېښور قصه خوانۍ چاپ :- د دغې چاپي نسخې کچه هم ۱۵ X ۲۴ سانتي متره ده چې

په ۱۹۲۰ عیسوي کال کې چاپ شوې او د مخونو شمېر یې (۱۸۴) دی ، په دغه نسخه کې تول (۳۲۱) پارکي راغلي او د بیتونو شمېر یې (۳۶۰۳) دی ، دغه چاپي دیوان هم په دوو دفترونو کې ترتیب او چاپ شوی دی .

## د پښتو ټولنې د کتابتون خطي نسخې :- د پښتو ټولنې په کتابتون کې د درحمان بابا دیوان

درې خطي نسخې او یو قلمي جونګ چې درحمان بابا یو شمېر غزلې هم پکې دي شته چې په هره نسخه په ببلا ببل ډول خبرې کېږي .

## د "پ" لومړۍ نسخه :- د "پ" د کتابتون لومړۍ نسخې کچه ۱۳ X ۲۳ سانتي متره ده او نسخه

دسر او پای له خوا بشپړه ده ، د مخونو شمېر یې (۲۵۱) او د پارکو شمېر یې (۳۱۴) دی ، دغه نسخه د شاه زمان د سلطنت په مهال کې لیکل شوې ده .

## د"پ" ډوبه نسخه :-

د"پ" په کتابتون کې درحمان بابا بله نسخه هم شته چې دد ویې نسخې په نامه نومل شوې ده ، ددغې نسخې کچه ۱۴X۲۴ سانتي متره اودمخونو شمیر یې ۱۴۱ دی ، دخطاطې کال اودخطاط نوم یې نه ښکاري . دانسخه نیمګړې ده اوټول ۲۴۹ پاڼې پکې راغلې دي .

## د"پ" ډلیمه نسخه :-

د"پ" دکتابتون دغه نسخه هم دسراوپای لرخوا نیمګړې ده دمخونو شمیر یې ۱۳۱ اود پاڼو شمیر یې ۱۵۲ نه رسیږي اوکچه یې ۱۴X۱۴ سانتی متره ده .

## دکابل پوهنتون دکتابتون نسخه :-

دکابل پوهنتون په لوی کتابتون کې هم درحمان بابا ددیوان یوه قلمي نسخه شته چې ددغه انتقادي متن په تیارولو کې استفاده تري شوې ده ، ددغې نسخې کچه ۱۵X۷ انچه اودخطاطې کال یې نه دی معلوم خودملا کمال دملاولي دنوی لخوا لیکل شوې ده ټول مخونه یې طلایي اوسره چوکاټونه لري . دپانو شمیر یې ۱۴۴ دی چې ټوله ۲۸۸ مخونه کېږي .

## داطلاعاتو اوکلتور دخطي کتابتون خطي نسخې :- اداطلاعاتو اوکلتور

دوزارت په خطي کتابتون کې درحمان بابا دد یوان پنځه قلمي نسخې شته چې ددغه انتقادي متن په تیارولو کې استفاده تري شوې ده اوپه ترتیب سره خبرې پرې کړې دي :

## د"خ" مصورہ نسخه :-

ددغې نسخې کچه ۱۸X۱۲ سانتي متره ده دلیک دول یې نسخ دی د پانو شمیر یې ۱۸۳ ته رسیږي چې ټول ۳۶۶ مخونه کېږي ۲۹۸ غزلې اودوه مخمسه لري ، پشتي یې کیږه ، (۳۲) ښکلي عکسونه اویونیم مخ نقاشي لري ، په کشمیر کې دملاولي په قلم لیکل شوې ده .

## د "خ" لومړی نسخه :-

د "خ" دغې نسخې کچه ۱۹X۱۳ سانتی متره اود لیک ډول یې نسخ دی ، د څرمنې پشتې لري.

د پانو شمیر یې (۱۶۰) دی چې (۳۲۰) مخونه کېږي (۳۵٤) غزلې اود وه مخمسه لري په دغه نسخه په ۱۳۲۷ کال په کشمیر کې لیکل شوې ده.

## د "خ" دویمه نسخه :-

د خطی کتابتون د دغې نسخې کچه ۲۳X۲۱ سانتی متره اود لیک ډول یې نستعلیق دی

د پانو شمیر یې (۱۱۹) دی چې ټول ۳۳۸ مخونه کېږي ۳۰۸ پاڼې کې اود وه مخمسه لري، پشتې نه لري اولیکوونکی یې معلوم نه دی.

## د "خ" دریمه نیمګړې نسخه :-

د خطی کتابتون د دغې نسخې لیکوونکی نه دی معلوم. دا سراوپاڼه لرخوا نیمګړې ده کچه یې ۲٤X۱۷ سانتي متره اوکاغذي پشتې لري . دلیک ډول یې نسخ او ۵۶ پاڼې لري چې ۱۱۲ مخونه کېږي اوټول (۱۸۰) پاڼې پکې راغلی دي.

## د "خ" څلورمه نسخه :-

د خطی کتابتون د دغې نسخې لیکوونکی هم نه دی معلوم. دلیک ډول یې نستعلیق اوکچه یې ۲۱X۱۳ سانتي متره ده ، پشتې یې کاغذي اود پانو شمیر یې ۱۷٤ دی چې ټول ۳٤۸ مخونه کېږي ، ۳۲۹ پاڼې پکې راغلی دي یومینا تورلري اودهر غزل له پیل سره د پرسنکلي اوپه زره پورې ګل کاري شوې ده .

## د زلمي هیواد مل نسخې :

له سنا غلی زلمی هیواد مل سره هم درحمان بابا د دیوان دوې قلمی نسخې شته چې د دغه

انتقادي متن په تیار ولو کې کار ترې اخیستل شوی دی او په لاندې توګه خبرې پرې کېږي:

**لومړی نسخه :-** دغه نسخې کچه ۱۷X۱٤ سانتي متره ده ، تولې ۷٤ پاڼې لري چې ۱٤۸ مخه کېږي . خطاط یې ندی معلوم اوپه ۱۲۱۲ هـ.ق. کې لیکل شوې ده .

**دویمه نسخه :-** دغه نسخه دېره زړه ده (۲۰۰) مخه لري او په هر مخ کې یې معمولاً (۱۸) بیته لیکل شوی دی چې په دغه حساب یې تول بیتونه ۳٤۰۰ ته رسېږي .

**دحبیب الله رفیع نسخې :-** دبناغلي حبیب الله رفیع په شخصي کتابتون کې هم د رحمان بابا د دیوان خلور خطي نسخې شته چې په دغه انتقادي متن کې استفاده ترې شوې ده چې دوې نسخې دبناغلي احسان الله آرین زي له خوا ورکړل شوي دی او په لاندې توګه خبرې پرې کېږي :

**لومړی نسخه :-** یوه زړه نسخه ده سراوپاڼې نه لري ، دخطاط نوم او د لیکلو کال یې نه معلومېږي . دمخونو شمېر یې (۱۹۰) ته رسېږي ، په هر مخ کې یې معمولاً پنځلس بیته راغلي دي دوو دفترونو په ولیش لیکل شوې ده اوکچه یې ۱۷X۲۱ سانتي متره ده .

**دویمه نسخه :-** دبناغلي رفیع دکتابتون دغه نسخه هم زړه ده . د سراوپاڼې یا مخ یې نشته . تراسه شوی مخونه یې ۱۷٤ دي . هر مخ یې ۱٤ بیتونه لري . تول شعرونه یې په یوه دفتر کې راتول شوي

اودوودفتر وویش نه لري . تر تولو نسخو زیاتې غزلې لري او تقریباً یوه وتلې نسخه بلل کیداى شي . کچه یې ۱۷٫۵ X ۲۱ سانتی متره ده .

**د لیکنې نسخه :-** دسباغلی رفیع د کتابخانې د دغې نسخې د سرخوپانې لوبدلې دي . خطاط یې د ملا حسن زوی ملا قمرالدین دے . مخونه یې ۱۸۲ دي . او په هر مخ کې یې ۱۹ بیتونه راغلي دي . دغه نسخه په دوو دفترونو کې ترتیب شوې ده . حینې نهایت بیتونه هم لري او کچه یې ۱۵X۲۵ سانتی متره ده .

**د ملا بسایسته خان جونګ :**

د سباغلی رفیع په کتابتون کې د ملا بسایسته خان یو قلمي جونګ هم شته چې د رحمان بابا حینې غزلې پکې راغلې دي اود دغه انتقادي متن په برابرولو کې استفاده ترې شوې ده .

# اړوه شپیته

# د پاپکو لارښود

## دلومړیو مرستیالانو دلومړي ټولګي لپاره

ترتیبونکی: حبیب الله رفیع

د دې لپاره چې د رحمان بابا د دیوان عنعنوي دوه دهم ساتل شوي وي، په دې لارښود کې د هغو غزلو مرستیالتیا د دیوان په نمبر وار چاپوکي په دوهم دفتر کې راغلي دستوري (*) نسبه شوې اوپه دې ترتیب دلومړي اودوهم دفتر ویشل سره شوی اوهغه غزلې چې نوې موندلې شوې له مسري سره یې کوچنۍ دایره (○) کښله شوې ده چې نویې موندل شوې غزلې په نسبه کښوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اته شپېتم

## مخ


آشنايي بده بلاده آشنا مه شې ۲٤۲
آفرين دعاشقانو په همت ٤۰

## ا

اعتماد به په دنيا کوې ترکومه ۱۷۰
اورنګ زيب اوشاهجهان غوندې اشراف ۷۹
* اورنګ زيب چې آرايش دتخت وتاج کا ۱۹
اوښکې نه لري حساب زما د ستر ګو ۱۲۲
اومه کله دي پاخه وايي و اعظ ۷٦
○ اې دنفس اودحرص په هوالپوه ۲۸۵
اې زما دزړه آرامه راشه راشه ۱۵۵
ايښې مې په سړې ستا دمخ دمينې ګل ۸۸

## ب

بادشاهانو که قرونه کړل بنياد ٤٦
* بادشاهي لري هر يو غلام د ستا ۱۲
* باړه وتړه هله کښت، زراعت کړه ۱۵۲
بداختر به نېک اختر نشي هرګز ٦۹
* بدلوې په دنيا دين اوايمان ولې؟ ۲۵٤
○ بلبلان که له ګلزاره مومي حظ ۷۷
* بوص تو مارا کجا ہاتھ ہے ۲۷٦

| | | |
|---|---|---|
| * | بیادې مخ دی جار وتلی خه بلا شوه | ۱۷۷ |
| * | بیادې نوې شراب څښلي دي پوهیږم | ۹۷ |
| | بیاې زړه دتورو زلفو مسخر شه | ۱۵۸ |
| * | ببلتانه دې هسې خوار کړم زما دل | ۹۱ |

## پ

| | | |
|---|---|---|
| * | پاڅه یو ځله سپرلی دعشق په جام شه | ۱۵۹ |
| ○ | پټ پناه مې په خاطر لګی او رونه | ۱۷۵ |
| * | پس له مرګه که څوک ارت غواړي خپل ګور | ۶۵ |
| * | پورته بدن را ښکاره شو ښکته نر | ۵۶ |
| * | په امید ګانده وړځ زړه ورمه شه | ۱۶۰ |
| ○ | په اول کی تا دعشق وهلې لاڅې | ۲۴۵ |
| * | په بزرګه دهغه پاک پروردګار | ۵۰ |
| | په پیرۍ کې چې هوس دی نا ب کړي | ۲۱۷ |
| | په تندۍ چې آتش بل کړ مدام شمع | ۷۷ |
| * | په حالت دعاشقانو نظر لږ ویه | ۱۷۹ |
| * | په ځوانۍ کې بد دماغه بدګمان یې | ۲۷۱ |
| * | په خاطر باندې مې ستا دغم غبار دی | ۱۸۸ |
| * | په خاطر مې غلبه شول ستا غمونه | ۱۷۴ |
| * | په دنیا کې څه کار دی خو دین دی | ۲۰۰ |
| * | په دنیا کې هر څوک وبله پیوند وي | ۲۶۲ |
| * | په دنیا کې له دنیا ګوښه کنار شه | ۱۵۷ |

| | |
|---|---|
| په دنیا کې مخ د یار دی نورځه نشته | ۱۳۶ |
| په دوران مې هسې رنګ دلبر پیدا شه | ۱۵۵ |
| په بنادی بناد شوی نه یم دهیڅا | ۱۱ |
| په بنایست زما دیار نه دي خبر څوك | ۸۵ |
| * په سنه خوی له بدخواهانو بې پروایم | ۱۰۱ |
| * په طلب دهر ویانو سرګردان دی زمانوخ | ۴۳ |
| په ظاهر صورت چې ستا د درګدای دی | ۲۰۹ |
| * په لمه کې مې مدام | ۹۳ |
| په نامه دهغه خدای مې دا بیان دے | ۱۹۵ |
| په نظر د بې بصر | ۵۹ |
| * په نورځه پسې بې خدایه ژاړې ولې؟ | ۲۵۵ |
| * په روح ناست یې بې طلبه | ۱۲۸ |
| * په هرڅای چې ستا ثنا شي شپونه ګري | ۲۱۲ |
| * پهر زمه چې د یار مینه شی غالبه | ۱۳۱ |
| په یوه ذره به وښی یا به مورې | ۲۷۰ |
| په یوه غمزه دستر ګو یې فنا شوم | ۱۰۰ |

## تا

| | |
|---|---|
| تا چې په دا تورو ستر ګو وکاته وما ته | ۱۳۱ |
| تا چې رنګ د میو ورکړ و لبانو | ۱۲۴ |
| تا چې مخ د پیری ستر ګې د آهو کړې | ۲۲۴ |
| * تا خوندہ زما د زړه له احتیاجه | ۱۳۷ |

| | | |
|---|---|---|
| * | تبسم مې دوګړي په روزګار شي | ۲۳۰ |
| * | ترابدې وځې پورې به جفا کړې | ۲۱۷ |
| | ترحد تېره شوه په يارپسې ژړانما | ۲٤ |
| | ترهغه حده پهورته بد سړے شوم | ۱۰۰ |
| * | تل به نه وي شګفته ګلزار دهمر | ۵۵ |
| * | تل دې ستا دخواب آلود وستګو خواب وي | ۲۵۹ |
| ○ | تل ژړافريادکړم د دلبر پرآستانه | ۱۷۲ |
| * | تورلېمه مې دفراق په ژړا سپين شول | ۹۲ |
| | ته په هره ګړي غم دسيم ونه خوږې | ۲۱۵ |
| | ته چې خپله بې عقلي هوسيارې بولې | ۲۵۵ |
| | ته چې ماته وايې چې په چا باندې شيدا يې؟ | ۲۶۷ |
| * | ته چې ماته وايې چې په خه کوې ژړا؟ | ۱۰ |
| * | ته چې هسې ګاه يې ترش ګاه يې خندان | ۱۱٤ |
| * | ته شما يې شکرلبه | ۱۲۹ |
| | ته ناحق په ماکينه کړې کينه ناکه | ۱ |
| | تېرشو په داطمع په درستاعمر زما | ۲۸۲ |
| * | تېرشو دستاعمر زما په داهوس | ۷۱ |


## چ


| | | |
|---|---|---|
| | چاچې کړې ودنيا و ته اسرې دي | ۲۱۱ |
| * | چاچې نرۍ وي په خپلو ويښو وللى | ۲۲۷ |
| * | چاامېد په عمارت د دې جهان کا | ۲۲ |

| | | |
|---|---|---|
| * | چې امید په عمارت دې د نیاکا | ۱۷ |
| | چې برهم کا عاشقي د چا مزاج | ٤۲ |
| | چې پاے بند شو دلیلی په اشتیاق | ۸۰ |
| * | چې پخته شي آشنایي | ۲٦۷ |
| * | چې په زړه مې تور لحد شي دخپل خاك | ۸۲ |
| | چې په رود ورسره نه یې برابر | ۵۷ |
| | چې په ستر گو کې یې خار وي خه به خوبکا | ۱۸ |
| * | چې په مخ باندې د اوسنکو یو رقم وي | ۲٦۵ |
| | چې په نوړځه پورې زړه تړې بې خدایه | ۱۷۹ |
| * | چې په وخت د خنکدن وکاږي زمین | ۱٤٦ |
| | چې پیدا شوه ستا چشمان داهسي شوخ | ٤٦ |
| * | چې تر سنگ او تر آهنه یې زړه سخت وی | ۱۸٦ |
| | چې خبر شوم د ساقي د جام له راحه | ۱۳۷ |
| * | چې خمه یې د سپلاب په مخ شوه لکه | ۱٦۷ |
| * | چې دارو د درد و غم د ی هغه مې | ۲۷٤ |
| * | چې داهسي لاس په لاس د نیا پر پسنوډې | ۲۰۲ |
| * | چې د خنگه مې د لبر په لاس کې جام دی | ۱۹٤ |
| ○ | چې د وې سنځې وې د چا | ٤ |
| | چې د ې زړه دی پرې تر لی استوار | ۵۱ |
| * | چې پرته د یار شوند مې چې پرته غم د دل و جان | ۱۱٦ |
| * | چې سړی له بله بد وایي بد گوی شي | ۲٤٤ |

| | | |
|---|---|---|
| | چې شهید د تورو ستر گو په خنجر شي | ۲۳۱ |
| ○ | چې سنگار ه شو راته راز دیار له پته | ۱۶۳ |
| | چې علاج کولی نه شي د قسمت څوك | ۸٤ |
| * | چې غبار د ستا له لاري په خوا ورشي | ۲۳۲ |
| | چې غرقاب شي تر و چشمان په یم د زړه | ۱۵۰ |
| * | چې کوتلی وي په تیغ ستا د چشمانو | ۱۲٤ |
| | چې له تاسره په سر کاندې سودا | ۱۵ |
| * | چې له ستر گو مې خو ناب د زړه عیان شد | ۱۶۱ |
| * | چې له مرگه بې پر وا یې په هر دم | ۹۸ |
| * | چې له نازه پوشیده لري چشمان خپل | ۹۱ |
| * | چې مجنون غوندې یو مو تی استخوان شي | ۲٤۱ |
| * | چې مدام د بل و عیب و ته نظر کړې | ۲۱۸ |
| | چې مشغول نه وي د تر کو په جمال څوك | ۸۶ |
| * | چې مې مینه خدای په تا باندې پیدا کړه | ۱۵۱ |
| * | چې مې یار ولید په سیمه دا غیار گډ | ٤۹ |
| | چې نصیب یې سینه چاکه زړه افگار شه | ۱۵۶ |
| | چې نظر کړم په قسمت او په نصیب | ۳۸ |
| * | چې نظر کړم د خو با نو و رخسار ته | ۱۳۲ |
| | چې واده یې که په د ول او په سرنا | ۲۸ |
| | چې وصال د خپل جا نان مې د ی موندلی | ۲۵۳ |
| | چې ویلی مې له تا د ی دا حدیث | ٤۲ |

| | | |
|---|---|---|
| * | مادده غم وهلی دی په لته | ۱۳۳ |
| * | مادستالمن ته اچولی داخپل ځان دی | ۱۹٤ |
| * | ماسحر سبالپدلی وُ دچا مخ | ٤۵ |
| * | ماوپی زه به نه کړم په خوبانو باندې مینه | ۱۷۶ |
| * | مخ ته که دې نمر وایم دنمر زلفې تار تار نشته | ۱۳۵ |
| * | مخ دیار شمس وقمر دې واړه یو دے | ۲۰۱ |
| * | مدام ناستیم وچ گوگل ستر گې په نم گې | ۲٤۹ |
| ○ | مست دهغه مخ یم چې مستانې لرې ستر گې | ۲۸۷ |
| * | مغرور مه اوسه دعشق په کاروبار گې | ۲٤۸ |
| | مه غوږ باسه د نااهلو قیل وقال | ۹۰ |

## ن

| | | |
|---|---|---|
| ○ | نن نگاں ومانه راکړ دیارې خط | ۷۶ |
| * | نه رسیږي ستا وحسن وته حوره | ۱٤۵ |
| * | نه یم خوښ دسرو گلونو په سایا زه | ۱۵۳ |

## و

| | | |
|---|---|---|
| * | وخت دعیش وطرب تیر شو خزان راغی | ۲٤۵ |
| * | وخت د نوبهار دی زه جدا له خپله یاره | ۱٤۲ |
| * | وخوبانو وته ولې نظر نه کړې | ۲۲۶ |
| | ورځ چې بده شي عاقل وداناخه کا | ۲۱ |
| * | ورځ دې تیره په شومۍ کړه شپه لړ خوابه | ۱۲۸ |
| | ورقونه لتوم د هر مکتوب | ۳۸ |

| | | |
|---|---|---|
| | خودبه وران شي د دنیا بازاره ناره | ۱۴۹ |
| * | خوزما په وړمبړه ماتول شپې یې | ۲۶۹ |
| * | خوی که په داشان وي دل آزارستا | ۱۳ |

## د

| | | |
|---|---|---|
| | داچې مست په میوړاغی یاړ دچادی | ۱۸۴ |
| | داخه مخ دی منود | ۵۴ |
| | دادنیا د ه بې وفا | ۱۱ |
| * | داژوندي چې معلومېږي واړه مړه دي | ۲۰۸ |
| * | داشنا له لاسه ناستیم په زړه ستړی | ۲۲۰ |
| * | دایوځ نگه ژوندون دی نه پوهیږم | ۴۷ |
| * | دبلبل له حاله زده کړه په خزان کې | ۲۵۰ |
| | دبې درد وهمدمي به دې بې دردکا | ۱۹ |
| ○ | دپښتون غمی دی زیبکا په لبانو | ۱۲۶ |
| | دخپل ځان له خاکساری نه بلند شوم | ۲۸۴ |
| | ددل لیږو په درگاه | ۱۲۷ |
| * | ددنیا دسود دپاره غمگین مه شه | ۱۵۹ |
| | ددنیا کاردونه واړه غوڼول دی | ۱۹۳ |
| * | درغه ولیدی یو ځل مغه مخونه | ۱۷۵ |
| | دزړه حال وتا نه څه وایم په ژبه | ۲۸۸ |
| | دساقي په لاس کې جام دمیو ناب دی | ۱۸۵ |
| * | دستاړه به په تمام جهان ورنه کړم | ۹۷ |

| | | |
|---|---|---|
| * | دسکوت په تیغ چې ژبه بریده شي | ۲۴۴ |
| | دعاشق بې خپاه یاره قرار نه شي | ۲۴۳ |
| | دعاشق نظر په خوږو په خواب نه دی | ۲۰۴ |
| | دعشق زخم څه د زخم په شان نه دی | ۲۰۴ |
| | دغه یار د ی د ا اغیار | ۵۳ |
| | دلربا که د خپل حسن مخ عیان کا | ۲۸۳ |
| | دلمخ چې ستاله مخه نه شرمیږي | ۲۲۷ |
| | دل و دین مې هغې ترکي کمر رها | ۲۹ |
| | دنیا دار د د نیا کار کا زه د دین | ۱۱۳ |
| | دنیا دار که مستغني په سیم و زر دی | ۱۹۰ |
| | دوارې ستر ګې مې کن پې دستا په لور دي | ۱۹۱ |
| * | دوباره دې را ته له نشته په د نیا | ۲ |
| * | دوصال په هوا والوتې مرغه شوې | ۲۶۴ |
| * | دوصال شپه مې بدله په بیلتون شوه الغیاث | ۴۱ |
| | دهجران له دیره غمه ولې نه مرم | ۹۴ |
| ○ | دهغوچې په هجران شي سینه داغه | ۱۶۳ |
| * | دهغوچې وبله همه د محبت وې | ۲۶۰ |
| * | دهغې بناچې نوم محنت آبادوي | ۲۶۱ |
| | **ډ** | |
| * | ډیر عمر مې تیر کم بیهوده په زمانه | ۱۷۱ |
| | ډیر یاران وو د ګل خان او جمال خان | ۱۱۰ |

| | | |
|---|---|---|
| * | دپري خولې زما په ياد شکر خوږې شوې | ۲۷۵ |
| | **ړ** | |
| | ړاشه مه کوه له چا سره جفا | ۷ |
| * | ړاکوی دبلدیکه پیغورونه | ۱۷۳ |
| | **ز** | |
| ○ | زړه مدام راته ویل چې ژاړه ژاړه | ۱٤۸ |
| * | زړه مې بایلوستا په هر وخت کې | ۲٤۷ |
| * | زړه مې بې له خپل نگاره آرام نه کا | ۲۲ |
| | زړه مې تراشي د بنو په تېره نوک | ۸۳ |
| * | زړه مې دوب دوب کېږي ستادغم په غلبو کې | ۲۵۱ |
| * | زړه مې ستا په ذکر وفکر گلستان دے | ۱۹۸ |
| * | زړه مې وسکر و خودرائے | ۱۸۰ |
| | زخړه واغونده ملا وتړه په جنگ | ۸۷ |
| * | زلفې دې له دپرې درانه په پای ترسره دی | ۱۸۹ |
| * | زما اوسنکې چې داهسې شست وشوکا | ۲۱ |
| * | زه بلبل ستا دوصال یم بوستان خدے | ۲۰۲ |
| * | زه په سل رنگه راغب | ۳۹ |
| * | زه تپر شوی یم ترسر | ۵٦ |
| | زه داهسې دیوانه اومجنون چاکړم | ۹٦ |
| * | زه دستالغمه ژاړم وا ره وښې | ۲۷۲ |
| * | زه دیار په درد وغم کې شادمان یم | ۱۰۵ |

| | | |
|---|---|---|
| * | زه دیار په درد وغم کې غرقاب خوښ یم | ۱۰٤ |
| | زه عار نه لرم په عشق کې له پښوره | ۱٤٤ |
| | زه کرلاڼه دوفاکوم هر چند | ٤۸ |
| | زه له دې جهانه تلونی په شتاب یم | ۱۰۱ |
| | زه یودم دستاله غمه بې غمه نه یم | ۱۰۸ |
| | **ش** | |
| | ژوبل ژوبل د ترکانو په نگاه یم | ۱۰٦ |
| * | ژوندي کاندې د دنیا کاروبار وته | ۱۷٤ |
| | **س** | |
| | ساقي پورته شه دمیو جام تیار کړه | ۱۵۰ |
| ○ | ساقي راکړه ته وما ته جام درقص | ۷٤ |
| * | سپین رخسار ومشکین خال دې وبله ضم دې | ۱۹٤ |
| | سپین مخونه تورکودی شي په پېرې کې | ۲۵۲ |
| | ستا په څېرنه دي خوبان لېدلي ما | ۲۷ |
| * | ستا په عشق کې دروغژن یم سرتر سره | ۱٤۳ |
| | ستا په عشق کې هسې خلاص یم له شعوره | ۱٤۷ |
| * | ستا په مخ کې چې حساب د جمال نشته | ۱۳٤ |
| * | ستا جفا ترحده پورته ده صنمه | ۲۷۸ |
| | ستا د تورو ستر گو په یاد داشتې اوښکې اوري | ۲۱٤ |
| | ستا د عشق حرفونه تورنه دی گلگون دي | ۱۹۹ |
| * | ستا د مینې گوهر نشته په هر آب کې | ۲٤٦ |

| | |
|---|---|
| * ستادې خواب آلود وستر گو خواب راتخه یووړه | ۶۶ |
| ستاله رحمه به نه ولې نا امیدی کړم | ۲۸۶ |
| * ستاله غمه مې په سر کې هسې شور دی | ۱۹۱ |
| * ستاله غمه مې په مخ باندې ولې دي | ۲۱۱ |
| * ستاله لاسه په ما جوړدی که دا دی | ۱۸۷ |
| * ستا وصال دی را بسلی زما روح | ۴۴ |
| * ستا زما سامان زما، خارشه ترجانان زما | ۲۶ |
| * سر زما سامان زما، خارشه ترجانان زما | ۲۶ |
| ○ سر مې په کار نه دی چې یې ستا تر سر قربان کړم | ۹۵ |
| * سل خله که وخوړي ناصحان خیګر زما | ۲۵ |

## ش

| | |
|---|---|
| ○ شمع د دلبر ستر ګی عاشق پرې پروانه | ۱۷۰ |

## ښ

| | |
|---|---|
| * ښخ مې ستا د ښو غشي په سینه دي | ۲۰۳ |
| ښه ده ښه ده دا د نیا | ۵ |

## ص

| | |
|---|---|
| * صبحدم چې هغه یار را باندې راشي | ۲۲۸ |
| * صبح وشام مې لاس ښولې دي دعا کړم | ۹۶ |

## ط

| | |
|---|---|
| طمع مه کړه په دنیا کې د نشاط | ۷۵ |

## ع

| | |
|---|---|
| * عاشقان د ناصحانو وینا نه کا | ۲۳ |

# انډيکس


* عاشقان دې په اور سوي دي که نه دی ۲۰۷
عاشقی رابانديې سوريې کړې مړی ۲۱۳
عاشقی مې يې په زړه وکړ گوزار بيا ۳۰
عالمان دي روښنايي ددې د نيا ۱۰

## ع

* غمخواري داهسې چېرې وي غمخوری ۲۱۵
* غم دې هسې غلبه شو په ما باندې ۲۰۰
غواصان که گوهر غواړي گوهر دادی ۱۸٤

## ف

* فراموش مې دی دستا په مينه ځان ۱۱٦

## ک

* کړ دگلو کړه چې سپمه دې گلزار شي ۲۲۸
* کشکې زه خاورې اېن پې دستاددر وای ۱۸۱
* کله شولا کله خپدا ريم ستا د مخ ٤۵
* کمينې يو نا دی کار دی ۱۸۹
که بې ځايه زړکې نه وسکی آواز ٦۹
* که ښوا ترآشنايۍ وی ببلتون ۱۲۰
که په بخت کم بختان نه وای خسته دل خوشک ۲۸۳،۸۷
* که په سر دهغه يار له لاسه سنگ خورم ۹۵
* که په عقل پسې ولاړم په کار نه شم ۱٦۲
که په قطع د تمام جهان ملک يې ۲۸۷

| | | |
|---|---|---|
| | كه په ګنج دشاهي فخر شهريارکا | ۲۰ |
| | كه په هجرکې خوك ما پوښتي له حاله | ۱۶۸ |
| * | كه په هجرکې خوك ما پوښتي له حاله | ۷۳ |
| ○ | كه ترستوني دې شي ګوټ له جام خاص | ۱۱٤ |
| * | كه تري ولوښته شاهان اوسلطانان | ۷٤ |
| | كه ته نه کړې په بل چا باندې غرض | ۷۱ |
| | كه خوك فخرکا په ننګ اوپه ناموس | ۱۳۵ |
| | كه خوك لاس له سوده وکاندې زيانشته | ۱٤ |
| | كه خوك ياس په جهان غواړي ياس دې دا | ۱۳۹ |
| * | كه خه وايم له هجرانه وايم خه | ۱۱ |
| | كه خپل زړه غواړې له چا | ۲۱۰ |
| * | كه دخلق ونظر ته آدمي دی | ۲٦۲ |
| * | كه دد رستې دنيا غم مې په سر باروي | ۲۳٤ |
| | كه دزړه مې روس وی خوچې مرشي | ۲٤۰ |
| * | كه دزړه په وينو رنګ دچا ګوګل شي | ۲٦٤ |
| * | كه دستا دخاطر مينه په اغيارو | ۲۲۳ |
| | كه دعشق خبر يې تر يې تر ګلو کړې | ٦٤ |
| * | كه دعشق لاره اغزنه ده هرګوړ | ۱۳۲ |
| | كه دعقل خه اثر لرې و سرته | ۱۹۲ |
| ○ | كه دلدار په دلداري نه زما قدم نه دي | ۷۸ |
| * | كه دې غم دد رست جهان ترزړه چاپېر شي | ۲۳۲ |

| | | |
|---|---|---|
| * | کہ زمامینہ پہ تادہ خطا نہ دہ | ۱٤۰ |
| * | کہ ستاخپلہ سیاہ رویي نہ وي دښمنہ | ۱۷٤ |
| * | کہ سړي دخپلي پوهي تقصیر نہ کا | ۲۳ |
| * | کہ سل حُلہ هم کنار وهم بغل شي | ۲۳۹ |
| | کہ صورت د محمد نہ وی پیدا | ۲ |
| | کہ قاصدیي د مقصود | ٤۷ |
| ○ | کہ گوهر د عشق په لاس راکړی غواص | ۷۳ |
| * | کہ له تا یي شرم نہ کیدی هډی | ۲۱٤ |
| * | کہ له دې غمہ دم دچاختی | ۲۷٤ |
| * | کہ له مخہ یوہ خواکا ځابونہ | ۱۷۲ |
| * | کہ ما بنام ترستونې سنګتہ کړې حلوا | ۲۹ |
| * | کہ مطلب ومدعا د سړي خدای دی | ۲۰۹ |
| | کہ مي څوک په فقیري شمړی فقیریم | ۱۰۳ |
| | کہ مین یي په خپل یار باندې ښیتیا | ۳۰ |
| | کہ مي وشي له دلبرہ ملاقات | ۳۹ |
| | کہ مي وښانځی ساقي په یوہ جام | ۹٤ |
| ○ | کہ مي یار په دیدن سرغواړي عوض | ۷۵ |
| | کہ نظر په ما تو گودو د روزګار کړې | ۲۲۵ |
| | کہ نظر کا څوک په کار د دروپښانو | ۱۲۵ |
| * | کہ هزار حُلہ نژدې د زړہ په یادیم | ۱۰۳ |
| * | کہ هر څو په صحرا سر شوم هم په کلیو | ۱۲٦ |

* که یوځل مې هغه یار ولیدی دریغه ۱۶۴
* که یې هر ومحبت که یې عنادی ۱۸۷

## ګ

ګاه په غارمه سوځې ګمې ریږدی په سارې ۱۴۸
* ګورې بیا به څوک ادا په زړه کا غوندې ۱۴۱
ګوره څه بلند مقام دی د اخلاص ۷۲
ګوره هسې کړ ګار دی رب زما ۱
* ګډې وتړه په پرې سره کلکه ۱۶۸

## ل

* لاس مې وتړې د زلفو په طناب ۳۷
لکه کاندې په کوټ و نظر باز ۶۸
* له اغیارسره خندا څه په کار نه ده ۱۴۰
○ له چشمانو مې د غمه اوښې اوږې ۲۱۶
له دې کټه له پوزې به خوبه ولاړ شې ۲۳۳.
* له هغوسره به څه فکر د یار وي ۲۶۳

## م

* ما به ولې کړم فریاد او فغان دریغه ۱۶۴
ما په تا پسې د اسپینې جامې رنګ کړې ۲۲۲
* ماتوپې مې خوله په سوک ۸۳
ماچې جور وجفا بیا مونده له یاره ۱۴۲
* ماچې ستر ګې وګلرخ ته وار ولې ۲۵۳

| | | |
|---|---|---|
| * | چې هرچا لپاره نه وي یار زما | ۲۹ |
| ○ | چې هردم له خپله ځانه ګرېزان یم | ۱۰۶ |
| * | چې یې نقش په زړه خیال شي دآشنا | ۲۸ |
| | چې یې ولېد دستا حسن بې حسابه | ۳۹ |

## څ

| | | |
|---|---|---|
| * | څوبه شمېرم زه غمونه دهجران | ۱۱۷ |
| * | څوبه صبر په جفا د یار کوم | ۹۹ |
| ○ | څوبه هسې آزادي په داجهان کړي | ۲۲۱ |
| * | څوترمیانه ویرانه نه کړې دتن پوله | ۱۶۹ |
| | څوجفا قبوله نه کړي د اغیار | ۵۲ |
| | څوك دې راکاندي قسم په کردګار | ۵۳ |
| * | څویوځله یې تاراج په جفا نه کا | ۲۱ |
| | څه شوکه خاموش یم ستاد عشق له آه سرده | ۱۳۹ |

## خ

| | | |
|---|---|---|
| * | خان سلطان د دې جهان | ۱۱۸ |
| | خبر نه یم چې یې راوستم له کومه | ۱۶۹ |
| * | خدای دې وژغوره له هرې پریشانۍ | ۲۷۱ |
| * | خدایه څه شوه هغه سنګلي سنګلي خلق | ۸۲ |
| | خدایه زړه درقیب نرم په احسان کړې | ۲۲۱ |
| * | خدایه مه کړه ناامید هغه وګړي | ۲۱۹ |
| * | خراب زړه مې د دلبر و هوا یوور | ۶۷ |

| | | |
|---|---|---|
| | ورك شه ورك شه بد كردار اوبدسې | ۲۷۳ |
| * | وركه عاشقي شه هم يې نوم هم يې نښان | ۱۱۸ |
| * | ولې تللی يې له ما مدام په څه | ۱۳۸ |
| * | ولې نه ګوري وما ته سم په څه | ۱۳۸ |
| * | ولې ولې وعاشق ته نظر نه کړې | ۲۲۶ |
| | ومحمود وته نظر کوه مدام | ۹٤ |
| * | وپښته سپين ستر ګی تاريکي غالبن کند اس | ۷۰ |

## ه

| | | |
|---|---|---|
| ○ | هرچې خپلې مينې خوارکړ خواريې مرګنه | ۲۸٤ |
| | هرچې ستا په زنخدان کې يې منزل شي | ۲۳۹ |
| * | هرچې ستا کوڅه ما واکا | ۱۶ |
| | هرچې کښت يې په باران اوپه سيلاب وې | ۲۵۷ |
| | هرچې نه وي خوار و زار | ۵٤ |
| * | هرچې وويني په ستر ګو روی دستا | ۱۳ |
| * | هرساعت زما دغوښ په تا وولو | ۱۲۳ |
| * | هرساعت که څه ګوزار دی بې مخلصه | ۱۹۲ |
| | هرګفتار هر ويناچې څوك عبس کا | ۲۸۲ |
| * | هرمطرب چې غوږ دی تاوکا دربابه | ۳۷ |
| | هرنګار چې بې وفا دی نګار نه دی | ۲۰۶ |
| * | هروګړی چې منصور خوندې په دار شي | ۲۲۹ |
| | هريوګل دستا دباغ، روشن تردی تر چراغ | ۷۸ |

| | | |
|---|---|---|
| * | هسې بې یارہ خفه یم په جهان کې | ۲۵۰ |
| | هسې تله کاندې وګورته یاران ژړژړ | ۵۷ |
| | هسې تږی دومې د و ر ان | ۱۰۹ |
| | هسې خوښ یم ستا دره په خاکسارۍ کې | ۲۵۱ |
| * | هسې دوب یم ستا دغم په دریاب تللی | ۲۵۶ |
| * | هسې رنګ نعمت راکړی خدای وما دی | ۱۸۳ |
| | هسې مست یم ستا د شوند و په شراب | ۳۵ |
| | هسې نرچې زما یار واړه جفاکه | ۱۶۷ |
| * | هسې یادیې همېشه مدام زما | ۲۵ |
| | هسې یمه یارہ ستا په غم تازه | ۱۵۳ |
| | هغو بیامونډ سعادت په دا دنیا | ۳۱ |
| | هغه دم چې زړه ملال شي | ۲۳۴ |
| | هغه زړه چې خدای روښان کا جام جم شي | ۲۴۰ |
| * | هغه زړه چې ستا د عشق په اور کباب دی | ۱۸۵ |
| | هغه ژوی چې بې خدایه محبت کا | ۱۹ |
| | هغه ژوی چې مین وي خه به خوښ کا | ۱۷ |
| | هغه یار چې بې وفا دی خه یار نه دی | ۲۰۷ |
| * | هغه یار چې سنا یسته دی تر آفتا به | ۲۷۶ |
| | همېشه د پے زما سر اوستا قدم وے | ۲۶۶ |
| | هوښیار مه ګنه هوښیار د دې د نیا | ۳۳ |
| | هومره اوښکې مې جهیل ې په رخسار | ۵۱ |

* هېڅ ثابته نه کړه چا دې دنیا وفا ٤
هېڅ مې نه زده نه پوهېږم داخه پرېشه ۱۵۸
هېڅ مې نه کړه په دا عمر کې حاصل ۸۹
هېڅوک مه شه کرفتار د تورو زلفو ۱۲۱

## ی

○ یا داستا چشم وابرووینم په خواب کې ۲۴۶، ۲۸۶
یا دوې په خوله مکه او مدینه ۱۷۷
* یار یاري راسره نه کا الغیاث ٤۱
○ یو ځل ولېدی دیار پرېشانې زلفې ۲۵۲
* یو یو داغ په تن ابسې دهر چا دی ۱۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

وړه هسې کردګاردی رب زما
چې صاحب دکل اختیاردی رب زما

همګي بن ګوادان چې خوک یې وائی
ترهغه ؤ بن ګواردی رب زما

نه یې هیڅ حاجت په چا باندې موقوف دی
نه دهیڅا منت باردی رب زما

له نیستی یې ډدې هستی صورت پیدا کا
هسې رنګ پرور ګاردی رب زما

هم صانع دی د جمله ؤ مصنوعاتو
هم سامع دهر ګفتاردی رب زما

چې یې هیڅوې نه مثل نه مثال نه شتر
دهغوعطر وعطاردی رب زما

هر تعمیر چې د دنیا او د عقبیٰ دی
دهمه وار ومعماردی رب زما

خوانندهٔ دنا نو یسو صحیفو دی
دانندهٔ دهر اسرار دی رب زما

که ظاهر دی که باطن دی که مابین دی
له همه ؤ خبردار دی رب زما

که پیدا که پوشیده دی که اوسط دی
په همه ؤ وقوف دار دی رب زما

شریک نه لري په خپله بادشاهي کې
بې شریکه شهریار دی رب زما

هسې نه چې واحد یې یا ده له عجزه
په واحد وجود بسیار دی رب زما

خه حاجت دی چې ویل خواته یې غواړم
په خپل کور کې همکنار دی رب زما

حاجت نه لري دهیڅا ویاړی ته
له هغوسره چې یار دی رب زما

هیڅ تغییر او تبدیل نه لري ذاته
تل تر تله برقرار دی رب زما

۱ ۱۵

---

(۱) دا بیت د "ب" په قلمي نسخه او د کلټور وزارت په دوو قلمي نسخو کې نه دی راغلی.

(۲) قلمي نسخې: "خه حاجت دی چې یې بله خواته غواړم". د "خ" په اوله نسخه کې "حاجت نه لري دنور چا ویاړی ته"، او په دویمه

(۳) د "ب" په نسخه کې "حاجت نشته دنور چا ویاړی ته"، نسخه کې "حاجت نه لري دنورو ویاړی ته" راغلی دی.

که صورت د محمد ﷺ نه وی پیدا
پیدا کړې به خدای نه وه دا دنیا

کل جهان د محمد په مخ پیدا شو
محمد دی د تمام جهان آبا

نبوت په محمد باندې تمام شو
نشته پس له محمده انبیا

نور هاله د محمد و پیدا شوی
چې نه عرش و نه کرسي وه نه سما

بوی هاله د محمد و په جهان کې
چې بوی نه و د آدم او د حوا (۱)

که صورت یې آخرین دی پیدا شوی (۲)
په معنی کې اولین دی ترهرچا

که نبي دی که ولي دی که عاصي دی
محمد دی دهمه وا ړه پیشوا

چې یې دین د محمد دی قبول کړی (۳)
جنتي دی که فاسق دی که پارسا

محمد دی رهنما دی
محمد دی دی ندو دلاس عصا

که زاده پیروي د محمد ده
که نه نشته په جهان بله رنا

محمد د بیچاره و چا ګر دی
محمد دی هر درمندلره دوا

خدای یې مه ګڼه بې شکه چې بنده دی
نور یې کل وا ړه صفات دی په ژبتیا (۴)

نه د محمد د د خاکر و ب یم
که مې نه کا خدای له دې د ره جدا (۵)

دوباره دې را تله نشته په دنیا
نن دې وخت دی که دروغ کړې که رښتیا

هره چا چې تر وخت تېره شي عنقا شي
عنقا نه دی په دام نښتی د هیچا

تر وخ تېر ې او به بېرته نه جاري
نه جار و نه یې تېر ساعت په بېرته بیا

تېر ساعت په مثال د مړي د لحد دے
مړ چا نه دی ژوندی کړی په ژبا (۷)

که مقصود لرې تل وار کړه وخت کوتاه دی (۸)
غه مه شه د دې عمر په بقا

---

(۱) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نه دی راغلی.

(۲) د "پ" په نسخو کې "خو شو که صورت یې آخرین دی پیدا شوی"، د "خ" په لومړۍ نسخو کې "که صورت یې آخرین و پیدا شوی"، په دوهمه نسخه کې: "په دا خو شو که صورت یې آخرین دی پیدا شوی".
د "پ" چاپ: "په صورت که آخرین دی پیدا شوی په معنی کې اولین دی له هرچا".
پښتو چاپ: "که صورت یې پیدا شوی آخرین دی په معنی کې اولین دی ترهرچا".

(۳) د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "چې چا دین د محمد دی قبول کړی".

(۴) د "پ" لومړۍ نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې: "نور محمد وا ړه صفات دی په ژبتیا".

(۵) د "پ" چاپ: "که مې خدای نه کا له دې د ره جدا".

(۶) دا غزل په مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته، په چاپي دیوانونو کې دوهمې مسرې د "وخت" پر ځای "وار" راغلی دی.

(۷) قلمي نسخې او "پ" چاپ: "مړ چا نه دی ژوندی کړی په دنیا".

(۸) د "ت ک" چاپ: "که مقصود لرې په ژبه کې وخت کوتاه دی".

هره نښه چې صحيح ګڼي په ژړه ګي
په غرور به دغه[1] نښه کړي خطا

په اميد اميدي خلق نا اميد کړل
دا يام له مکره مه شه بې پروا

چې د مرګ په تا چه دې شي خوله ماته
تر و په ماته خوله به څرنګ کړي ثنا[2]

ويژدلې ارتيني چې وينا وايي[3]
تا ته وايي که پوهيږې دا وينا

هلک نه يې چې په زور دې خوک تعليم کا
هم عاقل يې هم بالغ يې هم دانا

په عمل دنيک و بد و فهم[4] وکړه
چې په دا کې دې بهود دی که په دا

سر دننه په ګريوان کې مه ستګې ګوره
دين په پوټه پوټه مه ځه سر هوا

سر هوا سر هوا مه ځه و آسمان ته
ته په اصل کې له خمکې يې پيدا

د عمل په ځای به دا پوښتنه نه وي
چې ته نر وی يې يا مسی يې د فلانا[5]

په خپل ځان ښيګنه وکړه غره مه شه
په ښيګنه دادې اود بابا[6]

هغه نا وې چې په ځان ښايسته نه وي
خوک بې څه کاندې ښايست دمودنيا[7]

داخبره زه و ځانته کړم اې يار ه[8]
دلګير مه شه که مې نوم واخيست دستا

نوم دستا او دبل اخلم ځان ته وايم
دا عيبونه دي همه واړه نه ما[9]

هرچې وايم همه واړه ځان ته وايم
نه مې کار نه مې غرض شته په بل چا[10]

هرچې وايم همه واړه ځان ته وايم
دا عيبونه دي همه واړه نه ما[11]

که مې ځای د دې غمونو وي په ژړه ګي
ما به څه لره کوله دا انشا

چې د مرګ سختې خواړې دا ستا په خوا دي[12]
اې ... ولې نه مې لا پخوا

٥٠

---

(١) د "پ" له لومړۍ نسخې، "ق" ک" چاپ او "ق" چاپ نه پرته په نورو ټولو کې "هغه" راغلی دی.

(٢) د "پ" چاپ، "پ پ" چاپ، "ق" چاپ او د "خ" لومړۍ نسخه: "تر و په ماته خوله به څه کوي ثنا". "ق ک" چاپ: "بيا په ماته خوله به څه وايي ثنا".

(٣) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه او د "پ" لومړۍ او مخلوطه نسخه: "ويژدلې ارتيني چې وينا وايي".

(٤) د "پ پ" چاپ کې "فهم" پرځای "عمل" راغلی دی.

(٥) د "ق ک" چاپ په لومړۍ مسدۍ "ندوی" پرځای "ندشي" راغلی دی او دوهمه مسدۍ يې داسې ده: "چې ته نر وی يې د فلانا مسی يې د فلانا".

(٦) د "پ" لومړۍ نسخه: "په خپل ځان ښيګنه وکړه که مه شه په ښيګنه دادې او د بابا". "ق" چاپ: "چې ته نر وی يې يا مسی يې د فلانا".

(٧) د "خ" لومړۍ نسخه: "خوک بې څه کاندې ښايست دمودنيا". د "خ" دوهمې نسخې، "پ" چاپ، "ب ب" چاپ او "پ" مخلوطې نسخې: "خوک بې څه کوي ښايست دمودنيا".

(٨) د "ق" چاپ: "داخبره کړمه ځان ته زه هوښيار ه".

(٩) چاپي ديوانونه: "نه مې کار نه مې غرض شته په بل چا".

(١٠) دا بيت په "پ" چاپ، "ق ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته. د "پ پ" چاپ کې دوهمې مسرۍ دا ده: "خه مې کار شه مې غرض نه په بل چا". د "خ" په لومړۍ نسخه کې "په بل چا" راغلی دی او د "خ" په دوهمه نسخه کې د "همه واړه" پرځای "همګي" راغلی دی.

(١١) دا بيت په چاپي ديوانونو کې نه دی راغلی.

(١٢) د "پ" لومړۍ نسخه: "چې د مرګ سختې خواړې دې په خواوي". "ق" چاپ: "چې د مرګ سختې خواړې دې وي په خواکې". د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه او د "پ" مخلوطه نسخه: "چې د مرګ سختې خواړې دې لا په خوا دي".

هېڅ ثابته نه کړه چا دې دنیا وفا — واړه مینې کاندې بهوده په داد نیا (1)
هر څوک چې دعوی په داد نیا کا د خپلو — واړه باطل وایي دنیا نه ده هېچا
دا فلک کلال دی سا ندول او ماتول کا — دې پې ما و تا غوندې پیدا کړه هم فنا
هر سنګ وکلوخ چې څرګند بن یې د دې د هر — واړه ګډی دي څوک د شاه څوک د ګدا (2)
دام دې هېڅوک نه بن دي د دنیا و هګذر — سنګاب به وکړی نه شي د سیمرغ او د عنقا (3)
هر څوک چې له دې فاني نفس وابستګي کا — نه به شي ترلی په ځنځیر سره هوا (4)
ماه دی که آفتاب دی عاقبت واړه خراب دي — ګل کې هېشه وي هسې نه تر ابدا (5)



مه د ر و مه ساتاله پې خلاف د دا نایانو
مینه د دنیا پسندلې نه ده هېڅ دانا

چې د وې بنځې وي د چا — هم سُني وي هم پاړسا (6)
خدمت کړونې د خښتن وي — په سنه خوی وي اراستا
تفاوت پکې حرام دی — که شري وي که خاصا
لازم دا دی د خښتن ته — تفاوت دې نه کا بیا
په خوراک هم په پوشاک کې — که کنه وي که حدوا (7)
او که داهسې به نه کا — خپل عمل به کا بیدیا
یو دلې به مجنون و مړي — بل هوډې به شي د وی سیا
دا حدیث دی وارد شوی — که څوک فهم کا په دا
هغه څوک چې تفاوت کا — زه وېزاریم دی له ما
په مشکوة کې دي راغلي — د رشه و پوښته علما



ساتاله ژغورې یوه خدایه
له عذابه له خطا

---

(1) داغزل د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته . په چاپي دیوانونو ، د "خ" په لومړۍ او مصوره نسخه کې د "بهوده" پر ځای "بې فا" راغلی دی.
(2) د "ب" لومړۍ نسخه : "واړه ګډی دي څوک د شاه و د ګدا".
(3) دا بیت او وروسنی بیتونه په مصوره نسخه کې نشته.
(4) د "ق. ک" چاپ : "ګله شي ترلی په ځنځیر سره هوا".
(5) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته ، د "ب پ" چاپ کې داسې دی : "ماه دی که آفتاب دی همګې واړه خراب شي ګل که هېشه وي هسې نه تر ابدا".
د "ب" لومړۍ نسخه : "ګل که هېشه وي هسې نه تر ابدا".
(6) دا شعر د مدوړن له مجموعې څخه چې په ۱۸۴۷ کال کې خپره شوې ده نقل شو او د "ب" په دریمه نیمګړې نسخه کې هم ورو سته لاس ته راغی.
(7) په اصل نسخه کې "خذ وا" راغلی دی مګر معنی یې څرګنده نه شوه لکه نو دلته د "حدوا" په شکل د نیول شو چې معنی یې "نال" دی.

سپرده سپرده دا د نیا — چې تو سپرده د عقبا
مذمت د دنیا مه کړه — واوره پند کړه د اوینا
د دنیا په باران کې يې — دهغه ځمان سودا
په دنیا کې د پر حکمت دی — پرې پوهیږي حُکما (۱)
که غلیم لره يې ورکړې — غلیم دوست کا په هوا
که تر سې يې صدقه کړې — رفع د فع کا بلا
که په اود بانان يې کې ږدې — بوی د عود وکا پیدا
که يې تویه په صحرا کې (۲) — بنایسته کاندې صحرا
که يې نذر کړې و پیر ته (۳) — خوشحال درومې په خندا
خوښ وندې وې په ځمان کې — یاد وې د پ په دعا
د حاتم په څیر دې ستایې — خطاب در کا د سخا
سخي هر یو د خدای دوست دی — وَلَوْ کَانَ فَاسِقًا
هر بخیل د خدای دښمن دی — وَلَوْ کَانَ زَاهِدًا
دنیا کې بنت د آخرت دی — د اخرې د ه د ښتیا
د دنیا طالبان د پر دي — که يې مومې څوک لرچا
ولې مرد پکې هغه دی — چې سخي وې هم پار سا
په دنیا کې بدي نشته — که بدي يې نه وې لرتا (۴)
په دنیا کې خطا نشته — که لرتا نه وي خطا (۵)
دنیا بحر دی بهیږي — آیینې غوندې صفا
خپل خپل مخ پکې لیدې شي — که څوک زشت وې که زیبا
هم خط پکې د سې شته — هم ګوهر دی بې بها
وفادارلره وفا شوه (۶) — جفاکارلره جفا
له یوه مخه يې درد وې — له بل مخه يې د وا (۷)

---

(۱) د پښور چاپ او قلمي نسخې : " ده شد وپوښته حکما ".
(۲) د " پ " چاپ او د " خ " لومړۍ او دوهمه نسخه : " که يې توی کړې په صحرا کې ".
(۳) د " پ " لومړۍ نسخه : " که يې ورکړې وفقیرته ".
(۴) د " پ " لومړۍ او دوهمه نسخه : " که لرتا نه وی خطا ".
(۵) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته.
(۶) د " خ " دوهمه نسخه : " وپاکارلره وپاشوه ".
(۷) دا بیت د " خ " په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی ، د " خ " دوهمه نسخه او د " پ " سنګي : " له یوه مخه دوا "

چې ته خوندکاندې دزهرو — چې ته خوندکا د حلوا
کارمه واړه موقوف دی — دسړي په مدعا
سالکان دې نندا چې شي — دخپل ځان په تماشا
هیڅ کاهغه به مومي — دنیا ځای دی دجزا
لکه وي هسې به پاڅې — که نادان وي که دانا
فتوی ونیسه په مخ کې — پسې مت کړه په تقوا
دنیا نده هغه دین دی — چې لږ نهې وي سپوا
وطاعت وته ولاړ وي — همیشه ترلچ ملا
لحرامو یې پرهیز وي — هم مشغول په پنج بنا[1]
کلمې یې وي قبوله — هم په جهر هم خفا[2]
ددنیا دکار د پاره — فرض لمونځ نه کاندې قضا[3]
هم صائم درمضان وي[4] — هم زکوة کاندې ادا
که یې توان دحج ورسېږي — حج هم وکا پسې بیا
دا پنځه بنا دین دی — چې بیان یې وکړ ما
چې یې یوه په دا طریقو — هغه کس د ی اولیا
که یې مال ددنیا پرې دی — هیڅ دې نه کاندې پروا
دنیا بده د هغو د ه — چې یې کسب وي ریا
یا یې کسب دریا وي — یا یې وګټې په غلا[5]
یا یې تولې کا په ظلم — یا د خمرا[6] په سودا
یا یې ودکا په شرابو — یا یې ودکا په زنا

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه : "پای شپول پنج بنا" ، د "پ" دوهمه نسخه : "بیایې شپول وي پنج بنا".
(۲) د "پ" چاپ کې "هم په جهر هم په اخفا" ، په پیښور چاپ کې "هم په جهر هم خفا" ، د "ب" په لومړی نسخه کې : "هم په جهر هم خفیا" د "خ" په لومړی نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې "هم په جهر هم په خفا" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "فرض لمونځ نه کاندې قضا" راغلی دی.
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(٤) په پیښور چاپ کې "هم صائیم وي درمضان" او د "خ" لومړی نسخه "هم صایم به درمضان وی" راغلی دی.
(٥) دا بیت د "پ" چاپ کې نه دی راغلی
(٦) په چاپي دیوانونو کې او د "پ" په دوهمه نسخه کې "خمرو" راغلی دی.

یا ناحق خونونه کاندي — یا مالونه خوري د چا
عبادت کا په ځان فرض — د بادشاه د امرا (١)
حق باطل کا، باطل حق کا — په سبب د ریا (٢)
نه يې ویره شي (٣) له خدایه — نه يې شرم نه حیا
دیوې ګډې د پاره — هزار خونې کا ببدیا (٤)
همیشه يې له ستم — خلقه وی په غوغا (٥)
ګوش او هوش يې هرګز نه وی — د مظلومو په ژړا
د فرعون په څیر په (٦) ناوی ست — بې پروا او کبریا
بتخانې وته يې مخ وی — ومسجد وته يې شا
اختلاط کا له بد انو — له نیکانو وی جدا (٧)
هیڅ يې نه وی په خاطر کې — تولا و تبرا



و — ته پیښه مه کړه (٨)
خدای په هسې رنځ بلا



را شه مه کوه له چا سره جفا — لږ ژوند دون دی ضایع کړي بې وفا
په دنیا کې هیڅوك نه دی پاتي شوني — واړه تالوني دي کړه نن دي که سبا
دا یاران چې نن وتا وته جاوه کا — په دوه ورځې پس به واړه شي فنا (٩)
که دیدن دې د دوی خوښ وي وړته ګوره (١٠) — چې فنا شي بیا به کله شي پیدا
د خزان پانې چې ببلې شي له ښاخه — په حکمت به يې پیوند نه کا حکما
چې په ځمکه څاڅکی پریوځي له آسمانه — بیا له ځمکې ختی نه شي په سما
ګومان مه کړه چې بیا ستر ګوله وړشي (١١) — هغه اوښکې چې له ستر ګو شي جدا

---

(١) د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا سې راغلې ده : "د بادشاه او ګدا". د "پ" په دوهمه نسخه کې دا سې راغلې ده : "د بادشاه و امراء" د "پ" لومړۍ نسخه : "د بادشاهانو د امرا".
(٢) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی
(٣) په چاپي دیوان کې د "شي" پر ځای "وی" راغلی دی.
(٤) د "پ" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "ببدیا" پر ځای "پیدا" راغلی دی.
(٥) په چاپي دیوان کې "واړه خلګ وی په غوغا" او د "خ" په دوارد قلمۍ نسخه کې "خلقه وی په غوغا". او د پښتو تولنې په دوهمه نسخه کې "خلقي وي په غوغا" راغلی دی.
(٦) د "خ" په دوارد نسخو او د "پ" په دوهمه نسخه کې "به" نه دی راغلی.
(٧) د "پ" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کې "سیوا" راغلی دی.
(٨) د پیښور چاپ : "مارحمان ته پیښه مه کړه چې".
(٩) د "پ" په لومړۍ او په دوهمه نسخه کې "په دوه ورځ پسې به واړه شی فنا". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا سې راغلې ده : "په دوه ورځو پس به واړه شی فنا"
(١٠) دا مشوی د "خ" په لومړۍ او دوهمو نسخو کې "که دیدن دې د چا خوښ وی وړته ګوره" : او د "پ" په دویمه نسخه کې دا سې راغلې ده : "که دیدن دې حبیب خوښ وی وړته ګوره".
(١١) د "پ" لومړۍ نسخه "ګومان مه کړه چې به ستر ګوله وړشی". د "پ" په دوهمه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا سې راغلې ده : "ګومان مه کړه چې بیا ستر ګوله وړشی". او د "خ" په دوهمه قلمۍ نسخه کې دا سې راغلې ده : "ګومان مه کړه چې له ستر ګوله وړشی".

داپه هره ورځ چې خپلې بېلې بېلې نېرۍ دي — هرچېرې پرېږدې هغه نه شي خټې بيا
که جنت په زهد نه دي بې کرمه (١) — هرسړي دې خپله غاړه کا ا د ا
که د نفس (٢) دپاره سل محنته وکړي — يو محنت به دې په کار نه شي فردا
که تمام جهان په خپله ګېډه وخوري — ياد به نه شي په درود او په د عا
که يوه دانه (٣) دوزې په لاس ورکړي — هم دغه به دې توښه شي د عقبا (٤)
که يو خاخکی اوبه تر بې لره ورکړي — د دوزخ اوستا ترمېان به شي دريا
که يو ځله سر د خدای دپاره (٥) تېټ کړې — په قيامت به سربلند شې ترهرچا
بازار دا دی که خوک سودا وسوداکاندی — په هغه جهان نه سود شته نه سودا
آشنايان که خوک (٦) پوهيږې نن يې وخت دی — چې زاريږي يو آشنا تر بل آشنا
که ژوند ون دی خوهم دادی په جهان کې — چې له چا سره تېرېږي په خندا (٧)
خدای امان راکړه له هسې زندګۍ (٨) — چې ته بد وايې له بله ، بل له تا
نه شکرې په فتنه او په غوغا — نه غم په خار وخس پخه حلوا
ماته ملا په مشقت په محنت سنده (١٠) — نه حرامه همېانه د چا تر ملا
ډوند بهتر دی چې خدنه وينې په ستر ګو — نه چې ستر ګې په پردي حرام کا وا (١١)
ګونګ بهتر دی چې بې کامه بې زبان وي — نه چې ژبه شي په بد ويل ګويا (١٢)
کون بهتر دی چې خدنه اوري په غوږ و — نه چې غوږ کاندې په بد ويل شنوا (١٣)
ديوا وډ که په خوا درشي خو بهتر دی — خدای دې بد سړی درنه ولي په خوا (١٤)

---

(١) په چاپي ديوانونو کې "بې له فضله" راغلی دی. اودې "خ" په دوهمه نسخه کې دا مصرې داسې راغلې ده : "که جنت په زاهدی نه دی چا موندلی".
(٢) په "پ" چاپ کې د "نفس" پرځای "نفس" راغلی دی.
(٣) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "يوه دانه" پرځای "يو ذره" راغلی دی.
(٤) د "پ" په دوهمه اود "خ" په لومړۍ نسخه کې د "عقبا" پرځای "بقا" راغلی دی.
(٥) په پېښور چاپ ، د "پ" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "دپاره" پرځای "په لوړ پ" راغلی دی.
(٦) د "پ" لومړۍ نسخه : "آشنايان که څو پوهيږې نن يې وخت دی". اوپه پېښور چاپ کې داسې راغلې ده : "آشنايان که څه پوهيږې دا يې وخت دی".
(٧) دا بېت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(٨) د "پ" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې : "خدای امان وکړې له هسې زندګيه" د "خ" په دوهمه نسخه کې : خدای امان وکړې له هسې ژوند کسه".
(٩) دا بېت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(١٠) دا بېت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(١١) دامصرې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده : "نه چې ستر ګې په پردي دنيا نوا" اود همدا بېت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(١٢) دا بېت په پېښور چاپ کې "ګونګی سنده دی چې بې کامه وبې زبان وي - نه چې ژبه شی په بد ويل ګويا" د "خ" په لومړۍ اود دوهمه نسخه کې : "ګونګ بهتر دی چې بې کامه بې زبان دی - نه چې ژبه شي په بد ويل ګويا". او د "پ" په دوهمه نسخه کې : "ګونګ بهتر دی چې مکامه سر پا نه دی نه چې ژبه شی په بد ويل ګويا" راغلی دی.
(١٣) دا بېت د "پ" په چاپ ، د "پ" دوهمه نسخه اود "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی.
(١٤) دا بېت د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "ديو ډده که پخوا درشی بهتر وی که له چا سره همدم دی اژدها". اود "خ" په دوهمه نسخه کې د لومړۍ مصرې داسې راغلې ده : "ديو لېوه که پخوا درشی بهتر دی".

دجاهل ترهمدمی نه به بهتر وی — که له چا سره همدم مروي اژدها (١)
که مشکل دي خودن رونو رغول دي — سهل کار دی سودا وزیان ددي دنیا
سودا وزیان ددنیا واړه سهل کار دی — خدای دي نه کا څوك په سهل کار (٢) سودا
چې دورورا ودعزیز زړه پرې آزار شي (٣) — حاصل مه شه هغه خپله مدعا
بنه خواړه چې یوپې خوري بل ورته گوري — خواړه نه دي هغه زهر دي گویا
گاه دنور ورضا بویه گهي خپله — په کار نه ده همیشه خپله رضا (٤)
چې سبا دي پې یوزمان وي غم ترتله — دغه هسې چارې نه کا ندي دانا (٥)
لکه ځان هسې وبل وته نظر کړه — لکه ستا دی هسې ځان دی دهرچا
منصفانولره بویه چې انصاف کا — نه چې نغوته کا دحرص او د هوا
دسړي په خاطر هرڅه هرڅه کړي — هسې نه چې واړه وگڼي روا (٦)
دین داران دي وخپل دین وته نظر کا — څوك فکر وند دصواب دي څوك خطا (٧)
خدای دي نه کا ندي خطا دچاله لاسه — څه نسبت دی دخطا ودعطا (٨)
هسې نه چې سړي واړه سره سم دي — څوك عالي (٩) دي څوك اوسط دي څوك ادنا
دهرچا حرمت په خپله اندازه دی — نه چې ځای مومي نفرد امرا (١٠)

زه له چا شکوه شکایت نکړم (١١)
نشته بل دوست او دښمن زما بې تا




---

(١) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کښه دی راغلی.
(٢) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کښه دی راغلی.
(٣) پښور چاپ: "چې دورورا ودعزیز پرې زړه آزار شي". د "پ" دویمه نسخه: "چې دورورعزیز زړه پرې آزار ویږي".
د "خ" لمړۍ او دوهمه نسخه: ١ـ لومړی نسخه: "چې دورورد عزیز زړه پرې آزار ویږی". په دوهمه نسخه کښه "آزار ویږی" پرځای "زهیر ویږی" راغلی دی.
(٤) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کښه نه دی راغلی.
(٥) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کښه نه دی راغلی.
(٦) د "پ" لومړی نسخه: "نه چې هسې واړه وگڼي روا". او د "خ" په دوهمه او د "پ" په دوهمه نسخه کښه دا بیت راغلی دی: "نه چې وگڼي همه واړه روا".
(٧) دا مصرع په "پ" چاپ او د "خ" په لومړی نسخه کښه راغلی ده "څوك فکر وند دصواب څوك دخطا" په پښور چاپ کښه دا بیت راغلی ده:
"څوك فکر وند دثواب کا څوك خطا". د "پ" په دوهمه نسخه کښه "څوك فکر وند دثواب وی څوك خطا". او د "خ" په دویمه نسخه کښه "څوك پکر وند دعطا دی څوك خطا" راغلی دی.
(٨) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کښه نه دی راغلی.
(٩) د "پ" چاپ، پښور چاپ، او د "خ" په دوهمه نسخه کښه د "عالي" پرځای "اعلی" راغلی دی.
(١٠) دا مصرع په پښور چاپ، "پ" چاپ، او د "خ" په لومړی نسخه کښه دا بیت راغلی ده: "نه چې مومی کفر ځای دامرا"
(١١) د "خ" په لومړی نسخه کښه: "رحمان شکر شکایت له چا نه نکړم — نشته بل دوست دښمن ځما بې تا".
د "خ" په دوهمه نسخه کښه: "زه رحمان شکر شکایت له چا نه نکړم — نشته په جهان کې بل دوست دښمن ځما".
او د "پ" په دوهمه نسخه کښه: "رحمان شکوه شکایت له چا نه کړم — نشته بل دوست دښمن ځما بې ما".

ته چې ماته وایې چې په څه کوې ژړا
نه در معلومیږي دغه (١) خپل جوز و جفا

ته جور و جفا کړې زه ژړا کوم دلبره
ستا که دغه نه وي دا به هم نه وي زما (٢)

څه بنادي به کاندي طایفه د عاشقانو
رسم د بتانو (٣) که هم دا وي لکه ستا

دا خصلت چې ستادی که هم تل په دغه شان وي
نه را معلومیږي د درد من نوزړه دوا (٤)

یو دستاماني شو بل غوږ ځي (٥) د رقیبانو
وار په وار مې وژني کله هغه کله دا

هرچې عاشقي کاکه په قطع افلاطون وي
زه خوې مجنون ګڼم که نن وي که سبا

سپې هم په عذاب د جدایۍ دوژلو نه دي
زه خو ګوندې ستا د کوڅې سپۍ شوم په وینا (٦)

هیڅ مې په کار نه دی تا غواړم دلبره (٧)
زه په دا راضي یم باقي هرڅه ستا رضا

٨

عالمان دي روښنایي د دې دنیا
عالمان دي د تمام جهان پیشوا

که څوک لا رغواړي وخدای هم و رسول
عالمان دي د دې لا رې رهنما

کیمیاګر که د کیمیا په طلب ګرځي
همدي د عالمانو ده کیمیا

په مجلس د عالمانو به سره زر شي
که څوک کاڼی وي که لوته د صحرا (٨)

جاهلان دي په مثال د مردګانو
عالمان دي په مثال د مسیحا (٩)

چې مرده یې له نفسه ژوندی کړې
عالمان دي واړه هسې اولیا (١٠)

هر سړی چې رتبه نه لري د علم
سړی نه دی خالي نقش دی ګویا

١٧٢

زه یم حلقه بګوش د هر عالم یم (١١)
که اعلی دی که اوسط دی که ادنا

١٨٠

٩

---

(١) د "پ" په لومړنۍ نسخه کې "هغه" راغلی دی.

(٢) د "خ" دوهمې نسخې : ته جور و جفا کړې زه مدام افسوس ژړا کوم ستا که دغه نه وای دا به هم نه ووزما . د "ق،ک" چاپ او د "ق" چاپ کې "له ما" راغلی دی او د "پ" په چاپ کې "دا به هم نه ووزما" راغلی دی.

(٣) د "خ" لومړنۍ نسخې کې د "بتانو" پر ځای "خوبانو" راغلی دی.

(٤) چاپي دیوانونه : "نه را معلومیږي د درد من د نوزړه دوا". مصورې نسخې کې لومړۍ سترې : "داخصلت چې ستا دی که هم په دغه شان وي".
د "خ" دوهمې نسخې : "که دې جور و ستم درست په دغه شان دی".

(٥) چاپي دیوانونه : "هرور" او د "خ" لومړنۍ نسخې کې : "غور زنګ" راغلی دی.

(٦) دا بیت د "خ" په لومړۍ او دوهمې نسخو او مصورې نسخې کې نشته ، د "ق،ک" چاپونو کې داسې دی :
سپې هم په عذاب سره دې خدای چې بې مرنه کا زه خو ګوندې ستا د کوڅې سپۍ یم په دنیا
د "ق" چاپ : سپې هم په عذاب د خدای دوژلو پاڼه نه دی زه خو ګوندې ستا د کوڅې سپۍ شوم په دنیا

(٧) چاپي دیوانونه : "هیڅ مې په کار نه دی رحمان تا غواړی دلبره دا زما رضا ده باقي هرچې ستا رضا" .
مصورې نسخې : "هیڅ مې په کار نه دی رحمان تا غواړی دلبره زه په دا راضي یم باقي هرچې ستا رضا" .

(٨) "ب ، پ" چاپونه : "که څوک کاڼی وي یا بوڼی د صحرا". د "خ" لومړنۍ نسخې : "که څوک کاڼی وي که څوک لوته د صحرا".
د "پ" لومړنۍ نسخې : "که څوک کاڼی وي که څوک لوته د صحرا".

(٩) د "پ" دوهمې نسخې : "عالمان دی واړه هسې اولیا"

(١٠) د "خ" دوهمې نسخې : "چې مرده یې په نفس سره ژوندی کیږی عالمان دی واړه هسې اولیا".

(١١) د "پ" دوهمې نسخې : "زه رحمان د عالمانو خاک پای یم".

که خپل زړه غواړې له چا ځان صیاد کړه د عنقا
د حباب کلاه په سر کړه سور په آس شه د هوا
لکه خضر هسې پا څه اوبه وڅښه د بقا
له زمینه قدم کېږده په آسمان لکه عیسا
دهغه استاد شاګرد شه چې در وښیي کیمیا(۱)
دا چې ما درته بیان کړه که حاصل کړې وارخه دا

هالدطمع کړه ځان
له خوبانو د وفا

۱۰ ۱۸۷

داد نیا ده بې وفا بې وفا ده بې بقا
نه یې مخ شته نه یې څټ شته لکه لوښه د صحرا
په یوه ګړۍ یې مخ وي په یوه ګړۍ یې شا
په یوه ګړۍ دستا شي په یوه ګړۍ نړ ما
په یوه ګړۍ یې درد وي په یوه ګړۍ د وا
په یوه ګړۍ یې خوف وي په یوه ګړۍ رجا
په ساعت کې یې بقا وي په ساعت کې یې فنا
په ساعت کې یې سکوت وي په ساعت کې یې غوغا
په ساعت کې یې خندا وي په ساعت کې یې ژړا
په ساعت کې یې وفا وي په ساعت کې یې جفا
په ساعت کې یې افلاس وي په ساعت کې یې غنا
چې نه شان لري نه شکل کله داشی کله دا

خدای خوک پیښ مه کړه
په داهسې رنګ بلا

۱۱ ۲۰۰

په بنادی بنادشوی نه یم دهیڅا تور تپ شوی یم په غم دهر آشنا(۲)
که زه طمع توقع له بله نه کړم دبل طمع توقع کېږي له ما

---

(۱) دابیت د "پ پ" چاپ کې نشته.
(۲) دامصرع د "خ" په لومړنۍ نسخه کې داسې راغلې ده : "نه وربیت شوی یم په غم دهر آشنا".

که مې ورور که مې عزیزدی که مې یاردی(۱)
واړه غواړي خپله خپله مدعا

په هرکور کې ړانګې ران راته زګیروي کا (۲)
لاس مې نه رسي دهیڅا په دوا

د دنیا خبرې واړه په دنیا شي
ما به څه کا څوک چې نه لرم دنیا(۳)

که په کلي کې مې کوردی زه ګومان کم(٤)
چې کور نه دی دا مې ګوردی په صحرا

چې څه کار پرې نه پوره وي نه نیمګړی(۵)
څوک به څه کا له هغو سره خندا

چې یې سند توښه وبله سره نه شی(۹)
تر هغه آشنا بهتر دی نا آشنا

## ۱۲

## ۲۰۹

په تودې ځمکه استوګنه ده مشکله
څه به ژیست شی له نورو سره دچا

بادشاهی لري هر یو غلام دستا
د خاصانو په ځای ناست وي عام دستا

پخته کله وي چې لاف د پختګۍ کا
پختګان دي په داځم کې خام دستا

خو هم هومره یې په ننګ ونام نظر وي(۷)
چا چې نه وي اوریدلی نام دستا

همیشه بدله مقامه بې مقامه وي
هغه څوک چې لتوي مقام دستا

څو په خپلو وینو ګل غوندې غرق نه شي(۸)
وبه نه وینې رخسار ګلفام دستا

صبح وشام په هغو خلقو باندې یووي
چې آرزو لري هر صبح وشام دستا

بل کلام یې په زړه کله اثر کاندي(۹)
چې تر غوږ یې شي شیرین کلام دستا

فراموش کاندي همه(۱۰) نورې مستۍ
هر چې نوش کاندي باده په جام دستا

دام دستا د تورو زلفو عالم ګیردی(۱۱)
تنها نه یم نښتی زه په دام دستا

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې دا مصرع داسې راغلې ده : "که مې ورور که مې عزیز که مې فرزند دی". د "خ" په لومړنۍ نسخه کې داسې راغلې ده : "که مې ورور که مې عزیز دی که مې یار وی". د "خ" په دوهمه نسخه کې : "که مې ورور که مې عزیز که مې څه یار دی". راغلې ده.

(۲) دا بیت د "خ" په لومړنۍ نسخه کې نه دی راغلی او په نورو ټولو کې د "زګیروی کا" پر ځای "پراته دی" راغلی دی.

(۳) د "پ" لومړنۍ نسخه : "ما به څوک څه کا ندی چې نه لرم دنیا".

(٤) د "خ" په دوهمه نسخه کې "لومان کم" پر ځای "نو هیڅ نه لرم" راغلی دی.

(۵) د "خ" لومړنۍ نسخه کې "چې دی نه پرې څه پوره وی نه نیمګړی" په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی : "چې پرې نه وی څه پوره او نه نیمګړی". د "خ" په لومړنۍ نسخه کې "چې دې نه پرې څه پوره وی که نه نیمګړی" او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده : "چې دې نه پرې څه نیمګړی نه پوره دی".

(۹) د "پ" لومړنۍ نسخه : "چې یې هیڅ سند توښه وبله نه شی".

(۷) چاپي دیوانونه : "خو هم هومره یې نظر په ننګ ونام وی".

(۸) چاپي دیوانونه : "چې په خپلو وینو ګل غوندې غرق نه وی".

(۹) د "خ" دوهمې نسخه : "بل کلام به یې په زړه کله اثر کا".

(۱۰) د "ق" چاپ او د "ک" چاپ : "هغه" او نورې مړې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده : "فراموش که هغه نور جاموته واړه".

(۱۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. د "پ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې : "دام دستا د زلفو عالم ګیردی". په "ق" او "ک" چاپ کې داسې ده : "دام د زلفو دې دنیا کې عالم ګیردی". او د "خ" په لومړنۍ نسخه کې داسې ده : "بوی دستا د تورو زلفو عالم ګیردی".

۱۳

زه نه ځم دعا سلام په هغه وایم (۱)
هرچې مالره راوړي سلام (۲) دستا

۲۱۹

هرچې ووینې په ستر ګو روی دستا (۳)
بې دماغه به ترسره وماله تیر شي
که لوبې کړې څه بې ځایه خوبې نه کړې
نور بهار شو عالم سیر د بوستان کا (۵)
د عیسیٰ له دمه دم وهلی نه شم
هم په دامی له چشمانو نو (۷) لهیبې
همیشه یې زړه په اور باندې سپندوي
دلهم لاشه یې ماته وي په زړه کې
وُنخیړوته یې څه له را کا بې
وګرنګ وته یې څپله ځان پرې باسي
که ته سل ځله زما یې زه دستا یم (۱۰)

۱۳

مخ یې کوږ وي همیشه په سوی دستا
چې یې تیر شي تر دماغه بوی دستا
چې په دا رنګه قامت دی لوی (٤) دستا
خدای وماوته بوستان کړ کوی دستا
چې خوله بیرته شي په گفتگوی دستا (٦)
چې یا دیږې مې قامت د لجوی دستا
وهغه ته چې څرګند شي (۸) خوی دستا
چې یې نقش وي په زړه ابروی دستا
لیونیولره بس وي موی دستا
چې وزړه وته پرې باسي (۹) روی دستا
تلونی نه دی له ما جستجوی دستا

۲۳۱

گل لمبه شود بلبل په آه (۱۱)
نه ګروهیږې یار په هاوهوی دستا

۱٤

خوی که په داشان وی دل آزار ستا
حیف چې اوریده شي لیده نه شي (۱۲)
خه ښادی به کاندی طلبګار ستا
حسن ولطافت دی پریوار (۱۳) ستا

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه اود مصوره نسخه : "رحمان تل دوعا سلام په هغو وایم".
(۲) د "خ" لومړی نسخه : "پیغام".
(۳) د "خ" لومړی نسخه : "یار".
(٤) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته ، په دوهمه نسخه کې د "لوی" پرځای "لجوی" راغلی دی.
(۵) چاپي دیوانونه ، د "خ" دوهمه اود مصوره نسخه : "نوبهار دی عالم سیل دبوستان کا".
د "خ" لومړی نسخه : "نور بهار به عالم سیر د بوستان کا".
(٦) دابیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۷) چاپي دیوانونه : "راود" اود "خ" دریم واړه نسخې : "جوی".
(۸) د "خ" په دریم واړه قلمي نسخو کې د "شي" پرځای "وي" راغلی دی.
(۹) دابیت په "ق ک" کې نشته . د "خ" په لومړی نسخه کې د "راوی" پرځای "موی" راغلی دی. اود "خ" په دوهمه نسخه کې "لوی" او په "ق" چاپ کې د "ګرنګ" پرځای "څنګیر" اود "راوی" پرځای "موی" راغلی دی.
(۱۰) د "خ" دریم واړه نسخې : "که سل ځله زه دستایم ته ځایې".
(۱۱) د "خ" لومړی نسخه : "ګل که سره لنبه شي د بلبل په آه رحمانه".
(۱۲) د "خ" لومړی نسخه : "حیف چې اوریدی شي لیدی نه شي په جهان کې".
(۱۳) د "خ" دوهمه نسخه : "په هر لور".

بیا دوباره نه گوري وبل ته (١) هرچا چې لیدلی وي رخسار ستا
خدای زده چې ته یارد کوم ریوه یې هرطرف یاران دي صدهزار ستا (٢)
ځای د پښوایښود ومونده نه شي هومره عاشقان دي په دربار ستا (٣)
بل به هسې نه وي که یې خدای کا (٤) ما غوندې خاکسار وهوادار ستا
بل گومان په ماباندې وم کړه عمر واړه زه اوانتظار ستا (٥)
عشق له حسنه حسن دی له عشقه ته نگار زمایې زه نگار ستا
ته زما مطلوب یې زه طالب یم ته زما طبیب یې زه بیمار ستا (٦)
ته که تازه گل دنوبهار یې زه یم عندلیب په لاله زار ستا
جورکه جفاده که ستم دی واړه می منلي دي یکبار ستا
جور وجفا څوك په بها پاورې (٧) زه یم د جور ونو خریدار ستا
یوتار که ضایع شي ستادزلفو ځان به صدقه کړم تر (٨) هرتار ستا
سل ازمې بنتونه دي راوکړه حیف دی چې لانه شي اعتبار ستا (٩)
تیریم زه ترنوره (١٠) کاره
اوس می ملاتر لې ده په کار ستا

١٥ ٢٤٦

که څوك یار په جهان غواړي یاردی دا یاردی دا، که دجهان سینگاردی دا؟ (١١)
خیال دزلفو یې زما تر زړه چاپیر شو یاترگنجه چاپیر شوی ماردی د ا ؟
دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی (١٢) د جمله ؤ مخلوقاتو پلار دی دا

---

(١) د "خ" لومړی نسخه : "بیا به دوباره ونه گوري بل مخ ته".
(٢) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(٣) د "خ" لومړی نسخه : "په هغه ځای باندې چې ټول دی عاشقان ستا".
(٤) د "خ" لومړی نسخه : "بل به هسې څوك نه وي که خدای کا".
(٥) "ق، ک" چاپ : "عمر واړه زه یم په انتظار ستا".
مصوره نسخه : "عمر واړه زه یم انتظار ستا". د "خ" لومړی نسخه : "عمر واړه اوزه اوانتظار ستا".
(٦) د "خ" لومړی نسخه : "ته زما نگار یې زه افگار ستا".
(٧) دا بیت په "ق، ک" چاپ کې نشته. قلمي نسخې : "جور وچا څوك په بها پاورې".
(٨) په چاپي دیوانونو او لوړو قلمي نسخو کې د "تر" پر ځای "په" راغلی دی.
(٩) د "خ" دوهمې نسخه : "باری حیف دی چې لانه شی اعتبار ستا".
(١٠) په چاپي دیوانونو کې "له هرې کاره" راغلی دی.
(١١) دا مصرې د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلې ده : "یار دی دا که تمام جهان سینگار دی دا".
(١٢) دا مصرې د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده :
"دا جهان دی خدای په عشق کې پیدا کړی".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا بیت بیخي نه دی راغلی.

ترعشق واړ ړکار بل په جهان نشته — ترهمه کار ونو واړ ړکار دی دا (۱)
بل بلبل به دګل نوم اخستی نه وُ — که خبر وی چې ګل نه دی خار دی دا (۲)
بیا راتله دې جهان ته بل واړ نشته — بل واړ نشته بل واړ نشته واړ دی دا
د حباب عمر دې وګورې چې څودی ؟ (۳) — که څوک شمار کاندي د عمر شمار دی دا

۲۵٤ — د مجنون صورت په زړه کړه ۱۶ ګوره (٤)
۱۶ — ستا په عشق کې هسې خوار وزار دی دا

چې له تا سره په سر کاندي سودا — بل به نه وي هسې ماغوندې شیدا (۵)
نه به ماغوندې شیدا وي په جهان کې — نه به تا غوندې دلبر شي بل پیدا (۶)
ما داستا جور وجفا دې قبول کړې (۷) — ولې نه شي د ژړا په ځای خندا
بې دستاله مخه کون وکه مکان دی — سنه تو سنه مې نه په داشي نه په دا
جدایي به دې هیڅ رنګ قبوله نه کړم — خومې نه دی روح کالبوت سره (۸) جدا
لکه ورستو مقتدیان وړاندې امام وي — ما په تا پسې ده کړې اقتدا (۹)
زه یې وینم درست جهان په تامین دی — که بادشاه دی ددې دورکه ګدا (۱۰)
کاشکې خطدامانی ومالراکړې (۱۱) — چې له ما سره وعده کړې د فردا
زه پخپله په تا نه یم مین شوی — ستاله لورې په ما شوې ده ندا
زه په تا باندې مین یم له ازله — نه چې کړې مې نن ورځ ده ابتدا

---

(۱) دابیت په "پ" چاپ کښې دهسې راغلی دی: "ترعشق غوره بل څه کار په جهان نشته ترهمه کار ونو غوره کار دی دا." په "پ پ" چاپ کښې "ترعشق غوره بل هیڅ کار په جهان نشته" د "خ" په لومړنۍ نسخه کښې: "ترعشق غوره کار بل په جهان نشته ـ ترهمه کار دونو غوره کار دی دا." د "خ" په دوهمه نسخه کښې "ترعشق غوره کار بل په جهان نشته" اود "پ" په دوهمه نسخه کښې په عین شکل راغلی دی.

(۲) په "پ پ" چاپ کښې "یو بلبل به دګل نوم اخستی نه وُ"، د "خ" په دوهمه نسخه کښې "لومړ دګل به بلبلان اخستی نه وو". اود "پ" په دوهمه نسخه کښې دابیت نه دی راغلی.

(۳) دامصرع په "پ پ" چاپ اود "خ" په لومړنۍ نسخه کښې راغلې ده: "دحباب عمرته وګوره چې څه دی ؟" په "پ" چاپ کښې "د حباب عمر دې وګورې چې څه دی". د "پ" په دوهمه نسخه کښې "د حباب عمرته وګوره چې څودی" راغلی ده اودابیت د "خ" په دوهمه نسخه کښې نشته.

(٤) دامصرع د "خ" په دوهمه اود "پ" په دوهمه نسخه کښې دهسې راغلې ده: "د مجنون صورت په زړه کړه ای رحمانه".

(۵) دامصرع د "پ" په دوهمه نسخه کښې دهسې راغلې ده: "بل به تا غوندې دلبر شی راپیدا".

(۶) د "پ" لومړنۍ نسخه: "نه به تا غوندې دلبره شی پیدا"، د "پ" په دوهمه نسخه اوه "پ پ" چاپ کښې "نه به تا غوندې دلبر شی راپیدا". اود "خ" په دوهمه نسخه کښې "نه به تا غوندې دلبر شی بیا پیدا" راغلی ده.

(۷) دامصرع د "خ" په لومړنۍ نسخه کښې "ما به صبر ستا په جور وجفا وکړ" اود "خ" دوهمه اود "پ" په دوهمه نسخه کښې "ما به صبر ستا په جور په جفا وکړ" راغلی ده.

(۸) د "خ" په لومړنۍ نسخه کښې "وبله" او په دوهمه نسخه کښې "څبله" راغلی دی.

(۹) دامصرع په "پ پ" چاپ کښې دهسې راغلی ده: "هسې ما تا پسې کړې اقتدا"

(۱۰) دابیت په "پ" او "پ پ" چاپ کښې دهسې راغلی دی: "زه یو ځل دې درست جهان په تامین دی که بادشاه دی ددې دهرکه ګدا". او دوهمې مصرع یې د "خ" په دوهمه نسخه کښې "که بادشاه ددې دهرکه ګدا" د "خ" په مصوره نسخه کښې دهسې راغلی ده: "که بادشاه دی که وزیر دی که ګدا"

(۱۱) دامصرع په "پ" او "پ پ" چاپ کښې "کاشکې خط دامانی ومالراکړې" راغلی ده.

۱۷ د رحمان غاړه به هاله شي ا د ا — چې دستا د عاشقۍ په تېغ شهيد شي

۲۶۶ د رحمان وزېري رنګ وته نظر کړه — ۱۷
چې مدام مې په تاپسې کاندي ژړا (۱)

هر چې ستا کوڅه ما واکا — ځای يې برشي ترا فلاکا (۲)
ځان هاله ورته بادشاه شي — چې يې ستا د درګدا کا (۳)
چې دستا د درکدا شي (٤) — بادشاهي وته نورشاکا
نظر بې دستاله رويه — نه په ارض نه په سماکا
مينه بې دستاله مخه — نه په دين نه په دنيا کا
ستا په مهر و محبت کې — ځان جهان وارې فنا کا
د دنيا کور و ګوري (٥) — ستا په مينه کې تالا کا
رضا ستا په رضا (٦) کې بدي — ترکه خپله مدعا کا
وهر خواته چې ستا مخ شي (٧) — دی هم مخ په هغه خوا کا
که له چا سره جفا کړي — له هغه سره جفا کا
که له چا سره وفا کړي — له هغه سره وفا کا
که په عمر چې پرې ژاړي — خو په تا پسې ژړا کا
که په عمر چې پرې خاندي — خوله تا سره خندا کا
که مطلب يې د ديدار وي — ستا د حسن تماشا کا
که مطلب يې د ګفتار وي — ستا په ذکر مشغولا کا
درښتينو مقام دا دی — که څوک مينه په رښتيا کا (۸)

۱۸ عاشقان په عاشقۍ کې — ۲۸۳
چې رحمان وايي هم داکا

---

(۱) دا بيت د "خ" لومړی او د "پ" دوهمه نسخه کې نشته.
(۲) دا غزل په مصور نسخه کې نشته او د "خ" په دوهمه نسخه کې دوهمه مسری داسی ده: "ځای يې رسي ترا فلاکه".
(۳) د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کې: "چې ځان ستا د درګدا کړه".
(٤) "ق، ک" چاپ: "څوک چې ستا د درګدا شي"، او دا بيت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(٥) د "خ" لومړی نسخه: "د دنيا کور و کوت"، او د "خ" نيمګړی نسخه: "د دنيا کور او محلونه".
(٦) د "پ پ" چاپ کې "قضا" راغلی دی.
(۷) د "خ" قلمی نسخه: "هری خواته چې ستا مخ وي". د "پ" لومړی نسخه: "په هر خوا چې دستا مخ وي".
(۸) په "ق، ک" چاپ کې او هم د "ق" په چاپ کې د "رښتيا" پر ځای "رضا" راغلی دی.

چې امید په عمارت دډې دنیا کا
د آسمان توسن هیڅ انه دی تېز لې
نه لیږه په آدمیت اموخته کې بږي
له فلکه د وفا امید باطل دی
زمانه په اسلام کفر سمه ګرځي
ما د دهر علامت په ستر ګو ولید
هیڅ امید مې دا یام په ګردش نه شي
په خپل عمر به هیڅ الید لی نه وي
که د ګلو غونچه کې بږدم په دستار کې
که وزر و وته لاس کم مخاوړې کې بږي
جدایي د خدای بلا شوه نه توانیږم
هومره صبر دی عاشق سره له کومه
که داور جامې راواغوندي دلبره
په خپل عشق کې (۳) که څوک بد راباندې وایي
ملامت په عاشق سنایي دا دستور دی
عاشقي ننګ و ناموس دی و بله لرې
که زه طمعه کم مرد ګلو له طالع نه
که زه ځان ژغورم په عشق کې له عالمه
همیشه به په عالم کې وي سرخ رویه

د اغواب ... هغه کا چې دوولت وي
"که دلبر د دیدن مې پیاپی را کا" (۵)

۱۹

۳۰۳

هغه ژوی چې مین وي یې شه به خوب کا

د کاغذ په کشتی سیر د دریا کا (۱)
څوک به څرنګه سورلي د باد په شا کا
نه امید د مروت شي له افلاکا
کله دیوله آدم زاد سره وفا کا
فرق د تور و د سپین کله نابینا کا
په هر دم هزار پیدا هزار فنا کا
چې فرصت به په خپل دور و مارا کا
هغه چاري چې دی هر ساعت په ما کا
شوم طالع می هلته خار څنې پیدا کا
که د خاور و په ارزوشم استغنا کا
خوشی زړه مې په دیدن پسې ژړا کا (۲)
چې دنن وعده موقوفه په سبا کا
په نظر زما جلوه لکه دیبا کا
زه ګومان کم مر چې همدزما ثنا کا
چې روغ خلق په رنځور پورې خندا کا
په روښانه ورځ به څرنګه څوک غلا کا
ما عاجز لره د ګل په ځای خار را کا (٤)
زمانه مې په جهان باندې رسوا کا
چې ثنا لکه بلبل د خپل آشنا کا

چې مجنون غوندې کم من وي شه به خوب کا (٦)

---

(۱) دا غزل د "پ" په لومړۍ دوهمه او مصوره نسخه کې نشته د "پ پ" چاپ کړ د "سیر" پر ځای "سیل" را غلی دی.
(۲) د "غ" په لومړۍ او دوهمه قلمي نسخه کې د "ژړا" پر ځای "بلا" را غلی دی.
(۳) په "ق" چاپ او "ق ک" چاپ کې "ستا په عشق کې" را غلی دی.
(٤) دا بیت او د پسې دوه بیتونه په قلمي نسخو کې نشته . د دې بیت لومړۍ مصرع په "ق ک" چاپ کې داسې ده : "که زه طمع کم مرد ګلو له خپل بخته"
(۵) د "غ" دوهمه نسخه : "که دلبر د دیدن مسته پیاله را که". د دولت، دیوان : "که دلبر د دیدن مې پیاپی را کا" ۱۴۲ مخ ، پښتو ټولنه، ۱۳۵۳
(٦) دا مصرع په چاپي دیوان کې داسې ده : "چې فرهاد غوندې کوهکن وی شه به خوب کا" ، په مصوره نسخه او د "غ" لومړۍ نسخه کې داسې ده : "چې مجنون او کوه کن وی شه به خوب کا" د "غ" دوهمه نسخه کې داسې ده : "چې مجنون او کوهکن وی شه به خوب کا" ، او د پښتو چاپي دیوان نو کې د "ژوی" پر ځای "ژوی" را غلی دی.

هر نفس دسري تله دي له جهانه (۱) — چې يې هر نفس رفتن وي شه به خوب کا
چې سباله خپله يارة جدا کړي — که د سلو شپو کرهن وي شه به خوب کا
عاشقي ده خدای له اوږه پيدا کړي — که په اورکې يې وطن وي شه به خوب کا (۲)
داوبو تږی هم خوب کولی نه شي — خوک چې تږی د ديدن وي شه به خوب کا (۳)
د رقيب له جوړ خوب د عاشق نه شي — د هغو چې ديو (۴) د ښمن وي شه به خوب کا
د مجاز بندي خو خوب کولی نه شي — چې يې زلفې طوق رسن وي شه به خوب کا (۵)

۲۱۰ — خوب خندا له بيغمې نه شي — ناقص (۶) ۲۱۱
خوک چې ستا په خپر غمجن وي شه به خوب کا

چې په ستر گو کې يې خار وي شه به خوب کا — چې په زړه يې غم ديار وي شه به خوب کا
خوب له يارة سره هم د عاشق نه شي — چې يې يار په بل ديار وي شه به خوب کا
په دنيا کې خوب هغه کا چې نادان وي — هغه ژوی (۷) چې هوښيار وي شه به خوب کا
کوم طالب مطلوب نيولی (۸) دی په خوب کې — هغه خوک چې طلبګار وي شه به خوب کا
د ديدار نه دی چا په پټو ستر گو کړی — چې مطلب د چا ديدار وي شه به خوب کا
بله لار د مرګ ترلاری ګرانه نشته — چې په خوا يې هسې لار وي شه به خوب کا
هر نګاه د دلبرانو ذوالفقار دی — هر چې غوښ په ذوالفقار وي شه به خوب کا
دلبره چې چلی خوب کولی نه شي — چې خوږلی تور سنبا مار وي شه به خوب کا

۲۲۰ — نه ناقص دیار بنده هم خدمتګار يم — ۲۲۱
چې بنده او خدمتګار وي شه به خوب کا

---

(۱) دامړی په مصوره نسخه کې دا مصرع داسې ده: "هر نفس سړی په تله دی له جهانه".
(۲) د "پ" دلومړی نسخې نه پرته په ټولو کې "چې" راغلی ده.
(۳) دا بيت په چاپي ديوانونو او مصوره نسخه کې نشته، دوهمه مړی يې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې به تږی د ديدن وي شه به خوب کا".
(۴) په چاپي ديوانونو او د "پ" په دوهمه نسخه کې "ديو" پر ځای "يار" راغلی دی.
(۶) په "پ" او "پ، ب" چاپ کې: "خوب خندا په بې غمی کې پرې رهمانه هر چې تاغوندې غمجن دی شه به خوب کا".
د پښور "ق، ک" چاپ: "هر چې ما غوندې غمجن دی شه به خوب کا". د "خ" لومړنۍ نسخه: "خوک چې تاغوندې د زړه من دی شه به خوب کا".
د "خ" دوهمه نسخه: "خوک چې ستا په شهر د زړه من دی شه به خوب کا"، مصوره نسخه: "خوک چې ستا په شهر غمجن دی شه به خوب کا".
او د "ب" دوهمه نسخه کې داسې ده: "خوک چې تاغوندې غمجن دی شه به خوب کا".
(۵) دا بيت په چاپي ديوانونو او نورو قلمي نسخو کې نشته د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شوی او د ستی مړی يې په اصلي نسخه کې داسې ده "چې ئی زلفې په ګردن کې طوق رسن دی شه به خوب کا".
(۷) دامړی د "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "هغه ژوی چې دانا دی شه به خوب کا". او په دوارو چاپي ديوانونو کې "ژوی" پر ځای "زوی" راغلی دی.
(۸) د "پ" دلومړی نسخې نه پرته په نورو ټولو کې "موندلی" راغلی دی. او همدا نومورې بيت د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته.

يادونه: لاندې بيت يوازې د "خ" په دوهمه نسخه کې راغلی دی، او د ټاس لاندې نورو نسخو او ديوانونو کې نشته.

دلبره په چلی خوب کولی نه شی
چې خوږلی تور سنبا مار وی شه به خوب کا

هغه څوی چې بې خدایه[1] محبت کا — هګۍ واړه بې ځایه محبت کا
محبت بې خدایه واړه دزړه رنځ دی — که مدام له چنګ ونایه محبت کا
خرخاري ده چې يو ځبله[2] کاندي — هر خودرای چې له خود رایه محبت کا
نتیجه يې ریش کنده جامه پاره وي — آدم زاد چې له چارپایه محبت کا[3]
هغه سرای لره به تله وربانديږ وي — هر سړی چې له دې سرایه محبت کا[4]
بوالهوس به نه پتنګ نه پروانه شي — دمګس په څېر له ورایه محبت کا[5]
چې د تور و زلفو سیوری په چا وشي — هغه کاله له هما یه محبت کا

۲۲ — نهج څکه د ریبار متابعت کړم[6]
چې هر څه وله رهنمایه محبت کا — ۳۲۸

اورنګ زیب چې آرایش د تخت وتاج کا — تخت وتاج به يې مرګی تاراج کا[7]
په جهان کې به يې پاتې نه شي بدنوم شي — دی که چارې د کسرئ که د حجاج کا
او به ستر ګو لاړې او ږدزړه شو — څوک به څه شکل ژوندون په دا مزاج کا
جدايي زما په زړه کا هسې چارې — لکه بازې په تار واوړه دراج کا
زما او سنګې چې پیدا د زړه لهیم شوې — لکه اوریې له کبابه نم اخراج کا
زه غمجن د عید په جشن خبر نه شوم — که نور خلق هوسۍ د هاى ته احتیاج کا

۲۳ — هر ناوک چې د قضاله شسته خیږي
زمانه د نهج زړه ورته آماج کا[8] — ۳۳۵

دبې درد وهمدمي[9] به دې بې درد کا — د نامرد وهمدمي به دې نامرد کا
صحبت بې تأثیره نه دی د احدیت دی — گنګو نمرۍ هم په شېر د گنګو زړد کا[10]

---

(۱) د "پ پ" چاپ کې د "بی خدایه" پر ځای "بې یاره" راغلی دی.
(۲) په چاپی دیوانونو کې "یولې بلې" راغلی دی، او دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته او د لومړۍ مسودې د "ریش کندۀ کلمه د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "ریش کندن" په شکل راغلی ده.
(۴) دا بیت په مصوره نسخه او د "ع" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۵) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې په "پ" چاپ او د "پ، پ" چاپ کې په لومړۍ مسودې دهغه ده: "بلهوس به نه پتنګ و پروانه شی".
(۶) دا مسودې په چاپی دیوانونو کې دهغه ده: "همان څکه د ریبار متابعت کا"، د "خ" لومړۍ نسخې: "زه د همان څکه د یاره محبت کړم".
(۷) دا غزل په مصوره نسخه، د "خ" په لومړۍ نسخه او د "ق ک" چاپ کې نشته.
(۸) د "خ" دوهمه قلمۍ نسخه کې "امواج" راغلی دی.
(۹) په مصوره نسخه د "خ" لومړۍ او د "پ" په دوهمه نسخه کې "همراهی" او د "پ، پ، ق ک" چاپ کې "همدردی" راغلی ده.
(۱۰) دا مسودې په "پ" نسخې او دهغه په "خ" نسخه کې دهغه ده: "گنګو نمرۍ د گنګو په شېر د زړد کا".

هر کالی چې خوک په څمکه باندې کېږدي
هغه څمکه يې له جنسه دخپل ګردکا

په مجلس دويژ(1) ليو خوک ورمه شه
که صحيح وسلامت وي آه يې سردکا

٢٤ چې دويي له ميانه لرې شي رحمان(2)
معشوقې عاشق پخپله نازپرورد کا ٣٤٠

که په ګنج د شاهي فخر شهريارکا
عاشقان يې د دلبر و په رخسارکا

خرقه پوشو په خرقه کې دی موندلی
هغه حظ(3) چې په دنيا کې دنياداراکا

پتنګانو لره ورکړ خدای په اور کې
هغه عيش چې يې بلبله په ګلزارکا(4)

نيک ساعت(5) په بد بدل ډېر چا مه شه
په وصال کې غم د هجر ورد و خارکا

نس(6)، د ګورا و د موريو دی په معنی کې
خو په چا يې تور لحد په چا بازارکا

د بېړی په دوبده چې خدای راضي شي
يګانګي د زړونو هلته کله کارکا(7)

هغه مخ چې مادرزاد ښايسته نه وي
مشقت د مشاطې وارې مردارکا

يار د نازله خوبه پاڅي پسې ګرځي
چې فلک د عاشقانو بخت بيدارکا(8)

بې له تا نه مدام سوزي دا يې حال دی
لکه شمع چې خوک بله په مزارکا(9)

د مستۍ د هوښيارۍ يون څرګند وی
په هر چاکې چې څه وي هغه رفتارکا(10)

د بلبلو نغمې زاغ کولی نه شي
هر سړی ود آواز په طور د خپل تارکا(11)

٢٥ هسې بې وقوف سوداګر نه دی رحمان ٢٥٢
چې د دين متاع بدله په دينارکا(12)

---

(1) په قلمی نسخو کې "ويژ ليو" راغلی دی.
(2) دا بيت د "خ" په لومړنۍ نسخه کې نشته، د "خ" په دوهمه نسخه کې د "دويي" پرځای "دوهی" او په مصوره نسخه کې "دودی" راغلی دی.
(3) د "خ" په دوهمه نسخه کې "خوند" راغلی دی.
(4) د "پ" لومړنۍ نسخه او د "خ" لومړنۍ نسخه: "هغه عيش چې بلبلې په ګلزارکا"
(5) په مصوره نسخه کې "نيک عمل" راغلی دی.
(6) دا بيت د "خ" په لومړنۍ نسخه کې نشته، په قلمی نسخو کې د "نس" پرځای "نفس" راغلی دی په "ق، ک" چاپ کې د "بازار" پرځای "ګلزار" راغلی دی.
(7) دا مصرع په چاپی ديوانونو کې داسې ده: "بيا ملاح د زړونو کله هلته کارکا" په مصوره نسخه کې داسې ده: "يګانګی د ملاحانو کله کارکا".
(8) دا بيت د "خ" په لومړنۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "ياد زما له خوبه پاڅی پسې ګرځی چې فلک د عاشقانو محنت بيدارکا".
(9) دا بيت د "خ" په لومړنۍ نسخه کې نشته، لومړی مصرع يې په "پ" او "پ پ" چاپ کې داسې ده: "نيمې شپې يې ياد تر سره پورې کينی". د "ق، ک" چاپ کې د "يې" پرځای "مې" راغلی دی. په مصوره نسخه کې دا مصرع داسې ده: "نيمې شپې می تر سره ويږ دی پورې کينی"
(10) دا بيت په "پ" نسخو او د "خ" نسخو کې داسې دی: "د مستۍ د هوښيارۍ يون څرګند وی په هر چاکې چې څه دی هسې رفتارکا!"
"ق، ک" کې لومړنۍ مصرع داسې ده: "د مستۍ د هوښيارۍ يون سړه څرګند دی" او د "خ" په لومړنۍ نسخه کې دا بيت داسې دی: "د مستۍ د هوښيارۍ يون سړه څرګند دی په هر چاکې چې څه يون هسې رفتارکا".
(11) په "پ" چاپ کې د "تار" پرځای "کار" راغلی دی.
(12) د "پ" په دوهمه نسخه کې "دنيا" راغلی دی.

ورځ چې بده شي عاقل وداناځه کا
چې قضا شي وردوځاره حکماځه کا (١)

مورو پلار خونبك فرزند له خدایه غواړي
چې بدبخت شي ادې څه کا باباځه کا (٢)

یارله یارۀ په لوی لاس کله ببلیږي (٣)
چې لاس نه رسي یارځه کا آشناځه کا

په ښېرو په دعاځه شي کم وني خدای دی
چې خدای نه کا ښېرې څه کا دعاځه کا

بخت په زور او په زرنه دی چا خپل کړی (٤)
په دا کار کې ناتوان څه کا توانا څه کا

٢٦ ٣٥٨

اې زړه پتنګ ولې شه چې وسوځ (٥)
نور د شمع خندا څه کا ژړا څه کا

زما او ښکې چې داهسې شست وشوکا
دا محنت وارۀ زما د مخ په ولوکا (٦)

تل یې مخ وي تر خوبانو پورې وللی
عاشقي چې د چا او ښکې په شېبوکا

د عاشق د سینې چاك به ورځ ګرځند شي
که څوك سر وخپل ګریوان وته فروکا

د عشق اور چې شمع خو د په سر قبول کړي
پروانه به څه حجت د ځان په سوځوکا

ګل څه نه وایي چې غرق په وینو ناست وي
بلبل څه لره بې ځایه ګفتګوکا

زه که مرګ غواړم بې یاره ګرم خونه یم
جدایي سړی په ځان پورې پکوکا

٢٧ ٣٦٥

معشوقي په محنت نه دي چا موندلي
مګر خدای یې په زړه باندې پرزوکا

خو یوځله یې تاراج په جفا نه کا
یارله هیڅ (٧) سره مهر وفا نه کا

که یې سر په بوسه وکړم زه پوهیږم
چې قبول به دغه عجز زما نه کا

چې په خپله رضا تللی مادرزاد وي
هغه هیڅ پرې د نور و رضا نه کا

خوې یې خپله مدعا حاصله نه شي
مهرویان په خوله د خضر سودا نه کا

که یې سل ځله دعا کوم په عمر
ګوش وهوش د دعاګوی په دعا نه کا

که آهونه آتشین پسې وکا یم
لکه سړوله خزانه پروا نه کا

---

(١) دا غزل د "خ" په لومړنۍ نسخه کې نشته.
(٢) د "پ، پ" چاپ کې دا مصرع داسې ده: "چې بخت بدشي ادې څه کا باباځه کا".
(٣) د "خ" په دوهمه نسخه کې "خپلیږي" راغلی دی.
(٤) دا مصرع په مصوره نسخه او د "خ" دوهمه نسخه کې داسې ده: "بخت په زور وزاړی نه دی چا خپل کړی". د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "بخت په زور و په زرنه دی چا موندلی" او د پیښور "ق ك" چاپ کې داسې ده: "محبت په زور چا نه دی حاصل کړی".
(٥) د "پ" او "پ پ" چاپ کې "عذر هشه" او د "ق ك" چاپ کې "اوشو" راغلی دی.
(٦) په چاپي دیوانونو کې "د مخ ابرو کا" راغلی دی.
(٧) په چاپي دیوانونو کې "له یاره" راغلی دی.

٢٨

که آرام غواړي نو پرېږده په عاشقي کې
دغه واړه ناروا کارونه کا

٣٧٢

زړه مې بې له خپل نګاره (١) آرام نه کا
کامراني راشخه غواړي ناکامه نه کا

بې ناکامه زيست محال دی په دنيا کې
دکوم آس په خوله کې ذخل لګام نه کا (٢)

د آسمان مانی به هم په قرار نه وي
سالك څکه قصد د قصر و دبام نه کا (٣)

ګاه يې کښېنوي په تخت کله په خاورو
زمانه رضا د هيڅا مدام نه کا

بې له سروي چې آزاده خلای پيدا کړه
ترکې څکه د هيڅا ته سلام نه کا (٤)

کوه و دشت هم د خزان له غمه ژيړ دي
څکه زرکه و چمن ته خرام نه کا

چا چې سر دی په سجده ويارته اېښی
دوباره له دې سجوده قيام نه کا (٥)

چې يې کړه ده ديار په لوړې لوښتې (٦)
لکه بحر هسې د روي مقام نه کا

نشستن د عاشق نشته لکه شمع
خو صورت د عشق په اوږې تمام نه کا

چې محظوظ وي په تش بوی د هر ويانو
هغه فکر د بوسې د پيغام نه کا

چې لذت يې د سر و شونډو د وي موندلی
نوره مينه د شرابو په جام نه کا

په هغو د لعلو لبو مې حرام دی
خو د انورو لذت په خپسر حرام نه کا

٢٩

هسې د خپل يار ته بې حجت دی (٧)

٣٨٥

لکه عذرا چې صاحب ته غلام نه کا

چا چې مېد په عمارت د دې جهان کا
لکه کرښه په اوبو هسې نښان کا

دا اوبو په مخ د کربنې بقا نشته
په نابود باندې ناحق د بود ګومان کا (٨)

نادانانو هسې دين په دنيا بايلود
لکه وړې کې دُر بدل په پارچه نان کا

د دنيا د دين نسبت (٩) وبل ته نه شي
اوږد اوبو سره استوګه په خه شان کا

---

(١) په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې "يار" راغلی دی.
(٢) د "پ" په لومړنۍ نسخه او د "خ" په لومړنۍ نسخه کې "نعام" راغلی دی.
(٣) له دې بيته نه وروسته بېتونه او څپلې دا بيت د "پ" په لومړنۍ نسخه کې نشته.
(٤) دا بيت د "خ" په لومړنۍ نسخه کې نشته.
(٥) د "خ" دوهمې نسخه: "دوباره يې له سجوده قيام نه کا"
(٦) د "خ" دوهمې نسخه: "چې بې ژړه وي تل ديار په لوړې تللی"! د "خ" په لومړنۍ نسخه کې "پوښتی" "پرځای" "اېښی" راغلی دی.
(٧) د "خ" په دوهمه نسخه کې "لاجواب دی" راغلی دی.
(٨) دا بيت په مصوره نسخه کې نشته.
(٩) د "خ" په لومړنۍ نسخه کې "نښته" راغلی دی.

عشق دنفس له خاصیته منـــزه دی — کار دستر گو به شوك څرنگ په دهان کا
لکه چشم وگوش په کار کې وبله ببل وي(۱) — هسې دین ودنیا حکم ځان په ځان کا
په پیرۍ کې د ځوانۍ خیال دی هسې — لکه شوك چې دباغ سیر په خزان کا

۳۰ — بې درگاه یې بل ځای د نظم نشته — ۳۹۳
په سفر استوګه خو مسافران کا

عاشقان دناصحانو وینا نه کا — مست هاتي دمهوتانو پروا نه کا
واړه جوړ ددې دور(۲) مې قبول دی — که خدای ماله خپله یاره جدا نه کا
چې دګلو پریشاني شوه ورځ ګنده — غونچې سر په زانو کېښود خندا نه کا
وسپلاب ته د دې نړۍ وکې څه استاد(۳) وی — زړه چې ژاړي ستر ګی څرنګ ژړا نه کا
دنیا کل په احمقانو ده ودانه — دانا څکه وابستګي د دنیا نه کا
چې یې زړه دی په هوا لوړي ترلی — د حباب عمارت څکه بقا نه کا
بې هنر دی چې شوك دین په دنیا پلوري — هنرمند سړی د اهسې سودا نه کا
که شوك وایي هوښیار کوم دی وایه دای — چې بې خدایه نوره مینه په چا نه کا
ګدایي که ورپسې بې دایي ځای دی — هر بادشاه چې دلجوي د ګدا نه کا (٤)
چې بې دل یې په یوه نګاه رغېږي — څه انصاف دی چې دلبر یې دوانه کا
هر چې زړه یې وي په یار باندې بایللی — نوره مینه په چا بې له آشنا نه کا (٥)
چې ترغوږ یې وي وینا د آشنا شوې — هغه غوږ هرګز په نوره وینا نه کا
وبه نه رسي دیار تر بلند بامه — چې د زړه غولی روښن په ژړا (٩) نه کا

۳۱ — زه نظم د هغه یار په جفا خوښ یم — ٤٠٧
که اغیار مې خدای له میانه پیدا نه کا (٧)
که سړی د خپلې پوهې تقصیر نه کا — د خدای کړه به شوك په پوهه تغیر نه کا
خواه ناخواه به د تقدیر شوې (٨) ورپېښ شې — که شوك هیڅېرې نظر په تقدیر نه کا


PROPERTY OF ACKU 4499

(۱) "پ" چاپ او د پېښور نور چاپې دیوانونه: "لکه کار د ګوش وچشم سره ببل دی."
(۲) په چاپې دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې "دهر" راغلی دی.
(۳) په چاپې دیوانونو کې "حاجت" راغلی دی.
(٤) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٥) دا بیت او د پسې دوه نور بیتونه په قلمي نسخو کې نشته.
(٩) په "ق، ک" چاپ کې "رڼا" راغلی ده.
(٧) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "چې اغیار مې خدای له میانه جدا نه کا" د "خ" لومړنۍ او مصورې نسخې: "که اغیار مې تر دامیانه پیدا نه کا".
(٨) د پېښور په چاپې دیوانونو کې "کښلی" راغلی دی.

دهغوچې بخت بیدار شو غم یې نشته — که هیڅیرې بیداري وشبګیر نه کا
دالدخپلې کم فهمۍ مونږ خه وایو — چې فلانی سړی تالاش وتدبیر نه کا (١)
دلګیري اوخوشحالي که په خپل لاس وي — په خپل لاس به خپسړ هیڅوک دلګیر نه کا
معرفت دخدای څرګند دی په هر څه کې — ستړګې وخوړه چې څوک هومره نظیر نه کا
دانفس په مثال برق صورت فانوس دی — برق به هیڅوک په فانوس کې اسیر نه کا
ددنیا سړي همدواړه درماند دی — کوم بادشاه دی چې منت دوزیر نه کا
کوم واده کومد کوژدن ده په جهان کې — چې فلک یې وآخرته په وېر نه کا
په خوله هر یوسړی اسم دپیر اخلي — باري څه په کار چې نغوته دپیر نه کا
څه نښې دقیامت نه دي لورڅه دي — چې دپلار ویل په زوی تأثیر نه کا
هسې چارې له ناحې واقع کېږي — چې له شرمه یې هیڅ غل وکاسیر نه کا
په مړه پسې تکبیر وکاروان شي — هیڅ ګومان په ځان دهسې تکبیر نه کا
په دنیا پسې درست عمر زهیر یږي — ځان یودم دخدای دپاره زهیر نه کا
دعیال دپاره تېر ترسره مال شي — دلجوئي په یوه ټوک دفقیر نه کا
گهردی چې ناري دهجران اوري — واشنا وته کاته په ځیر ځیر نه کا

٤٢٣ — ٣٢

ترحده تېره شوه په یار پسې ژړا زما — نه ګروهیږي په ژړا سره آشنا زما (٢)
که مې هره وینا دُرشي مرغلر شي — لا دغوږ لایقه نه ګڼي وینا زما (٣)
په ناروبه ما بیدار کړه که اوده وی — باري وپښې راته اوده شو دلربا زما (٤)
زه مکتوب خوندې په پته خوله ګویایم — خاموشي زما تېرې کا ترغوغا زما (٥)
کښت دعشق په توده ځمکه آسان ندی — سمندر بویه چې زیست کا په صحرا زما (٦)

---

(١) دابیت په مصوره نسخه کې نشته.
(٢) دابیت په "پ" چاپ کې دهمې راهلې دی: "دېره شوه په یار پسې ژړا زما  نه ګروهیږي په ژړا آشنا زما". اود پینور چاپ د "خ" په دوهمه اود "پ" په دوهمه نسخه کې نه یواځې دابیت بلکه دوې رډلیف قول بیتونه نه دي راهلي.
(٣) دابیت د "خ" لومړۍ نسخه کې دهمې راهلې دی: "که مې هره وینا دُرشي مرغلري  لایقت دغوږ دی نه ګڼي وینا زما". او د "پ" چاپ کې دهمې راهلې دی: "که مې هره وینا دُرشي یاګوهرشي  ستا دغوږ نه ده لایق وینا زما".
(٤) د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "په ناروبه ما بیدار کړه که خوب دی وړی  ولی وپښې راته اوده شه دلربا ځما".
(٥) "پ" چاپ: "زه مکتوب خوندې په پته خوله ګویایم  لاندې کړله خاموشي غوغا زما".
(٦) د "خ" لومړۍ نسخه: "کښت دعشق په توده زمکه اسمان نکه  سمندر بویه چې زیست کا په صحرا زما".
په "پ" چاپ کې: "کښت دعشق په توده زمکه اسمان نه دی  سمندر بویه په دې صحرا زما".

دایار نه دی چې هجران له ما نه بېل کړ — روح زما دی چې له تنه دی جدا زما (۱)

۳۳

زه رحمان بې خپله یاره هیڅ نه غواړم (۲)
که قبوله وي د خدای په درد عا زما

۴۳۰

سل ځله که وخوري نا صحمان غېږ زما — بېل به ځبله نه کا د ما د ستا او سر زما (۳)
صبر ستا په عشق کې د اخبره خوك اوزه خوك — نشته د دې چارې توان یو موی قدر زما (۴)
ستا له محبته جار واته وما ته عار دی (۵) — ولې خاورې نه شي په دالار بشر زما
واړه معشوقې د عاشقانو خبر اخلي — بې له تا چې نه اخلي یو دم خبر زما
هیڅ اندوه مې نشته بې د ستا له جدایۍ — نو راند وه به خو دې تر دغه بتر زما
خوب د کور وکلي په نارو زما برهم شو — څه چل دی (۶) چې نه شي ستا په زړه اثر زما

درست جهان که واړه ما زمانه لړه دلبر شي (۷)

۴۳۷

چېرې دی دلبره بې تابل دلبر زما — چې اورا دې په هر صبح وشام زما
هسې یادې همیشه مدام زما — سل تو بې دي په هغه کلام زما
هر کلام چې بې د ستا له یاده وکړم — نه شي نه شي په هیڅ رنګ آرام زما (۸)
زه که بې له تا له زړه آرام کړم په سل رنګه — زاړه شد ستا ترمینې ننګ ونام زما
ننګ ونام که ستا په مینه له ما د رومي — هېر شو دلته واړه بل مقام زما (۹)
چې قایم شوم په مقام د عاشقۍ — پخته نه شو دغه عقل خام زما (۱۰)
خو د عشق په خم خانه مې داخل نه کړم — خو چې خاورې نه دی هر اندام زما (۱۱)

---

(۱) د "خ" لومړنۍ نسخه : " دایاران چې دی هجران له ما بېل کړی — روح زما دی چې له تنه دی جدا زما".
"پ" چاپ : " دایار نه دی چې هجران له ما نه بېل کړ — دغه روح له تنه شه جسد ازما".

(۲) "پ" چاپ : " زه رحمان بې خپله یاره هیڅ نه غواړم — که قبوله خدای نه وي دعا زما".

(۳) دا غزل د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۴) په "ق" او "ک" چاپ کې د "موی" پر ځای "جو" راغلی دی.

(۵) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړنۍ نسخه : "جاروانه زما دروغ دی". مصوره نسخه : " جاروانه زما غلط دی".

(۶) قلمي نسخې "څه چارده".

(۷) چاپي دیوانونه : "کل واړه جهان که ما رحمان لړه دلبر شی".

(۸) د "پ" نسخې : " بې له تا که زړه آرام کړم په سل رنګه — نه شی نه شی په هیڅ رنګ آرام زما
د "خ" لومړنۍ نسخه او مصوره نسخه : "که بې تا د زړه آرام کړم په سل رنګه — نه شی نه شی په هیڅ رنګ آرام زما

(۹) قلمي نسخې : "هېر شو دلې د ته بل مقام زما".

(۱۰) چاپي دیوانونه : "خو د عشق په خم خانه کې داخل نه کړم — پخته نه دی دغه عقل خام زما".

(۱۱) د "پ" لومړنۍ نسخه : "خو تر خاورو نه دی لاندې هر اندام زما". د "خ" لومړنۍ نسخه : "خو چې لاندې شي تر خاورو هر اندام زما".
د "خ" دوهمه نسخه : "بیا به خوك د رسوی پیغام زما". مصوره نسخه : "خو لاندې تر خاورو هر اندام زما".

هزار رجام دصراحي دپ فلك مات كړل
خوبه گرځي په دادورجام زما

۳۵ زه نظم به دانا كام كوم تركومه ٤٤٦
وايه (۱) كله به حاصل كړي (۲) كام زما

چې هرچا ليدلى نه وي يار زما
خپړدى داكه والي بد په كار زما (۳)

هرهغه چې وي دلبر زما ليدلى (٤)
نه به كا انشاءالله انكار زما

سر زما درگاه دهغه يار عزيز وي
بې له دې لار نشته بله لار زما (٥)

ما بې عشقه بل څه خپز زده كړى نه دى
چې څه دى هم دادى واړه كار زما (٦)

خداى دې هيڅوك يو ځله ازار نه كا
اې دلبره مداخله ته ازار زما (۷)

يا ره ستا په جدايى او په درد غم كې (۸)
سينه داوښكودرومي په رخسار زما

لوى دى كه هلك دى واړه ستا خبرې كاندى
بل گفتگوى نشته په دې كار زما (۹)

۳۶ زه نظم به لاف په عشق كې څه وهمه ٤٥٤
خو به ځان څرگند كا انتظار زما

سر زما سامان زما زار شه ترجانان زما
زار شه ترجانان زما سر زما سامان زما

زيان زما نقصان زما واړه ديار هجر دى
واړه ديار هجر دى زيان زما نقصان زما

گل زما ريحان زما ستا رخسار وزلفې دې
ستا رخسار وزلفې دې گل زما ريحان زما (۱۰)

مښك زما زعفران زما ستا د كوڅې خاورې دى
ستا د كوڅې خاورې دې مښك زما زعفران زما

فكر زما توان زما ستا په غم كې نه رسي
ستا په غم كې نه رسي فكر زما توان زما

آه زما فغان زما هيڅ په تا اثر نه كا
هيڅ په تا اثر نه كا آه زما فغان زما (۱۱)

---

(۱) د "خ" لومړنسخه : "خدايه".
(۲) "پ" چاپ ، "ق" چاپ ، او "ق ك" چاپ : "شى".
(۳) قلمى نسخه : "چې هرچا ليدلى نه دى يار زما خير دى داكه والي بد په كار زما".
د "خ" دوهمه نسخه : "چا ليدلى نه دى په جهان كې يار زما شه شوه كه بد والي په كاروبار زما".
(٤) قلمى نسخه : "هرچا چې زما دلبر ليدلى دى". د "خ" دوهمه نسخه : "هرچا چې يې ليدلى ښه ودلبرى دى نه به كه انشاءالله انكار په كار زما".
(٥) چاپى ديوانونه : "سر زما درگاه دهغه يار عزيز وي بې له دې نه نشته بله لار زما".
(٦) قلمى نسخه : "ما بې عشقه هيڅ نه دى نور زده كړي هرچې دى هم غه دې واړه كار زما".
د "خ" لومړنسخه : "خو به ځان څرگند كا انتظار زما" دوهمه نسخه : "ما په عاشقى كې نور څه نه زده كه باور كړى هرچې دى دغه دى واړه كار زما".
(۷) قلمى نسخه : "هيڅوك دى خداى يوله بله ازار نه كا اى دلبره مداخله هرگز ازار زما".
(۸) قلمى نسخه : "يا ره ستا د جدايى په غمونو كې". او دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه لكه نشته".
(۹) "پ" چاپ او د "پ ، پ" چاپ : "لوى هلك كړى همه واړه ستا خبرى گفتگوى نشته بل په دې كار زما".
"ق" چاپ او "ق ك" چاپ : "لوى واړه كړى همه واړه ستا خبرى گفتگو نشته بل څه په دې كار زما".
مصوره نسخه : "لوى هلك واړه ستا خبرى كه". د "خ" دوهمه نسخه : "لوى هلك همه واړه ستا خبرى كه دلبره". او دا بيت د "خ" په لومړنسخه كې نشته.
(۱۰) دې بيت "پ پ" چاپ او د "خ" قلمى نسخه : "گل زما ريحان زما ستا د رخسار زلفى دى ستا د رخسار زلفى دى گل زما ريحان زما".
(۱۱) دا بيت په مصوره نسخه كې نشته.

۳۷

وصل هم هجران زما ای ناڅ خیږدی ٤٦٤
ای ناڅ خیږدی وصل هم هجران زما (۲)

ستا په غم کې نه رسي دا پیران شیخان زما (۱)
ستا په غم کې نه رسي پیران شیخان زما
بې تا هیڅ حال نه لري زړه زما چشمان زما
بې تا مېوه نه نیسي باغ زما بوستان زما

ستا په څېر نه دي خوبان لېدلي ما
هیڅ وفاله عاشقانو سره نه کا
چې مې ستا وښکلي مخ نه دي کتلي
د زړه غولي مې نیولی ستا غمونو
چې مې کار دعاشقۍ په لاس کې واخیست
نور غمونه مې له زړه نه دي وتلي
که جفاکوې که جور وارې ځای لري

نه په غوږ وچېړې اوږدلي ما (۳)
دلبران دي وارې ازمایلي ما (٤)
بل یو مخ ته نه دي بیا کتلي ما (٥)
نور غمونه دي له زړه ویستلي ما (٦)
دي له بله کاره لاس وکښلي ما (۷)
ستا غمونه دي پکې کړلي ما (۸)
د ستا جور وجفا وارې دي منلي ما (۹)

۳۸

زه ناڅ بې یاره خوب وخندا نه کړم ٤۷۲
بې ده نه دي خوب خندا پسندلي ما (۱۰)

---

(۱) په نورو قلمي نسخو کې دا بیت نشته او د "پ" په لومړۍ نسخه کې دغسې دی:
"پیران شیخان زما ستا په غم کې نه رسي  ستا په غم کې نه رسي پیران شیخان زما".

(۲) قلمي نسخې: "وصال نه ما هجران زما رحمانه واړه خیږدی  رحمانه واړه خیږدی وصل هم هجران نه ما".

(۳) د بیت په قلمي نسخو کې دغسې راغلی دی: "نور خوبان دستا په څېر نه دی لېدلی ما  نه لېدلی نه په غوږ وچېړې اوږدلی ما".

(٤) قلمي نسخې: "دلبران دنه مانې دی ازمایلی ما".

(٥) د "پ" لومړۍ نسخه: "چې مې ستا کښلی مخ وته کتلی دی  نور کاروند دی له لاسه غوږ خولی مـــا".
په "پ پ" چاپ کې: "چې مې ستا دې ښکلی مخ ته دی کتلی  بل یو مخ ته نه دی بیا کتلی مـــا".
د "خ" لومړۍ نسخه: "چې مې ستا دې ښکلی مخ وته کتلی دی  نور بیا نه دی وبل مخ ونه کتلی مـــا".
د "پ" په دوهمه نسخه کې دا بیت نه دی راغلی او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا ردیف بیخي نه دی راغلی.

(٦) قلمي نسخې: "د زړه غولی مې نیولی ستا غمونو نوري  نور غمونه دی له خاطره ویستلی مـــا".

(۷) قلمي نسخې: "چې مې کار دعاشقۍ په لاس اخیستی دی  نور کاروند دی له لاسه اچولی مـــا".

(۸) قلمي نسخې: "هم په دامې نور غمونه له زړه وواته  چې په زړه کې ستا غمونه دی کړلی مـــا".

(۹) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته.

(۱۰) قلمي نسخې: "زه رحمان بې یاره خوب وخندا نه لرم
خوب خندا بې یاره کله دی پسندلی مـــا".

د "خ" لومړۍ نسخه:
زه رحمان بې یاره خوب وخندا نه کړم
خوب خندا بې یاره کله پسندلی مـــا".

چې واده يې کا په ډول اوپه سرنا (١)
بيا پرې والي زمانه دوير وينا

که مې هر څو دلبري اودلجوي کا
زه پوهيږم د خپل يار په استغنا (٢)

په يوه ګړۍ مې يارهم مې آشنا شي (٣)
بيا مې بله ګړۍ نه ګڼي آشنا

دا زه خپله تسلي کوم يار بولم (٤)
څه يارې ده د ناتوان او توانا

يو زمان يودم او بې خپله صنم (٥)
زه لهڅه تر بقا ګڼم فنا

هر سړی په يوې چارې خداى مشغول کړ
زه مشغول کړم خداى د ترکو په ثنا

مابې عشقه بل هنر نه زده نا محبه
په خندا (٦)، شه که نادان يې که دانا

چې مې غوږ په نارونه باسي حيران يم
پروانه لرې که وور وي که برنا (٧)

بې دې يار له ښه د پد نه دې خداى نه کا
د ژوند په زړه کې بله تمنا

٣٩ ٤٨١

چې يې نقش په زړه خيال شي د آشنا
صدقه يې سر و مال شي د آشنا

پس له مرګه يې تيغ هسې مخ ورون وي
چې آشنا په تيغ حلال شي د آشنا (٨)

په آسمان د آشنايې به يې مکان وي
چې زمين غوندې پايمال شي د آشنا (٩)

خوشحالي زما د زړه په هغه دم وي
په هر دم چې زړه خوشحال شي د آشنا

روح هغه ساعت داخل ګڼم په تن کې
چې مې (١٠)، دخل په وصال شي د آشنا

هم هغه يوه ګړۍ رابانديې کال وي (١١)
چې يوه ګړۍ محال شي د آشنا

نور دهيڅا قيل وقال مې په کار نه وي
چې ترغوږ مې قيل وقال شي د آشنا

زړغونه کاندې دانه زما د عيش (١٢)
چې په زړه مې زړغون خال شي د آشنا

---

(١) د "خ" لومړۍ نسخه : "چې واده وي په ټول په سرنا بيا پرې زمانه دويروينا". د "خ" دوهمه نسخه : "چې واده يې وي په دول اوپه سرنا بيا پرې والي زمانه دوير وينا".
(٢) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې د هامش په ډول دي : "که يې هر څو دلبري اود لجوي کړم زه پوهيږم د خپل يار په استغنا".
(٣) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "شي" پر ځاى "وي" هامش دي.
(٤) د "پ" او "پ پ" چاپ : "دا زه خپلې تسلي کړم يار يې بولم".
(٥) د "خ" لومړۍ نسخه "يو زمان يودم بې خپله دلبره". او دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٦) په لوړو ټولو نسخو او ديوانونو کې د "په خندا" پر ځاى "بخښنده" هامش دي.
(٧) په چاپي ديوانونو کې دا مصرع داسې هامش ده : "پروانه لرې که وار ه دي که برنا". د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې هامش دي : "پروانه لرې که زور وي که برنا". او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا بيت نه دي هامش.
(٨) مصوره نسخه : "چې زمين غوندې پايمال شي د آشنا".
(٩) دا بيت په مصوره نسخه کې نشته.
(١٠) چاپي ديوانونه : "چې يې دخل په وصال شي د آشنا".
(١١) د "خ" لومړۍ نسخه : "هم يوه ګړۍ وخ رابانديې کال وي".
(١٢) مصوره نسخه : "عشق".

نه بل څوك زما طبيب بې آشنا شته دی (١) — نه بل څوك به په مثال شي د آشنا

٤٠ د نظم نظر په هيڅا باندې نه وي — ٤٩١
چې نظر يې په جمال شي د آشنا

که ما بنام ترستوني بنكته كړې حلوا — سبا خواست كوې له خدايه د سنورا
په هيڅ حال كې دې قرار وصبر نه شي — لېونی كړې د پېرځ هوا
تا مې عمر تر يار تر عزيز پورې — لويې گيډې (٢) مختورن كړې هم رسوا
چې په خپله رسوايي دې پروانه شي — نور به څه كړې په جهان دچا پروا
چې د نفس د پاره لاس وخدائے نه نيسې (٣) — دا زحمت له خدايه غواړې كه د وا
نفس بې شماره عالم پر پوست وكوهي ته — خداى دې نه كا نابينا دچا پېشوا (٤)
په روا په نا روا كله پوهيږي — وچا پای ته څه روا څه نا روا
چا پايان كه غوږ وستړګې لرې څه شو — په معنی كې نابينا دي ناشنوا

٤١ زه نظم له هغه علمه (٥) پناه غواړم — ٥٠٠
چې له دينه له مذهبه وي سيوا

دل ودين مې هغې ترکې كړه ها (٦) — لايې نه حسابوي د ځان بلها
د بنايست صفت يې څوك وې حيران يم — په هيڅ رنګ يې مونده نه شي انتها
د صورت له عيبه هسې پاكيزه دی — لكه ذات د وې بنت نشته دی په ها (٧)
كه يې مخ په زلفو پټ وي باك يې نشته — تل په ګنج باندې پراته وي اژدها
لكه نمر هسې جلوه كا په شفق كې — چې په سر كاندې اودنی دسوها (٨)
نه پوهيږم چې په كومه لاره درومم — چپ وراست مې رقيبان دي هزارها
خداى دې هسې تنها نه كا څوك په غم كې — لكه زه يم ستا په غم كې يو تنها (٩)

---

(١) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه او مصوره نسخه : "نه بل څوك زما طبيب نه مې اشنا شته".
"ق" چاپ او "ق ك" چاپ : "نه بل څوك زما طبيب او اشنا شته دی".
(٢) چاپ ديوانونه : "لوې گيډې"
(٣) " " : "وچا نه نيسې"
(٤) "ق" چاپ : "اشنا"
(٥) مصوره نسخه : "زه رحمان له هغه خلكه پناه غواړم".
(٦) چاپ ديوانونه : "دل ودين مې په هغه ترك كړه فدا"
(٧) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه كې نشته.
(٨) دا بيت د "خ" " " " " كې نشته.
(٩) د "خ" لومړی نسخه : "خداى هسې رنګ تنها په غم څوك نه كا لكه زه ديار په غم كې يم تنها".

٤٢

همیشه دبیلتانه په غم کې لولم
زه نعوذ بالله منها (۱)

که مین یې په خپل یار باندې ښتیا
اواره کړه اول دین ، پسې دنیا

په وفا د دلبرانو غلط مه شه
دغه قوم دی بې وفا اوکبریا

دخوبانو طایفه ده هسې شوخه
چې غوږ نه باسي دچاپه واویلا (۲)

د دې پرناز اود دې پرکبر له سببه
عمل نه کا په گفتار د اولیا

دل ودین په نیم نگاه دسړي یوسي
نه یې وېره له چا لېرې نه حیا

بل به هسې سرگردان په جهان نه وي
یا عاشق دی یا آسمان دی یا آسیا

ته چې ژغورې سر ومال په عاشقي کې
عاشقي دا هسې چېرې وي وېرېلا (۳)

دجنت ترحوروتېرشه که یار غواړې
خدای دې نقد دچانه کاندې نسیا (٤)

دساقي له لاسه هسې باده نوش کړه
چې دې غوښ کا د زړه خیرې درېیا

چې یې کسب عاشقي شي د دلبرو (٥)
نظر نه کاندې په کسب دکیمیا

٤٣

یوگفتار ورله بس کاندې
څه به هر ساعت پوښتنه کړې بیا بیا

عاشقي مې یې په زړه وکړگذ بیا (٦)
بیلتانه مې لمبې بلې کړې په سر بیا

که دفتر دخپل قسمت مې په خپل لاس وی
ما به ستا نه غم (۷) وران کا دا دفتر بیا

ما لا نومړ د آشنایۍ اخستی نه ؤ
جدایی یې راته جمع کړلښکر بیا (۸)

پس له مرگه به یې بیا ترتا قربان کړم (۹)
که صورت مې خدای پیدا کړه په محشر بیا

د هجران محنت مې وارله زړه هېر شو
چې مې ولیده په ستر گو ستا بشر بیا

---

(۱) د "خ" دې وارې نسخې : " زه رحمان اعوذ بالله منها ".

(۲) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی : "دخوبانو طایفې دی هسې شوخی چې غوږ نه باسي دچاپه واویلا". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "واویلا" پرځای "انگولا" راغلی دی.

(۳) دا مصرع په مصوره نسخه کې او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده : "عاشقی دا هسې چېرې ده ویرېیا".

(٤) دا مصرع په پ نسخه کې داسې راغلې ده : "خدای دې نقد دچا ونه کاندی نسیا".

(٥) دا مصرع په چاپي دیوانونو کې او هم د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده : "چې یې کسب عاشقي شوه ددلبرو". او د "پ" په دوهمه او د "خ" په مصوره نسخه کې د "شوه" پرځای "ده" راغلی دی.

(٦) د "پ" لومړۍ نسخه: "عاشقی مې یې په زړه وکړاشر بیا". د "پ" په چاپ کړې لومړۍ مصرع داسې راغلې ده : "عاشقی مې په زړه اوکړلوگذ بیا".

(۷) د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې "له غمه" پرځای "له لاسه" راغلی دی.

(۸) دا مصرع په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده : "جدایی دې راته جمع کړلښکر بیا". او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "بیلتانه دې راته جمع کړلښکر بیا".

(۹) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "کړم" پرځای "شوم" راغلی دی.

چې آسمان يې مخ پټ کړی په سحاب وُ(۱) خدای وما وته څرګند کړ هغه نمر بیا
چې رقیب راته ترلی په ځنځیر وُ خپل حبیب راباندې پرانت هغه ورېیا(۲)
په یوه نظر يې زړه را څخه یو وړ خدای دې خیر کا چې لا وکا بل نظر بیا(۳)

٤۴ ۵۲۸

په وصال يې منت بار اوسه
په صدف کې دخل نه وی دګوهر بیا

هغو بیامونډ سعادت په دا دنیا چې يې وکړ قناعت په دا دنیا(٤)
نه ملکونه د سلیمان په هزار کاله نه یوه ګړی طاعت په دا دنیا
یونفس د خدای په یاد واولی تر دی نه د درست جهان دولت په دا دنیا
په دنیا کې لوټ هغو عالمو وکړ(۵) چې يې وکړ عبادت په دا دنیا
که نعمت دی خو طاعت او عبادت دی ګنه نشته بل نعمت په دا دنیا
که محنت که مشقت دی خو دین دی په کار نه دی بل محنت په دا دنیا
بې له خدایه هر چې دي هم فاني دي(۶) که لذت دی که زینت په دا دنیا
که بادشاه دی آخر خاورو لره درومي څه عزت دی څه قربت په دا دنیا
تر هغه به بل نادان په جهان نه وي(۷) هر چې غواړي فراغت په دا دنیا
نه چې څو ورځې فرصت په دنیا غواړي(۸) چا موندلی دی فرصت په دا دنیا
عمارت په سر د ریګو روان کاندي(۹) هر چې کاندي عمارت په دا دنیا
د مستانو تر لغزشه څه کم نه دی دسړي استقامت په دا دنیا
هر څوندی چې د مړه په قبر ورشي بس دی هومره نصیحت په دا دنیا(۱۰)
په روانو او بو ورشه عمر ګوره دپر دی هومره اشارت په دا دنیا

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کښه نه دی راغلی.
(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ او د "پ" په دوهمه نسخه کښه دهسې راغلی دی: "خپل مین راباندې پرانت هغه د بیا".
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کښه نه دی راغلی، د "پ" "چاپ کښې" او روستۍ مصرع دهسې راغلی ده: "خدای دې خیر کا چې لا بل وکړی نظر بیا".
او د "خ" په لومړۍ نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کښه دهسې راغلی ده: تر دې وګوره که لا وکا نظر بیا".
(٤) د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کښه دا غزل نه دی راغلی.
(۵) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کښه "په دنیا کې لوټ هغو زلمیو وکړ".
(۶) دا مصرع د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کښه او هم د "پ" "چاپ کښه دهسې راغلی ده: "بې له خدایه هر چې دی وایه فاني دی".
(۷) دا مصرع په "پ" "چاپ کښه دهسې راغلی ده: "له هغه به زیات نادان په جهان نه وي".
(۸) دا مصرع په قلمي نسخو کښه دهسې راغلی ده: "" ته چې چند ګاه فرصت په دنیا غواړي".
(۹) دا مصرع په "پ" "چاپ کښه "عمارت په سر د ریګ روان کاندی". او په "پ پ" "چاپ کښه "عمارت په سر د ریګ به روان کاندی" راغلی ده.
(۱۰) قلمي نسخه کښه "بسکه ..." راغلی دی.

داپاخه پاخه سرايونه محلونه
وړې سترګې د آسمان څه هسې نه دي (١)
هرچې راشي همه واړه ځني درومي
رياضت په قيامت نه شي مړ دهغه دی
هم په داخوی وخصلت به سپاپاخي (٢)
هم هغه به يې خرمن وي پس له مرګه
که هغه جهان په دا کې ليده نه شي
په قيامت به بنه توښه ځبله نه شي
امانت به د لحد په ميان کې پروت وي
نېک عمل حضور جنت دی طاعت بويه (٣)
نېک کردار هم نېک عمل هم نېک خويونه
ضديت د سړي عمر په عذاب کا
لاس په سر په سينه ايښی وهرچا ته
که بلنده مرتبه د چا په کار وي
بل ارمان به له جهانه يوورنه شي (٥)
د هغه جهان سودا واړه دلې د ه (٦)
که طالع د سړي نه وي جاروتلې
نېک له نېکو سره بويه بد له بدو
ولايت دی خدای هغه لره ورکړی
که تمامه دنيا واړه سره يو شي
که څوک (٧) مړ دی خو هغې په دنيا

خوبه وران شي عاقبت په دا دنيا
چې څوک پرېږدي سلامت په دا دنيا
مسافر دی هر صورت په دا دنيا
چې پې وکړ رياضت په دا دنيا
خدای څوک مکړه بد خصلت په دا دنيا
هرچې کاندي زراعت په دا دنيا
زه يې وينم علامت په دا دنيا
مالپدلی دی قيامت په دا دنيا
هرچې اوسي امانت په دا دنيا
چې حاصل کا څوک جنت په دا دنيا
هم جنت دی هم راحت په دا دنيا
په کار نه دی ضديت په دا دنيا
هم دغه دی شرافت په دا دنيا
لوی مقام دی عدالت په دا دنيا
مګر همه محبت په دا دنيا
که څوک کاندي تجارت په دا دنيا
هيڅ پټ نه دی حقيقت په دا دنيا
که څوک غواړي ولايت په دا دنيا
چې پې ورک کړ سکونت په دا دنيا
نور به نه کا خپل قسمت په دا دنيا
هرچې نه لري حاجت په دا دنيا

---

(١) د "پ" نسخه او د "ځ" لومړنۍ نسخه: "وړې سترګې د آسمان څه هومره نه دی."
(٢) قلمي نسخه: "هم په داخوی وخصلت به پاخاوه شی."
(٣) په قلمي نسخه کې "طالع" واغلی دی.
(٤) دا بيت د "پ" په نسخه کې نه دی راغلی، د "ځ" په وروسته قلمي نسخه کې "نېک کردار له نېک عمل سره بويه" راغلی دی.
(٥) "ب پ" "چاپ" "بل ارمان به له جهانه پوره نه شی."
(٦) "ب پ" "چاپ" "د هغې جهان سودا واړه دلې ده."
(٧) په قلمي نسخه کې "که څه" راغلی دی.

چې رغبت يې د جمله بلاؤ سړی ... څوك به څه كاندې رغبت په دا دنيا (۱)

په نالې باندې داعمرهسې تېر شو ... لكه تېر شو يو ساعت په دا دنيا

٤٥ ... ٥٦٥

هوښيار مه گنه هوښيار دې دنيا ... بې وقوف دی و قوفلر دې دنيا

روښنايي په هغوز رونوده حرامه (۲) ... چې پرې كښې گرد غبار دې دنيا

پوچ گويي ده چې يې اهل د دنيا كا (۳) ... هر كلام او هر گفتار دې دنيا

د طفلانو په څېر واړه خاكبازي كا ... هر چې كاندې كاروبار دې دنيا

واړه ډكې خولې د پيوهلكان دي ... كار دې ده او پخته كار دې دنيا

هميشه به بې وقوف او بې شعور وي ... چې مخمور وي په خمار دې دنيا

د شرابو هم لاهومره مستي نه وي ... لكه مست وي خمرخوار دې دنيا

هر بيمار لره دارو په جهان شته دي ... دارونه لري بيمار د دې دنيا

دهر سوي علاج وشي په جهان كې ... مگر سوی په شرار دې دنيا

هر چې اچوي واورته واړه سوئ ... مور به نه شي طلبگار دې دنيا

گرفتاري همېشه په غم كې ډوب وي ... هېڅوك مه شه گرفتار دې دنيا

تل به پروت وي په ظلمت او په تورتم كې ... چې اسير وي په كفار (٤) د دې دنيا

په مسلمو كې خاصه مسلم هغه دی ... چې بې وشلاوه زنار د دې دنيا

څه وبت وته سجده څه ودنيا ته ... بت پرست دی پرستار دې دنيا

تن يې پاتو شي بې سره، سر يې لاړشي ... سردار كله دی سردار دې دنيا (٥)

زوی اولونه يتيمان كا حُني درومي (٦) ... بې وفا دي مور او پلار دې دنيا

همېشه به يې يو پند د غم په سر وي ... چې په سر يې وي دستار دې دنيا (۷)

واړه غم دی كه يې پاڼې كه يې (۸) پلوري ... نورځه نشته په بازار دې دنيا

---

(۱) دا بيت په "پ" چاپ لكې نشته.

(۲) د "خ" په دوارو نسخو لكې "روښنايي ده په هغوز رونو حرامه". راغلی دی.

(۳) د "خ" په دوارو نسخو او "پ" په "چاپ لكې" "پوچ گويي ده چې يې اهل د دنيا كاندي" راغلی دی.

(٤) د "خ" په لومړی قلمي نسخه لكې "گفتار" راغلی دی.

(٥) دا بيت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه لكې نه دی راغلی.

(٦) په "پ پ" چاپ لكې: "زامن لونه يتيمان كه حُني درومي".

(۷) دا بيت د "خ" په لومړی قلمي نسخه لكې نه دی راغلی.

(۸) د "پ" په نسخه لكې "يا يې" راغلی دی.

همګي واړه تګان دي تګي کاندي — فروشنده او خریدار دي دنیا (١)
په دنیا به مینه نه کاندي هیڅیرې — چې خبروي په اضرار (٢) دي دنیا
چې نظر دچا په دین او په ایمان وي — هغه نه کا انتظار دي دنیا (٣)
چې وېرېږي له کوهي او له ګرنګه (٤) — هغه نه دروي په لار دي دنیا
آشنایان دي همدواړه مکاران دي — خپه وساده په مکار دي دنیا
لوی، هلک یې، همه واړه اغیار دي — یار دي چېرې په دیار دي دنیا
چې پیدا شي همګي واړه فنا شي — راشه وګوره ناتار دي دنیا
هر سړي لره چې ورځي ځنې دروي — مالیدلی دي رفتار دي دنیا
په یوه ګړۍ بهار وي بیا خزان شي — بقا نه لري بهار دي دنیا
که هزار هزار پښتی ورته کېږدي (٥) — بې بنیاده دي دیوار دي دنیا
که داوسپنو حصار ترځان چاپېره کړي — سنبنبه وګنه حصار دي دنیا (٦)
لکه سیوري د آفتاب په مخ کې ګرځي — نشته هیڅېرته قرار دي دنیا
هېڅ ګومان د بهتري ورباندې مه کړه (٧) — کهتري ده وار په وار دي دنیا
بې مقراضه غوڅوي دسړي عمر — هم دالیل او هم نهار دي دنیا
پس له مرګه به حساب له سړي غوښتې — په اندازه او په مقدار دي دنیا
عاقبت خوبه یو موتی شي دخاورو — ګلعذار او ګل رخسار دي دنیا
برابر به له ګدایه سره پاچې — شهزاده او شهریار دي دنیا (٨)
پاس به داغ وي دلئیم په سینه باندې — هر درهم او هر دینار دي دنیا (٩)
دقانع تر قناعته صدقه شه — هم دنیا او هم دینار دي دنیا (١٠)
پس له مرګه به همدواړه مظلوم وي — ظالمان او ستمګار دي دنیا
تر قیامت به دغه شل او دغه لس وي (١١) — پوره نه کړه هیڅوا شمار دي دنیا

---

(١) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی او د "پ پ" چاپ کې د هغې راغلی دی: "همدواړه یې تګان دی تګي کاندي".
(٢) په چاپې نسخو کې "اسرار" راغلی دی.
(٣) د "پ" نسخه: "هغه نه لري نظر په کار دي دنیا". د "خ" دوهمه نسخه: "هغه نه لري هېڅ کار دي دنیا".
(٤) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې: "چې یې وېره شي له کوهه له ګرنګه".
(٥) قلمي نسخه: "که هزار هزار پښتی ورته کېږدي".
(٦) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې: "بې بنیې وګنه حصار دي دنیا"، د "پ پ" چاپ کې: "سنبنبه وګنه دیوار دي دنیا".
(٧) قلمي نسخه: "هېڅ ګومان د بهتري په پرې مه کړه".
(٨) دا مصرع د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "شهزاده او شهسوار دي دنیا". (٩) دا بیت د "خ" په نسخو کې نه دی راغلی.
(١٠) دا بیت په "پ پ" چاپ کې نه دی راغلی.
(١١) دا مصرع په چاپې دیوانونو کې داسې راغلې ده: "ترقیامته د غه لس او د غه شل دی".

چې ایام پرې د کفن او غسل وشي
بې پردې شي پرده دار ددې دنیا

په تخته باندې بیرون شي له حجابه
شرمناک او شرمسار ددې دنیا (۱)

تر هرچا به پیغمبر څخه وه پېره
که څه قرب وی یا وقار ددې دنیا

یو فساد به یې بیان په نظم نه شي (۲)
فساد و نه دي بسیار ددې دنیا

۴۶

۶۰۸



(۳)

سې مست یم ستا د شونډو په شراب
چې به نه وي بل داهسې مست خراب

لاس دستا په مینه اچوم و ګل ته
لکه بوتې ته لاس اچوي غرقاب

دا سرخي او سپېدي د ستا د مخ ده
که زما په مخ باران دی د خونناب (۴)

خدا ثر به زما او ښکې په تاکاندې
لا تازه شي او ر په او ښکو د کباب

عاشقان دې ستر ګي روڼې کا په عشق کې
دا خواب نه دی دا منزل دی د سیلاب (۵)

ما چې خال د ستا د رخ و په میان ولید
نه بل هسې رنګ امام شته نه محراب (۶)

سبا پرې چې لپاړه نه شي سبب دادی
مخ د ستا له شرمه نغاړې په حجاب (۷)

---

(۱) دامسري د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې دې رڼلی ده : " شرمناک وشرمدار ددې دنیا ".
(۲) د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې : " یو فساد به یې بیان تر رحمان نه شي ".
(۳) دامسري په پښور چاپ کې دې رڼلی ده : " هسې مست یم د شونډو په شراب "
(۴) دا بیت په "پ" چاپ کې دې رڼلی دی : " دا سرخی او سپېدی د ستا په مخ کې که زما په مخ باران دی د سحاب ".
د "خ" په لومړی نسخه کې دې رڼلی دی : " دا سرخی او سپېدی چې ستا د مخ ده دا زما په مخ باران دی که سیلاب ".
د "خ" په دوهمه نسخه کې دې رڼلی دی : " دا سرخی او سپېدی خوستا د مخ ده که زما په مخ باران دی د خونناب ".
د "پ" په دوهمه قلمي نسخه کې دې رڼلی دی : " دا سرخی او سپېدی چې ستا د مخ ده که زما د مخ باران دی د خونناب "
(۵) دامسري په "پ" چاپ کې دې رڼلی ده : " دا خواب نه دی منزل ګاه دی د سیلاب ".
(۶) دامسري په "پ" چاپ کې دې رڼلی ده : " نه بل هسې رنګ امام شته د محراب ".
د "پ" په دوهمه قلمي نسخه کې دې رڼلی ده : " نه بل هسې رنګ امام شته په محراب ".
(۷) دامسري په "پ" چاپ کې دې رڼلی ده : " مخ د ستا له شرمه نغاړې په حجاب ".

چې سباشي ستا ترمخ پورې شرمېږي
ځکه زیست په تورې شپې کاندې مهتاب

حجاب واخله مخ کړه تورد هغو خلقو
چې تحسین کا ستا په دوردآفتاب

هسې نه چې زه دلبر وایم وتا ته
خدای دې تالره درکړې داخطاب

ستا د مخ په ورق باندې خط وخال دې
د مصحف په صحیفو باندې اعراب

ستا د حسن حساب هیڅ په زحمان نه شي
هم په دا چې بې حساب دې بې حساب

یوکتاب په سرېن کې چاونه کړ (۱)
بې رماځ نه ده چې یې وکړ دا کتاب

٤٧ ٩٢١

چې یې ولید د ستا حسن بې حساب
له دې قصدې تاو پیدا شوله آفتاب (۲)

ستا له غم مې سترغلی سرې سرې ناغې شوې
یا خپلې دې سیاه پوش سره طناب (۳)

په آرزو دې د نرګس سترګې خلورشوې
غونچه سره د زړه په وینو شوه غرقاب (٤)

که دې زلفې په مخ پیچوتاب شوې بنایي (٥)
وپښت خه طاقت لري دا ورله تاب

زه چې خدای د ستا له غم سره آشنا کړم
خوشحالي مې نورنایابه شوه نایاب

سترغلي مې د فراق په ژړا سره شوو
د سبزي اثرې پاخېده له آب (٦)

مه، خورشید چې دې بنایست پورې شرمېږي
ځکه مخ پناه کوي ترکوه قاب (۷)

زه دې پیژنم په اصل کې خاکي یې
ځان به خوشحال پې په ګوتي له تراب (۸)

خودې خیال دا شنا کړې په لمه کې
خبر زده کړه ته دا وښکوله سېلاب (۹)

٤٨ ٩٣١

د رماځ بخت به هاله له خوبه ویښ شي
که ته سترګې ورته پورته کړې له خواب (۱۰)

---

(۱) دامصرع په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "بې رحمانه چې یې جوړ کړو دا کتاب"، اودې بیت لومړۍ مصرع د "خ" په دوارو قلمي نسخو کې داسې راغلې ده:
"یوکتاب په سرېندې چا ونه کړ".

(۲) ددې بیت ردیف په "پ" چاپ کې نه دی راغلی اودا بیت د "خ" په دوصمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "چې مې ولید ستا حسن بې حساب له دې قصدې تاو پیدا شود آفتاب".

(۳) دا بیت په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "ستا په غم مې سترغلی سرې سرې ناغې شوې یا خپلې دې سیه پوش سره طناب" خو په لورو قلمي نسخو او "پ" چاپ کې دا بیت نه دی راغلی.

(٤) دا بیت په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "په ارزو مې د نرګس سترګې خلورشوې غنچه سره د زړه په وینو شوه غرقاب".
د "خ" په دوصمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "په ارزو د نرګس دوې سترګې خلورشوې غنچه سره د زړه په وینو شوه غرقاب".
د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "په ارزو دې د نرګس سترګې خلورشوې غنچه شوه د زړه په وینو کې غرقاب".
د "پ" په دوصمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "په ارزو د نرګس سترګې خلورشوې غنچه سره د زړه په وینو کې غرقاب".

(٥) دامصرع د "خ" په لومړۍ نسخه کې (قلمي نسخه کې) داسې راغلې ده: "که دې زلفې په مخ پیچ، پیچ دې بنایي".

(٦) دامصرع د "خ" په دوارو قلمي نسخو کې داسې راغلې ده: "سترغلی مې د فراق په ژړا سپین شو". اود "پ" په دوصمه نسخه کې "سپین" او "سره" پرځای "شنه" راغلی دی.

(۷) دا بیت د "خ" په دوارو قلمي نسخو د "پ" په دوارو قلمي نسخو کې نه دی راغلی.

(۸) ددې بیت دوصمه مصرع د "خ" په دوصمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده "ځان به خوشحال پې په ګوتو له تراب". مګر په لورو ټولو قلمي نسخو او "پ" چاپ کې نه دی راغلی.

(۹) دا بیت پرته له "پ پ" چاپ څخه په لورو نسخو کې نه دی راغلی.

(۱۰) دامصرع د "خ" دوصمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "که ته سترګې ورته پورته کړې له خواب".

لاس مې وتړې د زلفو په طناب — بيا مې وپلوړي دسترګو په قصاب(١)
هسې آب يې دی د دوو سترګو په تيغ کې — چې بې سره په سر نه لړي حباب
چې توسن د فلک زين کاندی له نازه — د هلال پې ځای راوشي د رکاب(٢)
په درګاه يې د دروېزه کاندي د حسن — کنډ ولی په لاس سپوږمۍ هم آفتاب(٣)
چې رايادې يې سړې شونډې سور پيازوان کړم(٤) — تر چشمانو مې بهيږي سره شهاب
چې د مخ وآب وتاب ته يې نظر کړم — راته هېڅ شي د ګلونو آب وتاب(٥)
چې نسيم يې د زلفينو راپيدا شي — درست مې د وب کاندي په مښکو په ګلاب
چې د سپې اوازې واورم هسې خوښ شم — لکه څوک په نغمه خوښ وي د رباب
ما وې ګوندې مخ يې ووينم په خوب کې — باري چېرې شي بې ياره د چا خواب(٦)

٤٩ — په غزل کې خو دوه بيته انتخاب وي(٧) — ٦٤١

د ... تمام غزل دی انتخاب

هر مطرب چې غوږې تاو کا د رباب — په داتاو کې زما زړه کاندي خراب(٨)
چې سامع يې په نغمه په ترانه شم — د پوانه شم ګرېوان خېرې مست خراب
هم يې تار هم يې ګفتار هسې اثر کا — چې هېڅوک يې نه طاقت لري نه تاب
يو يې ساز بل يې اواز دی دلبستيو — د ريم شعر پرې آغاز کا انتخاب
خلورمې يې يو ساقي د څنګه ناست وي(٩) — چې مخی يې نه افتاب وي نه مهتاب
د اخلور وارې فتنې په خلور کنجه — او پنځم يې صراحي د مينو ناب
شپږم وخت د نوبهار او وم خوانې دے — اتم شغل د کتاب فهم ربابُ(١٠)
چې د اهومې آفتونه سره ټول شي — تر وخوک څرنګ څنې کاندي اجتناب

---

(١) د دې غزل پنځه بيته په مصوره نسخه کې نشته په چاپي ديوانونو کې د "ويلوړي" پر ځای "وسپارې" راغلی دی.
(٢) قلمي نسخې : "د هلال په ځای راوشي د رکاب". د "خ" دوهمه نسخه : "د هلال پر ځای يې ونښلي رکاب".
(٣) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ : "کنډ ولی په لاس نيولی دی مهتاب". د "خ" دوهمه نسخه : "کنډ ولی په لاس سپوږمۍ هم د آفتاب".
(٤) چاپي ديوانونه : "چې په ياد کې مې سړې شونډې سپين رخسار دی".
(٥) "ق" او "ق، ک" چاپ : "راته هېڅ شي د ګلونو آب وتاب".
(٦) چاپي ديوانونه : "ما وې مخ يې ګوندې وويني په خوب کې باري چېرې شي بې ياره خورد وخواب".
(٧) د "خ" لومړۍ نسخه : "په غزل کې يو دوه بيته انتخاب وي".
(٨) په چاپي ديوانونو او د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې د "خراب" پر ځای "کباب" راغلی دی.
(٩) چاپي ديوانونه او د "خ" لومړۍ نسخه : "خلورمې يې يو ساقي تر څنګه کښيني"
(١٠) قلمي نسخې : "شپږم وخت د نوبهار او د خوانۍ او وم شغل د بياض و د کتاب"

چې داهسې دلبران پرې اثر نه کا — یا به دیو وي یا د پوال وي یا د واب
راځرگند به شي پرهېز د پرهېزگار و — که قادرشي په شاهد او په شراب (۱)

۵۰

زه ران له ریازهده (۲) پناه غواړم — ۶۵۲
د ریازهد عذاب دی هم عتاب

ورقونه لتوم د هر مکتوب — پکې غواړم خال وخط د خپل مطلوب (۳)
یا تنوردی یا دکان د آهنگر و — چې په عشق کې تصور کړم خپل قلوب
په خندا خندا ځان اچوي او ورته — خدای خوک مه کړه په جذبه د عشق مجذوب (۴)
زه چې غم د هر ویانو را په زړه کړم — له دې غمه ولاړشي زړه را ښه ډوب
گوره څرنگ عشق آسان کړه وعاشق ته — دا مشکل مشقتونه د ایوب (۵)
په ژړا ژړا ترهسې حده را غی — چې ځان ړوند کړم په یوسف پسې یعقوب
عشق دے دا چې معشوقه شوه وعاشق ته — نه رخسار د هر ویانو په اسلوب (۶)
هغه څه پوښتی له هجره له وصاله — چې په خپله هم محبوب شي هم محبوب

۵۱

چې نظر یې له صورته په معنو کړم (۷) — ۶۶۱
و ران له وته یکسان شو زشت وخوب

چې نظر کړم په قسمت او په نصیب — را ته هېڅ شي خپل تالاش وخپل ترتیب (۸)
مگر خود په خپله خدائے د چا طبیب شي — گنه نشته په جهان کې بل طبیب
را څرگند دی په سود او زیان د رقیبانو — که خدای نه کاندي خپل یار د چا رقیب (۹)
چې خپل یار د چا رقیب شي دلیل دا دی — لکه څوک چې په وطن کې شي غریب (۱۰)
چې غریب شي په وطن کې فرق یې نه وي — که فرسنگ یې وي ترمیانه که جریب
ما په عشق کې هېڅ حاصل نه کړه بې غمه — هرچې والي واړه (۱۱) ښه والي ادیب

---

(۱) مصوره نسخه : " که قادر شی څوك په شهد و په شراب " (۲) په " ق " چاپ او د " خ " لومړی نسخه کی " پرهېز " او په " ق ک " چاپ کی " امان " راغلی دی "
(۳) دامړی په چاپی دیوانونو او د " خ " په دوهمه قلمی نسخه کی داسی راغلی ده : " پکې غواړم خال وخط د خپل محبوب " . د " خ " لومړی نسخه : " او پکې غواړم خطوخال دهر مطلوب " .
(۴) دا بیت د " خ " په لومړی او دوهمه نسخه کی داسی راغلی دی : " په خند اخند احان اچوم وا ورته خدای څوك مدکړه په جذبه د عشق مجذوب " . خو په لومړی قلمی نسخه کی د " مجذوب " پرځای " میزوب " راغلی دی . په " پ پ " چاپ کی داسی راغلی دی : " په خند اخند احان اچوی بل او رته خدای چې څوك کړی په جذبه د عشق مجذوب " .
(۵) چاپی دیوانونه : " گوره عشق څرنگ اسان کړه د عاشق ته دا مشکل مشقتونه دایوب " . " خ " په لومړی نسخه کی د " ایوب " پرځای " وعیوب " راغلی دی .
(۶) دا بیت د " خ " په دوهمه قلمی نسخه کی نشته ، دوی بیت چه لومړی مصری کی د " شو " پرځای ، په " پ " چاپ کی " شنه " په " پ پ " چاپ کی " شوه " ، " خ " په لومړی قلمی نسخه کی " شی " او د " پ " په دوهمه نسخه کی " واه " راغلی دی .
(۷) دا بیت د " خ " په لومړی قلمی نسخه کی داسی راغلی دی : " چې نظر یې له صورته په معنو کړی ورځان وته یکسان شی زشت وخوب " .
(۸) دوی ردیف ټول بیتونه د " خ " په دوهمه قلمی نسخه کی نه دی راغلی (۹) دا بیت په " پ " چاپ کی داسی دی : " را څرگند دی سود و زیان د رقیبانو که خدای دې نه کاندی خپل یار د چا رقیب " . په " پ پ " چاپ کی : " را څرگند دی سود و زیان د رقیبانو که خدای نه کاندی خپل یار د چا طبیب " . د " خ " لومړی قلمی نسخه کی : " را څرگند دی پسورا واز د رقیبانو که خدای نه کاندی خپل یار د چا رقیب " .
(۱۰) دا بیت په " پ " چاپ کی داسی راغلی دی : " چې خپل یار د چا طبیب شی مثال دادی لکه څوك چې په وطن کې شی غریب " . مگر د " خ " لومړی نسخه کی دا دوهمه مصری داسی راغلی ده : " لکه څوك چې خپل وطن کې شی غریب " .
(۱۱) په " پ پ " چاپ کی د " واړه " پرځای " هغه " راغلی دی او دوهمه مصری یې د " پ " په دوهمه قلمی نسخه کی داسی راغلی ده : " هرچې والي واړه بد والي ادیب " .

٥٢ دښمن هم دسړي کله کله دوست شي
٦٦٨ دوستي نه کاله زماخ سره حبيب

زه په سل رنګه راغب ته په سل رنګه غائب
دا به څرنګ شي دلبره چې زه مست يم ته تائب
که له جوړه دې فرياد کړم داهم نه دی مناسب
که څه وايم نه مې رسي زه مغلوب يم ته غالب
څه سيالي برابري ده دمطلوب او د طالب[1]
داستا مهر و محبت کړو خدای په ما باندې واجب
درد و غم دې هومره نه دی چې يې وکښم په کاتب
جدايي ده په ډېره سخته دارواح اود قالب
چې مجنون په ځنګلونو شو[2] زه يې پرېښودم نائب
وصيّت يې راته وکړو په څو رنګه[3] عجائب

٥٣ چې روزي دې شه زماخ نه
٦٧٩ زما واړه مراتب





له مې وشي له دلبره ملاقات بيا به نه ځم له دې دره په حيات (٤)
پس له دې مې دې استوګنه خدای نصيب کا په دا درکې که حيات وي که ممات

(١) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٢) د "خ" دوهمه نسخه : "چې مجنون له دې جهان ته".
(٣) "ق" او "ق،ک" چاپ : "په سل رنګه"
(٤) دا مصرې په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده : "پا به نه سم له دې دره په حيات".

ځای لری که زه ویار وته سجده کړم (۱)
هغه یار زما قبله دی د حاجات (۲)

د خپل یار نر لعلو لبو به پې زار کړم
که شکرې وي که قند وي که نبات

دا زما د یار جلوه ده چې لیده شي
لکه لمر په صومعه د سومنات (۳)

تر مالا په دلبرانو د پرمین دي
چې خبرې کا د کشف او کرامات

د ریاله زاهدی زما توبه ده
چې پې کاندي خوک په رسم او په عادات

په ورځ پند او نصیحت وایي ویل ته
په شپه ناست وي د مغان په خرابات

دین پې دام وي د دنیا په لارکې ابښی
پرې را اړوي وحشیان د مخلوقات (٤)

د هغو په لوړې ستر گې وي ختلې
چې په لاس پې سر سایه وي یا زکات

زه ران لـه هسې اهله پناه غواړم (٥)
هر چې لاف کا په خلاف د مقامات

آفرین د عاشقانو په همت
چې په عشق کې یک انداز وي یک جهت

نه پې هیڅ پرې تغیر نه پې تبدیل وي
که تمام جهان پرې وایي ملامت

که خوک سل نصیحتونه ورته کاندي
غوږ پې نه وي د هیڅ چا په نصیحت

چې په یار پسې تر ځان تر جهان تېر شي
خوک کولی شي د اهسې مشقت

که تمام عمر پې یار په ستر گو ناست وي (٦)
تمام عمر ورسنګار پرې یو ساعت

که یو دم شي هغه یار ورڅخه لرې
هغه دم شي ورته عمر د قیامت

که د وزخ له ره دیار په مینه در وي
د وزخ هم ورته جلوه (٧) کا د جنت

د عشق لار د توکل په پښو غوڅ پرې
نه په پښو د ریاضت او دیانت (٨)

په تدبیر او په تالاش کله مونده شي
چې موقوف وي هغه کار په عنایت

---

٥٤

٦٨٨

په چاپي دیوانونو کې د "ځای لری" پر ځای "ښایي دا" راغلی دی.

دامسری د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی ده : "هغه یار که قبول که دعا حاجات". د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی : "هغه یار زما قبله دی هم حاجات"

دامسری په "پ" چاپ کې داسې راغلی ده : "لکه لمر په صومعه او په سومنات". په "پ" چاپ کې داسې راغلی ده : "لکه لمر په صومعه وسومنات".

دابیت د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې داسې راغلی دی : "ابښی دا مړی د دنیا په لارکې نیسی پرې را اړوي وحشیان او مخلوقات".

دابیت د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی : "زه رحمان له هسې علمه پناه غواړم هر چې لاف کا په خلاف د مقامات".

د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې داسې راغلی دی : "زه رحمان حال پناه غواړم و خدای ته".

دامسری د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی ده : "که تمام عمر پې یار په ستر گو ناست وی".

دامسری د "پ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی ده :

د "خ" هم ورته کوڅه کا د جنت

د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې داسې راغلی ده : "نه په پښو د ریاضت د وانیت".

دعاشق خاطر له غیر و پاک پزه دی　　د دریاب په مخ کې نه وي نجاست

٥٩٨　　خدای چې زړه د مطلوب کانۍ کړي رحمانه (١)　　٦٩٩

کانۍ پروت د طالب په عمارت



وصال شپې بدله په بیلتون شوه الغیاث　　د قیامت خوارۍ راپیښه په ژوند و شوه الغیاث

ما لا طمع د وصال د نعمتونو تري کوله　　ناګهان کاسه (٢) نسکوره د ګردون شوه الغیاث

هغه چارچې مې په لاس وه زه پرې نه وم پوهیدلی (٣)　　اوس چې پوه شوم له اختیاره مې بیرون شوه الغیاث

د وصال په طمع طوق د جدایۍ شو را په غاړه　　هغه طمع چې زما وه اوس طاعون شوه الغیاث (٤)

په حکمت په عقل پټې د عشق اخستې خوک نه شې (٥)　　په دا کار کې ما تامل د افلاطون شوه الغیاث

٥٩٦　　ما رحمان دیار وصال په اسانۍ موندلی نه دی (٦)　　٧٠٥

ز رد رویې مې سرخ رویې په ځګر خون شوه الغیاث

یار یاري راسره نه کړه الغیاث　　نه یې ترس شي نه یې کړکه الغیاث

سر و مال وار په زما و دلارام ته　　نه ارزیږي په کنجکه الغیاث

په حملو حملو مې زړه و ړې نه پوهیږم (٧)　　افریدی ده که ختکه الغیاث -

بیلتانه یې پیښور راته تنور کړو　　له خیبر ه تر اټکه الغیاث

---

(١) دا بیت د "خ" په قلمي نسخه کې داسې راغلي دی: "چې خدای زړه د مطلوب نرم کړي رحمانه　کانۍ بوټې پروت طالب په عمارت".
او د دې بیت دوهمه مصرې د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلي ده : "کانۍ پروت وي د طالب په عمارت".

(٢) په چاپي دیوانونو کې "پیاله" راغلی ده ،

(٣) د "خ" دوهمې نسخې : "زه پرې هیڅ نه پوهیدلم".

(٤) دا بیت په مصورې نسخه کې نشته.

(٥) مصورې نسخې : "په حکمت په عقل کله خوک په عشق پوهیږی".

(٦) د "خ" لومړۍ نسخې : "ما رحمان مثال په اسانۍ موندلی نه دی." د "پ پ" چاپ کې د "اسانۍ" پرځای "اشنایي" راغلی ده.

(٧) د "خ" لومړۍ نسخې : "په حملو حملو یې زړه وړې نه پوهیږم".

خوچې راکاږي چوګان په مخ دزلفو — ګوی زما داخراب زړه که الغیاث
هیڅ سبب ئې لیدې نه شي جفا کاندي — نه پوهیږم چې ولې څه که الغیاث
په اخلاص وپه راستي وړته ولاړیم — یار جفا هومره په څه که الغیاث (۱)
سل خبرې کړله صدقه وړته وکړم — یار یوه راسره نه که الغیاث
چې مې وینې له رقیبه سره خاندي — په ژړا مې لیمه سره که الغیاث

۵۷ زه وړانځ مدام دیار په رضا دروم — ۷۱۵
یار په خپله رضا تله که (۲) الغیاث

چې ویلی مې له تا دی داحدیث — سرنامه دهر انشاء (۳) دی داحدیث
چې آغاز مې کړ په مدحه دخوبانو (٤) — څکه گنج بې بهادی داحدیث
په ثنا دې دل پسند و دلربا وئ (۵) — دل پسند او دلربا دی داحدیث
لکه باد د صبحدم چې غونچه واکا — هسې رنګه دلکشا دی داحدیث
چې اوصاف مې دسروشوند و یکې راوړه — خوږ تر قند و تر حلوا دی داحدیث
نه پوهیږم چې او به دي دحیا تو — که نفس د مسیحا دی داحدیث
د غونډې ژبو شاعرانو خولې نه دی — څکه هسې رنګ صفا دی داحدیث
ستا د مخ ته که خوک شمس و قمر وایي — دروغ نه دی په ریښتیا دی داحدیث

۵۸ که خوک وایي چې چاکړی داحدیث دی — ۷۲٤
وړانځ وایي چې زما دی داحدیث



پې بزم کا عاشقي دچا مزاج ـ — حکیمان پې درمانده شي په علاج
په آشنا پسې تل ژاړي په دوه سترګو (۶) — داوبو په ځای خونابې کاندي اخراج

(۱) دا بیت او ورپسې دوه نور بیتونه په قلمي نسخو کې نشته . " ق، ک" چاپ ، " یار وفا راسره نه کا الغیاث "
(۲) د " خ " لومړۍ نسخې د " تله که " پر ځای " نه که " راغلی دی.
(۳) د " خ " دواړو قلمي نسخو اود " پ " په دوهمه نسخې کې : " سرنامه دهر اشنا دی داحدیث ".
(٤) د " خ " دوهمه قلمي نسخه : " چې آغازه پې کړه مدح دخوبانو ".
(۵) د " پ " دوهمه او د " خ " لومړنۍ قلمي نسخې : " په ثنا دې دل پسند و دلبرانو ".
(۶) دا مصرع د " خ " په لومړۍ قلمي نسخې کې داسې راغلې ده : " په اشنا پسې تل له دواړو سترګو ".

دواړه لاس يې وي له دوارو کونو وللي
دوب وي تل دعاشقې په لوی امواج (١)

په هغو کې چې څه بوی دعاشقې وي
پاکې نه وي بوی د رسم او د رواج

ابراهيم ادهم څه هسې نادان نه ؤ
چې نظر يې يا په تخت ؤ يا په تاج (٢)

مجنون هسې رنګ مين په ليلى نه ؤ
چې په نورو يې موقوف وي احتياج (٣)

لېونتوب له لېونيو تلونى نه دى
که يې راج په خونه وژي که تاراج

که يې سر لکه منصور غوندې په دار شي
دغه دا ردى و ران وته معراج

٥٩

٧٣٢





له طلب ډهر ويانو سر گردانى زما روح
لکه باد د گل په بوی پسې پريشان دى زما روح

ستا د حسن و آفتاب ته خان سپارلى
چې مې ولېده د ستا د جمال عکس په خپل خان کې (٤)

لکه صبح د ژړا په ځاى د خندان دى زما روح
هم په داد آيينې په خپر روښان دى زما روح (٥)

چې مې ولېده د ستا د جمال عکس په خپل خان کې
ستا د مخ د آيينې له برکته زما جانه

هميشه لکه توتي هسې گويان دى زما روح
هميشه لکه توتي هسې گويان دى زما روح

---

(١) دامړى په "پ" چاپ او د "خ" په لومړى قلمى نسخه کې د هى راغلى ده : " ډوب دي تل د عاشقې په امواج ".

(٢) دابيت د "پ" په دوهمه او د "خ" په لومړى قلمى نسخه کې د هى راغلى دى : " ابراهيم ادهم هسې نادان نه دى چې نظر يې يا په تخت وى يا په تاج ".

(٣) دابيت د "پ" په دوهمه قلمى نسخه کې د هى راغلى دى : " مجنون هسې رنګ مين په ليلى نه دى چې په نورو يې موقوف دى احتياج ".
د "خ" په لومړى قلمى نسخه کې دا بيت د هى راغلى دى " مجنون هسې رنګ مين په ليلى نه دى چې له نورو يې موقوف وى احتياج ".

(٤) چاپى ديوانونه : "ستا د حسن د آفتاب ته چې سپارلى خان شبنم دى". د "خ" لومړى نسخه : "ستا د حسن آفتاب ته خان سپارلى د شبنم کې ".
مصوره نسخه : " ستا د حسن د آفتاب ته خان سپارم په شبنم کې ".

(٥) چاپى ديوانونه : " چې مې ستا د جمال عکس دى ليدلى په خپل خان کې هم په داد آيينې په خپر حيران دى زما روح ".
د "خ" لومړى نسخه کې لومړى مصرع د هى ده : " چې يې وليد د ستا د جمال عکس په خپله ".

لکه رنګ دمیونابوچې لپډه شي په شیشه کې
هسې رنګ په ضعیف تن کې نمایان دی زما روح

منتظر دې دوصال دګلستان یم تل ترتله
سرتر پایه د شبنم په شان چشمان (۱) دی زما روح

چې حاصله مې له حسنه روښنایي شوه په طلب کې
شپه او ورځ لکه آفتاب په لار روان دی زما روح (۲)

ستا په زلفو په رخسار پسې زما یم (۳) بې وطنه
مسافر د هند وستان د خراسان دی زما روح

۶۰

ستا وصال دی رابښلی زما روح
ستا په مخ پسې یې مخ وینو راهې شوه (۵)،
چې هرګز ملك الموت پرې نه پوهیږي
ځان یې هسې ستا په مینه پسې ورګډ کړ
که وې هم به تا شخه وي کډې خدای کا
بلبل نه دی دا چې الوځي په ګلو
چې یې خاورې کړ صورت دستا په درکې
ته یې پرې نې چې څه دی یا څه نه دی

۷۴۰

ستا هجران دی رانپولی (۴)، زما روح
له صورته دی وتلی زما روح
هسې شان دی تا وکښلی زما روح
چې هیڅ نه دی لیدلی (۶)، زما روح
نه دی بلې خواته تللی زما روح
ستا په لور دی الوتلی زما روح
سر تر عرشه دی وکښلی زما روح
نور چا نه دی پرې ندلی زما روح (۷)،

۶۱

زه زما ان له خپله ځانه خبر نه یم (۸)،
چې په څه رنګ دی وکښلی زما روح

۷۴۹

---

(۱) "ق،ک" چاپ کې "ګریان" راغلی دی.
(۲) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۳) په چاپي دیوانونو کې د "یم" پر ځای "شو" راغلی دی.
(۴) په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړۍ او مصوره نسخه کې "پیرو دلی" راغلی دی.
(۵) چاپي دیوانونه: "ستا په مخ پسې مې درست وجود رهی شو". د "خ" لومړۍ نسخه: "ستا په مخ پسې مې وینې رهي شوې".
د "خ" دوهمه نسخه: "ستا په مخ پسې مجنون غوندې رهي شو" او مصوره نسخه: "ستا په مخ پسې مخ وینو چې رهی شو".
(۶) په چاپي دیوانونو کې "موندلی" راغلی دی.
(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۸) چاپي دیوانونه: "زه زما ان له خپله یاره خبر نه یم چې په څه شان دی کوتلی زما روح".
د "خ" دوهمه نسخه: "چې په څه رنګ دی و تلی زما روح".



ما سحر سبا لیدلی وُ دچا مخ
چې مې درسته ورځ ونه لیده داستا مخ

دا خو مخ زما وتا وته خدای هیڅ کړ
گنه هر یو آشنا گوري د آشنا مخ

په پر مخونه د جفا دې را څرگند کړل
لا به کله را څرگند کړې د وفا مخ

خو د مرگ په تمه چه اوښتی نه دی
اوښتونی له تانه دی دا زما مخ (۱)

زه په تا پسې راغلی په دا مخ یم
که ته نه وی ما به څه کول په دا مخ

ما به څه لره په تا پسې ژړا کړه
که موندلی شوی بل دستا په څیر زیبا مخ

د رقیب طمع مې نه وه ستا په در کې
رادې وښود په جنت کې د بلا مخ (۲)

زه به څرنگ د رقیب و مخ نه گورم
کله اهل سنت گوري د ترسا مخ

د چکنا چکنی بیلتون په نیمه شپه وی
ستا زما په حال خمار شود سبا مخ (۳)

رحمان ستا په مخ داورانه دنیا گوري
خدای بې تا را څرگند مه کړه د دنیا مخ (٤)





کله شولا کله خرید اریم ستا د مخ
تر تر سره و ماله په بازار یم ستا د مخ (۵)

بې دستاله مخه نور مې هیڅ په مخ کې نشته
هسې رنگ نتلی په ناتار (۶) یم ستا د مخ

هیڅ په ستر گونه ویم د اخپل صورت چې کومدی
د وب تر هسې حده په انوار یم ستا د مخ (۷)

درد و آه و کاږم بهانه د تماکو کړم (۸)
سوی لوغړن مدام په نار یم ستا د مخ

نور و گرې وار ه همگې د دنیا کار کا
زه همیشه غرق په انتظار یم ستا د مخ

---

(۱) چاپی دیوانونه او د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : " اوښتونی له تا مه گنه زما مخ ".
(۲) "ق ،ک" چاپ : " په جنت کی خدای را وښود د بلا مخ ". نور چاپی دیوانونه او د "خ" دوهمه نسخه کی : " په جنت کې دې را وښود د بلا مخ ".
(۳) دا بیت په قلمی نسخو کی نشته.
(٤) چاپی دیوانونه : "خدای بې تا ورځ څرگند مه کړه د دنیا مخ ".
(۵) دا غزل د "خ " په لومړی نسخه کی نشته.
(۶) په مصوره نسخه کی د " ناتار " پر ځای " انتظار " راغلی دی.
(۷) د "خ " دوهمه نسخه : "سوی لوغړن یم زه په نار د ستا د مخ "
(۸) قلمي نسخې : " د ودو آه و کاږ م بهانه د تماکو " . او دا بیت د "خ " په دوهمه نسخه کی نشته.

٦٣

شکر چې پې خلاص کړم د نور خلقو له منته
سر په سجده اپښی منت باریم ستا د مخ

٧٦٦

هره خواچې در ومم زه ولاړ (ن) د زړه په سیل (١)
بل مطلب مې نشته طلبګاریم ستا د مخ

چې پیدا شوه ستا چشمان د اهسې شوخ
نور به نه وي مردمان د اهسې شوخ

کجې زلفې کج ابرو لکه چې ستا دی (٢)
نه لرم شته نه ماران د اهسې شوخ

د پرغمونه شوخ شوخ شته په دا دنیا کې (٣)
ولې نه لکه هجران د اهسې شوخ

مګر دیوو ي چې بې غم وي په هجران کې
ګنه نه به وي انسان د اهسې شوخ

دا فتني او فساد ونه به وو چیږ ې
چې پیدا نه وی آسمان د اهسې شوخ

د آشنا له غمه زړه د آشنا نه چوي
آفریده کړه خدای جهان د اهسې شوخ (٤)

چې یوسف یې د دنیا په مطاع ورکړ (٥)
پیدا مه شه بل کاروان د اهسې شوخ

٦٤

چې بوسه له یاره غواړې بې ادبه
خدای دی نه کاندې ولاړ (ن) د اهسې شوخ

٧٧٤

---



---

بادشاهانو که قصرونه کړل بنیاد
ما د عشق عمارتونه کړل آباد (٦)

نوم د کوم یوه بادشاه سې یاد یږي
لکه نوم چې د مجنون او د فرهاد (٧)

---

(١) "ق ک" چاپ کې د (سیل) پر ځای "مینه" راغلی ده.
(٢) دامړی په "پ" چاپ کې داسې راغلی ده: "کجې زلفان کج ابروان لکه چې ستا دی".
د "پ" لومړی نسخه: "لکه کجې زلف کج ابرو دستا رکه ... ج دی". او د "پ" په دوهمه قلمي نسخه او د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې دامړی داسې راغلی ده:
"لکه کجې زلف کج ابرو دی ستا دی".
(٣) دامړی په "پ" چاپ کې داسې راغلی ده: "د پرغمونه شوخ شوخ شته په جهان کې". په "پ پ" چاپ او د "خ" په لومړی نسخو کې داسې راغلی ده:
"د پرغمونه شوخ شوخ شته دی په جهان کې". د "پ" په دوهمه نسخه کې: "د پرغمونه شوخ شوخ شته په دا جهان کې".
او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی ده: "د پرغمونه شوخا شوخ شته په دنیا کې".
(٤) دا بیت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نه دی راغلی او د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "د اشناله هجره زړه د اشنا چوي افریده کا خدای جهان د اهسې شوخ".
(٥) دامړی د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی ده: "چې یوسف غوندې د دنیا په مطاع پلوزی". د "پ" دوهمه نسخه کې: "چې یوسف د دنیا په متاع پلوری". راغلی دی.
(٦) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "پ" په دوهمه قلمي نسخه او د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "بادشاهانو که قصرونه کړل آباد ما د عشق عمارتونه کړل بنیاد".
او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې دا بیت داسې راغلی دی: "بادشاهانو خو قصرونه کړه آباد ما د عشق عمارتونه کړه آباد".
(٧) دامړی په "پ" چاپ او د "خ" په قلمي لومړی نسخه کې داسې راغلی ده: "لکه نوم دی د مجنون او د فرهاد".

عشق عاشق لره یوهسې پیر استاد دی — چې به نه وي بل داهسې پیر استاد (۱)
دغه واړه کرامات دعاشقی دي — چې څوك قطب کا څوك غوث کا څوك اوتاد (۲)
د دنیا چارې همه واړه فاني دي — څوك په څه کا په داچار و اعتماد (۳)
لکه سیوري چې دلمر په مخ کې ګرځي — نه استوګنه چیرته کاندي نه استاد
هیڅ وفایې له هیڅا سره و نه کړه — که جمشید وُ که بهمن وُ که قُباد
که جمشید وُ که بهمن وُ که قُباد وُ — که نمرود وُ که فرعون وُ که شداد (٤)
رسولي یې ترمرادې هیڅوك نه دي — همه واړه هسې پاتې شونامراد
نه چاختم نه دعا ورپسې وکړه — که یې آل که یې عیال وُ که اولاد (٥)

٩٥ — زه ران دزمانې له جوړه درومم — ٧٨٥
خپل صاحب لره په داد او په فریاد

که قاصدیې د مقصود — اواړه کړه زیان او (٦) سود
هرچې درشي ستا په مخ کې (٧) — واړه وګنه بهبود
هرچې وي سپوا له خدایه — واړه وګنه نابود (٨)
رضا پاسله وقضا ته (٩) — مدام خوښ اوسه خوشنود
وهستی وته جلوه کا (١٠) — لکه ابرهسې د و د
ته وځان وته نظر کړه — چې قبول یې که مردود
نندار چې د خپل صورت شه — چې مسلم یې که جهود

---

(١) دا بیت د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې نه دی راغلی.
(٢) دا بیت د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې نه دی راغلی او په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې بې لومړی مصرې دا سې راغلی ده: "دغه واړه کرامت دعاشقی دی".
(٣) دا مصرې په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوارو قلمي نسخو کې دا سې راغلی ده: "څوك په څه کا په داچار و اعتماد".
(٤) دا بیت د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې نه دی راغلی او لومړی مصرې یې په چاپي دیوانونو کې دا سې راغلی ده: "که جمشید وُ که بهمن که کې قُباد وُ".
(٥) دا بیت د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې نه دی راغلی.
(٦) یوازې په "پ پ" چاپ کې "او" راغلی دی په نورو ټولو قلمي نسخو او "پ" چاپ کې "و" راغلی دی.
(٧) دا مصرې په چاپي دیوانونو کې دا سې راغلی ده: "پ" چاپ :- "هرچې درشي ستا په وراندې". د "پ" لومړی نسخه: "هرچې درشي په مخکښې" او د "خ" په دوهمه نسخه کې: "هرچې درته شي په مخ کې".
(٨) دا بیت په "پ پ" چاپ کې دا سې راغلی دی: "هرچې دی بغیر له خدایه همه وشمیره نابود".
لومړی مصرې یې د "خ" په لومړی نسخه کې دا سې راغلی ده: "هرچې درشي له خدایه" په "پ" چاپ او د "پ" په دوهمه نسخه کې دې مصرې د "هرچې دی" پرځای "هرچه دی" راغلی دی.
(٩) دا مصرې په "پ پ" چاپ کې دا سې راغلې ده: "رضا وسپاره قضاته". او د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې دا سې راغلی ده: "رضا پاسوله قضات".
(١٠) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "جلوه کا" پرځای "نظر کړه" راغلی دی. او دا مصرې د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې دا سې راغلی ده:
"وهستی وه جلوه کړه".

اُمتی دابراهیم شه — تابع مه شه د نمرود
د غفلت له خوبه پا خه — خوبه اوسي خواب آلود
مُقید(۱) اومشغول اوسه — په دعا او په درود
آسمان طوره په رکوع شه — زمین طوره په سجود
هر(۲) اشیا دحق ثنا کا — په نغمه لکه داود
که بیدارشي خودبه اوري — په هر لوري داسرود(۳)
که آیازشي بندگي کي(٤) — نوربه نازکري په محمود
هر(۵) اسباب د بنودبدو — مُهیا دی هم موجود
که دانایی وبله بیل کړه — فرموده ونا فرمود(٦)
چې سپند نه شي په اور کې(۷) — نه وي خوند دبوی دعود(۸)
څان له غشه(۹) پاک پزه کړه — لکه بحر نا معدود
هلاك څکه شو رحمانه — چې پې پاك نه شو وجود(۱۰)

ځان بې د یار له ذکره
نه زده بل گفت وشنود




زه که لافه دوفا کوم هر چند(۱۱)
زه بې یاره هسې زیست کړم پیجهان کې
هغه یار مې باور نه کا په سوګند
لکه زیست وي(۱۲) په مجمر کې دسپند

---

(۱) یوازی د "پ" په لومړی نسخه کی "متعبد" راغلی دی په نورو قولو کی "مقید" راغلی دی.
(۲) په "پ" چاپ کی د "هر" پر ځای "تول" راغلی دی.
(۳) دابیت د "خ" په لومړی قلمی نسخه کی نه دی راغلی اولومړی مصری یې په چاپی دیوانونو کی داسی راغلی ده: "که بیدارشی خودبه واوری".
اوبه "خ" په دوهمه قلمی نسخه کی دامصری داسی راغلی ده: "که بیدارشی دابه اوری".
(٤) دامصری په "پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "که ایازخوندې بنده شی". په "پ" لومړی نسخه کی داسی راغلی ده: "که ایازشې بندگي کې".
اوبه "خ" په لومړی قلمی نسخه کی داقول بیت داسی راغلی دی: "له ایازشه په بندگي پې نوربه نازکړي په محمود".
(۵) په "پ" چاپ کی د "هر" پر ځای "تول" راغلی دی. اودابیت د "خ" په لومړی نسخه کی نه دی راغلی.
(٦) دابیت د "خ" په لومړی اوبه "پ" په دوهمه نسخه کی نه دی راغلی اولومړی مصری یې په "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "هردانایې وبله بیل کړه".
(۷) په "پ" چاپ کی د "چې" پر ځای "څو" راغلی دی.
(۸) دامصری د "خ" په دواړو قلمی نسخو کی داسی راغلی ده: "نوی خوند بوی دعود". د "پ" په دوهمه نسخه کی: "نوی خوند وبوی دعود".
اوبه "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "نه وی خوند اوبوی دعود".
(۹) په "پ پ" چاپ، "پ" چاپ، د "پ" په دوهمه نسخه اود "خ" په لومړی نسخه کی د "غشه" پر ځای "خښه" اود "خ" په دوهمه نسخه کی "غلوغشه" راغلی دی.
(۱۰) دابیت د "خ" په دواړو قلمی نسخو کی نه دی راغلی په "پ" چاپ کی داسی راغلی دی: "هلاك څکه شی رحمانه چې پاك نه شی داوجود".
په "پ پ" چاپ کی دابیت داسی دی: "هلاك څکه شه رحمانه چې پاك نه شه داوجود".
د "پ" په دوهمه نسخه کی دابیت داسی راغلی دی: "هلاك څکه شه رحمانه چې پاك نه شه داوجود".
(۱۱) دمصری په چاپی دیوانونو کی داسی راغلی ده: "زه که لافی دوفا کړم هرچند". د "خ" په لومړی نسخه کی د "کړم" پر ځای "کوم" اود "خ" په دوهمه نسخه کی "وم" راغلی دی.
(۱۲) د "خ" په لومړی نسخه کی د "وی" پر ځای "دی" راغلی دی.

آبرویي دطالبانو خپل مطلب[1] وي — آبرویي دغلامانو خپل خاوند
لکه یار مي سربلند دی په جهان کي — په تاثیر یي هسي زه شوم[2] سربلند
چي مي مدحه دخویانو کړه آغاز ه — هر کلام مي دل پذیر شو[3] دل پسند
لکه خوندلري زما خوږي خبري — په شکرو کي هم نشته هسي خوند
هغه قند چي خدائے زما په خوله کي کیښود — حلوایانو څخه نشته هسي قند
لکه زه چي سخندان وهنرمند یم — بل به نه وي سخندان وهنرمند[4]
په اشعارو کي قوت ناك لکه مزري یم — ولی نه یم دمزري په څیر گزند
هم په مدح بنده پوهیږم هم په هجوه — ولي نه یم په داچاروډیر خورسند[5]
بي له عشقه که مي عیب که مي هنر دی — ما غوښ کړی دی له څانه بل پیوند
زه عاشق یم سروکار مي دی له دردۀ[6] — نه خلیل نه داود زی یم نه محمند
چي وما ته نصیحت کا څوك په عشق کي — گویا پلار ته نصیحت کاندي فرزند
هر سړی چي آیینه په لاس کي خاندي — گویا کاندي په خپل ځان پوري ریشخند

رنگ ریزان دي اول خپلي ژبي رنگ کا — بیا هاله دي وروڼه ته وایي پند[7]



---





بي مي یار ولید په سیمه داغیار گډ — له غیرته مي لیمه شوه په خونبار گډ[8]
دغه حق دبلبلانو په جانب دی — خدای دي نه کا منګیرك په لاله زار گډ[9]

---

(١) د "خ" په لومړی نسخه کی د "مطلب دی" پرځای "مطلب دی" راغلی او د "خ" په دوهمه نسخه کی "محبوب دی" او د "پ" په دوهمه نسخه کی "مطلوب دی" راغلی دی.
(٢) په چاپی دیوانونو، د "خ" په لومړی نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کی د "شوم" پرځای "یم" راغلی دی.
(٣) په "پ" چاپ کی د "شو" پرځای "دی" راغلی دی.
(٤) دا بیت د "خ" په لومړی قلمی نسخه کی داسی راغلی دی: "لکه زه چی سخندان هنرمندیم  بل به نه وی سخندان هنرمند".
(٥) دا بیت د "خ" په لومړی قلمی نسخه کی نه دی راغلی او په چاپی دیوانونو او د "پ" په دوهمه نسخه کی یی لومړی مصری داسی راغلی ده: "هم په مدح هم په هجو بنده پوهیږم".
خو د "خ" په دوهمه قلمی نسخه کی دا مصری داسی راغلی ده: "هم په مدح بنده پوهیږم هم په پوچو".
(٦) دا مصری په چاپی دیوانونو کی داسی راغلی ده: "زه عاشق یم سروکار می دی له عشقه". د "خ" په دوارو او د "پ" په قلمی نسخو کی د "سروکار" پرځای "سرویکار" راغلی دی.
(٧) دا مصری په "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "نور بیا هاله دی رحمان ته وایی پند"
(٨) مصوره نسخه: "خدای دی نه کا منګیرك په لاله زارگډ".
(٩) دا بیت په مصوره نسخه کی نشته.

زه په وصل کې هجران هسې پېژنمه (۱)
لکه څوک چې خالي لاس وي په بازار کې

زړه مې بې خپله نګاره آرام نه کا
که هر څوې کړم په نقش و په نګار کې (۲)

په امید د زلفو ونښتم په دام کې
روهیلي وم ساده دل په هند و بار کې

د دې د ن په ګدایۍ کې مې ننګ نه شي
د رویزه کړم د بتانو په دیار کې (۳)

دوفاد ګلو پانې پکې نشته
کاشکی مه وی د دې هر په ګلزار کې

ګډ پخوا تر آشنایۍ بېلتون لیدی شوی
هیڅ بنده به د خدای نه وُ په داکار کې

زه وا ن ن یې د فردوس له غمه خلاص کړم
۸۲۹ ۶۸
چې په کلي په کوڅه شوم د خپل یار کې



په بزرګۍ (۱) د هغه پاک پروردګار
موقوف مه شه په سړي د سړي کار

په سړي چې د سړي غرض موقوف شي
نور بې آبه بې حرمته شي رو زکار

احتیاج هسې بلادی په جهان کې
چې پلار زوی کا د زوی او زوی د پلار

که د پیر په خپل مرید باندې غرض وی
هیڅ پې نه وي په مرید باندې وقار (۵)

زمانه هسې په مخه ده بې رویه
چې غالب کا په اسلام باندې کفار (۶)

په ساعت کې شاه ګدای کا ګدای شاه کا
دا فلک څکه بالشي کج رفتار (۷)

چې همه عمر پې تاج وي په سر ابسی
ور په سر کا ندي ګبه ی د خس و خار (۸)

---

(۱) د "خ" په دوهمه نسخه کې "خراب کړم" راغلی دی.
(۲) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۳) چاپی دیوانونه، د "خ" لوړی نسخه او مصوره نسخه: "د رو بزګړم د بتانو په بازار کې".
(۴) د "خ" په لوړی نسخه کې "په پاکی" راغلی دی.
(۵) دا بیت په چاپی دیوانونو کې نشته.
(۶) دا بیت په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې نشته.
(۷) د "خ" دوهمه نسخه: "دا فلک څکه پیدا شو کج رفتار".
(۸) دا بیت د "خ" په لوړی نسخه کې نشته.

چې قادر نه په درهم و په دينار وي  په هغو باندې ګنجونه کا انبار

زمانې د رحمان زړه دی کباب کړی  ۶۹
له احواله يې څوک نه دي خبردار  ۸۴۸

هومره اوښکې مې بهيږي په رخسار (۱)  چې غرقاب مې هم ګريوان دی هم کنار
هغه يار مې هسې نا ست دز ړه په سر دی  لکه ابنبی چې (۲) چا ګل وي په دستار
که څوک وايي چې مار کله په کټ خيژي  زه خو ړلی يم په کټ د زلفو مار (۳)
خو دی ياربيمار پ ستر ګې خدای خوني کړې  ګڼه خون کله کولی شي بيمار (۴)
که په دا رشم زه دی ار له لاسه خوښ يم  سرو قد دی زما يار او زما دار (۵)
بسکه (۶) دا چې زه په يار پسې غوڅ غوڅ يم  خدای دې نه کا لکه زه يم هسې يار
هومره جور لکه يار له ما سره کا (۷)  يادې نه دی هومره جور دا غيار
دلبران کوډې جادو کړي ز ړونه اخلي  هغه وايه چې بې کوډه وي دلبدار (۸)
چې د ز ړونو له نا څلو بې پروا دي (۹)  تر وکه ز ړه دسړي يوسي څه په کار

پ ګريبان يې تل دا وښکو باران اوري (۱۰)  ۷۰
نه ورکيږي د رحمان د ز ړه غبار  ۸۴۸

چې دې ز ړه پورې تر لی استوار  دا جهان دې دنيکه دی که د پلار (۱۱)
ته خپل پلار اونيکه وګوره چې څه شول  هسې ستا دی په هغو پسې رفتار (۱۲)

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه اود "خ" لومړی نسخه : "هسې سړې اوښکې مې بهيږي په رخسار".
(۲) په "پ" "چاپ" ، د "پ" په دوهمه نسخه اود "خ" په لومړی نسخه کی د "چې" پرځای "د" راغلی دی.
(۳) دامسری د "خ" په لومړی اود "پ" په دوهمه نسخه کی دا ډول راغلی ده : "زه خو وخورم په کټ د زلفو مار".
(۴) دامسری د "خ" په لومړی نسخه کی دا ډول راغلی ده : "ګڼه خون کله کول شی په بيمار".
(۵) دامسری په "پ" "چاپ کی دا ډول راغلی ده : "سرو قد دی زما يار زما دلدار". د "خ" په لومړی نسخه کی : "سرو قد دی زما يار هم زما يار". په دوهمه نسخه کی "سرو قد دی زما يار دی دغه دار". اود "پ" په دوهمه نسخه کی دا ډول راغلی ده : "سرو قد دی زما يار هم زما دار".
(۶) په "پ" "چاپ کی د "بسکه" پرځای "بس کړه" راغلی دی.
(۷) دامسری په "پ" "چاپ کی دا ډول راغلی ده : "هومره جور لکه يار چې ما سره کا". په "پ پ" "چاپ کی "هومره جور لکه چې يار ما سره وکړ" د "خ" په لومړی نسخه کی "هومره جور لکه يار ما سره کا ندی". په دوهمه نسخه کی "هومره جور لکه يار چې له ما سره کړ". اود "پ" په دوهمه نسخه کی دا ډول راغلی ده : "هومره جور لکه يار سره وکړ".
(۸) د "پ" په لومړی اود "خ" په دوهمه نسخه کی : "دلبری اود لجويی خوکو د ګرکړی ده د کوډ ګرو هغه وايه چې دلبرشی هم دلدار".
د "پ" په دوهمه نسخه کی : "دلبری خوکو د ګرهم په کوډو وکا هغه وايي چې دلبرشی هم دلدار".
د "خ" په لومړی نسخه کی : "دلبری خوکو د ګرهم په کوډو وکا هغه وايي چې دلبرشی هم دلدار".
(۹) د "پ" لومړی نسخه : "چې د ز ړونو له نا څلو بې پروا يې".
(۱۰) دا بيت د "خ" په لومړی قلمی نسخه کی دا ډول راغلی دی : "په ګريوان مې تل دا وښکو باران وو ري نه ورکيږی د رحمان د ز ړه غبار".
(۱۱) د دی غزل د "خ" په مصور نسخه کی لومړی پنځه بيتونه د دی راغلی اوهم نومړی غزل د "خ" په لومړی قلمی نسخه کی نشته.
(۱۲) دامسری په چاپی ديوانونو کی دا ډول راغلی ده : "هسې ستا دی هم په دوی پسې رفتار".

تل پرمیږ دوستي پل دی پرې تېریږي — کړی نه دی چاپه پل باندې قرار
هسې نه چې زه تنها (۱) وتا ته وایم — راغله لاړه ستا په طور صد هزار
دعوه مه کړه په ناحق بدې خپل نه کړې — پردی شهر، پردی ملك، پردی دیار (۲)
چې استوګه په پردی وطن کې کاندې — هغه نه لري دهېڅ واك واختیار (۳)
که هزار قسمه وخوړې په یو کار کې — نه کا خوك په مسافر واعتبار (٤)
چې په صبح شګفته شي په شام رژي — خه امید دی د ګلونو په ګل زار (٥)
که دې ورورکه دې عزیز دی که دې یار (٦) — مدې ورورمدې عزیز ګنه مه یار

## ۷۱

چې پیدا شي هګۍ واړه فنا شي
اې مرحمانه داجهان دی دایې کا

## ۸۵۸

خوجفا قبوله نه کړې داغیار — وبه نه وینې په ستړګو مخ دیار
چې اول یې خار زرغون شي په پهلو کې (۷) — غونچه هاله شګفته شي په ګلزار
جنت چاپه ریاضت موندلی نه دی — ولی بویه هر بنده لره خپل کار (۸)
که موندې شوی خوشحالي په خوشبویې — پروت به نه وو په چندن باندې سنامار (۹)
آب ترلعلو د لاله ګلونو (۱۰) پرې دی — بخت دی دا چې خوك عزیز کاندې خوك خوا

## ۷۲

هسې زیب کا په بیاض د زمان شعر
لکه زلفې د خوبانو په رخسار

## ۸۶٤

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې د "متنها" پر ځای "یوازی" راغلی دی.

(۲) د "پ" لومړی نسخه اود "خ" نسخې: "دعوه مدکړه په ناحق په خپل نه کړې پردی ملک، پردی شهر، پردی دیار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې دا ډول راغلی دی: "دعوی مدکړه په تحقیق بدې خپل نه کړې پردی شهر، پردی ملک، پردی دیار".

(۳) د "پ" په لومړی نسخه اود "خ" په لومړی نسخه: "هغه نه لری هېڅ واك واختیار". اود "خ" په دوهمه قلمی نسخه کې دا ډول راغلی دی: "هغه نه کړی هېڅ واك وخپل اختیار". د "پ" په ګډه نسخه کې دې بیت دلومړی مصرې د "استوګنه" پر ځای "استوزه" راغلی دی.

(٤) د "پ" لومړی نسخه اود "خ" نسخې: "که هزار قسمه وخوړې په مامله کې نه کا خوك په مسافر واعتبار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې دا ډول راغلی دی: "که هزار قسمه وخورمه په مالکې نه کا خوك په مسافر واعتبار". اودا بیت په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.

(٥) دا بیت په "پ" چاپ کې دا ډول راغلی دی: "چې سبا شګفته کېږی ما سنام رژي خه امید دی په ګلونو د ګلزار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې لې لومړی مصرې دا ډول راغلی ده: "چې په صبح شګفته کېږی په شام رژي".

(٦) دا مصرې په "پ" چاپ کې دا ډول راغلی ده: "که دې ورورکه دې عزیز وې که دې یار وی".
په "پ پ" چاپ کې دا ډول راغلی ده: "که دې ورورکه دې عزیز اوکه دې یار وی".

(۷) دا مصرې د "خ" په لومړی نسخه کې دا ډول راغلی ده: "چې اول خار زرغون په بهار کې".

(۸) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې دا ډول راغلی دی: "جنت چاپه زاهدی موندلی نه دی ګنه بویه هربنده لره اختیار"

(۹) دا بیت د "پ" په لومړی نسخه کې دا ډول راغلی دی: "که موندې شوی خوشبویې په خوشبویه پروت به نه وُ په چندن دپاسه مار".
په "پ پ" چاپ کې دا ډول راغلی دی: "که موندی شوی خوشبویی په خوشحالی کې پروت به نه وُ په چندن باندې سنامار".
د "خ" په لومړی نسخه کې دا ډول راغلی دی: "که موندی شوی خوشحویی له خوشبویی پروت به نه وُ دچندن دپاسه مار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې دا ډول راغلی دی: "که موندی شوی خوشحویی له خوشبویی پروت به نه وُ په چندن دپاسه مار".
په مصوره نسخه کې دا ډول راغلی دی: "که موندې شوی خوشبویی بی خوشبویی پروت به نه وُ په چندن باندې سنامار".

(۱۰) د پښتو په چاپي دیوانونو، د "خ" په لومړی، دوهمه نسخه اود "پ" په نسخو کې د "ګلونو" پر ځای "ګلونه" راغلی دی.

خوك دې راكاندې قسم په كردگار — كه درم لرم په كوركې يا دينار (۱)
نه دينار اودرم نه لرم په كوركې — ولې نورعالم مې بولي دنيادار
هم په داچې نه لرځايه چې رته خوځم (۲) — نه دهيڅ يوه مخلوق يم منت بار
نه مې سنكته ملك لپدلى دى نه پورته — خبر نه يم په يمين او په يسار
آب وخورلكه آسيا په ځاى راوسي — په خپل كوركې مې سكون دى هم رفتار (۳)
لكه ونه مستقيم په خپل مكان (٤) يم — كه خزان راباندې راشي كه بهار
توكل مې لاس پښې سره كړل په نكر بزو — چې په ځاى يې كښولى يم قرار (۵)
چې زما په باب دې سنكلى دي راوسي — كه راحت دى كه زحمت دى وارپه وار (۶)
چې هر ده هزار قومونه يې پيدا كړل — مربي مې دى هغه پروردگار (۷)
كار همه په اراده دخداى موقوف دى — هيڅ موقوف نه دى دچا په اختيار (۸)

۷۳ — غم به هيڅ يې ونه كا په دنيا كې — ۸۷۵
كه خه كپږي د رحمان په اختيار (۹)

دغه يار دى دا اغيار — دغه گل دى دغه خار (۱۰)
دغه گل دى دغه خار دى (۱۱) — دا منصور دى دغه دار (۱۲)

---

(۱) دا بيت د "پ" په دوهمه نسخه كې نه دى راغلى اولومړى مصرې يې په مصوره نسخه اود "خ" په دوهمه نسخه كې داسې راغلى دى: "كه خوك راكاندې قسم په كردگار".
(۲) د "پ" په لومړى نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه كې "د دوهم" راغلى دى.
(۳) دا بيت د "پ" په لومړى نسخه اود "خ" په لومړى نسخه كې داسې دى: "آب وخورلكه آسيا په ځاى راوسي — په خپل كوركې هم سكون دى هم رفتار".
د "خ" په لومړى نسخه كې داسې راغلى دى: "آب خوراك مې هم په ځاى راوسيږي — په خپل كوركې مې سكون دى هم رفتار".
(٤) د "پ پ" په چاپى ديوانونو، د "خ" په نسخو اود "پ" په لومړى نسخه كې "مقام" راغلى دى.
(۵) د "پ" لومړى نسخه: "توكل مې لاس اوپښې كړه په نكر بزو — چې په ځاى كې يې ښولى يم قرار".
(۶) دا بيت په مصوره نسخه كې نه دى راغلى، په "پ" چاپ كې داسې راغلى دى:
"چې ځما په باب كې كښلى دى راوسي — كه رحمت دى كه زحمت دى وارپه وار".
"پ پ" چاپ: "چې زما په باب څه سنكلى دى راوسي — كه رحمت دى كه زحمت دى وارپه وار".
"خ" لومړى نسخه: "چې زما په باب كې دي هغه رسيږي — كه راحت دى كه رحمت دى وارپه وار".
د "پ" دوهمه نسخه: "چې زما په باب يې سنكلي وما رسي — كه راحت وى كه زحمت وي وارپه وار".
(۷) د "پ" لومړى نسخه: "مربى يې دى هغه پروردگار".
د "خ" لومړى نسخه: "مربى مې وه يې هغه پروردگار".
د "خ" دوهمه نسخه: "منزه دى هغه پاك پروردگار". نو مورې بيت په مصوره نسخه كې نه دى راغلى.
(۸) دا بيت په مصوره نسخه كې نه دى راغلى، د "خ" په لومړى نسخه كې داسې راغلى دى: "كار هغه په اراده دخداى موقوف دى — هيڅ موقوف نه دى زما په انتظار".
د "پ" دوهمه نسخه: "كار كاهمه په اراده پورې موقوف دى — هيڅ موقوف نه دى دچا په انتظار". د "پ" په لومړى نسخه كې يې دوهمه مصرې داسې راغلى ده:
"هيڅ موقوف نه دى زما په اختيار". د "خ" په دوهمه نسخه كې دا مصرې داسې راغلى ده: "هيڅ موقوف نه دى زما په اختيار".
(۹) دا بيت په مصوره نسخه كې نه دى راغلى اود "خ" په لومړى نسخه كې دا بيت داسې دى: "غم يې هيڅ يې ونه كا په دنيا كې — كه خه كپږي د رحمان په اختيار".
د "پ" لومړى، دوهمه اود "خ" دوهمه نسخه: "كه خوك كپږي د رحمان په اختيار".
(۱۰) دا غزل په مصوره نسخه اود "خ" په لومړى نسخه كې نه دى راغلى. د دى بيت دوهمه مصرې د "خ" په دوهمه نسخه كې داسې راغلى ده: "دغه گنج دى دغه مار!"
(۱۱) په چاپى ديوانونو اود "پ" په دوهمه نسخه كې د "دى" كلمه نه ده راغلى
(۱۲) دا مصرې د "خ" په دوهمه نسخه كې داسې راغلى ده: "دغه [illegible] مار".

دا رقیب دی د احبیب دی — دغه گنج دی دغه مار[1]
دغه عشق دی دغه عقل — دغه غم دی دا غمخوار
دا هجران دی دا وصال دی — دا خزان دی دا بهار[2]
دا طاعت دا معصیت دی — دغه نور دی دغه نار
دا عالم دی دا جاهل دی[3] — دا خفته دی دا بیدار

٧٤

دا رحمان دی دا جانان دی[4]
دا طبیب دی دا بیمار

٨٨٣

هر چې نه وي خوار وزار — په طلب دخپل دلدار[5]،
تر پرونې يې صدقه شه — دهغه عاشق دستار
هزار حیف دی هزار حیف دی — هزار څه لا صد هزار
چې عاشق په عاشقۍ کې — نه حلال وي نه مردار
نه پتنګ دخپل چراغ وي — نه بلبل دخپل ګلزار
نه مجنون غوندې رسوا وي — نه منصور غوندې په دار

٧٥

دوارنه کې ی رحمانه
یا به یارشې یا به پزار

٨٩٠

داخدمخ دی منور — چې هم شمس دی هم قمر[6]
داخه زلفې دی مشکینې — چې هم مښک دی هم عنبر
داخه پیوسته ابروې[7] — چې هم نیش دی هم نشتر
داخه سترګې دي قاتلې — چې هم سیف دي هم خنجر
داخه شونډې دي مې ګونې — چې هم مې دی هم شکر

---

(١) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: " دا رقیب دی داحبیب دا حبیب دی دا بیمار "
او دری بیت لومړی مصرع یې "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "دا رقیب دی داحبیب".

(٢) دا بیت اوله دری نه درواسته بیتونه د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی او دوهم بیت لومړی مصرع یې "پ" چاپ کې داسې راغلی ده: " دا هجران دی دا وصال ".

(٣) په "پ" چاپ کې د "دی" کلمه نه ده راغلی.

(٤) په "پ" چاپ کې "دی" نه دی راغلی.

(٥) دا غزل په مصوره نسخه د "خ" په لومړی نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(٦) دا غزل د "خ" په لومړی قلمی نسخه او مصوره نسخه کې نه دی راغلی.

(٧) دا مصرع یې "پ" چاپ کې داسې راغلې ده "دا ابروخه پیوسته دی".

داخه سپین سپیخلي غـــــابن دي — چې هم دُر دی هم گـــــوهر
داخه سپب زنخـــــدان دی — چې هم سیم دی هم ثمـــــر
داخه قد اوخه قـــــامت دی — چې هم گل دی هم عـــــرعر
داخه ملاده باریك وضـــــع — چې هم موی دی هم کمـــــر
داخه زړه دی د خوبـــــانو — چې هم موم دی هم حجـــــر
داخه یار دی نه پوهـــــیږم — چې هم دل دی هم دلـــــبر
داخه بت دی زمـــــا ربه[1] — چې هم بت دی هم بشـــــر

۷۶ — داخـــــه شعر درحمـــــان دی[2] — ۹۰۳
چې هـــــم گنج دی هـــــم هنر

تل به نه وي شگفته گلزار دعمر — نه به جور وي همیشه بازار دعمر[3]
لکه سیند داباسیند په غورځي[4] دومي — هسي یون دی په تلوار تلوار دعمر
لکه برق چې مخ څرگند کاندي بیا نه وي — هسي تیز دی بې سکون رفتار دعمر[5]
سرکشي لري ترهسي حده پوري[6] — چې نیوی نه شي هیڅوك[7] هموار دعمر
چې سمندي نه جلب لري نه واگي — خو به پریوځي عاقبت شهسوار دعمر[8]
په ساعت د سلوکالو یاری پري کا — بې وفا دی هسي رنگه یار دعمر[9]
خپل صورت به دحباب په ستر گو گوري[10] — که څوك وکاندي په زړه کي شمار دعمر
نه له کوره چې رتمه نه سفر کرم[11] — بې سفره مي غوڅ نه لار دعمر
عاقبت به داجل په مقراض غوڅ شي — پیوسته به مدام نه وي تار دعمر

۷۷ — بیایي وار په داد نیا نشته رواج نه لري[12] — ۹۱۳
په هرچا باندي چې تیر شو وار دعمر

---

(۱) د "پ" په دوهمه نسخه کې دا مصرع داسې راغلې ده : " داخه یار دی نه پوهیږم".
(۲) دا مصرع په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده : " داخه شعر دی رحمان".
(۳) "ق" چاپ : " تل به نه دی شگفته بهار دعمر نه به جور وي همیشه گلزار دعمر".
د "پ پ" چاپ : تل به نه دی شگفته بازار دعمر نه به جور وي همیشه بهار دعمر".
(۴) د پښتو په چاپي دیوانونو کې "غورځنگ" راغلی دی. (۵) قلمي نسخې : "هسي تیز دی په سکون رفتار دعمر".
(۶) د "خ" لومړی نسخه : "سرکشي نه دی ترهسي حده پوري". (۷) په "ق، ک" چاپ کې "هرگز" راغلی دی.
(۸) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته . (۹) چاپي دیوانونه : " بې وفا په هسي رنگ دی یار دعمر".
(۱۰) د پښتو په چاپي دیوانونو کې "په خپر دگوری" راغلی دی.
(۱۱) د "پ" نسخې او "خ" دوهمه او مصوره نسخه : "نه وځم چیرته له کوره نه سفر کرم". د "خ" لومړی نسخه : "نه سفر کرم نه له کوره چیرته لحمه".
(۱۲) د "پ پ" چاپ او "خ" دوهمه نسخه : " بیایي وار په دنیا نشته دی رحمانه".

زه تپرشوی یم ترسر — په طلب دخپل دلبر
خوژوندی یم په دنیا کې — پرې به نه ږدم دغه در
دآشنا په طلب گرځم — وچې شوند پې لیمه تر(۱)
یو قدم مې دی په بحر — بل قدم مې دی په بر
دواړه لاس مې دې نیولي۔ — هم په شام هم په سحر
مناجات مې دی وخدای ته — که پې وینم بشر
همیشه له خپله بخته — گله من یم مرور
چې په مایې پرې زونه کړ(۲) — د خوبانو یو نظر
هم پې ونه سنود ومانه — بې له عشقه بل هنر
عاشقي مې خدای راسوا کړه — په جهان کې لکه نمر
نصیحت را باندې نه کا — لکه موی هوم اثر
واوره غوږ باسه ناصحه — کوتاه وایم مختصر
په مولا مې دي سوګند وي — هم په روح د پیغمبر
جاروانه مې پرته نشته — چې عالم(۳) شو راخبر
ترمینه به پې زار کړم — که مې سیم دی که مې زر
که مې سیم دی که مې زردی — که مې دُر دی که ګوهر(٤)

۷۸ — زه ارحمان ترهرڅه تپر یم
تپر به نه شم تر دلبر — ۹۳۰

پورته بدر را سنکاره شو سنکته نمر — سنکته پورته واړه مخ دی د دلبر
نمر سپوږمی مې د پالنګ د پاسه رغږي(۵) — چې مې یار په بالښت ولګوي سر
په سرو سپینو در ولعلو پې غوږ پرک شي — چې مې غوږ کاندي د اوښکو په در در(۶)

---

(۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۲) د "پ" لومړی نسخه: "چې په ما پرزو ونه کړ".
(۳) د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کې د "عالم" پر ځای "جهان" راغلی دی.
(٤) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته په چاپی دیوانونو او د "خ" لومړی نسخه کې دوهمه مصرع داسی ده: "که می دُر که می گوهر".
(۵) د "خ" دوهمه نسخه: "نمر سپوږمی پې پرپالنګ د پاسه رغږي".
(۶) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

چې دې وويښم[1] په مخ مې اوښکې درومې
لکه موم چې په آفتاب شي برابر

بل مذکور د سخنګو يوستر ګونه زده
بې له دې ذکره چې الله اکبر

ضد دې اور واوبه بې ديار له شوند و
چې هم اور دې هم اوبه دي دکوثر[2]

په شرابو کې خوند نشته د شکرو
دې ار شوند ې هم شراب دي هم شکر

که سل ځله پټ ترشوند ولاندې خاندې
نه پټېږي آب دلعل ود ګوهر

د اخو مالره خدای راکړه ګنه نشته
هسې بت په بتخانه کې د آذر

پس له دې به يې په نام د ملک[3] بولم
هم په دا چې نشته دارنګه بشر

که رماځ صاحب نظر باله شي بنايي
چې مدام دیار په مخ لري نظر

۷۹

هسې تله کاندې وګورته ياران ژرژر
لکه تله کا وخپل کورته کاروان ژرژر[4]

هسې ژرژر مرګ په موږه شتابي کا
لکه لودپاخه کښت کا دهقان ژرژر[5]

هسې ژرژر دا دنيا وبله اوړي[6]
لکه اوړې وبله رېګ روان ژرژر[7]

هسې ژرژر صورتونه دي نړېږي[8]
لکه رڼې لاله زار په خزان ژرژر.

هسې ژرژر داشېرين عمر تېرېږي
لکه بحر چې بهېږي روان ژرژر

۹۴۱

۸۰

هسې زرزر ځنبول دبنو نه وي[9]
لکه درومي له جهانه رماځ ژرژر

۹۴۷

چې په زور ورسره نه يې برابر
د هغو تر خنګه مه کښېنه زړور[10]

زور ور اوړا واوبه دي فهم وکړه
چې دوب نه شي يا ونه سپې بشر[11]

---

(۱) په "ق،ک" چاپ ، "ق" چاپ او قلمي نسخو کې "چې يې وويښم" راغلی دی.
(۲) دا بيت په "پ" چاپ ، "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ کې نشته
(۳) د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کې د "ملک" پر ځای "فرښتو" راغلی دی.
(۴) دا غزل په مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته ، دوهمه مسری يې په "پ" چاپ کې داسې راغلی ده : "لکه تله کاندې خپل کورته کاروان ژرژر".
په "پ" چاپ کې "لکه درومې چې خپل کورته کاروان ژرژر". په مختلطه نسخه کې "لکه تله کاندې وکورته کاروان ژرژر". او د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی ده : "لکه درومې وخپل کورته کاروان ژرژر".
(۵) دا مسری د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی ده : "لکه لودچې په کښت ګې کا دهقان ژرژر". او په "پ" چاپ کې د "پاخه" پر ځای "پاسه" راغلی دی.
(۶) دا مسری د "خ" په دوهمه نسخه او د "پ" په مختلطه نسخه کې داسې راغلی ده : "هسې ژرژر دا دنيا وبله ناوړې".
(۷) دا مسری د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی ده : "لکه اوړې وبله رېګ دبيابان ژرژر".
(۸) دا مسری د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی ده : "هسې نارې زرصورتونه وبله رېږي".
(۹) په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی ده : "دبنو زنبل هم هسې زرزرنه وی". د "خ" په لومړی نسخه کې "دبنو وبله ول هم هسې زرنه وي".
د "خ" په دوهمه نسخه کې "دا دبنو زنبول هم هسې زرزرنه وی" او د "پ" په مختلطه نسخه کې داسې راغلی ده : "دبنو زنبول هم هسې زرنه وي".
د "پ" لومړی نسخه : "دبنو زنبول هم هسې ژرژرنه وی".
(۱۰) دا غزل په مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۱۱) دا بيت په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی : "زور آور خو اوړا واوبه دی فهم وکړه چې دوب نه شي يا وربت نه شي په شا".

زندګي که بې اوبو بې اوره نه شي
تل هم ابنبي هيچا نه دي په تهتر (۱)

خدای ورمه وله سيلاب دچا په خونه (۲)
که په قطع (۳) هم اوبه وي د کوثر

ودې نه لګيږي اور په کورد هيچا (۴)
که رنړا يې وي د شمس اود قمر

چې يې درست صورت غلبيل شي په اغزيو (۵)
وخو په مه شه دهغې ونې ثمر

دهغه ديوال په سيوری خوک کښينه (۶)
چې ولاړ وي لکه زور چاود کمر

چې په ګيډې دې خوخبرې مخ يې ورک شه (۷)
که د سر وزر و چاره وي يا خنجر

ودرياب ته اچاوه نه شي ځان خوند وي (۸)
ګنه په ډډي په درياب کې دُر ګوهر

ناکرده سود ونه په ډډي په جهان کې
سود هغه دی چې د خير وي نه د شر (۹)

چې له آبه له حرمته سره نه وي
خدای ورمه کړه وچاهې سيم وزر (۱۰)

زور ورکه رسوي وچاته فيض
له دې فيضه سره وکړه ضرر

په ياری د زور ورو غلط مه شه
مګر دا چې ترده ، ته يې زور ور

په هرګاه چې دی مغلوب وي ته غالب يې (۱۱)
تر وهاله يې قدمونه نه ده په سر

يا خو دا چې که قدم يې په درنه نه دې
دغه پسه يې ځان وګنه پلد (۱۲)

چې هنرګنې ياری د زور ورو
بول وکړم زه رنا په دا هنر (۱۳)

۸۱ ۹۶۳

---

(۱) دابيت په "پ" چاپ کې دې رانغلی دی : " زندګی که بی له اوره اوبو نه شی تل هم نه دی هيچا ابنبی پرې تهتر ". د "خ" په لومړی نسخه کې : " ناب هم ابنبی هيچا نه دی په تهتر ". اود "خ" په دوهمه نسخه کې دې رانغلی دی : " تل هم ابنبی هيچا نه دی پرې تهتر

(۲) دامصری د "خ" په دوهمه نسخه کې دې رانغلی دی : " خدای دی ورمه ولی سيلاب دچا په خونه ".

(۳) په قلمی نسخه کې د "هم" پر ځای "يې" رانغلی دی.

(۴) دامصری په "پ پ" چاپ ، د "خ" په لومړی اود دوهمه نسخه کې دې رانغلی ده : " ودی نه لګيږی اور دچا په خونه ". اود "پ" په لومړی نسخه کې دامصری دې رانغلی ده : " ودی نه لګيږی اور په کور دچا ".

(۵) دامصری د "پ" په لومړی نسخه کې دې رانغلی ده : "چې درست صورت غلبيل کا په اغزيو " په "پ پ" چاپ کې دې رانغلی ده : "چې يې تول صورت غلبيل شی په اغزيو ". د "خ" په لومړی نسخه کې " چې دې درست صورت غوښيږي په اغزيو ". اود "خ" په دوهمه نسخه کې دې رانغلی ده : " چې يې درست صورت نه غلبيل شی په اغزيو ".

(۶) د "خ" په لومړی نسخه کې : " دهغې ديوال په سيوری خوک مه کښينه " اود "خ" په دوهمه نسخه کې دې رانغلی ده : "دهغه ديوال په سيوری کښناست مه شې ".

(۷) دامصری د "پ" په لومړی نسخه کې دې رانغلی ده : " چې په ګيډه دی خوخبرې مخ يې تورشه ". په "پ پ" چاپ کې : " چې په ګيډه دی خښبرې مخ يې ورک شه ". د "خ" په لومړی نسخه کې " چې په ګيډه کې خرخبرې رنګ يې ورک شه ". اود "خ" په دوهمه نسخه کې دې رانغلی ده : " چې په ګيډه دې خرخبرې مخ يې ورک شه ".

(۸) د "پ" لومړی نسخه :- " واوبو نه اچا وه نه شی ځان خوخوب دی ". د "خ" په لومړی نسخه کې " واوبو اچا وه نه شی ځان خوند دی ". اود "خ" په دوهمه نسخه کې دې رانغلی ده : " ځان شيرين دی و درياب نه اچول نه شی ".

(۹) دامصری د "خ" په لومړی نسخه کې دې رانغلی ده : " سود هغه دی چې يې خير دی له شر ".

(۱۰) " پ پ" چاپ : " خدای ورمه کړه چا نه هيچ سيم وزر ".

(۱۱) دامصری په "پ" چاپ کې دې رانغلی ده : " په هر وخت چې نه غالب ودی مغلوب وی ". د "خ" په لومړی نسخه کې : " په هرګا چې دی غالب وی نه مغلوب وی " اود "خ" په دوهمه نسخه کې دابيت دې رانغلی دی : " په هر کار چې نه غالب يې دی مغلوب وی تر وهاله يې قدمونه نه ده په سر ".

(۱۲) چاپی ديوانونه : " يا خو دا چې نه قدم يې په درنه نه دې هله پسه يې ځان وګنه پلد ".

(۱۳) دامصری په چاپی ديوانو کې دې رانغلی ده : " ده رحمان کو مه بول په دا هنر ". اود "خ" په لومړی نسخه کې دې رانغلی ده : " بول وکړم د رحمان په دا هنر ".

په نظر دې بصر — لکه شام هسې سحر (۱)
لکه شام هسې سحر — لکه سنګ هسې ګوهر (۲)
لکه سنګ هسې ګوهر — لکه خاوري هسې زر
لکه خاوري هسې زر — لکه خیر هسې شر
په نظر يې معلوميږي — هر واړه برابر
که څوک بنه وړسره وکا — تربدۍ يې وي بتر (۳)
که څوک بد وړسره وکا — ترنبکۍ يې وي بهتر (۴)
نه په بد ويل زهیر وي — نه پرښه وي دچا زبر (۵)
په ثواب او په خطا يې (۶) — نه دليل وي نه نظر
نه آګاه په خپل بهبود وي — نه آګاه په خپل ضرر
نه په عيب څه پوهيږي (۷) — نه پوهيږي په هنر
لکه رونده او کوڼ چې ګوري (۸) — هسې هيڅ نه وي خبر
له طاعت له ګناهه — څه خبر وي څناور (۹)
څناور د رونړ نه زده — يا يې رغبت (۱۰) وي يا يې خبر
دا خوته يې زما نفسه — چې دې زه کړم کوز و کبر
تمام ووتې (۱۱) له عقله — په دنيا پسې اوتر

---

(۱) دا غزل په مصور نسخه کې نه دی راغلی او هم د "پ" په دوهمه نسخه کې يې د سربيتو نه نه دی راغلی.
(۲) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې دا سې راغلی دی: " لکه سنګ هسې ګوهر لکه شام هسې سحر".
(۳) دا بيت د "پ پ" چاپ کې دا سې راغلی دی: " که څوک بنه وړسره کاندې تربدۍ يې وي بتر".
په "پ" چاپ کې دا سې راغلی دی: " که څوک بنه وړسره کاندی تربدۍ وي لا بتر".
(۴) — دا بيت په "پ پ" چاپ کې دا سې راغلی دی: " که څوک بد وړسره کاندی ترنبکۍ يې وي بهتر".
په "پ" چاپ کې دا سې راغلی دی: " که څوک بد وړسره کاندی ترنبکۍ وي لا بهتر".
(۵) دا بيت په "پ" چاپ کې دا سې راغلی دی: " نه په بد ويل زهيرېږي نه په بنه وي دچا زبر".
په "پ پ" چاپ کې دا سې راغلی دی: " نه په بد ويل زهيرېږي نه په بنو دچا زر و ر".
د "خ" په لمړۍ نسخه کې: " نه په بد ويل زهيرېږي نه پرښه وي دچا بر".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا سې راغلی دی: " نه په بد ويل زهير و ي نه پربنه يې دچا ز وبر".
(۶) دا سې يې په "پ پ" چاپ کې دا سې راغلی ده: " په ثواب او په خدايۍ سيبې".
(۷) دا سې يې په چاپي ديوانو کې دا سې راغلی ده: "نه په عيب باندې پوهيږي". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا سې راغلی ده: " نه په عيبو څه پوهيږي".
(۸) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "ګورۍ" پرځای "ګرځي" راغلی دی.
(۹) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "څناور" پرځای "شناور" راغلی دی.
(۱۰) په چاپي ديوانونو او ځينو قلمي نسخو کې، پرته د "پ" له لومړۍ نسخې څخه د "رغبت" پر ځای "خوب" راغلی دی.
(۱۱) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "دو تې" پرځای "دو تم" راغلی دی.

نه دې فرض د خدای ادا کړه — نه سنت د پیغمبر
نه دې مرګ په زړه کې یادوی[1] — نه خواږی دې د محشر
اوده پروت یې دادې نه زړه — چې په خوالړم سفر
په هر دم درځه درومې — که پوهیږی دا بشر
هغه تور وېښته دی خه شول؟ — چې هم مښک وو هم عنبر
هغه قد دی مجنون بید شو[2] — چې چنار وُو هم[3] نښتر
تن دې درست زیړ وز برشو — زړه دې نه شول روبر
تر پنجا وشسته تېرشوې — ته لاځان بولې پسر[4]
نه دې ترس شی نه دې ویره — نه په زړه باندې اثر[5]
بلبل بدنه وی لکه ته یې — هسې شوخ اوځیگر وو
په غفلت دې عمر تېر کړ — نه ږغ وشوې نه رهبر
عبادت دې په ریا شو — لکه ډک په لاکه وزر
له قلب[6] ناسره ګهر — پټ په زړوکې حجر[7]
لکه زړی په میوه کې — درون سنګ بیرون ثمر
لکه پټ وی په دانه کې — سل اغزیه د شجر[8]
لکه سحر چې برپای کا — سحرګرا و جادوګر
لکه تش صورت بې روحه[9] — چې تصویر کا مصور
لکه تش کڅوړې مغزه — میان خالي وی تن پرو

---

(۱) دامصری په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی ده: " نه دې مرګ په زړه کې یادیږی ". اوده " خ " په لومړی نسخه کې داسې راغلې ده:
" نه دی مرګ په زړه کې یادوی ".

(۲) دامصری په " پ " چاپ او " ب پ " چاپ کې داسې راغلی ده: " هغه قد دې مجنون بید شد ". د " خ " په لومړی نسخه کې " هغه قد د مجنون خه شو ".
اود " پ " په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: " هغه قد دې مجنون بید شی ".

(۳) په " پ " چاپ کې د " همه " پرځای " یا " راغلی دی.

(٤) دابیت د " خ " په لومړی نسخه کې نه دی راغلی لومړی مصری یې په " ب پ " چاپ کې " تر پنجاه و پنځه تېرشوې "، په " ب " چاپ کې " تر پنځوس - تر پنځه تېرشوی "، د " خ " په دوهمه نسخه کې: " تر پنجاه تر پنجاه تېرشوی ". اود " پ " په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده:
" تر پنجه تر پنجاه تېرشوی ".

(۵) دابیت د " خ " په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(۶) په " ب پ " چاپ کې د " قلب " پرځای " کلپ " راغلی دی.

(۷) د " پ " په دوهمه نسخه کې د " حجر " پرځای " خنجر " راغلی دی.

(۸) دابیت د " خ " په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(۹) دامصری د " خ " په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: " لکه تش صورت په روح کې ".

لکـــــــــه بې لاسه لستونی ... سر تر پایه پای ترســـــــــر
لکـــــــــه تګ اودغه بازوی ... په مرغانو کې ډګـــــــــر (۱)
لکـــــــــه بې ټمله ناوې ... چې په سر کاندي میـــــــــزر (۲)
تـــــــــر میز رلاندې چاځه زده ... څ (۳) دختر دی که مـــــــــادر
نـــــــــه یې حسن نه جمال وی ... غولوي خلق په زپـــــــــور
هـــــــــی له هسې فریبانو (٤) ... لکه زور ند چاودکـــــــــر
نیـــــــــم په مخکه کې دننه ... نیم په سروي لکه نغـــــــــر (٥)
پـــــــــه دستار کې یې مسواک وی ... نه بغل لاندې خنجـــــــــر
پـــــــــه ایرو کې پټ بخری ... په وینو کې پـــــــــت ژور (٦)
پـــــــــه شپه وینې د مظلوم خوږی (٧) ... سباکینې په ممـــــــــبر
پـــــــــه زړه تور لکه تبې (٨) وی ... په مخ سپین لکه قمـــــــــر
ددنیـــــــــا په طلب گرځي ... خپل ځان بولي قلنـــــــــدر (٩)
کلیمـــــــــه په ژبه وایي ... په زړه ندلري بـــــــــاور
پـــــــــه مثال د منافقو (١٠) ... نه مسلم وي نه کافـــــــــر
نـــــــــه مسلم وي نه کافر وی ... نه پخلا نه مـــــــــر
پـــــــــریشان گرځي سر وهلی ... کوی په کوی اودې پـــــــــه دې
همیشه رفت وآمد کا (١١) ... د زردارو په گـــــــــنډ
پـــــــــه کوڅه د دنیا دارو ... گوخورګي کا لکه خـــــــــر
اورنـــــــــګ زیب هم یو فقیر وُ ... چې تو پې یې وه په ســـــــــر
وتـــــــــو پې وته یې شاګرډ ... چې قادر شو په افســـــــــر (١٢)

(١) د "خ" په دوهمه نسخه کی د "دګر" پرځای "دیګر" راغلی دی. (٢) په "پ پ" چاپ کی "خادر" راغلی دی.
(٣) په "پ" چاپ اود "پ" په دوهمه نسخه کی "وی" راغلی دی. (٤) د "پ" په لومړی نسخه کی "هیٔ هیٔ له هسې فریبانو"، په "پ پ" چاپ کی "هیٔ توبه له هسې فریبانو"، اود "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده: "هیٔ توبه له هسې فریبه".
(٥) دابیت په چاپی دیوانونو کی داسی راغلی دی: "نیم په زمکه کی دننه نیم برسپره لکه نفر" اود "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده: "نیم برسپره لکه نفر" اود "خ" په لومړی نسخه اود "پ" په دوهمه نسخه کی یې دوهمه مصری داسی راغلی ده: "نیم په سر وی لکه نرغر".
(٦) دابیت د "خ" په لومړی قلمی نسخه کی نه دی راغلی اود "پ" په دوهمه نسخه کی د "ژور" پرځای "ژادر" راغلی دی.
(٧) دامصری د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده: "په شپه مال د مظلوم وخوړی". (٨) د "خ" په لومړی نسخه کی "کودی" راغلی دی.
(٩) په "پ پ" چاپ کی "بولی ځان په قلندر"، د "خ" په لومړی نسخه کی "خسرو بولی قلندر"، د "خ" په دوهمه نسخه کی "خپل سر بولی قلندر"، اود "پ" لومړی نسخه کی "ځان بولی قلندر" راغلی دی.
(١٠) په قلمی نسخو کی "منافقانو" راغلی دی.
(١١) دامصری د "پ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده: "همیشه یې رفت امدی" (١٢) دابیت د "خ" په دوهمه قلمی نسخه کی نه دی راغلی.

خـــــــــوي هومړه فقيري ولا — چې څه نه و و ميســـــــــــــر
چـــــــــي فلك يې ياري وکړه — نوري ملك کړ مسخـــــــــــــر
ګـــــــــوره څه چاري يې وکړې — په عيال (۱) د خپل پـــــــــــدر
وار پـــــــــه وار يې ترتيغ تېر کړ — د خورم تمام تـــــــــــبر
يـــــــــو تېر د خورم څه وُ — د پر عالم يې کړ د بـــــــــــر
تمـــــــــامې جهان يې ونغړد (۲) — چې يې لاس شو باندې بـــــــــر
پـــــــــه فريب فريب يې خپل کړ — بيجاپور او بهانـــــــــګر (۳)
بيـــــــــجاپور او بهانګر څه وو — لاجنجي او جنجـــــــــاور (۴)
هـــــــــم يې هند په دکه وا خيست (۵) — هم کابل هم (۶) پيښـــــــــور
بيـــــــــا يې ذکر شو په زړه کې — بادشاهي د هفت کشـــــــــور (۷)
لـــــــــه حرصه ورته هېڅ شوه — هم دارا هم سکنـــــــــدر (۸)
خيـــــــــال يې داوُ په خاطر کې — چې به خپل کړم بحر و بـــــــــر
بـــــــــاري وړځ و (۹) ژمنه لاړه — وخت پرې راغی مازديـــــــګر (۱۰)
نـــــــــه يې مراد د زړه حاصل شو — نه يې يخ کړ خپل تـــــــــه تر
هـــــــــګي شوه ځُني پاتې — کـه يې ملك وُکه لښـــــــــکر
خـــــــــالي لاس له دنيا ووت — لکه عينِ دروېزګـــــــــر

---

(۱) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "د" پرځای "په" راغلی دی.
(۲) د "پ" لومړۍ، دوهمه او د "خ" لومړۍ نسخه: "تمامې جهان يې ونغړ" او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا بيت راغلی دی: "تمامې عالم يې ونغښت".
(۳) دا مصرع په "پ پ" چاپ کې دا ډول راغلې ده: "بيجاپور او بهاګ نګر".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "پنجاب پور او بهاګ نګر".
د "خ" په دوهمه نسخه کې: "پنجاپور بهانه ګر".
او د "پ" په دوهمه نسخه کې: "پنجاپور و بهاګ نګر".
او په مصوره نسخه کې: "بيجاپوره و بهاګ نګر". راغلی ده.
(۴) دا بيت په "پ" چاپ کې دا ډول راغلی دی: "بيجاپور بهان ګرځه وو لاچينجا و چينجاور".
"پ پ" چاپ: "بيجاپور بهاګ نګر څه وو لاجنجي او جنجاور".
لومړۍ مصرع يې په مصوره نسخه کې: "بيجاپور و بهاګ نګر څه وه". د "خ" لومړۍ نسخه کې دا بيت دا ډول راغلی دی: "پنجاب پور بهاګ نګر څه وو لاچنجي چنجاور".
د "خ" په دوهمه نسخه کې: "پنجاپور بهان ګرځه وو لاچنجا و د چنجاور". او نومورۍ بيت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۵) په "پ پ" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه کې دا مصرع دا ډول راغلی ده: "هم يې هند په دګه واخست"
او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا ډول راغلی ده: "هسې هند په دکه واخست".
(۶) په چاپي ديوانونو کې د "هم" پرځای "او" راغلی دی.
(۷) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا ډول راغلی دی: "بيا يې ذکر شو په زړه کې هم دارا هم سکندر".
(۸) دا بيت اوله دی نه ورڅخه بيتو نه په مصوره نسخه کې نه دی راغلی او دهم نومورۍ بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۹) په چاپي ديوانونو کې د "وړځ ژمنه" پرځای "د ژمنې" راغلی دی. (۱۰) په قلمي نسخو کې "نا زيګر" راغلی دی.

لـــــــه دنیایې هېڅ یونه وړه — مګر شویې یو څـــــــاده
خـــــــوارحیران په ځمکه پریووت — بې بالین او بې بســـــــتر (۲)
نـــــــه پوزې شوتریې دلاندې (۳) — نه تراندیې شو تغـــــــر
دبنـــــــې (۴) په څېر خفیف شو — چې ثقیل وُ لکه غـــــــر
دسپـــــــلاب په مخ کې لاړشو (۵) — لکه خس او (؟) یـــــــاوزر
حـــــــق یې پاتې په ګردن شو — دسپاهي او دچاکـــــــر
اوس یـــــــې زه په روح دعاګرم — که یې خدای کا بهـــــــرور
حـــــــق تعالی یې په نصیب کړه — شېرین حوض دکوثـــــــر (۷)
دجنـــــــت په خوشبویې یې (۸) — خدای دماغ کړه معطـــــــر
پـــــــه درست هند باندې یې حق وُ (۹) — هندیوشپه وه دې یولـــــــر (۱۰)
دوې لمـــــــر په روښنا یې (۱۱) — تام هنـــــــد وُ منـــــــور
پـــــــه زنا یې خلق (۱۲) زیست کړ — نه څه خوف وُ نه خطـــــــر
خوچـــــــې مخ یې په غروب کړ — نور پیدا شو شور وشـــــــر (۱۳)
چـــــــې په نام (۱۴) داورنګ زیب وُ — وخورګاوهغه دفتـــــــر
اوس نـــــــوبت دشاه عالم دی — دورطور شو دیګـــــــر (۱۵)

---

(۱) دامصرې په "پ پ" چاپ کې دې ډول راغلې ده: "مګرشیرې یوشاده" اوده "خ" په دوهمې نسخه کې دامصرې دې ډول راغلې ده: "مګردشویو یوشاده".

(۲) په چاپې دیوانونو کې دابیت دې ډول راغلی دی: "خوارحیران په ځمکه پریووت بې بالینه و بې بستر".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "خوارحیران په ځمکه پروت وُ بې بالینه بې بستر".
د "خ" په دوهمه نسخه کې یې دوهمه مصرې دې ډول راغلی ده: "بې بالښته بې بستر".

(۳) دامصرې په "پ پ" چاپ اوده "خ" په لومړۍ نسخه کې دې ډول راغلی ده: "نه شوتړه لاندې یې"

(۴) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "بنې" پرځای "بهنو" راغلی دی.

(۵) په "پ پ" چاپ کې "لاړو" راغلی دی.

(۶) په چاپې دیوانونو، د "خ" په لومړۍ نسخه اوده "پ" په دوهمه نسخه کې د "او" پرځای "وې" راغلی دی.

(۷) په "پ پ" چاپ کې: "حق تعالی که یې نصیب کا شه شیرین حوض کوثر". راغلی دی.
د "پ" چاپ کې دې ډول راغلی دی: "حق تعالی که یې نصیب کا شه شیرین حوض کوثر".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې یې دوهمې مصرې دې ډول راغلی ده: "حق تعالی یې پرې نصیب کړه".

(۸) دامصرې په قلمۍ نسخه کې دې ډول راغلی ده: "دجنت په خوشبو یې".

(۹) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "وُ" پرځای "دې" راغلی دی.

(۱۰) دامصرې په چاپې دیوانونو کې دې ډول راغلی ده: "هندیوشپه وه دې وُ نمر". د "خ" په لومړۍ نسخه کې دې ډول راغلی ده: "هندشپه وه دې لونر".

(۱۱) دامصرې د "پ" په لومړۍ نسخه کې دې ډول راغلی ده: "دوه نمر په روښنا یې"
اوده "خ" په لومړۍ نسخه کې دې ډول راغلی ده: "دوې لونر تر روښنا یې".

(۱۲) په چاپې دیوانونو، د "خ" په دوهمه نسخه اوده "پ" په دوهمه نسخه کې د "خلق" پرځای "خلکو" راغلی دی.

(۱۳) دابیت په "پ پ" چاپ کې نه دی راغلی.

(۱۴) په چاپې دیوانونو کې "نوم" راغلی دی.

(۱۵) دامصرې په "پ پ" چاپ کې دې ډول راغلی ده: "دورادطور بې شو دیګر"، اوده "خ" په لومړۍ نسخه کې دې ډول راغلی ده: "کادورنور وشه دیګر".

خدای زده څه باندی شي پښه — چې عاشو شي که اختر (۱)
رنګارنګه بازی کاندي (۲) — دا آسمان دی بازیګر
ګهې تلخ شي لکه زهر — ګاه شیرین لکه شکر (۳)
چې څوک وشوه هغه وشوه — لابه کیږي مقدر (٤)
ما خو نوم دا ورنګ وا خست — دا احوال دی دهر
هر سړی د خپلې خونې — هم بادشاه دی هم سرور
هر چې اهل دنیا دي — واړه هسې دي اکثر

۸۲ — دا بیت د ۱۰۵۶ ځایه

دا بیان دور و دراز دی (۵)
رحمان وکړ مختصر

که د عشق لاره اغزنه ده هر ګور — د عاشق په پښو څپلۍ دي داور (٦)
که دیدن د ګلعذار په انتظار شي (۷) — زما ستړګې دی شبنم غوندې څاڅور
تیغ دا وسپنې محتاج د نرم آب دی — قرب وحلم یو په سل دی زیات تر زور (۸)
له لویي له سرکښی زما توبه ده (۹) — خدای څوک مه کړه د آسمان په څیر نسکور
خدای زده څه سودا به پښه په بازار شي — د بازار خبرې نه شي په خپل کور (۱۰)
دا همه واړه عاشق لره پیدا شوه (۱۱) — که تهمت که ملامت دی که پیغور
جفا جور ناز وکبر د خوبانو (۱۲) — ما په ځان دي قبول کړي لکه پور

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې دا ډول راغلی دی: "خدای زده څه چارې شي پښې شي چې عاشو شي که اختر".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا ډول راغلی دی: "خدای زده څه بازی پښه شي چې عاشو شي یا اختر".
او په چاپي دیوانونو کې دوهمه مصرې دا ډول راغلې ده: "عاشورا شي که اختر".

(۲) دا مصرې په "پ" چاپ کې دا ډول راغلې ده: "رنګارنګ بازی کاندی". "پ، پ" چاپ: "رنګارنګي بازی کاندی".
د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې او د "ب" په دوهمه نسخه کې دا ډول راغلې ده: "رنګارنګ بازی کاندی".

(۳) دا بیت په "پ" چاپ کې دا ډول راغلی دی: "ګهې تلخ شي لکه زهر ګه شیرین لکه شکر".
په "پ پ" چاپ کې: "ګاهې تلخ شي لکه زهر ګاه شیرین لکه شکر".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا ډول راغلی دی: "ګهې تلخ شي ګاهې زهر ګاه شیرین لکه شکر".
د "خ" په دوهمه نسخه کې دا ډول راغلی دی: "ګهې تریخ شي لکه زهر ګاهې شیرین لکه شکر".
او د "پ" په دوهمه نسخه کې دا ډول راغلی دی: "ګاه تریخ شي لکه زهر ګاه شیرین لکه شکر".

(٤) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی. لومړۍ مصرې یې په قلمي نسخو کې دا ډول راغلې ده: "چې څوک وشوه هغه وشوه".

(۵) د "پ" دوهمې نسخې: "دا بیان دور و دراز ده".

(٦) دا غزل په مصورې نسخه کې نه دی راغلی او دې بیت دوهمه مصرې یې "پ پ" چاپ کې دا ډول راغلې ده: "د عاشق په پښو کې دی څپلۍ دادر".

(۷) دا مصرې په چاپي دیوانونو کې دا ډول راغلې ده: "که دیدن دیار مونده په انتظار شي".

(۸) دا بیت د "خ" په لومړۍ او د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی او دې بیت دوهمه مصرې د "پ" په لومړۍ نسخه کې دا ډول راغلې ده: "قرب وحلم یو په سل دي تر زور".

(۹) دا مصرې د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا ډول راغلې ده: "که لویي ده که سرکښي زما توبه ده". او د "خ" په دریمه نسخه کې دا ډول راغلې ده: "له لویي له سرکښي مې توبه ده".

(۱۰) دا بیت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی.

(۱۱) په "پ" چاپ کې د "شوه" پر ځای "دی" راغلی دی.

(۱۲) دا مصرې په "پ پ" چاپ کې دا ډول راغلې ده: "نازو جور وکبر د خوبانو". او په "پ" چاپ کې دا ډول راغلې ده: "جفا ناز و جور وکبر د خوبانو".

راحت بې زحمته نه دی چا موندلی (۱)
غم ښادي دي ددې دهر خورا وورور

۸۳
هسې په خپل یار پسې غوڅ غوڅ یم (۲)
۱۰۶۵
لکه غوڅ په خپل اولاد وي پلار اومور

پس له مرګه که څوک ارت غواړي خپل ګور
که حق وایم هومره ارت دې بویه کور (۳)

ترځان زیاته کمه چارخه په کار نه ده
ځان په لوپشت کړه چې دې خوښ اوبده سور

چې جامه دچاکوتاهه یا اوبده شي
ورکاوه شي هنرمند لره پیغور

هرسړی چې په حساب کې تېروببرشي
ملامت پرې وایه کیږي لوردلور

چې لایق د ملامت اود تهمت شي
ځای لري که بې عزت شي هم سرتور

چې عزت حرمت یې نه وي په جهان کې
هغه هسې ژوندون وسوزه په اور

بې عزت سړی به خوښ دهیڅا نه وي
مګر هسې بې عزت وي ځینې نور (٤)

خپل مجلس یې ترجمله مجلسه خوښ وي
په هرځای چې سړه جمع شي ځمسور (٥)

هرهمجنس له خپله جنسه سړه خوښ وي (٦)
زریب کاهره کښیده په خپل اغځور

نابینا په خپله سپمه کې بینا وي
بینایان په پردی ملك شي کروکور

که ته نه یې بدکردار سړه بدلمنه
کښیدی: منه بدکردار سړی په غور (٧)

درست صورت دیوه نوك په درد درد منديشي (٨)
وران شي شهر دیوه سړي په توره

چې یوغابن په خوله کې زورپلشي یاووځي
درسته خوله پرې بدنمایه شي هرګور (٩)

---

(۱) دامسری د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی ده: " راحت نه دی بې زحمته چا موندلی ".
د "پ" په دوهمه نسخه کې نومړی مسری داسې راغلی دی: " راحت نه دی چا موندلی بې زحمته ".

(۲) دامسری په "پ" چاپ، د "خ" په لومړی نسخه اود "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: " رحمان هسې په خپل یار پسې غوڅ غوڅ دی ".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: " زه رحمان هسې په خپل یار باندې غوڅ غوڅ یم ".
د "پ" لومړی نسخه: " زه رحمان هسې په خپل یار پسې غوڅ غوڅ یم ".

(۳) د "پ" لومړی نسخه: "پس له مرګه که ارت څوك ګڼي خپل ګور  که حق وایم هومره ارت بویه کور ".
په مصوره نسخه کې لومړی مسری داسې ده: " پس له مرګه که خوارت کوي خپل ګور ".

(٤) "ق" چاپ: " بې غیرت سړی به خوښ دهیڅا نه وي  مګر هسې بې غیرت وي ځینې نور ".
د "خ" په لومړی نسخه کې د "ځینې نور" پرځای "خم خور" راغلی دی.

(٥) د "خ" لومړی نسخه: "په هرځای چې سړه ورپیشې څلور". د "پ" لومړی نسخه: " په هرځای چې وبله ورشي ځمسور ".

(٦) دابیت اوورپسې ټوله غزله په مصوره نسخه کې نشته، چاپي دیوانونو کې لومړی مسری داسې ده: "هرهمجنس له خپل هم جنس سړه جوړه دی".
د "خ" لومړی اود دوهمه نسخه: "هرهمجنس له خپله جنسه سړه جوړ وی". په دې نسخه کې

(۷) دابیت په "پ" چاپ، "ق" چاپ اود "خ" په لومړی نسخه کې نشته. د "پ" په لومړی نسخه اوخ په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی "که ته نه یې بدکردار وبدکردار کاکښیدی منه بدکردار سړی په غور". اود "خ" په دوهمه نسخه کې دابیت داسې دی: " که ته نه یې بدکردار ه بدعمله  کښیدی منه بدکردار سړی په کور ".

(۸) دامسری د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

(۹) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

یوسړی چې په کورمه کې دچا کرم شي
واړه ګرم کاکه پنځه دي که څلور (۱)

بدکړدار زوی پیدا مه شه له موره
ابته کاندي ناموس دپلار ومور

هر څوك خپله خوشحالي له خدایه غواړي
باري (۲)، نه شي دغه کار په زرو زور

خدای په خپل قدرت څوك لوی وڅوك هلك کړه
نه چې هر بنهر دیلی شي یا لاهور

د تهنګو پورونه هر څوك وبله کاندي
بخت هیچا ورکړی نه دی ځبله پور

دچا تاج په سر زرین خنجر ترملا وي
دچا پند په سر په ملا تومبلی لور

څوك په آس د پاسه سوري توغ دوړاندې
څوك ښیرکلی ګرځاوه شي په خره سور

ای رحمانه دخدای نوم به چا وانخست
که دخدای چاړې په پلار شوې یا په مور

۸۴ ۱۰۸۶



یوساقي بل یار دریم مطرب سره یوځای شول
زړه مې په نغمو نغمو سوری کړ مطربانو

څه شوکه یې یوورځ خراب (۶) دل مې تړې قربان شه
زړه یې له ګوګله په شتاب راځه یووړ

تا دې خواږه آلو دوستر ګو خواږه راځه یووړ
لبو (۳) دې لذت د میوناب راځه یووړ

نه مې اوښکې پاتې شوې نه صبر په صورت کې
دیږې بې صبرۍ د مخ آب راځه یووړ (۴)

زړه مې په نغمو نغمو سوری کړ مطربانو
عقل ساقیانو په شراب راځه یووړ (۵)

یوساقي بل یار دریم مطرب سره یوځای شول
زړه یې له ګوګله په شتاب راځه یووړ

څه شوکه یې یوورځ خراب (۶) دل مې تړې قربان شه
نور چاوړې نه دی خپل احباب راځه یووړ (۷)

---

(۱) چاپی دیوانونه : " یوسړی چې په کورمه کې دچا بدشی . واړه بدشی که پنځه دی که څلور".
(۲) د "خ" دوهمې نسخې کې "موندې نه شي" راغلی دی.
(۳) په چاپی دیوانونو کې "شوندې" راغلی دی.
(۴) "ق ،ک" چاپ : "دیږې بې صبرۍ مې د زړه آب راځه یووړ".
"ق" چاپ : "دیږې بې صبرۍ مې دې مخ آب راځه یووړ".
"پ ،پ" چاپ : "دیږې بې صبرۍ دې مخ آب راځه یووړ".
(۵) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته . "پ ،پ" چاپ کې لومړی مصرع داسې ده : "زړه مې په نغمو نغمو سوری کړ مطربانو". "ق" چاپ : "زړه مې په نغمو سوری سوری کړ مطربانو".
(۶) په چاپی دیوانونو کې "خسته" راغلی دی (۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته.

خط دې تور حرفونه مخ دې پانې دکتاب کړې[1] — شغل دکتاب دې بل کتاب را ښخه یوور[2]
هر اسباب چې ما ښخه د زهد د پرهېز وُ[3] — وارِه تا د حسن په اسباب را ښخه یوور[4]

٨٥ — کړی مارِ زلف پرې په زړه کې نقش د محراب وُ — ١٠٩٤
ستا آبرو یو نقش د محراب را ښخه یوور

خراب زړه[5] مې د دلبر وهوا یوور — د هوا له وریو چا زده چې چا یوور
ګوښې ګوښې ښایسته مې زړه وکا نې — زه وکوم یوه ته وایم چې تا یوور[6]
چې مې زړه لرې د تور و زلفو ځای غوښت[7] — هغه زړه را ښخه د پرې ژړا یوور
د سپلاب په مخ کې کله د چا خوب شي — شېرین خواب را ښخه د پرې ژړا یوور
هغه رخت چې مې د صبر د سکون وُ — هېڅ را نه کړ هوشانو وپرېا یوور
هغه عقل چې پې لاف د خود رایۍ کړې — په یوه پیاله د میو مینا یوور[8]
کې پې یوور خسته دل مې ترې قربان شه — نا آشنا وُ وړی نه دی آشنا یوور[9]

٨٦ — هېڅ ناحق پرې شوی نه دی که حق وایم — ١١٠٢
معشوقې د زمانې زړه په رضا یوور

---

(١) په چاپي دیوانونو کې "دی" او د "خ" په دې وارِه نسخو کې "شوی" راغلی دی.
(٢) "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ:
"شغل دکتاب دې خورد وخواب را ښخه یوور".
(٣) د "خ" لومړۍ نسخه: "دشرم یا د ننګ وُ"
او د "خ" په دوهمه او مصوره نسخه کې د "زهد و تقوی" راغلی دی.
(٤) "ق،ک" چاپ: "وارِه ستا د حسن دې سپلاب را ښخه یوور".
(٥) په قلمي نسخو کې "دل" راغلی دی.
(٦) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(٧) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، په "ق،ک" چاپ کې لومړۍ مصرې داسې ده:
"چې مې زړه مینه په تورو زلفو کړله".
(٨) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، په چاپي دیوانونو کې داسې دی:
"هغه عقل چې پې لاف د خود رایۍ کړې — په یوه پیاله پې وارِه له ما یوور".
د "خ" لومړۍ نسخه: "هغه عقل چې پې لافې د خودۍ کړې".
(٩) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ع

لکه کاندي په کوتر و نظر باز
هسې زه يم د دلبرو نظر باز

زه ونورچاته خبرې دراز نه کړم[1]
بې هغوچې موی[2] مژکان لري دراز

بل بادشاه لره محال دی ملک دزرونو
مګر مخ دچا محمود شي خال ايا ز[3]

ستا تر[4] زنې ترسيب پورې راښکاريږي
نوري زنې د خوبانو لکه پيا ز[5]

د تصوير له ګلو طمع دبوی مه کړه
بې وفادي واړه تُرکي دمجا ز[6]

هغه يار که په خپل ناز خوښ وخرم دی[7]
زه هم خوښ يم هميشه دیار په نا ز

هميشه می لاس نيولی دی دعا[8] کړم
چې مدام دې دیار ناز وي زما نيا ز

که څوک آه وفرياد ښه ګڼي په عشق کې[9]
زه په عشق کې دغه کار ګڼم غما ز

بنادي هرچيرې دغم په اندازه وي
هسې غم دی د بنادی په اندا ز[10]

نيستی واړه[11] دهستی په دنبال ګرځي
نه په وبې ږي په اوبو کې تش جها ز

دا قاعده ده لکه لوړهومړه ژور وي[12]
يوصورت دی هم نشيب شي هم فرا ز

چې يکسان گوري هم شاه وهم ګدا ته[13]
هسې يار دی د زمان غريب نوا ز





(١) په چاپي ديوانونو کې دامصرې داسې راغلې ده: "زه ونورچاوته دراز خبرې نه کړم". (٢) د "پ" په دوهمه نسخه کې "دوی" راغلې دی.
(٣) د "خ" لومړۍ نسخې کې دامصرې داسې راغلې ده: "مګر مخ دچا محمود حال دا يا ز" او په همدې مصرې کې د "شي" پرځای د "پيښور" په چاپي ديوانونو، مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې "وی" راغلې دی.
(٤) د "پ" له لومړۍ نسخې او مصورې نسخې نه پرته په ټولو نورو کې د "تر" پرځای "د" راغلې دی.
(٥) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې دی: "ستا د زنې ترسيب پورې ښکاريږي نوري ترکي او خوبانې لکه پياز".
(٦) دامصرې په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "له منقوشو مرغونه خبرې آواز". (٧) د "پ" له لومړۍ نسخې نه پرته په ټولو نورو کې د "وی" پرځای "دی" راغلې دی.
(٨) په مصوره نسخه، د "خ" لومړۍ نسخه، په "پ" دوهمه نسخه، په "پ پ" چاپ او د "پ پ" چاپ کې د "دوعا" پرځای "خواست" او د "ق، ک" چاپ کې "سوال" راغلې دی.
(٩) دامصرې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "که څوک آه وفريا دونه کړی په عشق کې". (١٠) دامصرې په چاپي ديوانونو کې داسې ده: "هسې غم دی د بنادی په اندا ز".
(١١) د "پ" په لومړۍ نسخه کې د "واړه" پرځای "هرچيرې" راغلې دی. (١٢) دامصرې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "دا قاعده ده لکه لوړهومړه په حُور وی".
(١٣) دامصرې د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "چې يکسان گوری وشاه دوهم ګدای ته". په چاپي ديوانونو کې داسې راغلې ده: "چې يکسان گوری هم شاه ته هم ګدا ته".

که بې ځایه زرکې نه وسکی آواز — نه صیاد ځنی خبر وُ نه شهباز (۱)
سکه له دې خبرې هسې معلومیږي — خپل صورت دی هرسړی لره غماز (۲)
د منصور وحال ته گوره حال یې څه شو (۳) — خدای دې فاش دهیڅانه کاندې پټ راز
د ریغه د ریغه که وروستی عقل روږی وی — د انجام خبرې نه شي په آغاز
نیک عمل د عالمانو (٤) نیک فرزند دی — خدای خوک مه کړه شراب خور او قمارباز
چې فرزندې شراب خور او قمارباز شي (٥) — نور یې کافی شي د پلار په خونه سازا
خدای له هسې زاهو زاده امان راکړه (٦) — چې بې دین بې دیانت شي بې نماز

۸۸ — چې منکر پرې اعتراض کولی نه شي — ۱۱۲۲
دا دې شعر دی د صالح نامه که اعجاز

بد اختر به نیک اختر نه شي هرگز — مرغ چوچه به در گوهر نه شي هرگز (۷)
که مکان یې په آسمان دی (۸) غزا وشوه — ستاره به شمس و قمر نه شي هرگز۔
که یې اصل له یوې څمکې وي څه شو — بید به سرو صنوبر نه شي هرگز
که همه عمر باران ور باندې ووري — خس به گل د پیغمبر نه شي هرگز (۹)
له نااهلو د فاطمع وه مه کړه (۱۰) — گنده نل به نیشکر نه شي هرگز
که تور غرله ځایه خوزي وبه خوزي (۱۱) — ولې نور به مقدر نه شي هرگز

۸۹ — د ریغه په باب چې وشوه هغه وشوه — ۱۱۲۹
مکرر (۱۲) به دا دفتر نه شي هرگز

---

(۱) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته.
(۲) دا بیت په چاپي دیوانونو کې دا سې راغلی دی: "هم له دې خبرې هسې معلومیږي خپل آواز دی هرسړی لره غماز".
او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا سې راغلی دی: "همکه له دې خبرې هسې معلومیږي چې خپل صورت دی هرسړی لره غماز".
(۳) د "پ پ" چاپ کې د "څه شو" پر ځای "څه دی" راغلی دی.
(٤) په چاپي دیوانونو او د "پ" په لومړۍ نسخه کې د "عالمانو" پر ځای "عاملانو" راغلی دی.
(٥) په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "شی" پر ځای "وی" راغلی دی.
(٦) دا سړی په "پ" چاپ کې دا سې راغلی ده: "خدای له هسې زاوزاده امان وکړه".
(۷) دا غزل په مصوره نسخه کې نه دی راغلی او د دې بیت دوهمې مصرې "مرغ چوچه" په چاپي دیوانونو کې "مرغ چوچ" د "خ" لومړۍ نسخه کې "مرغچی" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "مرغ بچه" او د "پ" په دوهمه نسخه کې هم "مرغ بچ" راغلی دی.
(۸) په "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې د "دی" پر ځای "وی" راغلی دی.
(۹) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی، دوهمه مصرې یې د "خ" په دوهمه نسخه کې دا سې راغلی ده: "خس به گل صنوبر نه شی هرگز". او لومړۍ مصرې یې د "پ پ" چاپ کې دا سې راغلی ده: "که همه عمر باران ور باندې وشی".
(۱۰) په "ونه کړه" راغلی دی.
(۱۱) دا سړی د "پ" په لومړۍ، دوهمه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا سې راغلی ده: "که تور غرله ځایه کوزی وبه کوزی".
دا تول بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا سې راغلی دی "که تور غرله ځایه گرځی وبه گرځی ولې تور به مقدر نه شی هرگز".
(۱۲) د "پ" په دواړو نسخو کې د "مکرر" پر ځای "مکدر" راغلی دی.



پښته سپين سترګی تاريکی غابن کنډس
نه وکاږی د دنيا له چارو لاس

په هرطور (۱) چې يې مومې پسې درومې
نه په چپ لوری صرفه کړې نه په راس

يو وپښته دعقيدې دی په تن نشته
سر تر پايه هسې ډوب (۲) يې په وسواس

خدای رازق بولې او رزق بولې له کسبه
په دا شناخت وځان ته والی حق شناس

هسې رنګ په بدصفت يې موصوف شوی
چې هيڅ نه پوهيږم ناس يې که خناس (۳)

په دويمه کې به ورته شې تر توحيده
که پيشوا کړې همتر خضر همتر الياس (٤)

وارې زهر وقاتل نغړی که پوهيږې
که سيوالې خدايه نغړی هر انفاس

امر دادی چې له نهي لاس کوتاه کړې
اوکه نه وی خپسر وګنه مواس (۵)

خير دادی چې له شره وجار وځې
په دا چارو کې هيڅ نشته کوز وپاس (۶)

که زما ويل دروغ يا کوز وپاس وی
ته پخپله په خپل زړه وکړه قياس (۷)

له سره يه غرض وارې سړی توب دی
نه چې پټ وی دسروزر وپه لباس (۸)

خه په دا به عراقي او ترکي نه شي
که په خړه باندې خوک سوزشي که په آس (۹)

---

(۱) په قلمي نسخو کې "په هرطور" راغلی دی.

(۲) د "پ" په لومړی نسخه کې "دوب يم" راغلی دی.

(۳) دا بيت په "ق ،ک" چاپ ، اود "خ" په لومړی نسخه کې نشته ، په نورو چاپي ديوانونو کې دغسې دی :
"هسې رنګ په مذبذب صفت موصوف شوی  نه پوهيږم چې ناس يې که خناس".
د "پ" په لومړی نسخه کې يې دومره بدلون کړی دی : "چې هيڅ نه پوهيږم ناس يې که خناس"

(٤) له دې بيت نه وروسته بيتونه په "ق ،ک" چاپ کې نشته.

(۵) د "خ" په لومړی نسخه کې دا بيت نشته.

(۶) د "خ" لومړی نسخه : "امر دادی چې له نهی وجار وزې  په دا چارې کې هيڅ نشته کوز وپاس".

(۷) د پيښور چاپي ديوانونه او قلمي نسخې : "ته پخپله په خپل زړه کې وکړه قياس".

(۸) د "خ" لومړی نسخه : "له سره يه غرض وارې سړی خوی دی  نه چې پټ وی زرد مسو په لباس".
د "پ" لومړی نسخه : "له سره يه غرض وارې سړی هوس دی  نه چې پټ وی مس دنر وپه لباس".
د "پ پ" چاپ : "که سړی يې غرض وارې سړی هوش کا  نه چې پټ وی د سروزر وپه لباس".

(۹) د "خ" لومړی نسخه : "که دخړه په سرسړی وی د آس".
د "پ" په لومړی نسخه او "خ" په دوهمه نسخه کې : "که دخړه پوسر سړی کړی د آس".
مصوره نسخه : "که دخړه په سر سړی سوزشی که د آس".

دتشنه خوله اوبوسره مطلب وي — نه تش اپښی بې اوبو د زروطاس[1]
هر زاهد چې په ریا زهد نازبن ي — د خربښت گومان يې کړي په اماس
دا زما عاجزامید دی که رب کاندي — په قیامت به مې شفیع شي خیرالناس[2]

٩٠ — اې رب تاله نه ګه څه کاردی خو دین دی[3] — ١١٤٥
نو هر کارونه بې وفا دي بې اساس

تېر شو درست عمر زما په داهوس — که مې وپوښتې چې څوک يې یا څه کس[4]
یو پرسش د هغه یار مالره بس کا — چې څه کس وي خو يې یوه وینا وي بس[5]
هزار حیف دی چې په هر نفس تري تښتم — هغه لورته چې مې تله دي هر نفس
چې يې زه په هر نفس له خدایه غواړم — هغه کله کله وینم په د بر پس[6]
که یو خس وي په محتاج و لکه کروړشي[7] — خدای دې نه کا څوک محتاج دیوه خس
هر مرغه په خپله جاله کې همای دی — که کا رغه که مښګیرك دی که ققنس
که شهباز لره سینه ده د تنزري — عنکبوت لره سینه ده د مګس[8]
خو چې خاورو لره ورشي برابر شي — که چا غوندی وي اغوستی که اطلس[9]

٩١ — هم هغه يې ژړوي چې خندوي يې[10] — ١١٥٤
نور څوک نشته د رنځ فریاد رس

که څوک فخر کا په ننګ او په ناموس — دا په عشق کې نه ارزي یو فلوس[11]
که اغوستی يې زري جامې وي خه شو — گنه یا مرغ زرین دی یا طاؤس[12]

---

(١) د "پ" لومړی نسخې : " نه تش بې اوبو د سیمو زروطاس".
مصوره نسخه : " نه چې تش کهتوری د سیم وزروطاس".
(٢) دا بیت د "ق" چاپ نه نقل شو.
(٣) د "خ" په نسخو کې د "دین" پر ځای "خدای" راغلی دی.
(٤) دا غزل په "ق ،ک" چاپ کې نشته.
(٥) "پ" چاپ : " که څه کس وي خو یو وي ورله بس".
د "پ پ" چاپ : " که څه کس وي خو یو وار وي ورله بس".
"ق" چاپ : " که څه کس وي خو یو حرف ورله بس".
د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه : " چې څه کس وي خو هم یو دې دی بس".
د "خ" دوهمه نسخه : " چې څه کس وي خو یو وي دی بس".
(٦) د "خ" لومړی نسخه : " هغه کله دوهمه په د بر پس".
(٧) دا بیت د "خ" په لومړی نسخې کې نشته ، په چاپي دیوانونو کې لومړی مصرع دا ډول ده : " که یو خس وی په محتاج و لکه غرایشی".
(٨) د "خ" لومړی نسخه : " که شهباز لره تا به ده د تنزري عنکبوت لره تا به ده د مګس".
(٩) په "پ" چاپ کې "چا اطلس" ، او د "پ" په لومړی نسخه کې "یا اطلس" راغلی دی.
(١٠) چاپي دیوانونه : "هم هغه مې خندوی چې ژړوي مې بل څوک نشته درځان فریاد رس" او د "پ" په لومړی نسخې کې "نور څه نشته" راغلی دی.
(١١) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته
(١٢) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته ، او لومړی مصرع يې د پیښور په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی ده : " که اغوستی يې نرین لباس وی خه شو".

که یې تاج وي په سر اینبی غزا وشوه — په نظر زما هدهد دی یا خروس (۱)
نه یې فهم اوفراست وي نه یې عِلم — خالی نقش لکه عکس د معکوس (۲)
نه یې مغز نه دانه وي په خرمن کې — عبث هسې په سر لوني واړه بوس (۳)
د مجازله اهله طمع د خیر مه کړه — تامي شر او شدت دی دا لوس (٤)
ودانۍ یې همه واړه ویراني ده — راشه وګوره مانۍ د کیکاوس (٥)
که زما په ګفتګوی کې زیات و کم وي — څوك دې ګډ کا په دا ښهر کې جاسوس (٦)
ساقي جام اوباده راوړه چې بې خود شم — خدای څوك مه کړه په خودۍ کې محبوس (۷)
که څوك وغواړي تمامه دنیا واړه — زما یار غوندې به نه وي بل عروس (۸)

۹۲ — ۱۱۶۵

لان حسن د یار وینم په پرده کې (۹)
نه پتیږي نور د شمع په فانوس

---



که له څمکې و آسمان ته خاته ګران دی (۱۱) — چې جهان واړه غلام دی د اخلاص (۱۰)
وړه څه بلند مقام دی د اخلاص — د اسفر په یوه ګام دی د اخلاص

---

(۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. (۲) دا بیت په مصوره نسخه اود "پ" په مخلطه نسخه کې نشته، لومړی مسري یې په "پ" چاپ کې دا ډول راغلی ده: " نه یې فهم فراست دی نه یې عقل". او د "پ پ" چاپ کې دا ډول راغلی ده: "نه یې نقش او فراست دی نه یې عقل".
(۳) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، دوهمه مسري یې په "پ" چاپ کې دا ډول ده: "عبث هسې خالی لونی په سر بوس".
(٤) دا بیت په مصوره نسخه اود "پ" په مخلطه نسخه کې نشته، د "پ پ" چاپ کې دا بیت دا ډول راغلی دی:
" د مجاز له یاره طمع د خیر مه کړه — تامی شر او شدت دی یا سالوس"
د "پ" لومړی نسخه "د مجاز له یاره طمع د خیر مه کړه — تامی شر او شدت دی له او الوس".
اود "خ" په لومړی نسخه کې یې دا ډول راغلی دی: " د مجاز له اهل دله طمع مه کړه".
(٥) په چاپي دیوانونو کې د "کیکاوس" پر ځای "قیانوس" راغلی دی، او دا بیت په مصوره نسخه اود "پ" په مخلطه نسخه کې نه دی راغلی.
(٦) دا بیت په مصوره نسخه اود "پ" په مخلطه نسخه کې نشته اود دوهمه مسري یې د "خ" په لومړی نسخه کې دا ډول راغلی ده: "څوك دې وکه په دا ښهر کې جاسوس".
(۷) دا بیت د "پ" په مخلطه نسخه کې نه دی راغلی، دا بیت په "پ" چاپ او مصوره نسخه کې دا ډول راغلی دی: " ساقی جام دباده راوړه چې بیخود شم — خدای څوك مه کړه په خودۍ کې محبوس".
په "ق ك" چاپ کې: "ساقی جام دمیو راکړه چې بیخود شم — خدای څوك مه کړه په خودۍ کې محبوس". په "پ پ" چاپ کې: " ساقی جام دمیو راکړه چې بې خود شم ـ خدای دی مه کړه په خودۍ کې محبوس څوك". د "خ" په لومړی نسخه کې لومړی مسری دا ډول راغلی ده: " ساقی جام دبادې راوړه چې په خود شم".
(۸) دا بیت د "پ" په مخلطه نسخه کې نشته، د "خ" په لومړی نسخه کې د "بل عروس" پر ځای "یک عروس" راغلی دی (۹) د پیښور په چاپي دیوانونو اود "خ" په دواړو قلمي نسخو کې دا مسری دا ډول راغلی ده: " رحمان حسن د یار وینم په پرده کې".
(۱۰) غزل په مصوره نسخه کې نشته، په "پ" چاپ اود "پ" په لومړی نسخه کې دا بیت دا ډول راغلی دی: "څه عجب بلند مقام دی د اخلاص — چې جهان واړه امام دی د اخلاص".
اود "پ" په دوهمه نسخه کې د "مقام" پر ځای "مکان" راغلی دی. (۱۱) دا مسری د "خ" په دوهمه نسخه کې دا ډول ده: " له دې څمکې و آسمان ته خاته ګران دی".

چې خبرکا مخلصان له غیبه علمه[1] — دا همه واړه الهام[2] دی د اخلاص

د رواج او رسم عمر مدام نه وي — لکه[3] عمر چې مدام دی د اخلاص

بې اخلاصه د اسلام حلاوت نشته — که اسلام دی خو اسلام دی د اخلاص[4]

څه عجب دی که مستان تر پې چا پېرنا وي — هر ساقي څخه چې جام دی د اخلاص[5]

څه عجب دی که همائي په دام نښلي — هر صیاد څخه چې دام دی د اخلاص

پس له مرګه به دا هر واخلاص نه وي — که اخلاص کړې نن هنګام دی د اخلاص[6]

۹۳ — د [ز] کلام په دا سبب شیرین دی — ۱۱۷٤

چې پې هر کلام ، کلام دی د اخلاص

که ترستوني دې شي ګوټ له جام خاص — هغه دم به شي د غم له شپبو خلاص[7]

تل په سپینه جامه تکی بدلیده شي — ته دا عامي چارې مه کړه خاص الخاص

که دوبي ننګ ځان ته ، یو لقمه کړې — زر به را وړې په تحقیق سره غواص

په لباس به دې آسان په صورت ګران شي — مشکلات به دې اسان شي له اخلاص

که نغمه د محبت په غوږ و واورې — په فلک به شي زهره غوندې رقاص

معنوي صورت پیدا کړه که مېړه یې — فایده څه ده د بوتانو له اشخاص

د بل څیز په خاصیت به هغه ګورې — چې خبر نه وي د مینې له خواص

۹۴ — چې تار چه ور ځینې رخت د مینې نکه — ۱۱۸۲

فهم دا راوسه [ز] مانه له رصاص

که ګوهر د عشق په لاس را ګړې غواص — بیا هاله یې دی له ما سره اخلاص[8]

په کاله به د رقیب غمونه زور شي — که مې یار کاندې حساب له خاص الخاص

---

(۱) دا مصرې په چاپي دیوانونو او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : " چې خبر کا مخلصان له علم غیبه ".

(۲) د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې " اعلام " راغلی دی .

(۳) په قلمي نسخو کې "ګکه" راغلی دی .

(٤) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته . په چاپي دیوانونو کې یې لومړۍ مصرې داسې ده : " بې اخلاصه حلاوت د اسلام نشته ".
او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده : " بې اسلامه د اخلاص حلاوت نشته ".

(۵) دا بیت د "پ" په دواړو نسخو او د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته او لومړۍ مصرې یې په "پ" چاپ کې داسې ده : " څه عجب دی که مستان وی تر پې چا پېره ". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده : " څه عجب دی که مستي یې دی له جوړه ".

(٦) دا بیت د "ق ،ک" چاپ او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته خو لومړۍ مصرې یې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده : " پس له مرګه چې دا هر اخلاص نه دي .

(۷) دا غزل یوازې او یوازې د "خ" په دوهمه نسخه کې راغلی دی ، په نورو قلمي نسخو او چاپي دیوانونو کې نشته .

(۸) دا دوا ره یوازې او یوازې د "خ" په دوهمه نسخه کې راغلی دی ، په نورو قلمي نسخو او چاپي دیوانونو کې نشته .

پەکمند دمستي مينې دخوبانو — بندي مەکړې خدای دحشرە پورې خلاص
پەلاچ باندې نظر دکرم وکړې — ای چې يې د پاک الله پە دربار خاص

٩٥ — ١١٨٦

ساقي راکړە تە وماتە جام درقص — زە آرزو پە زړە لرم مدام درقص
دە وې اوس بە دخوښۍ ساعت پە تاشي — مغنی راکړ وما پيغام درقص
مسقي(١) علم خپل استاد راتە تعليم کړ — رانمايي کړ هر تار مقام درقص
سرې پاس ترڅە فلکە څرګندېږي — چې پە چاوشي ارشاد اعلام درقص
چې جلوە پرې د محبوب لە لورې کېږي — هرګز نشتە پە هغە اشام درقص
لياقت يې هر وګړي څخە نشتە — پە لايقو باندې وي انعام درقص

٩٦ — ١١٩٣

خوبې سا پە وجود نشتە عبدالرحمانە
حقيقت بە هومبړې نە کە تام درقص

---

# ض

٩٧ — ١١٩٩

کلە تە نە کړې پە بل چا باندې غرض — بل بە هم نە کا پە تا باندې غرض(٢)
کە ګدای دبل پە غولي غرض(٣) نە کړي — سپی بە نە کا پە ګدا باندې غرض
پە ساحل کشتی دهيڅا نە دوبيږي — کە څوک نە کا پە دريا باندې غرض
خلوتيان پە خپل خلوت کې فراغت دي — درسوا دی پە رسوا باندې غرض
دا دنيا پە احمقانو ودانە — دا فانە کا پە دنيا باندې غرض
زە ځان دعشق پە درد کې هسې خوښ يم(٤) — چې مې نشتە پە دوا باندې غرض(٥)

---

(١) پە اصل نسخه کې پە هدې ډول ليکل شوی دی : (٢) دا غزل پە مصورە نسخه کې نشتە ، دوهمه مسری يې پە "پ" "چاپ او "ق" "چاپ" کې داسې راغلی دی : "بل پە هم نە کا پە تا باندې غرض".
(٣) د "خ" پە لومړی نسخه او د "پ" پە دوهمه نسخه کې "ګدا" راغلی دی. (٤) دا مسری د "خ" پە لومړی نسخه کې داسې دی : "زە ځان بە دانا کام کوم تو قومه". (٥) دا مسری د "خ" پە دوهمه نسخه کې داسې دی : "چې مې نشتە پە بل چا باندې غرض".

په دربار کومه سنګلي ډله بر عرض — په هر دم په هر ساعت مقرر عرض[1]
که قبول شي د مولا په پاك دربار کې — دا په روی د شاه نبی پیغمبر عرض
په مانند د ګړیال په پنځه وخته — په شورش د غه له خوف د سفر عرض
بې خاوند کار (و) کله څه کیږي — څه که کار ته همیشه که قلندر عرض

۹۸ — دا ډاډ بې نبي کله درځښتن ته — ۱۲۰۴
شوی کولی د بل کار سراسر عرض

که مې یار په دیدن سر غواړي عوض — و رقربان شه چې دلبر غواړي عوض
چې هستي واړه نیستي کاندي واصل شي — ګند کچکول دې قلندر غواړي عوض
د دوهمې په اوربه څه خاجت موقوف وي — عاشقي ترې خاکستر غواړي عوض
خپل صورت ورته بافه کړه ته د مشکو — یار مجنون لره عنبر غواړي عوض
دلباس له سنګلیو طمع بوسه مه کړه — د بوسې په درکړه زر غواړي عوض
د دې دهر له تګې وبړه وکړه — د کمتری په ځای بهتر غواړي عوض
د عشق درخه په اسانه لوسته نه شي — په داځای کې زیر و زور غواړي عوض

۹۹ — په یو ځله به تر ې خلاص نه شې ګمانه — ۱۲۱۲
سر و مال دې مقرر غواړي عوض



مع مه کړه په دنیا کې د نشاط — بیا به نه مومې نشاط په دا بساط[2]
لکه راغله بیا به هسې ځنې درومې — دا جهان دی د هر ویو یو رباط[3]
تر هر ګام لاندې کوهی دی د دې دهر — اینبی بویه هر قدم په احتیاط

(۱) دا دوارم غزلی د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شوی.
(۲) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته.
(۳) دا بیت په چاپی دیوانونو او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "لکه راغلې بیا به هسې ځنی درومې  دا جهان د هر دانو دی رباط".

وداناوته په داجهان سنکارپږي — هم جنت اوهم دوزخ اوهم صراط
په عاشق به هیڅ دهشت درقیبانه وُ — که یې نه کړی له خوبانو اختلاط
له کم ذات بې دیانته بې نمازه — طمعه مه کړه دنیکی دیوقیراط[1]

١٠٠ — غم دترکو تررواج هسې چاپېرشو[2]
١٢١٩ — لکه وسکنې جامه په چاخیاط

نن نگار وماته راکړ دیاری خط — وې یې واخله دامې دی دلدارۍ خط[3]
دغمازله دوراهی تراهي وکړه — ځای به بایاې دمکار په جواری خط
چېرې نه وې چې یې خېرې په غفلت کړې — تل یې لوله په تمیز په هوښیاری خط
په مدت سره به ستا انجام ته رسي — اسان کله دی داستاد دیاری خط
دغفلت له خوبه پاڅه بیله ږي کړه — تل وتاته سپارلی دبیلارۍ خط
برابر دخط په حکم قدم کېږده — که ته غواړې په عقبیٰ دنامالارۍ خط

١٠١ — له میزانه که امان غواړې رحمانه
١٢٢٦ — تل خولوله په پرعجز په زاری خط

---

(٤)
ومه کله دي، پاڅه وایي واعظ — هرچې وایي واړه سنه وایي واعظ
چې دی مالهخیله یاره لرې باسي — نور به څه ورته اومه وایي واعظ[5]
جاروانه زمالهیاره پرمشکل دي — زیاتي څله دوباره وایي واعظ

---

(١) دابیت د "پ" په دوارو نسخو اود "خ" په لومړی نسخه کی نشته اولومړی مسری یې دپښور په چاپی دیوانونو کی دهی راغلی ده:
"له کم اصله بی دیانته بی نمازه" اود "خ" په دوهمه نسخه کی دامسری دهی ده: "له کم اصلو بی دیانتو بی نمازو"

(٢) دمسری په "ق، ک" چاپ کی دهی ده "غم دترکو درحمان هسې چاپېر دی". (٣) داغزل د "خ" له دوهمی نسخی نه نقل شو. (٤) داغزل په مصوره نسخه "پ" په دوارو نسخو اود "خ" په لومړی نسخه کی نشته. (٥) دابیت په "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کی دهی راغلی دی. "دی چې مالهخیله یاړه لرې باسی نور به څه درته اومه وایي واعظ". د "خ" په دوهمه نسخه کی دهی دی: "چې ته مالهخیله یاړه لرې باسی زه به څه درته وایم وایي واعظ".

په خوب ولاستو خبرو يې غلط شوې (١)*
خوك به څه باور دده په نصيحت كا
زه بې عشقه بل يو كار كولى نه شم
اعتبار يې په نرمۍ په گرمۍ مه كړه (٢)
اوږد ونكى يې ط ح ن د ويل نه يم (٣)
بهتر دادى چې نور نه والي واعظ

١٠٢

١٢٣٤

داخواږه خواږه تراخه والي واعظ
چې له يارې جار واته والي واعظ
د پرله عشقه تښتيده والي واعظ
داتاوده تاوده سارې والي واعظ

بلبلان كه له گلزاره مومي حظ
زه د عشق له تاوده اوره بهره مند يم
د چمن غوټې واذ سحر باد كا
په طلب يې نفع مند شوم له هرچا نه
مجنون بيامونده خوښې په بيابان كې
څوچې ملك د جهان زير و قدم نكا
شگفته چې د غونچې غوندې سحروي
په سبنډل د سر مې سر د وصل بيامونده

مشتاقان له خپله يارې مومي حظ (٤)
سمندر له سره انگارې مومي حظ
عاشقان خو له ريبارې مومي حظ
تل سنگاري له خپله سنگارې مومي حظ
هر منصور له تيرې دارې مومي حظ
په خپل ځاى به څوك قرارې مومي حظ
هغه ژمى به بې شمارې مومي حظ
وپاري تل له وپارې مومي حظ

١٠٣

١١٤٣

چې نيولى يې خپل ځان د غم واورته
ز ما ح څكه له انوارې مومي حظ

له تندې چې آتش بل كړه مدام شمع
څكه بيامونده له خلقو اكرام (٥) شمع (٦)
په انوارې چې منور اهل ابصار شو (٧)
لا به كله شي سنگاره د انعام شمع

* . د دې مخ د متن پايليكونه دى په (٧٨) مخ كى ولوستل شي .

پتنګان يې لوړپه لوړتر مخ خرخيږي (۱)
وسيزه ته ځان زما په شعله باندې

ځکه (۲) نه کوي په سول کې آرام شمع
کړه پتنګ ته په رموز کې کلام شمع (۳)

۱۰۴ ستا مجلس د خاصو خا صو (٤) سرفرازو
د رحمان په څېر نه مومي هرعام شمع ۱۲٤۸

ګله دې پرې کړه له وګرېو رښتيا طمع
زړې رنګ د آشنايۍ مبدل شي

نور بادشاه يې هرګز مه کړه له چا طمع (٥)
پيدا مه شه د اشنا له اشنا طمع

چې له سنګلیو دې دهر وفا غواړي
چې مراد غواړي د زړه له همرويانو

دنادان په څېر يې شي د کيميا طمع
ستا په دام کې نيوای شي د عنقا طمع

خدای د عقل جواهر ورته بخښلي
ځکه سپی د فقير پښې اولمن نيسي

له نادانو به څه شان کا د انا طمع
چې د خدای له دره پرې کا ګدا طمع

۱۰۵ له دغه رنځ يې طاعون، تبه لهتردی
ای رحمانه خدای دې مه کړه پيدا طمع ۱۲۵۵

ستا په نظر زما همای دی ستا د باغ وډبن زاغ (۷)
ستا د باغ وډبن زاغ په نظر زما همای دی
ستا د باغ هر يو ګل دی روشن تردی تر چراغ (۶)
روشن تردی تر چراغ هر يو ګل دی ستا د باغ

---

(۱) د پښور چاپي ديوانونه اود "پ" لومړی نسخه : پتنګان دی لوړ په لوړ تر مخ خرخيږي". د "خ" دوهمه نسخه : "پتنګان يې لوړ په لوړ تر مخ تيريږي". (۲) "ق،ک" چاپ کې "هغه نه کوی" راغلی دی. (۳) دابيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی په عوض يې دابيت راغلی دی: "لوړ د لوړه جهان وايه که دوښمانه چې شی بله په هرځای په مقام شمع".
(٤) د "خ" په دوهمه نسخه ، "پ" چاپ او "ق،ک" چاپ کې د "خاصوخاصو" پر ځای "خاص الخاصو" راغلی دی.
(٥) داغزل د "خ" له دوهمې قلمی نسخې نه نقل شو.
(۶) داغزل په مصوره نسخه کې نشته (۷) دابيت په قلمی نسخو کې دې ډول راغلی دی "ستا د باغ وډبن زاغ په نظر زما همای دی
اود "پ-پ" چاپ کې د "همای دی" پر ځای "همای ده" راغلی ده. په نظر زما همای دی ستا د باغ وډبن زاغ".

د (۷۷) مخ د متن مربوط پاڼليکونه :-
(۱) دامړی د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : "په خوږو پستو خبرو خلط مه شه". (۲) دامړی په چاپي ديوانونو اود "پ" په لومړی نسخه کې داسې ده : "اعتبار يې دښمنه والي په ګڼه مه کړه". اود "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : "اعتبار د نړۍ په ګڼه مه کړه". (۳) دامړی د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : "اوريدونې يې د چا ان دوبل نه دی".
(٤) داغزل د "خ" له دوهمې قلمی نسخې نه نقل شو. (٥) په "پ" چاپ کې "آرام" راغلی دی (۶) داغزل په مصوره نسخه ، د "پ" په دواړو نسخو اود "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(۷) دامړی د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : "په انوار دې منور اهل ابصار شوه".

د درد منو په دماغ ستاد درخاورې عنبرۍ
ستاد درخاورې عنبرۍ د درد منو په دماغ

د عاشق د تېرداغ په آسمان د عشق آفتاب دی
په آسمان د عشق آفتاب دی د عاشق د تېرداغ (۱)

د دماغ د زړه فراغ نه شي نه شي بې خوبانو (۲)
نه شي نه شي بې خوبانو د رحمان د زړه فراغ







ورنګ زیب او شاهجهان غوندې اشراف
صدقه شه ترمنصور غوندې نداف (۳)

که دې تن په لوېي لوی دبه يې خه کړې (۴)
مه کړه خدای چې کوه طور شي کوه قاف

بوالهوس دې عاشقي ته هوس نه کا
دا دروغ دی چې زرد وزشي بوریاباف (۵)

دمکې په بزرګۍ کې هیڅ شک نشته (۶)
ولې خربه حاجي نشي په طواف (۷)

که په سل دریاب غسل دځان وکا (۸)
ګومان مه کړه چې به سپی شي پاک وصاف

کشتي هم چې پرې ډکه شي په وبیړي
د مسرف بلا په ځان شي خپل اسراف (۹)

صابر انو صبر پرې بنو د حریصان شول
نه څه عدل شته په ځان کې نه انصاف (۱۰)

---

(۱) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "د عاشق د تېرداغ په اسمان باندې افتاب دی په اسمان باندې افتاب دی بل د عاشق د تېرداغ".

(۲) د "خ" لومړۍ نسخه: "د رحمان د زړه فراغ به به نه شي بې خوبانو - به به نه شي بې خوبانو د رحمان د زړه فراغ".
د "خ" دوهمه نسخه: "د رحمان د زړه فراغ نه شي بې خو با نو - نه شي بې خوبانو د رحمان د زړه فراغ".

(۳) دا غزل په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.

(۴) په چاپي دیوانونو کې: "که يې تن په لوېي لوی وی ته به يې خه کړې".
په "پ" چاپ کې داسې دی: "که دې تن په لوېي لوی دی ته يې خه کړې".
د "خ" لومړۍ نسخه: "که دې تن په لوېي وه دی به يې خه کړې".
د "خ" دوهمه نسخه: "که دې تن په لوېي لوی وی ته به يې خه کړې".

(۵) د "خ" لومړۍ نسخه: "بوالهوس دې عاشقي ته نظر نه کا دا دروغ چې زور وزشي بوریاباف".

(۶) د "خ" لومړۍ نسخې کې داسې دی: "دمکې په بزرګۍ کې شک نشته".

(۷) د "پ" لومړۍ قلمي نسخه: "ولې خربې حاجي نشي په طواف".

(۸) د "پ" په نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې: "که په سلو دریاب غسل دځان وکا".

(۹) د "پ" لومړۍ مصورې نسخې په نورو قولونو کې مسرف دی او: د مسرف به ځان بلا شه خپل اسراف.

(۱۰) په لومړۍ مصورې نسخې په نورو قولونو کې مسرف دی او: "نه څه عدل شته به ځان کې نه انصاف".

داخلورمذهبه واړه سره ليو دي (١)
ماوتا پکې پيدا کړا اختلاف

دهمه واړه وملکونو خښتن يو دی (٢)
که دوزخ دی که جنت دی که اعراف

شهيدان نه دي هغه خون فروشان دي (٣)
که (٤) خوني ته خون بهانه کا معاف

دکاذب ژبه په خوله کې وچه نښه ده
لکه توره دلرګيو يه غلاف (٥)

ددپوال په سر به خوځلي ترکومه
دروغژن چې په دروغه کاندي لاف (٦)

آب وتاب دناکړه مهروي خومره
خونظر پرې شوی نه دی دصراف (٧)

ددنيا په دولت ناز مکړه رحمانه
دايموی دی په نظر دموی شګاف (٨)

مدحه اوهجوه دحبيب اودرقيب کړم (٩)
ن نه زده بله هجوه بله لاف





---



چې پای بند شو دليلی په اشتياق
مجنون واچاوه (١٠) ونوروته طلاق

چې دمیو دمطرب په خوند خبر شو (١١)
فراموش کړه صوفي نفل داشراق

جام دمیودی يا رقص دخوبانو
په هرځای چې وبله جمع شي عشاق (١٢)

په نسیاؤ نظر نه کاندي بې نقده (١٣)
که څوک حوري ورته ستايي که براق

چې حاصله ددلبريګانګي شي (١٤)
ددويله خبرې نه کاندي مشتاق

---

(١) په چاپي ديوانونو اود "خ" په دوهمه نسخه کې دامسرې داسې ده: " داخلورواړه مذهبه سره يو دی ".
(٢) دامسرې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: " داهمه واړه ملکونه دخښتن دی. او په درې واړو چاپي ديوانونو کې د "يودی" پرځای "خدای دی" راغلی دی.
(٣) د "پ" لومړۍ نسخه: " شهيدان نه دی هغه خود فروشان دی ". د "خ" لومړۍ نسخه: " شهيدان نه دي هغه خود خون فروشان دي " اود "خ" دوهمه نسخه: " شهيدان نه دی هغه واړه خون فروشان دی ".
(٤) د "پ" له لومړۍ نسخې نه پرته په نورو متولوکې د "که" پرځای "چې" راغلی دی.
(٥) په چاپي ديوانونو کې داسې ده: " ګله توره دلرګی وی په علاف ". (٦) په "پ" چاپ کې دامسرې داسې ده: " دروغژن چې به دروغو وهلی لاف ". د "ق، ک" چاپ اود "خ" په لومړۍ نسخه کې دامسرې داسې ده: " دروغژن به په دروغو کاندی لاف " (٧) دابيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته دی بيت لومړۍ مسرې د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: " آب وتاب دناسره مهر وی هومره " ، د "پ پ" چاپ کې داسې راغلی ده: " آب وتاب دناکرده مهروی هومره ". اود "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده " آب وتاب دناسره مهروخوی هومره ". ( دپاڼليک پاتې په ٨١ مخ کې )

حرکت له ځایه نه کالکه شمع — کړي اوږد عشق[1] بلبې په تاراق[2]
هسې خوښ وي د خپل یار په درد وغم کې — ته به والې چې بادشاه دی د آفاق
هسې محوه وي د عشق په میوناب کې[3] — چې خبر نه وي په وصل[4] په فراق
لاظاهر په صورت وي په معنی نه وي — لکه کښلی د "لا" لفظ وي په اوراق[5]
څوپې تن په کارو[6] زارکې فنا نه شي — نه ځار باسي مخ آسونه د عراق
د عراق آسونه کار په اشارت کا — په کوتل په وهل کار کوي اولاق[7]
چې خدای پوه کړ[8] د بنو په ځنبل پوه شو — چې پوه نه شو نه پوهیږي په شلاق
کړي سرځي کړي مال ځي خدای دې نه کا[9] — د طالب اود مطلوب ترمیان نفاق
د قسمت پاسي[10] په لاس نیولی ناست یم — نه پوهیږم چې به جفت شي که به طاق

ته چې پند وایې ناصحه و روا[11] ته — ۱۰۸
کاشکې نور کړې هغه کښلی د میثاق[12] — ۱۲۹۰

---

د (۸۰) مخ د پاڼیک پاته :

(۸) د دې بیت لومړی مصرع د "خ" په لومړنۍ نسخه کې داسې ده : "په دنیا او په دولت نازمدکړه رحمانه"
په "پ" چاپ او "ق،ک" چاپ اود "پ" په دوهمه نسخه کې "موشکاف" راغلی دی.

(۹) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته خو دا بیت په "پ" چاپ او "ق،ک" چاپ کې داسې دی: {"مدح وهجو د حبیب و د رقیب کړم / رحمان نه زده بله هجو نوز اوصاف".

د "پ پ" چاپ کې دوهمه مصرع داسې ده : " د رحمان نه زده بله هجوه بل اوصاف".
د "خ" په لومړنۍ نسخه کې دا بیت داسې راغلی دی : "مدح خوبه د رقیب و د حبیب کړم / رحمان نه زده بل سخن و بل اوصاف".

(۱۰) دا مصرع په "ق،ک" چاپ کې داسې ده : "مجنون واچوه لوز و بنځو ته طلاق". د "پ" په نسخو اود "خ" په لومړنۍ نسخه کې "واچول" راغلی دی.

(۱۱) "پ" چاپ : چې د محبه ود طرب په خوند خبر شه". د "خ" لومړنۍ نسخه : "چې د میو د مطرب له خوند خبر شه".

(۱۲) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته د دوهمې مصرع د "وبلد" پرځای، په "ق،ک" چاپ کې "سره" اود "خ" په لومړنۍ نسخه کې "خپله" راغلی دی.

(۱۳) د "خ" په دوارو نسخو کې "نقد و" راغلی دی.

(۱۴) د "پ" لومړنۍ نسخه : "چې حاصلې یې د دلبرو یې گانگی شی". په "ق،ک" چاپ اود "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : "چې حاصله یې د دلبر یې گانگی شی". د "خ" لومړنۍ نسخه کې داسې ده : "چې حاصل یې گانگی شی د دلبرو" او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : "چې حاصل یې یکا یکی شی د دلبرو".

---

(۱) په چاپې دیوانونو کې د "عشق" پرځای "په سر" راغلی دی.

(۲) په "ق،ک" چاپ کې "براق"، د "خ" په دوهمه نسخه کې "په تاراق"، اود "پ" په دوهمه نسخه کې "بلاق" دی.

(۳) د "خ" لومړۍ اود "پ" په دوهمه نسخه کې دا مصرع داسې ده : "هسې محوه دی د عشق په میونابو".

(۴) د "خ" په لومړنۍ نسخه کې "وی" راغلی دی.

(۵) دا بیت په "پ" چاپ، "ق،ک" چاپ اود "پ" په دوهمه نسخه کې داسې دی : "که ظاهر په صورت وی په معنی نه وی لکه کښلی د "لا" لفظ وی په اوراق".
په همدې ترتیب یې لومړۍ مصرع په "ق،ک" چاپ اود "خ" لومړنۍ نسخه او مصوره نسخه کې په لوړنۍ بدول راغلی ده. لومړۍ مصرع یې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده :
"د اظاهر په صورت وی په معنی نه وی". او په "ق،ک" چاپ کې یې دوهمه مصرع داسې راغلی ده : "لکه لیک وی د "لا" لفظ په اوراق".

(۶) د "پ" په دوهمه نسخه کې "کاروبار" راغلی دی. (۷) دا بیت په مصوره نسخه کې نه دی راغلی، دوهمه مصرع یې په "پ" چاپ او "پ پ" چاپ کې داسې راغلی ده : "په وهل په کوتل کار وی دا ایلاق". په "ق،ک" چاپ کې داسې ده : "په وهل په ملښکل کار وی دا ایلاق". د "خ" په لومړنۍ نسخه کې داسې ده : "په وهلو په کوتلو کار وی دا لاق". اولنۍ مصرع بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی : "د عراق کار نه کار په اشارت کا په وهل په کوتل کار وی د علاق".

(۸) دا بیت د "خ" په لومړنۍ نسخه کې نشته په لومړۍ مصرع کې یې د "پوه کړه" او په چاپې دیوانونو کې "پوه کړل" راغلی دی. (۹) دا مصرع د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : "که یې سرځی که یې مال دی خدای دې نه کا". په چاپې دیوانونو کې دې بیت د دوهمې مصرع د "میان" په ځای "منځ" راغلی دی. (۱۰) په "پ" چاپ او "پ پ" چاپ کې "پارچې" او "ق،ک" چاپ کې "بازی" راغلی دی. (۱۱) دا مصرع په مصوره نسخه اود "خ" په لومړنۍ نسخه کې داسې ده : "کاشکې نور کړې هغه شوی د میثاق".

خدایه خه شوه هغه سنګلي سنګلي خلق
په ظاهر په باطن سپین سپیڅلي خلق

هیڅ خندا مې له دې خلقه سره نه شي
ژړوي مې هغه تللي تللي خلق

خبر نه یم چې وکومې خواته لاړ شوه
لیده نه شي هغه مالیدلي خلق

لکه ځګ چې داوبو په مخکې دومي(1)
هسې دومي په جهان راغلي خلق

دریغه یو ځله خوبیا په جهان راغلی
له جهانه په ارمان وتلي خلق

هزار حیف دی چې په خاورو کې لاړه شي(2)
په چوواو په چندن لړلي خلق

١٠٩

واځ هسې ګومنه خوند له خلقه بیاموند
چې هرګز نه دی داخوند موندلي خلق

١٢٩٧



ځې په زړه مې تور لحد شي ډیر ځایګ
بلې مزې شي هم مې خوب هم مې خوراک

چې د خوب او د خوراک مزه شي ورکه
نو له مرګه برابر شي هغه ژوند

غلط وایي چې څوک عمر ورته وایي
هغه عمر چې تیریږي په پخسانک

نن سپیره په خاورو کې خوله جوړیم
چې آخر مې دا خوراک دی دا پوشاک

ځای لري که ځان ژوندی په ځمکه خښ کړم
چې مې پس له مرګه ځای دی یو مغاک

ګویا شوي دي هغه چې شدني دي
زه پخوا تر هلاکت یمه هلاک

زړه چې روغ وي ګریوان کله څیراوه شي
له ګریوانه معلومیږي د زړه چاک

تن وځای وجامه پاک هله په کار دي(3)
چې دومبی شي د چا زړه له غیره پاک

سړی بویه چې درون بیرون یې یو وي
نو هغه چې بیرون زړوي درون لاک

---

(1) د "پ" لومړی نسخه ، د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه : " لکه نغر چې داوبو په زمله دومي ". او د "خ" دویمه نسخه : " لکه نغر چې داوبو په هغه کې دومي ".

(2) په " ق " چاپ کې " ګنده " راغلی دی.

(3) " ق " چاپ او " ق ، ک " چاپ : " تن وځای وجامه کله په کار پیږي ". د "خ" لومړی نسخه : " تن وځای جامه هاله د چا په کار وي ".

له سرپه غرض واړه سرېتوب[1] دی — که په سرکې يې طره وي يا مسواک
د دنيا چاري همه واړه فاني دي — خوک يو دوه ورځې خوشحال وي خوک غمناک
په ساعت کې خوک خوشحال کا خوک ملال کا — دا خو يونه لرغوني دي د افلاک[2]

۱۱۰ چې څه کاندې واړه خداى دى نور خوک نشته
۱۳۱۰ همان څه دى خدې واک دى خداى درک[3]

ماتوي مې خوله په سوک — خراشي مې زړه په نوک[4]
که ناري وهم که ژاړم — پروا نه لري[5] يوچوک
راشئ کورئ منصفانو — د دلبرو دا سلوک
لکه گل په لاس د طفل — زما زړه کا شوک په شوک[6]
د چشمانو په غمزه سې — ژوبل ژوبلېم ټوک ټوک
په توسن د فلک سورشي — دستارک پرې دي په سرهوک
هېڅ اثر ورباندې نه کا — د درد مې د درد و د داوک[7]

۱۱۱ ۱۳۱۸ ای رحمانه چې عاشق شي
خان دې ژاړي کوک په کوک

زړه مې تراشي د بنو په تېره نوک[8] — ماته وي مې د ودېرش غابښ واړه په سوک
په غمزو د تورو سترگو يم ورژلی[9] — ژوبل ژوبل پرې وکې يم ټوک ټوک[10]
که ناري هم که خاورې په سرلوم[11] — نارواشه که پروا لري يوچوک[12]
لکه گل چې خوک د طفل په لاس ورکا — هسې رنگ دې زما زړه کړ شوک په شوک[13]

---

(۱) په "پ" چاپ او قلمي نسخو کې "سرې هوښه" راغلی دی.
(۲) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته په چاپي ديوانونو کې وهی دی: "په ساعت کې خوک خوشال کا خوک غمناک کا داخو يونه هميشه دي د افلاک".
(۳) د "خ" دوهمه نسخه: "چې څه کاندې واړه خداى کاندې رحمانه سرې خه دى خدې واک خداى درک".
(٤) دا غزل د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته.
(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "لرم" راغلی دی.
(۶) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "زما زړه يې کړو شوک په شوک".
(۷) د "خ" په دوهمه نسخه کې "د زړو دوک" راغلی دی.
(۸) دا غزل د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته، او د پښتو "ق، ک" چاپ کې د "نوک" پر ځای "خوک" راغلی دی.
(۹) د "پ" لومړۍ نسخه کې: "په غمزو د تورو سترگو مې ورژلی". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې په دې شکل ده: "په غمزو د تورو زلفو مې ورژلی".
(۱۰) دا مصرع په "پ" چاپ کې داسې ده: "ژوبل ژوبل وکې پرې م ټوک ټوک".
(۱۱) د "پ، پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "نولم" راغلی دی.
(۱۲) په "پ" نسخو او د "خ" په لومړۍ او مصوره نسخه کې "خوک" راغلی دی.
(۱۳) د "پ" لومړۍ نسخه: "هسې رنگه زما زړه کا شوک په شوک". "ق، ک" چاپ: "هسې رنگه دې زما زړه کړو شوک شوک". د "ق" چاپ: "هسې رنگه دې کړ زړه زما شوک شوک". او د "خ" دوهمه نسخه: "هسې رنگ يې زما زړه کړ شوک په شوک".

١١٢

که له ډېره درد وغمه مې زړه وچوي — ورته هېڅ دي زما دردو زما د وا ک[1]
درست جهان يې په غم ډوب کړ سرتر پايه[2] — که ګدای دی د دې دهر که مالوک
د آسمان په نيلي سورلکه آفتاب شي — د زرېفتو دستار کېږدي په سرهوک
که انصاف لرئ په زړه کې منصفانو[3] — راشئ ګورئ د دلبر و دا سلوک
زه به و لې د خپل يار ثنا نه وايم — چې سحر سحر نارې وهي تل غوک[4]
چې عاشق د دلبرانو په جمال شي[5]
ای رحمانه ځان دې ژاړي کوک په کوک

١٣٢٨

چې علاج کولی نه شي د قسمت خوک — تر وبه څه وايي وچاته نصيحت خوک[6]
هغه چارې چې موقوفې په تقدير دي[7] — کړی يې نه شي په محنت په مشقت خوک
که نظر کا وقضا وهم رضا ته[8] — په هېڅا باندې دې نه کا ملامت خوک[9]
د مطلوب جفا وفا وا په هنر دی — چې پوهېږي د حکما ؤ د حکمت خوک[10]
غم په ځان دچا پېر زور دی باری څه کا؟[11] — چې د خدای په کړو کې نه لري قدرت خوک[12]
د ابليس وريا ضت نه دې نظر کا — څه غرور کا په طاعت په رياضت خوک[13]
علت لا رشي عادت نه ځي له سړي نه — خدای دې نه کاندي په باره چار عادت خوک[14]

١٣٢٩

١١٣

زه رمان د بېلتانه سېلاب يم وړی
که لاس را کاندي د خدای په محبت خوک

---

(١) دا بيت د "خ" په لومړی نسخو کې نشته . د "خ" په دوهمه نسخه کې يې لومړی مصرع داسې ده : "که له ډېره درد وغمه مې زړه چوي ."
په مصوره نسخه کې داسې ده : " که له ډېره غمه مې زړه چوي".

(٢) دا مصرع د "خ" په لومړی نسخو کې داسې ده : " درست جهان يې سره ډوب کړ سرتر پايه ". او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده :
" درست جهان په غم کې ډوب دی سرتر پايه ".

(٣) دا مصرع په "ق" چاپ کې داسې ده : " که انصاف لرئ په زړه د منصفانو".

(٤) دا بيت د "پ" په لومړی نسخه او د "خ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کې نشته . په "ق ،ک" چاپ کې يې دوهمه مصرع داسې ده :
"چې سحر سحر نارې وهي هم غوک ".

(٥) دا بيت په چاپي ديوانونو کې داسې راغلی دی : " چې مين د دلبرانو په جمال شوی ای رحمانه ځان وژاړه کوک په کوک". او هم په ورسته مصرع د "خ" په لومړی نسخه کې داسې ده : " ای رحمانه ځان وژاړه کوک په کوک".

(٦) دا غزل د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته او دوهمه مصرع يې په "ق ،ک" چاپ کې داسې راغلی ده : " تر وبه څه وايي وما ته نصيحت خوک".

(٧) دا مصرع په "ق ،ک" چاپ او "ق" چاپ کې داسې ده : " هغه چاره چې موقوفه په تقدير وي".

(٨) د "پ" لومړی نسخه : " که نظر کا وقضا و رضا ته". "ق ،ک" چاپ او "ق" چاپ : " که نظر کا هم قضا او هم رضا ته".

(٩) مصوره نسخه او "خ" دواړه نسخې ، "ق ،ک" او "ق" چاپ : " په هېڅا باندې به نه کا ملامت خوک".

(١٠) په ټولو چاپي ديوانونو ، مصوره نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مصرع داسې ده : "څه پوهېږي د حکما ؤ په حکمت خوک".

(١١) دا مصرع په چاپي ديوانونو کې داسې ده : " غم د چا په ځان پېر زور دی باری څه کا". په مصوره نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کې داسې ده : " غم د چا په ځان پېر زور نه دی باری څه کا".

(١٢) د "پ پ" چاپ او "ق ،ک" چاپ کې د " قدرت " پر ځای " طاقت " راغلی دی .

( پاتې په ٨٥ مخ کې )

په سنايست زما د يار نه دي خبر څوك — كه خبر شي پري به نه ږدي دغه در څوك (١)
د دنيا چاري همه واړه فاني دي — نر ناحقه خاوري لوني په خپل سر څوك (٢)
چې قبول شي په درگاه د همرويانو (٣) — دهغه (٤) په څېر به نه وي بخت ور څوك
كه زما د يار په مخ د چا نظر شي — وبه نه كا وبل مخ وته نظر څوك (٥)
كه هر څو د لبران ډېر دي (٦) په جهان كې — بل به نه وي زما يار غوندې دلبر څوك
د ديدن طاقت يې هيڅا څخه نشته — وآفتاب ته كتى نه شي برابر څوك
عاشقي يوه پايه ده عجايبه — دغه كار كولى نه شي هم هر هر څوك (٧)
له هجرانه بله سخته بلا نشته — خداى دې نه كاندي زخمي په دانبستر څوك (٨)
مخ به بل خوا ته هرگز ونه جاړه ياسي — چې شي ستا په خمار وستر گو ابتر څوك
وبه نه رسيږي تا ته په آسانه — ستا په غم چې خاوري نه كاندي په سر څوك
ارمانونه به كوي زار زار به ژاړي (٩) — چې حاصله گونته نه كا په ششدر څوك
هومره نوم د عاشقى ورباندې مه ږده — چې د يار په غم كې نه شي قلندر څوك
هغه نه كاندي نظر وسيم وزرته — چې په لور د خپل آشنا كاندي نظر څوك
په گلونو د گلزار به ميل نه كاندي (١٠) — چې خو بونه كا د يار په خاكستر څوك

---

ل (٨٤) مخ پاته :

(١٣) په "پ" "چاپ"، "پ پ" "چاپ"، "ق" "چاپ"، مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخې كې دا مصرع داسې ده: "چې غرور كا په طاعت په رياضت څوك"
په "ق ك" چاپ كې د "چې" پرځاى "كه" راغلى دى او د "خ" په دوهمه نسخه كې د "رياضت" پرځاى "عبادت" راغلى دى.

(١٤) د "پ" لومړۍ نسخې: "علت لا رشي عادت نه څې له سره يه خداى دې نه كا په بده چاره عادت څوك".
"ق" چاپ: "خداى دې نه كاندي په بد چاره عادت څوك".
په مصوره نسخه كې دوهمه مصرع داسې ده: "خداى دې نه كاندي په بده چاره عادت څوك".
د "خ" په دوهمه نسخه كې نومورې بيت داسې دى: "علت لا رشي له سره نه عادت نه څې ـ خداى دې نه كاندي په بد و چار عادت څوك".

---

(١) داغزل د "پ" په دوهمه نسخه كې نشته.

(٢) د "پ" لومړۍ نسخې: "نر ناحق خاوري خه لوني په سر څوك".
په "ق ك" چاپ كې داسې ده: "نه ناحقه خاوري لوني په خپل سر څوك".
په "ق" چاپ كې: "د دنيا چاري فاني واړه فاني دى نر ناحقه خاوري لوني په خپل سر څوك".
مصوره نسخه: "پر ناحقه خاوري لوني په خپل سر څوك"
د "خ" دوهمې نسخې: "تر و ناحقه خاوري لوني پر سر څوك".

(٣) دا مصرع د "خ" په لومړۍ نسخې كې داسې ده: "چې قبول شي په درگاه د خو بر ويانو".

(٤) د "خ" په دواړو نسخو او مصوره نسخې كې د "هغه" پرځاى "هغوى" راغلى دى.

(٥) دا مصرع په چاپى ديوانونو كې داسې ده: "وبه نه كاندى بل خوا وته نظر څوك".

(٦) د "خ" په لومړۍ نسخې كې د "دي" پرځاى "شي" راغلى دى.

(٧) په قلمي نسخو كې د "هر هر څوك" پرځاى "هر څوك هر څوك" راغلى دى.

(٨) دا بيت او په دې بيت پسې شپږ نور بيتونه په موجوده قلمي نسخو كې نشته.

(٩) دا مصرع په "ق" چاپ كې داسې ده: "ارمانونه به د كوي زار زار ژاړي".

(١٠) دا بيت په "ق ك" چاپ كې داسې دى: "په گلونو د گلزار يې مينه نه وى".

بې رهبره یون دعشق په لاړ ګران دی　　دلته بویه چې پیدا کاندې رهبر څوك (۱)

چې بیلتون په ستر ګو ویني آشنایي کا (۲)　　۱۱۴

د ان په څېر به نه وي بې هنر څوك　　۱۳۵۲

چې مشغول نه وي د ترکو په جمال څوك　　نور به څه کا په جهان کې اشتغال څوك (۳)

د بل خط په عبارت به څه نظر کا　　چې نظر کاندي دستا په خط وخال څوك (۴)

نور خوبان دستا ترمخ پوري دي هسې (۵)　　لکه بل کا د آفتاب په مخ مثال څوك (۶)

چې عنقا شو اهل دل په دا دنیا کې　　تر وبه څه والي وچا وته احوال څوك (۷)

که عاشق په عشق کې ژاړي هېڅ ګرمنه دی　　په داهسې درد کې نه لري مجال څوك (۸)

چې پې قیل وقال له یاره سره وشي (۹)　　له نور چا سره به څه (۱۰) کا قیل وقال څوك

چې په اصل کې خدای نه دی پیدا کړی　　تر وبه څه غواړي دستا مخ مثال څوك (۱۱)

سرخړوي دهر سړي په خپګر خون ده　　نه هغه چې په سر اچوي سور شال څوك (۱۲)

مخ رونې دی د عاشق (۱۳) په خپلو اوسنو　　په دانه شي چې پې مني په رومال څوك

---

(۱) دابیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی : " بې رهبره یون دعشق په لاړ کې ګران دی　　دلته بویه چې پیدا کاندې رهبر څوك ".
لومړۍ مسودې پې د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده : " بې رهبره یون په لاړ دهر چا ګران دی ". خو مصوره نسخه کې د (دی) پرځای " کښې " راغلی دی
اوهم دامسودې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : " بې رهبره د سپیدو ویاړ ته ګران دی ".

(۲) دابیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی : " چې بیلتون وینې په ستر ګو اشنایي کا　　د رحمان په څېر بل نه وی رهبر څوك ".
لومړۍ مسودې پې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : " چې رقیب په ستر ګو وینې آشنایي کا ".

(۳) داغزل د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته .

(٤) دابیت په "پ" چاپ ، "پ،پ" چاپ او "ق،ک" چاپ کې داسې دی : " د بل خط په عبارت به نظر نه کا　　چې نظر وکاندې ستا په خط وخال څوك ".
اولومړۍ مسودې پې په "ق" چاپ کې داسې ده : " بیا بل خط وعبارت ته نظر نه کا " اود مسودې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده :
" د بل خط په عبارت به نظر نه کا ".

(۵) دامسودې په چاپي دیوانونو کې داسې ده : " نور خوبان دی ستا ترمخه پوري هسې ".
د "خ" لومړۍ نسخه : " نور خوبان دستا ترمخه پوري هېڅ دی ".

(۶) دامسودې په "ق،ک" چاپ کې داسې ده : " لکه بل کا د آفتاب مخ کې مثال څوك ".

(۷) دامسودې په "ق،ک" چاپ کې داسې ده : " نور به څه والي وچا ته دزړه حال څوك ".
په "ق" چاپ کې داسې ده : " تر وبه څه والي وچا ته د زړه حال څوك ". ګمړ په لومړۍ مسودې کې د "چې" پرځای "که" راغلی دی.
اود "خ" په دوهمه نسخه کې په لومړۍ مسودې کې د "عنقا شو" پرځای "عنقا شی" راغلی دی.

(۸) دې بیت لومړۍ مسودې په "ق،ک" چاپ کې داسې دی : " چې په اصل کې ژاړي هېڅ ګرمنه دی ".
لومړۍ مسودې پې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده : " که عاشق په عاشقۍ کې ژړا کاندي هېڅ ګرمنه دی ".
په مصوره نسخه کې پې ، په دوهمه مسودې کې د "په داهسې" پرځای " بیا داهسې " راغلی دی .

(۹) په چاپي دیوانونو کې " نه دی " راغلی دی .

(۱۰) په مصوره نسخه کې د "څه" پرځای " نه " راغلی دی .

(۱۱) دابیت په " ق،ک " چاپ او مصوره نسخه کې نشته .

(۱۲) دامسودې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده : " پیدا نه شي چې په سر کاندی سور شال څوك ".
د "پ" لومړۍ نسخه " نه هغه چې په سر کاندی سور شال څوك ".
په "پ" چاپ اود "خ" په دوهمه نسخه کې د " کاندی " پرځای " واچوی " راغلی دی.

(۱۳) د "پ" په لومړۍ نسخه اود "خ" په دوهمه نسخه کې د "عاشق" پرځای " دهر چا " راغلی دی.

ددنیا چاري فاني دي مرد هغه دی[1] چې نظر کا په حرام او په حلال څوک
هرچې کر کا ذوربشو غنم غواړي له خاطره دي بېرون کا دغه[2] خیال څوک
سړی بویه چې په نیک عمل نازېږي[3] نه چې ناز کا د دنیا په ملک ومال څوک

۱۱۵ ۱۳۶۵

که يې شعر د رماخ[4] مومند تر غوږ شي
غوږ به نه باسي په شعر دخوشحال څوک

که په بخت کم بختان نه وای خسته دل څوک په حضور به له تا ولې بېلبېدل څوک[5]
ودیدن وته دي هرچا رضا کېږي ولې حکم بې له تا نه لري بېل څوک
که يې لاس دخدای په چار ورسېدلی بې مقصوده به یو دمرنه سهېدل څوک
دا یو سړی ما داستا شکرانه کړی بس ناحق مې وېروي په سر ودل څوک
دا همه شومیت زما دی چې را رسي گنه ته اودچا زړونه بدول څوک
که په مینه دلیلی مبتلا نه وای خوار مجنون په دې بیدیا غرونه ځنګل څوک

۱۱۶ ۱۳۷۲

مین هره بلا کاندي که با ور کړي
گنه زه عبدالرحمن هومره ویل څوک



غره واغونده ملا وتړه په جنګ
وبې ننګ وته دننګ خبرې مه کړه[7]

دغه پسه[6] معرکه لوه دننګ
پاڅان وګنه په خپلو وینو رنګ

---

(۱) دامسری د "خ" په لومړی نسخه کې داسې ده : "ددنیا چاري همه داره فاني دي".
(۲) په مصوره نسخه کې د "دغه" پرځای "هغه" راغلی دی.
(۳) په "ق،ک" چاپ او "ق" چاپ کې د "نازېږی" پرځای "یادېږی" راغلی دی.
(٤) دامسری د "خ" په لومړی نسخه کې داسې ده : "که يې شعر در همند رحمان ترغوږ شي". په "ق،ک" چاپ کې د "تر" پرځای "په" راغلی دی.
(۵) داغزل د "خ" له یوې قلمي نسخې څخه نقل شو.
(۶) د "خ" په لومړی نسخه کې "معرکې" راغلی ده اود "خ" په دوهمه نسخه کې "مرکې" راغلی دی.
(۷) دامسری په مصوره نسخه کې داسې ده : "وبې ننګ وته دننګ خبره مه کړه".

ننګیالی چې یوځل مخ کا په یولوري[1] — نور هیڅ نه وینې کوهي وي که ګرهنګ[2]
هیڅ له ځانه له جهانه خبر نه وي — چې چراغ په نظر کښ بوځي د پتنګ[3]
د بلبلو چمن وته پرواز وي — داور پښتي وآتش وته غورزنګ[4]
که جهان وبې هنروته فراخ وي[5] — یولحد دی هنرمند ولره تنګ
هغه ښهر جوهري لره زندان دی[6] — چې یکسان وي پکې لعل ومردارسنګ
آسمان ځمکه دوارهٔ ژامي[7] د ځهنګ دي — څه[8] به زیست کا څوک په خوله کې د ځهنګ
په بنادی یې هیڅ بنا دمه شه که دانا یې — غم بنا دي دي[9] د دې دهر ځنګ په ځنګ

که ولاړ دهغو تللیو وصال مومي[10] — ۱۱۱ — ۱۳۸۲
تېر به نه کا په داد ورکې یو درنګ

---

## ق

پښتی مي په سر دی ستا د مخ د مینې ګل — بیا مې تور لېمه دي ستا د زلفو تور سنبل[11]
ته چې آینه په لاس کې واخلې حیرانیږې[12] — زه له کومه راوړم صبوري او تحمل[13]

---

(۱) دامسری په قلمي نسخو کې راغلې ده : " ننګیالی چې یوځلې مخ په هغه لور کا ".
(۲) دامسری د "خ" په لومړۍ نسخه کې راغلې ده : " نور یې هیڅ نه دي که کوهي دی که ګرنګ ".
(۳) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته .
(٤) دامسری په چاپي دیوانونو کې راغلې ده : " سمندر کا مدام اور وته آهنګ ". د "خ" په دوهمه نسخه کې راغلې ده : " داور پرستو وآتش وته غورځنګ ".
او دا بیت په مصوره نسخه کې نشته ، په "پ" چاپ کې د " وته " پرځای " وه ته " راغلی دی.
(۵) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته . د " پ " په لومړۍ نسخه کې : " که جهان وبې هنروته فراخ دی " . په " ق ، ک " چاپ کې د " که " پرځای " د ا " راغلی دی او دامسری د " خ " په دوهمه نسخه کې راغلی ده : که جهان مې بې هنروته فراخ دی ".
(۶) په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړۍ نسخې کې "دي" راغلی دی. (۷) په " ق " چاپ کې "حامنی" او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "چا می" راغلی دی.
(۸) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "څه" پرځای "څو" راغلی ده . (۹) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې "د ه" راغلی ده .
(۱۰) دامسری په " ق ، ک " چاپ کې راغلی ده : " که هغه ځان دهغې سنګلو وصال غواړی " په " ق " چاپ کې هم د "هغو" پرځای "هغې" راغلی دی.
(۱۱) داغزل د " پ " په دوهمه نسخه کې نشته ، د " پ " په لومړۍ نسخه کې د "لېمه دی" پرځای " لېمه می " او په مصوره نسخه کې " لېمه شو " راغلی دی .
(۱۲) دامسری په مصوره نسخه کې راغلی ده : " ته چې آئینه واخلې مخ ته حیرانیږی ". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې راغلی ده : " ته چې آئینې واخلې ځان ګورې حیرانیږې ".
(۱۳) دا بیت په " ق ، ک " چاپ کې راغلی دی : " ته چې آئینه په لاس کې واخلې حیرانیږم زه له کومه راپیدا کړم صبوری او تحمل " ، او دوهمه مسری یې په " ق " چاپ کې راغلی ده : " زه له کومه طایه راوړم صبوری او تحمل ".

گرځې په چمن کې منګل دکه په ګلونو[1] — خدای زده چې ګلونه وړې یا زړونه په منګل
هم مې مشک لیدلی هم عنبر دی په جهان کې — شاباش شاباش شاباش ستا د زلفو په کاکل[2]
نه به ستا دمخ په څیر ګلشن وي چا لیدلی — نه به وي زما په څیر اهونه د بلبل[3]

۱۱۸ — ۱۳۸۸

هسې تغافل کاستا په جوړوې جفاکې
خلق[4] حیرانیږي د ځان په تغافل

هیڅ مې نه کړه په دا عمر کې حاصل — هسې پاتې شوم مردود ونا قابل[5]
مالا بوی هم د وصال موندلی نه دی[6] — تش په توره مې[7] خدای نوم کړ د واصل
هسې دوب یم د ګناه په ګردابونو[8] — چې په ستر ګو مې ونه لیده ساحل
له وطنه مې په هر زمان[9] وباسي — رقیبان یې راپسې کړل محاصل[10]
که بلاده که جفاده که وفاده — داهمه واړه په ماکړه خدای نازل[11]
د دنیا په پلیتې مې ځان پلیت کړ[12] — حیف دی دا چې نه عالم شوم نه عامل[13]

۱۱۹ — ۱۳۹۵

توره زیره مې شوه سپینه زه حیران یم
چې لا نه بالغ شوم نه عاقل[14]

---

(۱) دامړی په "پ" چاپ، "پ ب" چاپ او "ق،ک" چاپ کې داسې دی: "ګرځې په چمن کې منګل دکه وړې دګلو".
په "ق" چاپ کې داسې دی: "ګرځې په چمن کې منګل دکې وړې دګلو".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی: "ګرځې په چمن کې. منګل دکه د ګلونو".
په مصوره نسخه کې د "دګلونو" پر ځای "له ګلونو" راغلی دی او د "خ" په دوهمه نسخه کې د "منګل" پر ځای "لمن" راغلی دی.

(۲) دابیت په "پ" نسخه کې داسې دی: "هم مې مشک لیدلی هم عنبر په جهان کې شاباش شاباش شاباش ستا په زلفو په کاکل".
په "ق،ک" چاپ کې "په دا زلفو په کاکل" راغلی دی او لومړۍ مصرې یې په "ق" چاپ کې داسې دی:
"هم مشک دی لیدی شی هم عنبر دی په جهان کې".

(۳) دابیت په "ق" چاپ کې داسې دی: "نه به ستا دمخ په څیر بل ګلشن وي چا لیدلی نه به وي ځما په څیر هم آهونه د بلبل".
په "ق،ک" چاپ کې دوهمه مصرې داسې ده: "نه ځما په څیر به وي آهونه د بلبل"
په "پ ب" چاپ کې د "آهونه" پر ځای "لاهونه" راغلی دی.

(۴) په "پ" نسخو، "ق،ک" چاپ او "خ" دوهمه نسخه او دریمه نسخه کې "چې" ترمخه ده.

(۵) راغلې د "خ" په لومړۍ نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۶) دامړی په "ق،ک" چاپ کې داسې دی: "مالا بوی ستا د وصال موندلی نه دی". په "ق" چاپ کې داسې ده: "مالا بوی د وصال موندلی نه وه".

(۷) په مصوره نسخه کې د "مې" پر ځای "یې" راغلی دی.

(۸) دامړی په "ق" چاپ کې دیوانونو او مصوره نسخه کې داسې دی: "هسې دوب یم ډګناه په دریا بونو".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "هسې دوب ډګناهونو په ګرداب یم".

(۹) په "ق،ک" او "ق" چاپ کې د "زمان" پر ځای "ساعت" راغلی دی.

(۱۰) دامړی د "پ" په نسخو او د "خ" په لومړۍ، دوهمه، او دریمه نسخه کې داسې ده: "راپسې کړه حاکمانو مواصل". او په مصوره نسخه کې هم د "مواصل" پر ځای "محاصل" راغلی دی.

(۱۱) دابیت په مصوره نسخه کې داسې دی: "که بلاده که جفاده که وفا دونه داهمه کړه خدای په ما باندې نازل".
په "ق،ک" چاپ کې یې دوهمه مصرې داسې ده "داهمه کړه خدای په ما باندې نازل".

(۱۲) د "پ" لومړۍ نسخه کې دامړی داسې ده: "د دنیا په پلیتې ځامې پلیت کړ".

(۱۳) په چاپي دیوانونو کې د "عامل" پر ځای "جاهل" راغلی دی.

(۱۴) د "خ" په دوهمه نسخه کې دامړی داسې ده: "چې نه ځوان لا نه بالغ شوم نه عاقل".

مه غوږ باسه د نااهلو[1] قیل وقال — په کار نه دی قیل وقال د بد سګال
یا به فخر په خپل اهل وپه نسب کا — یا به فخر کا په آل او په عیال[2]
یا به ذکر د لذت ود زینت کا — یا به فکر کا د مال ود منال[3]
یا به هسې پوچ ګوې کاندې آغاز — چې مضمون یې نه مردار وي نه حلال
د دانا اود نادان صحبت دی هسې — لکه ګډ شي وبله لعل وکوتی لال
لکه لعل وکوتی لال چې وبله[4] ګډ شي — یا صحبت[5] شي د عیسی اود دجال
هغه[6] عمر چې تېرېږي بې هم جنسه — تر وبه خه وي د هغه عمر احوال
د دنیا چارې[7] فاني دي مرد هغه دی — چې خبر شي په ثواب او په وبال[8]
اباسینه[9] لاخه مجال لري په تله کې — د دنیا د چارو هیڅ نه وي[10] مجال
د دنیا چارې په مثل خواب[11] وخیال دي — څوک به خه کا اعتماد په خواب خیال
لکه ملک ومال په خوب کې ورځ ګندشي — خو چې ویښ شي نه یې ملک وي نه یې مال[12]
لکه ځنګ چې داوبو په سر لپده شي — که یې واخلي هیڅ ورنه شي په چنګال[13]
لکه دود چې غرونه غرونه خړ ګندېږي — تار په تار شي په یوه[14] نرۍ شمال
لکه یخ چې دسړو په زور شي جمع[15] — هیڅ یې نه وي د آفتاب په مخ مجال
په یوه ساعت باران بیا شین آسمان شي — لکه ابر د پسرلی د پشه کال[16]
په یوه ساعت یې ساز بیایې ویران[17] کا — خاورې خټې[18] دي په لاس کې د کلال

---

(۱) دا غزل د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته، په مصوره نسخه، "پ پ" چاپ، او "ق" چاپ کې "نااهل" راغلی دی.
(۲) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، دوهمه مسرۍ یې په چاپي دیوانونو کې دا ده: "یا به فکر کا د مال ود منال".
(۳) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته، د "پ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې د "لذت" پر ځای "ولدیت" او مصوره نسخه کې "دولت" راغلی دی.
(٤) د "خ" لومړۍ نسخه کې "چې" نه دی راغلی او د "ق" چاپ کې د "وبله" پر ځای "سره" راغلی دی.
(۵) په قلمي نسخو کې "قریب" راغلی دی.
(۶) په "ق" چاپ کې د "هغه" پر ځای "هسې" راغلی دی.
(۷) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "د دنیا چارې هم فانی دی مرد هغه دی" راغلی دی.
(۸) په مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه کې "چې خبر شي په حرام وبه حلال" راغلی دی.
(۹) په چاپي نسخو او د "خ" لومړۍ نسخه کې "آب دسیند" راغلی دی.
(۱۰) د "خ" په دواړو نسخو، مصوره نسخه او "ق، ک" چاپ کې "نشته" راغلی دی.
(۱۱) د "خ" لومړۍ نسخه کې "خوب" راغلی دی.
(۱۲) دا مسرۍ په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "که یې خلي هیڅ ورنه شي په چنګال".
(۱۳) دا بیت په "ق، ک" چاپ کې نشته او په مصوره نسخه کې د "سر" پر ځای "مخ" راغلی دی.
(۱٤) په "ق" او "ق، ک" چاپ کې "نرۍ باد" راغلی دی.
(۱۵) "ق، ک" چاپ: "لکه یخ چې دسړه په زور دی جمع". "ق" چاپ": لکه یخ چې دسړه په زور شي جمع". د "خ" لومړۍ نسخه: "لکه یخ چې د سړی په زور شي جمع". او د "خ" دوهمه نسخه کې داسې ده: "لکه یخ چې دسړو اوبو شي جمع".
(۱۶) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته، لومړۍ مسرۍ یې د "خ" لومړۍ نسخه کې داسې ده: "په یوه ساعت باران بیایې شین دی". او دوهمه مسرۍ یې د "پ" په نسخو کې داسې ده: "لکه ابر د پسرلی د پشه کال".
(۱۷) د "پ" په نسخو او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "ویران" راغلی دی.
(۱۸) په "ق، ک، ق" چاپ، او د "خ" لومړۍ نسخه کې "خښتې" راغلی دی.

د مجاز په معشوقو[1] کې وفا نشته — ما هزار ځله وښکلی دی دا فال
اعتماد یې په سبا دی او په غم مه کړه — نه یې هجر په قرار دی[2] نه وصال
ګاهې توره کودی په مخ باندې راکیښې شي — ګاهې راکیښې شي په مخ باندې رومال[3]
لکه مالګه چې خوک کیږي په اوبو کې — زه هم هسې سرزده یم په مثال[4]
چې د مرګ وتاخت وباخت وته نظر کړم — صورت وینم دمیږي په څیر پامال
خراب دل مې هېچې غواړي بلا داشوه — چې کهې را معلومیږي په هر کال[5]

۱۲۰

که وصال مې دیار بیا موند هاله سیال یم[6]
ګنه نه یم زه ځان دهېچا سیال[7]

۱۴۱۸

بېلتانه دې هسې خوار کړ زما دل — چې له ځانه یې وبزار کړ زما دل
لاس وپښې د خلقو نېسي دعا غواړي — مینې هسې منت بار کړ زما دل
عاشقي هومره داغونه دي پرې اېښي — چې تمام یې لاله زار کړ زما دل
بې سببه چا ازار موندلی نه دی[8] — تا په څه سبب ازار کړ زما دل
چې د زلفو په کمند سره دې راکیښې — په بلا دې ګرفتار کړ زما دل
ستا چشمانو پکې هسې مقام ونیو — چې له غېرو یې[9] وبزار کړ زما دل

۱۲۱

زه خو منت بار دعاشقي یم
چې مین یې په دلدار کړ زما دل

۱۴۲۵

چې له نازه پوښیدلې لري چشمان خپل — څه به وینې مقتولان او مظلومان خپل[10]
چې کنځل راته په قهقهه کاندې — دالا وګڼې په ما باندې احسان خپل

---

(۱) د "پ پ" چاپ او د "خ" لومړۍ نسخې کې د "معشوقو" پر ځای "معشوقه" راغلی دی.
(۲) د "خ" لومړۍ نسخې کې "وې" راغلی دی.
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "ګاهې توره کودی په مخ باندې راکاږې ګاهې راکاږې په مخ باندې رومال". په "ق" چاپ کې د "راکیښې شي" پر ځای "دا ښکلې شي" راغلی دی.
(۴) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخې کې داسې راغلی دی: "لکه غونډ د مالګو کیږي دی په اوبو کې زه هم هسې سرزده شوم په مثال". او دوهمه مصرع یې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "زه هم هسې سره زردو شم په مثال".
(۵) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نه دی راغلی. لومړۍ مصرع یې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "خراب زړه مې غواړي بلا داشوه". او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مصرع داسې ده: "خراب زړه مې زهېرېږي بلا داشوه".
(۶) دا مصرع د "پ" په نسخو کې داسې ده: "که وصال دیار بیا موم هاله سیال یم". او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "که وصال زه دیار موم هاله سیال یم".
(۷) دا مصرع په مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخې کې داسې ده: "ګنه اوس خو رحمان ندیم د چا سیال".
(۸) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، په لوړو قلمي نسخو کې دا مصرع داسې ده: "بې سبب انسان اخسته ښه نه دی".
(۹) د "پ" په نسخو او د "خ" په دوهمه نسخه کې "دی" راغلی دی.
(۱۰) دا غزل د "پ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

گفتگو په اشارت کاندي له نازه — کله اسم دچا اخلي په زبان خپل
په ګریبان باندې چې تلک وهي غوتۍ — عاشق کیباسي لاسونه په ګریوان خپل
خریدلې یې له حیرته بې شعوره شي — چې دحسن رخت څرګند کا په دکان خپل
چې خپل مخ په آیینه کې ورځرګند شي — خود پخپله سر فروکاندي په ځان خپل
چې هر څوک یې عاشقي وته هوس کا — ګویا لونې کا په دین او په ایمان خپل
هیڅ صرفه دچا په سرو په مال نه کا — مالیدلي دي پخپله مطلوبان[1] خپل
مجنون ملک دعاشقۍ هاله خپل کړه[2] — چې په اور باندې یې وسوخان ومان خپل
دامقام دی د هغو رنګه عالمو — چې هیڅ نه وینې په ستر ګو سود و زیان خپل[3]
آفرین دعاشقانو په همت شه — چې ورته پر ترسر ومال وینې جانان خپل[4]

۱۲۲ — هیڅ د ستر ګو غړولو خوندي نه وي — ۱۴۳۷
چې رامانځ[ان] په ستر ګو نه وینې جانان خپل

تورلیمه مې دفراق په ژړا سپین شول — دوباره دزړه په وینو کې رنګین شول
ما وې زه به لا دیدن کړم د یارانو — خبر نه یم چې یاران په کوچ تعیین شول
چا پتنګ غوندې ځان واچوه او ورته — څوک ژوندي لکه بلبل په آتشین شول
ومرده وته دمرګ خواري شوې پیښې — اوژوندي په زندګۍ کې اندوهګین شول
د قضا سپاهیانو هسې لاس په تاخت کړ — چې پایمال هزار خسرو هزار شیرین شول
چې قدم یې په آسمان ایښود له نازه — هغه هسې نازپرور زیر زمین شول
چې مدام یې په سنجاب دپاسه خوب کړ — اوس په څمکه بې بستره بې بالین شول

۱۲۳ — درمانځ[ان] خاطر به ولې پریشان نه وي — ۱۴۴۵
چې پریشان ورځنه جمع همنشین شول

---

۱) په "ق، ک" چاپ اود "خ" لومړی نسخې کې "مظلومان" اود "خ" په دوهمه نسخه کې "مقتولان" راغلی دی.
۲) د "خ" په لومړی اودوهمه نسخه کې "بیا موند" راغلی دی.
۳) (٤) داردوه بیتونه په چاپي دیوانونو کې نشته.

په لیمه کې مې مدام — گرځې عکس دگلفام[1]
توري دستر گومې گلگون شوه — په ارزو دگل اندام[2]
بې دستر گوله خونابه — نه باده لرم نه جام
په طلب د دلارام کې — ما ونه لیده ارام
زنخدان تې خدای کوهي کړ — ورپرې پوځم[3] په هر گام
که یې خال غلام دمخ دی — زه غلام یم د غلام
که په عشق کې ناکام پرې دی — دانا کام دی زما کام
خوښ یم زه په عاشقي کې — که نیک نام یم که بدنام
په یاري کې مې قبول دی — ملامت دخاص وعام[4]
د دعا په عوض غواړم — دخپل یار دخولې دشنام
ترینه کنځلو بې زارکړم — دغه خپل دعا سلام
تلخ گفتار تې راته خوږ دی — ترکشمشو تر بادام
هم هغه مې مسیحادی — چې یې راکاندې پیغام[5]

مخ دیار ماه تمام دی — ۱۲۲
رحمان ولیده تمام — ۱۴۵۹

---

(۱) د "خ" په لومړی نسخه کې "گل اندام" راغلی دی.
(۲) "ق" چاپ: "توري سترگې مې گلگون شوې په ازار دگل اندام". "ق،ک" چاپ: "توري سترگې مې گلگون شوی په فراق دگل اندام".
(۳) په چاپي دیوانونو کې "سبوځم" راغلی دی.
(۴) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته
(۵) په چاپي دیوانونو کې "سلام" راغلی دی.

که مې ومنانځې ساقي په یوه جام — تر دا هورته به نورځه وي احترام[1]
بس دی مالره[2] دا فیض د شرابو — چې پرې پرېښودلق ارزق فام
مې خواړې که په عالم کې بدنامي ده — ما ترې پښو دی لاندې کړی ننګ ونام
په میزان یوسر لعل وي بل سر کانی — مساوي ده عاشقي په خاص وعام
عاشقان[3] د سپین رخسار د تور وزلفو — څه پروالړي د کفر د اسلام
په مجنون باندې قلم[4] راغلی نه دی — که حلال یې په مخ ورشي که حرام[5]

۱۲۵ — ۱۴۶۶

حلال عشق دی په رحمان باندې راغلی[6] — حلال لوکې مدام وي احترام

ومحمود وته نظر کوه مدام[7] — چې غلام کړو خپلې مینې د غلام
د نیکانو مدعا خو نیک عمل دی — ساعت نه ګوري که صبح وي که شام
چې د زړه حضور یې نه وي په نمانځه کې — په کار نه دی مقتدي وي که امام[8]
چې مجنون غوندې په مینه کې صادق وي — رحمان وایي په هغه باندې سلام[9]

۱۲۶ — ۱۴۷۱

هم نغمې کاندې هم رقص کاهم خاندې — د رحمان په شعر ترکې د باکرام

د هجران له دې ډیره غمه ولې نه مرم — له دې هسې ژنګ ماتمه ولې نه مرم
چې یو یار له بله یاره جدا کیږي — د دې دوړله[10] ستمه ولې نه مرم
چې هر هر سحر زما په ژړا خاندي — له دې هسې صبحدمه ولې نه مرم[11]
یار چې یار په ستر ګونه وینې خو مرګ دی — تر روزه بې خپله صنمه ولې نه مرم
چې په لږه ګرمۍ شا کاندي و ګل ته — له دې بې وفا شبنمه ولې نه مرم[12]

---

(۱) دامړی د "پ" په لومړی نسخه کې داسې ده: " تر دا پیمورته به نورځه وي احترام".
(۲) په ټولو چاپي دیوانونو کې "بنه دی مالره" راغلی دی.
(۳) په مصوره نسخه کې "عاشقي" راغلی ده.
(٤) د "خ" په دوهمې قلمي نسخې کې "کلنګ" راغلی دی.
(۵) په ټولو قلمي نسخو کې دامړی داسې ده: "که حلال په مخ کې ورشي که حرام".
(۶) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په دواړو نسخو کې نشته لومړی مړی یې په نورو قلمي نسخو کې داسې راغلی ده: "حلال عشق دی په رحمان باندې راغلی".
(۷) دامړی په قلمي نسخو کې داسې ده: "د محمود وسلطنت وته نظر کړه" او دا غزل د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۸) دامړی د "پ" په نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخې کې داسې ده: "په کار نه دی که مقتدی دی که امام".
(۹) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته او د "پ" چاپ او په لومړۍ نسخې کې داسې ده: "رحمان وایم پرهغو باندې سلام".
(۱۰) په ټولو چاپي دیوانونو کې د "دور" پرځای "دهر" راغلی دی او همدې بیت لومړی مړی په مصوره نسخه کې داسې ده: "چې یو یار له بله یاره لرې یا سي".
(۱۱) دا بیت په "ق، ک" چاپ کې نشته، او لومړی مړی یې په نورو چاپي دیوانونو کې داسې ده: "چې په هر سحر زما په ژړا خاندی".
(۱۲) په مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخې کې دامړی داسې ده: "له دې هسې بې وفا شبنمه ولې نه مرم".

۱۲۷ چې د مرګ خواري په خوالري رحمانه[1] ۱۴۷۷

لا پخوا تر دغه دمه ولې نه مرم

که په سر دهغه يار له لاسه سنګ خورم — خدای دې نه کا چې به بلې خوا ته څنګ خورم

عاشقي اونام ونګ دي وبله لري — څوبه عمر واړه غم د نام ونګ خورم

خدای وما وته شيرين تر نيشکر کړه[2] — که د يار له لاسه غشي د خدنګ خورم

د آشنا د بې لتانه په کار وبار[3] کې — هميشه په تندی تورې د فرنګ خورم

نوکري د معشوقو کوم په عشق کې — هيڅ نه د هلول نه د اورنګ خورم[4]

شين لوګی مې په سر چې تر دوه ګهۍ تخت دی — ګرد غبار د خپل دولت لکه ملنګ خورم

هم په دا چې له خودی شمه بې خوده — د هجران په غم کې لپې لپې بنګ خورم

لکه څوک چې نعمتونه د دنيا خوري — زه د يار د جفا زهر په دار نګ خورم[5]

واړه زهر شي زما ترستوني درومي — بې له يار ه که همه لا چې لونګ خورم

۱۲۸ زه رحمان به خو ژوندی په جهان ګرځم[6] ۱۴۸۷

چې په بله لمبه څرخ لکه پتنګ خورم

سر مې په کار نه دی چې يې ستا تر سر قربان ګرم — زر را څخه نشته چې يې ستا په پښو پرې ان ګرم[7]

کار د عاشقی اول د پيرا ته آسان دی — اوس هسې حيرانم چې دا کار به په څه شان ګرم

د پيرو خلقو لا ني ستا د مينې دي وهلي — هيڅوک هسې مه شه لکه زه چې يې په ځان ګرم[8]

نه لرې مرهم د عاشق[9] زخم بې تسليمه — د اخه هسې د رد نه دی چې يې دفع په درمان ګرم

نه کا هيڅ د بنمن په دې بنمانو هسې چا رې — ستا په عاشقی کې لکه زه چې يې حيران ګرم[10]

ولې کافر نه وي مسلمان به شي کې خدای کا — هرچا ته چې حسن ولطافت د ستا بيان ګرم[11]

---

(۱) په "ق ه ک" چاپ کې دا مصرع داسې ده : "چې د مرګ خواري په سر لري رحمانه"

(۲) دا بيت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته ، په چاپي ديوانونو کې دا مصرع داسې ده : "خدای وما وته شيرين کړه تر شکرو".

(۳) په قلمي نسخو کې "کاروزار" راغلی دی.

(۴) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته ، په "پ" چاپ کې دا مصرع داسې ده : "هيڅ د هلول نه د اورنګ خورم".

(۵) چاپي ديوانونه : "زه د يار د کوڅې خاورې په دار نګ خورم".

(۶) په چاپي ديوانونو کې "پسې م" راغلی دی.

(۷) دا غزل په چاپي ديوانونو او د "خ" لومړی نسخه ، مصورې نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۸) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی : "د پيرو خلقو لا ني ستا د مينې دی وهلی هيڅوک حيران مه شه لکه زه چې يې حيران ګرم".

(۹) د "خ" په دوهمه نسخه کې "د عاشقانو" راغلی دی.

(۱۰) دا مصرع د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : "ستا په عشق کې لکه زه چې يې په ځان ګرم".

(۱۱) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی : "ولی کافر نه وي مسلمان شی که يې خدای کا وهرچا ته چې حسن لطافت د ستا بيان ګرم".

١٢٩

ستاله بېرحمۍ[1] وراندې وې که ورستو آخرهسې معلومېږې
زه داهسې ديوانه او مجنون چاکرم

نه پوهېږم چې داچارې په ماشوک کا[3]
کومې سترګې کوم بانه کومه غمزه ده[4]
توان توفيق خو فتنو راشخه نه وُ[5]

١٤٩٤

به زه رحمان لاس په ګريوان کړم
له رواجه له رسومه بېرون چاکرم[2]
لېونۍ دخپل نګاه په افسون چاکرم
دوب شهيد غوندې په خاک وپه خون چاکرم
په فتنو دتورو سترګو مفتون چاکرم

١٣٠

هيڅ له خپله خانه خبر نه يم[6]
چې داهسې رنګ زبون و محزون چاکرم

١٤٩٩

صبح وشام مې لاس نېولی دی دعا کړم
خواست[7] له خدايه ستا دهر دوفا کړم
هيڅ دروغ رښتيا مې نه زده که باور کړې
ستا دپاره هم دروغ کړم هم رښتيا کړم
واړه ته يې خندول که ژړول کړې
زه پخپله نه خندا کړم نه ژړا کړم[8]
که ته نه يې راته وايه باري څوک دی
زه داهسې رنګ سرتور پښې يبل چاکرم[9]
خوب خندا دبېلتانه په غمکه نشته
څه آرام[10] به په دا دشتِ کربلا کړم
هره ورځ چې مې تېرېږي ستا په غم کې
زه په هره ورځ پوهېږم چې غزا کړم
يو وېښته مې د صورت کوږ شوی نه دی
هسې رنګ دې پټ پنځم په زړه ادا کړم[11]
زړه که يودی ما خو تالره درکړی[12]
مګر نور ولره نور زړونه پيدا کړم

١٣١

چې مې واغوست سروپای دعا شقې
زه رحمان دې سروپای بې سروپا کړم

١٥٠٨

---

(١) د "خ" په دوهمه نسخه کې "بحرامي" راغلی دی.
(٢) دا غزل په مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٣) په "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې دا مصرع داسې ده: "نه پوهېږم چې داهسې چاړې خوک کا".
(٤) دا مصرع د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "که مې سترګې که بانهو که مې غمزې دي".
(٥) دا مصرع د "پ" په نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "توان توفيق دفتنو هيڅ راشخه نشته". په "ق" چاپ کې داسې ده:-
"توان توفيق چې دفتنو راشخه نه وو". او د "خ" دوهمې نسخه کې داسې ده: "توان توفيق دفتنو هيڅ راشخه نه وو".
(٦) د "خ" لومړۍ نسخه: "زه رحمان له خپله خانه خبر نه يم چې داهسې رنګ محزون وزبون چاکړم". په "ق، ک" چاپ کې د "خانه" پرځای "پاڼه" راغلی دی. او د "پ" په لومړۍ نسخه کې دوهمه مصرع داسې ده: "چې داهسې زبون ومحزون چاکړم".
(٧) په "ق، ک" چاپ کې "سوال" راغلی دی.
(٨) دا بيت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نشته او لومړۍ مصرع يې د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٩) چاپي ديوانونه: "زه داهسې لېونۍ او مجنون چاکړم".
(١٠) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "څه بلا" راغلی دی.
(١١) د "خ" په لومړۍ نسخه او نيمګړي نسخه کې "تاراج کړم" راغلی دی.
(١٢) د "پ" نسخې او د "خ" دوهمې نسخې: "زړه که يو دی خو وتا دی ماورکړی".

دستا درد به په هزار درمان ورنه کړم
دانسته به دغه سود په زیان ورنه کړم

که څوك راکاندي دنیا وعقبی دواړه
عاشقي به دې په این و آن ورنه کړم

خومې تیغ په پهلو نه دی بلو سپدلی[1]
ستا پهلو به ورقیب آسان ورنه کړم

که یو څله مې ستا زلفي په لاس کښیوځي
یو وپښته به دې په درست جهان ورنه کړم[2]

که مې چیرې لاس دستا په بوسه برشو
دانعمت به دجنت په خوان ورنه کړم[3]

خوونه وینم ستا سترګې که پې خدای کا
عزرائیل لره به هومره ځان ورنه کړم

معشوقي دعاشقانو دین ایمان دی
زه به چالره خپل دین ایمان ورنه کړم

ستا ترزلفو پورې نورې زلفي څه دي[4]
په خاشاك به دچمن ریحان ورنه کړم

۱۳۲ پر ۱۵۱۷ لاس دستا دلبو می حرام دی
خود خپلو وینو جام تاوان ورنه کړم

دا یوځرنګه ژوندون دی نه پوهیږم[5]
خوب دی خیال دی که افسون دی نه پوهیږم

جام دلبو[6] یې چې ځان په وینو مومم
تروزلال که جګر خون دی نه پوهیږم

دپتنګ او دبلبل ترمیان حیران یم
مخ دې اوردی که ګلګون دی نه پوهیږم

په شانه سره دې تاردزلفو بېل شو
که غوڅ شوی مې نارون دی نه پوهیږم[7]

عشق په هسې رنګ مقام باندې قایم کړم
که وصال دی که بېلتون دی نه پوهیږم

دخپل زړه وعلامت وته حیران یم
چې موسی دی که قارون دی نه پوهیږم

۱۳۳ پر ۱۵۲۴ د لاس خپرې زپرې ترکنګوکړه[8]
خدای زړه عشق دی که طاعون دی نه پوهیږم

بیا دې نوي شراب خښلي دي پوهیږم
په رخسار دی ګل کرلي دي پوهیږم

که هزار ځله لاس سره کړې په نکریزو
تازما په وینو وللي دي پوهیږم

---

(۱) په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې "لګېدلی" راغلی دی.
(۲) دا بیت په "پ" چاپ کې نشته.
(۳) دا بیت د "خ" په نسخو کې نشته.
(٤) "ق، ک" چاپ: "ستا ترزلفو دخوبانو زلفي څه دی."
"ق" چاپ: "ستا ترزلفو پورې زلفي دجهان څه دی".
(۵) د "خ" لومړی نسخه: "دا یوځرنګ دغم ژوند ون دی نه پوهیږم".
(۶) په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې د "لبو" پر ځای "میو" راغلی دی.
(۷) دا بیت اوورپسې بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۸) په "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې د "کنګو" پر ځای "زعفران" راغلی دی.

معرکه زما د مرګ نه ده نوخه ده
چې رقیب وتاغوبنۍ وبله وروره

خه حاجت دی چې دی خط په ملالولم
ته خپل جور وجفا خه وایې وما ته

رقیبان چې تا بللې دي پوهیږم
ما هغه ساعت ژرلي دي پوهیږم (۱)

چې زما په باب دې کښلي دي پوهیږم
ما همه واړه لیدلي دي پوهیږم (۲)

۱۳۴

رقیبان ځکه تېری په زما ځان کاندي (۳)
تا په خواپورې نیولي دي پوهیږم

۱۵۲۱

چې له مرګه بې پروایې په هر دم
نو زمه واړه غمونه به دې هیر شي

چې زخمي یې سبا نه مومي په بیع
د مرهمو تیاري ورلره بویه

چې دې تن له سرایه دروي تویه واخله
د دې لارې تله خه هسې آسان نه دي

که دې وېره شي له ظالمه له ستمه
که امید لرې له رحمه له کرمه

له هرچا سره چې کړې هغه به مومې (۷)
اجر واړه د عمل په اندازه وي

اوس د ستا رضا نیکي کړې که بدي کړې
خدای د رزق په ژبه مه هیروه کلک شه

که ګنې چې په حرص سره خه زیات شي
که هزار رنګه تالاش او تردد کړې (۹)

رقیبان چې تا بللې دي پوهیږم
ما هغه ساعت ژرلي دي پوهیږم (۱)

چې زما په باب دې کښلي دي پوهیږم
ما همه واړه لیدلي دي پوهیږم (۲)

رقیبان ځکه تېری په زما ځان کاندي (۳)
تا په خواپورې نیولي دي پوهیږم

دغه هسې غم دې هیر دی په کوم غم (۴)
که یو ځل دربانديې راشي (۵) دا ماتم

مفت مونده شي نن ساعت هغه مرهم
چې لانه یې دا جل په تیغ کړم

تر دا سرای په هوره سرای نشته محکم (۶)
مشکلات دي په هر دم په هر قدم

ته هم مه کره په هیچا باندې ستم
ستا هم بویه په هرچا باندې کرم

دهیڅ تخم میوه نه درومي برهم
دغه دواړه سره یو دي هم درهم (۸)

نیک وبد دې واړه کښوی شي په قلم
ترسېږي د سېږي رزق دی مقدم

زیات به نه شي دیوې ستنې ترسېږم
د قسمت شوي به نه کړې زیات و کم

---

(۱) دا بیت د "خ" لومړی او مصوره نسخې کې نشته.
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه: "رقیبان به خه تېری په زما ځان کاندي".
(۴) دا غزل د "پ" په لومړی نسخه کې نشته.
(۵) په قلمي نسخو کې "درشي" راغلی دی.
(۶) په قلمي نسخو کې "دوهم" راغلی دی.
(۷) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه: "په هرچا باندې چې کړې هغه به مومې".
(۸) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۹) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه: "که هزار ځله تالاش او تدبیر وکړې".

د پرهوا وحرص مه کوه خدای یاد کړه — دی کافي دی د عرب اود عجم
په تا فرض عبادت دخپل خښتن دی — نه لښکري خزاني ملک وحشم
ټوک روټی یوه شړۍ درلره بس ده — نور همه واړه اسراف دی مسلم
له خوراکه غرض قوت اولا یموت دی — نه چې غوښي غوړي وريژي یا غنم
له پوشاکه غرض خپسر پټول دي — نه اطلس وسقلات تاج وعَلَم
دلحد تاریکی علاج به څه کړي — چې ته دلته کې ویرېږي په تورتم
که حرص درباندې زورشي مرګ رایاد کړه — دا علاج دی دغه رنځ لره محکم (۱)
غفلت هیڅ مناسب نه دی دسپین ږیرو — خوب روانه دی په وخت د صبحدم
مار چې سوړې لره ورشي ګوره سم شي — ته دګور په غاړه راغلې نه شوې سم (۲)
خم قامت د دنیا کار کړي عمر واړه — اوپه دوه رکعته نفلونه شوې خم
ځان پخواتر هغه وژاړه که مرد یې — چې په تا باندې ژړا کا نور عالم
نور عالم چې په تا ژاړي انصاف وکړه — بې انصافه ته په څه یې خوښ خرم
که زه نه وایم ته خودستګي رنځ کړه (۳) — کوردې خورشه ته چارپای یې که آدم

۱۳۵ ای رحمانه لکه ته چې په خدای ګرم یې ۱۵۵۹

بل به نه وي په جهان کې هسې ګرم — خوبه صبر پسې فریاد یار ګوزم (۴)
عاشقي او صبوري سره د روح ډي — زه د الاف په دروغ خرنګه وهم
ته وماته نصیحت مه کړه ناصحه — زه د اخپل تخم خپل ځان لره کرم
ما خوزده چې مینه اوردی خدای مین کړم — دانسته خپسر واورته اچوم
سر رشته مې خدای همه دیار په لاس کړه (۵) — په هر لور چې مې راکاږي پسې ځم
د آشنا د مینې لاس زما ګریوان دی — زه په دا کار کې هیڅ عذر نه لرم (۶)
عاشقانو (۷) یاران دي حق د معشوقو دی — حق به ولي په باطلو بدلوم

---

(۱) دا بیت د "پ پ" چاپ کې نشته.
(۲) قلمي نسخې : " ته د ګور په غاړه ګرزې نه شوې سم".
(۳) قلمي نسخې : " که زه نه وایم ته خپله ستړګې وکړه".
(۴) د "خ" لومړۍ نسخه : "عاشقي او صبوري ده سره لري".
(۵) چاپي دیوانونه : " سور رشته مې خدای د دیار په لاس کې ورکړه".
(۶) قلمي نسخې : " زه په دا معامله کې عذر نه لرم"
(۷) د "پ" په لومړۍ نسخه کې " په عاشقانو " او د "خ" په لومړۍ نسخه کې " په عاشقو" اغلی دی.

ما چې مینه دیار فرضه په خپل خان کړه — تر وله فرض و غاړه څرنګ غړوم

۱۳۶ — داخه ژوند (۱) دی چې یار نه وینم په ستر ګو — ۱۵۶۸

زه رمانځ په جهان ستر ګې غړوم

په یوه غمزه د ستر ګو یې فنا شوم — سر تر پایه بې بنیاده بې بقا شوم

ما د یار له غمه د م وهلی نه دی — که مې دم وهلی نه دی هم رسوا شوم (۲)

ښه چې تن مې توی تو منه شو په عشق کې — هاله څاڅکی د شبنم وم اوس دریا شوم (۳)

زه دیار و مخ ته ګورم یار و ما ته — چې داخل په تماشا شوم تماشا شوم

په هجران کې یې ګدا وم کند په غاړه — په وصال کې یې پادشاه دامرا شوم (٤)

په خپل کلي په خپل کور کې مې خربت دی — په صدف کې یتیم د رغوندې یکتا شوم (۵)

مستورې راڅخه یووړه مست و ستر ګو — رحمان ځکه په ګړې کې رسوا شوم (۶)

۱۳۷ — بادشاهي د ګدایانو په دعا شي (۷) — ۱۵۷۶

زه رمانځ ځکه بادشاه شوم چې ګدا شوم

ترهغه حده په هوره ته بدسړی شوم (۸) — چې د درست جهان په ستر ګو کې اغزی شوم

دنیا واړه ځبله زیست او روزګار کاندي — خو یوزه په دغه بار کې کوډلګی شوم (۹)

تمامي جهان لمن راڅخه نغاړي — سپین زړی مې اغوستی تور کوډی شوم

هیڅ حاجت د هنر نشته ونصیب ته — غزا وشوه که مومند که داؤدزی شوم

---

(۱) په قلمي نسخو کې " داڅه ژوند ون دی " راغلی دی.

(۲) دا بیت د " خ " په لومړی نسخې کې نشته .

(۳) دا بیت د " خ " په لومړی نسخې کې داسې دی : " ښه چې تن مې د ډبرې وړې شه په عشق کې هاله څاڅکی د شبنم وه اوس دریا شوم ".
د " خ " دوهمې نسخې : " ښه چې تن مې د تو تومنه شو په عشق کې هاله څاڅکی د شبنم وم اوس ګیاه شوم ".
او په " ق ک " چاپ کې یې دوهمې مړی داسې دی : " اول څاڅکی د شبنم وم اوس دریا شوم ".

(٤) قلمي نسخې : " په وصال کې بیا خان وامراد شوم ".

(۵) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته : او دوهمې مړی یې د " خ " په لومړی نسخې کې داسې دی : " په صدف کې پنهم د رغوندې یکتا شوم ".

(۶) دا بیت په چاپي دیوانونو او د " خ " په دوهمې نسخې کې نشته .

(۷) دا بیت د " خ " په لومړی نسخې کې د اوومې نومورې غزل په مصورې نسخې او د " پ " په دوهمې نسخې کې نشته .

(۸) دا غزل په مصورې نسخې او د " پ " په دوهمې نسخې کې نشته . لومړی مړی یې د " خ " په لومړی نسخې کې داسې دی : " ترهغه حده بیکاره بدسړی شوم ". او د " خ " په دوهمې نسخې کې دا مړی داسې دی : " ترهغه حده پورې بدسړی شوم ".

(۹) دا بیت د " خ " په لومړی نسخې کې نشته لومړی مړی یې د " پ " په نسخې کې داسې دی : " دا دنیا واړه وبله زیست و روزګار کاندی ".
د پښور په دوو نورو چاپي دیوانونو کې داسې دی : " دنیا واړه سره زیست و روزګار کاندي ".
د " خ " په دوهمې نسخې کې داسې دی :
" عالم واړه سره زیست و روزګار کاندی ".

دنوح ؑ زوی هم دیونیك نیکه نمسی وُ[1] — گنهـ زه هم دیونیك نیکه نمسی شوم
کل وسواس له احتیاطه پیدا کیږي — زه له دیرې هوښیاری نه لیونی شوم[2]

۱۳۸ — اوس عطا د آدمیت راباندې وشوه — ۱۵۸۳
چې رحمان دهغه یار دکوڅې سپی شوم[3]

په ښه خوی له بدخواهانو بې پروایم — په نرمی لکه اوبه داورسزایم
وهرچاته په خپل شکل څرگندیږم — آیینه غوندې بې رویه بې ریایم
دراز عمرمې حاصل شوله راسته — لکه سروم دام سبزه تازه پایم[4]
هم په داسپینو جاموچې معلومیږم — لکه ابرهم گوهریم هم دریایم
قناعت مې ترخرقې لاندې اطلس دی — پټ د درست جهان بادشاه ظاهر گدایم
دغونچې په څېر په سل ژبو خاموشیم — لکه بوی هسې په پته خوله گویایم
په ژړامې دخپل یار دیدن حاصل کړ — د شبنم په څېر له گل سره یکتایم

۱۳۹ — که چالره دعاشقی وی[5] ورکه کړې — ۱۵۹۱
زه له دې جهان[6] دگمراهانو رهنمایم

زه له دې جهانه[6] تلونی په شتاب یم — لکه پانه د خزان پسنه[7] په رکاب یم
که هزار آبادانی کړم په جهان کې — غرض داچې نهایت خانه خراب یم[8]

---

(۱) دامسری په چاپی دیوانونو او د "خ" لومړی اود دوهمه نسخه کې داسې ده: "دنوح زوی هم دنیك نیکه نمسی وُ".
(۲) قلمی نسخې: "زه له دیرې هوښیاری لیونی شوم".
(۳) "ق،ك" چاپ: "زه رحمان د هغې یار دکوڅې سپی شوم". د "خ" دوهمه نسخه: "چې زه رحمان".
(٤) دا دوه بیتونه د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(۵) په "پ" چاپ او "پ ب" چاپ کې د "وي" پرځای "ده" راغلی دی.
(۶) په چاپی دیوانونو کې د "جهان" پرځای "دنیا" راغلی دی.
(۷) "ق" چاپ: "پا".
(۸) دې بیت لومړی مسری په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې داسې دی: "که هزار آبادی کړمه په جهان کې".
د "پ ب" چاپ: "که هزاری ابادی کړم په جهان کې".
"ق،ك" چاپ: "که هزار آبادی وکړم په جهان کې".
دوهمه مسری یې د "ق،ك" چاپ او "ق" چاپ کې داسې دی: "غرض داچې عاقبت خانه خراب یم".

که مې اصل د حیا تو له او بودی
بیا خو دا چې دا وبو په سر حباب یم

دا جهان قصاب خانه کړه خدای وماته[1]
پای بسته ولامه په غولي د قصاب یم

چې د خدای له معرفته خبر نه شوم[2]
معلومېږم چې یا دیوم یا دواب یم

که صورت مې دسړي دی زه یې څه کړم[3]
په معنی کې د چا پایو په حساب یم

لکه بت چې په ریښو ستر گو اوده وي
هسې زه په بیداری کې وړی خوب یم[4]

په طاعت په عبادت مې زړه یخ نه کړ
همیشه د معصیت په اور کباب یم

سر د خدای و عبادت ته اپښوی[5] نه شم
مدام د وب د گناهونو په گرداب یم[6]

چې د خپلو گناهونو ته نظر کړم
سزاوار د هر عذاب[7] و هر عتاب یم

لکه څوک چې په خړ سو دروي مخ یې تور وي
زه هم هسې په خپل خدای[8] پورې بې آب یم

غزا و شوه که گنټاړلرم[9] په ژبه
زه چې کردار نه لرم کذاب یم

۱۶۰۳

---

(۱) مصوره نسخه : "د اجمان خدای قصاب خانه کړو ماته".

(۲) "ق،ک" چاپ: "چې خبر نه شوم د خدای له معرفته".
په دوهمه مدی کې په مصوري نسخې کې د "یا د دیم" پرځای "یو د د" راغلی دی.

(۳) د "پ" په نسخو کې دا مدی داسې ده: "که صورت یې دسړي دی به یې څه کړې".
د "خ" په دوهمه نسخه کې: "که صورت مې دسړي دی په داخه شو".

(۴) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

(۵) د "پ" نسخې: "وښکی نه شم".
د "خ" لومړی نسخه: "اپښبی نه شم".
دوهمه نسخه: "نیوای نه شم".

(۶) په چاپي دیوانونو کې "در یاب" راغلی دی.

(۷) د "پ پ" چاپ: "د هر سزا".

(۸) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، په "پ" چاپ، "پ، پ" چاپ او "ق" چاپ کې دا مدی داسې ده:
"زه هم هسې تر څښتن پورې بې آب یم".
"ق،ک" چاپ: "تر مولا پورې بې آب یم".
د "پ" لومړی نسخه: "زه هم هسې تر خپل یار ه پورې بې آب یم".
دوهمه نسخه کې: "زه هم هسې تر الله پورې بې آب یم".

(۹) په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړی نسخه کې "کوم" راغلی دی.

که هزار ځله نژدې دزړه په یادیم — زه چې یار په ستر ګونه وینم ناسنادیم (۱)
که یار سل ځله وعدې د وصال وکا — زه له پرې تلوسې بې اعتقادیم
په جفا وپه وفايې لا رغه نه شي — پُرځدرد ناز پرور په کړی دادیم (۲)
د بې نیازوپه نیاز څه امید کړو دی — زه پرون سلطان خسرو وم زن خرهادیم (۳)
که د یار له لاسه اور راباندې بل وي — لکه شمع مستقیم په خپل استادیم
بې مینه قرارې راباندې زوګ دی — شپه اوورځ په حرکت کې لکه بادیم
که همه عمر مې یار په غیر کې ناست وی — زه له غمه به د هجر په فریادیم
یو زمان مې د زړه مراد موندلی نه دی — پیدا کړی خدای په اصل کې نامرادیم
د وصال په یوه کال مګر برپای شم — د هفتې په هجر هسې بې بنیادیم
چې پې نوره نتیجه نشته بې غمه — حق حیران دعاشقې په دادادیم (۴)
په وصال کې مې د هجر طمعه نه وه — اوس حیران متحیر په دافسادیم
بې له عشقه چې مې پرې شو د پوزې (۵) — ګنه نو له جملګي قیده آزادیم

۱۶۱۶ — ۱۴۱

که مې پیرې که مې پلورې چاره نشته
زه د ماڼې د بنایسته وخانه زادیم

که مې خوک پر فقیرې شمېرې (۶) فقیریم — که مې خوک پر امیرې شمېرې امیریم
د دلبر وصدقې له یې غوارم — هسې نه چې په دنیا پسې زهیریم
د خرقې خدمت (۷) مشکل دی اوکه نه وي — زه هر دم رودغې چارې څه خپریم

---

(۱) د غزل د "پ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کې "قرارداد" راغلی دی.
(۳) د "خ" لومړی نسخه: "زه همه عمر له هجره په فریادیم".
(۴) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۵) په "ق" چاپ کې "د غاړې" راغلی دی.
(۶) په مصوره نسخه کې "بولی" راغلی دی او د غزل د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۷) د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې "حرمت" راغلی دی.

هم پند اخلم هم پند وایم وهرچا ته زه د خپنو مرید د خپنو پیریم[1]

په هجران کې دیار خیال راسره مل دی[2] په زندان کې له یوسف سره اسیریم

په خندا کې مې ژړا ده لکه شمع له عالمه پټ پټم[3] د ځان په ویریم

آزادي تر دا په هورته نوره څه ده[4] چې بندي[5] دیار د زلفو په څنګ یریم

خوشحالي تر دا په هورته بله کومه چې مدام په خپل اشنا پسې زهیریم[6]

چې همیش په غوږ ناري د هجران اورم رحمان ځکه د خپل یار وخ ته ځیریم[7]

خوشحالا او دولتا مې غلامان دی[8]

زه د کمالخان[9] په پښتو ژبه عالم ګیریم

١٤٢ ١٩٢٦

زه دیار په درد وغم کې غرقاب خوښ یم په دا درد کې بې طاقت او بې تاب خوښ یم

که ډوبیږم په اوبه یا په اور سوځم دسر وشوند وه په آب خوښ یم

چې دیار د خال و خط نښې پکې وي زور زندسر په مطالعه د کتاب خوښ یم

تر دا پوچه گفتګو یه چې پې اورم[10] په نغمه په ترانه د رباب خوښ یم

د ریا تر نا قبوله عبادته دساقي په میو مست و خراب خوښ یم

---

(١) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی دی:

"هم پند اخلم هم پند واخلم وهرچا ته د خپنو مرید د خپنو مرشد د خپنو پیریم".

د دوهمې مړۍ پې د "پ" په لومړی نسخه کې داسې ده: "د خپنو مرید د خپنو پیریم".

(٢) دا مصرع په "ق" چاپ کې داسې ده: "په هجران کې د وصال خیال راسره وي". او په نورو چاپي دیوانونو کې داسې ده:

"په هجران کې خیال دیار راسره مل وي".

(٣) په "ق، ک" چاپ کې "پنهان" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "تنها" راغلی دی.

لومړی بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(٤) په چاپي دیوانونو کې "بله نشته" او د "خ" په لومړی نسخه کې "نوره څه دی" راغلی دی. او دغه دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(٥) د "خ" په لومړی نسخه کې "بنده". راغلی دی.

(٦) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړی نسخه کې نشته، لومړی مصرع یې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده "خوشالی تر دا په هورته د نور کومه".

او په مصوره نسخه کې دا بیت داسې دی: "خوشالی تر دا په هورته نوره څه ده چې مدام په خپل اشنا پسې دلګیریم".

(٧) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته لومړی مصرع یې په "ق" چاپ کې داسې ده "همیشه په غوږ ناري د هجران اورم"

(٨) دا مصرع د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "یو خوشال سل ختک نور مې غلامان دي".

(٩) د "پ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کې "شعر" راغلی دی. (١٠) د "خ" په دوهمه نسخه "تر دا نور ګفتګو یو چې پې اورم". د نومړی بیت او وروسې بیت د "خ" په نیمګړی نسخه کې نشته.

چې نه علم نه تسبیح نه تلاوت وي — له دې هسې بیداري نه په خواب خوبن یم
خاموشي که هر څو لویه مرتبه ده — نه له یار سره په سوال وځواب خوبن یم[1]
د طوبیٰ دونې سیوري مې خوښ نه دي — ستا د مخ په لمبو سوی کباب خوبن یم

۱۴۳ — دیار په پرې غم خواري یم عاجز کړی — ۱۶۳۵
رحمان ځکه په خوږدن د شراب خوبن یم

زه د یار په درد وغم کې شادمان یم — لکه ګل د پریشانۍ په وخت خندان یم
ته زما وبېکسي ته نظر مه کړه — خدای ساتلی لکه ګنج په بیابان یم
لکه ونه د ځنګل په میوه پوره — په ویرانه ویرانۍ کې آباد ان یم
یو وېښته مې د صورت بې عشقه نه دی — څوکیدار په هر نفس د خپل کاروان یم[2]
د وصال مرغه[3] د اوښکو دانو راکړ — لکه د رو لعل په غاره د خوبان یم
د کاملې عقیدې لږ برکته — د دوهمې په غاره ناست شاه جهان یم
زوښنایي مې په طلب کې شوه حاصله — شپه اوږده لکه آفتاب په لاره روان یم
د آشنا د اوږدو زلفو صفت څوک کړم — پلی شریه لویه لاره د هندوستان یم[4]
بې مینه مې هیڅ حال د صورت نشته[5] — لکه بې مال ومتاعه تش دوکان یم
د هوس بلبل وپساه را باندې نه کا — دافلاس په کبل پکې د خزان یم
ویارانو وته خاک تر تلو لاندې — د نور جهان په سر لکه آسمان یم[6]

چې دیار په مینه سر و مال ښندمه — خلقه واوري هغه زه عبدالرحمان یم[7]

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" لومړۍ نسخې کې "دخپل کړدا یم" او مصوره نسخه کې "دخپل ځان یم" راغلی دی.
(۳) د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې دا ډې ده: "دوصال مزی داوښو دانې راکړ".
(۴) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. لومړۍ مسرې یې د "پ پ" چاپ کې دا ډې ده: "چې صفت دتوروزلفو داشنا کړم".
(۵) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، د "خ" په دوهمه نسخه کې لومړۍ مسرې دا ډې ده: "بې له مینې مې هیڅ حال دصورت نشته".
(۶) دا بیت او وروسې بیت د "خ" په لومړۍ نسخه او نیمګړې نسخه کې نشته، په مصوره نسخه کې لومړۍ مسرې دا ډې ده: "د مارانو ترتلیو لاندې خاک یم".
(۷) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

۱۴۴

چې هر دم له خپله ځانه ګرېزان يم
مرګی تریخ دی چې ژوندون دچا شیرین شي
نادانی مې دانایي شوه لکه طفل
چې د نفس د حرص ملک مې مسخر کړ
تن مې څه کړې چې زړه یار را څخه یووړ
لکه ګل چې په نارمات کړې اوښاندوی
کله ځان راته ولي کله عاصي شي
خپل جانان مې هسې نقش دی په زړه کې
نه پوهیږم چې ګمان یم که جانان یم

۱۴۵

ژوبل ژوبل د ترکانو په نګاه یم
چې یوسف غوندې هزار پکښې پرانه دی
چې لې قد و قامت نه وینم په ستر ګو
د سپین مخ د تورو څنګله رغبته

۱۹۴۸

په هر دم کې نوې نوې تماشې کړم
زه یې تماشې ان د خدای وکړه وته حیران یم

چې هر دم له خپله ځانه ګرېزان یم
هم په دالکه د ریاب د دروکان یم (۱)
مرګی تریخ دی چې ژوندون دچا شیرین شي
زه خو هسې دیار تر وصل په هجران یم
نادانی مې دانایي شوه لکه طفل
په ناپاکو ګوهرې کې پاک دامان یم
چې د نفس د حرص ملک مې مسخر کړ
په هوا د پاسه تخت د سلیمان یم
تن مې څه کړې چې زړه یار را څخه یووړ
بې هوده د خالي خونې نګهبان یم
لکه ګل چې په نارمات کړې اوښاندوی
زه هم هسې د ژوند و د مړ و ترمیان یم
کله ځان راته ولي کله عاصي شي
نه خبر په خپل کمال نه په نقصان یم

۱۶۵۶

خپل جانان مې هسې نقش دی په زړه کې
نه پوهیږم چې ګمان یم که جانان یم

ژوبل ژوبل د ترکانو په نګاه یم
تر دالا په دا غوښې م چې پناه یم (۲)
چې یوسف غوندې هزار پکښې پرانه دی
بند یوان د هغه سیب (۳) ذقن په چاه یم
چې لې قد و قامت نه وینم په ستر ګو
عندلیب په سر د سروی د خپل آه یم (۴)
د سپین مخ د تورو څنګله رغبته (۵)
منت بار د هر سفید او هر سیاه یم (۶)

---

(۱) داغزل د "خ" له ډیرې قلمي نسخې نه نقل شو .

(۲) داغزل د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته او دا بیت په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی دی : "ژوبل ژوبل د خوبانو په نګاه یم لا تر دانه زیات هوښیږم چې پناه یم".
په مصور نسخه کې داسې دی : "ژوبل ژوبل د خوبانو په نګاه یم تر دالا په دا عاجز یم چې پناه یم".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی : "ژوبل ژوبل د خوبانو په نګاه یم لا پرده زهیږم چې لستر ګو یې پناه یم".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی : "ژوبلې ژوبلې د خوبانو په نګاه یم تر وخولا په دا غوښې م چې پناه یم".

(۳) په قلمي نسخو کې د "سیب" پر ځای "سیم" راغلی دی او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "سیم په ذقن چاه یم" راغلی دی .

(۴) دا بیت په چاپي دیوانونو کې داسې دی : چې یې قد و قامت نه وینم په ستر ګو عندلیب په سهی سرو د خپل آه یم".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې د دوهمې مصرې داسې دی : "عندلیب د سهی سرو د خپل آه یم".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی : عندلیب غوندې په سروې د خپل آه یم".
د معصومي نسخې داسې دی : عندلیب هسې سرو د خپل آه یم .

(پاته په ۱۰۷ مخ کې)

لکه څوك چې په خره سور وي مخ يې تور وي — زه هم هسې ترخپل خدای پورې روسیاه یم (۱)

درقیب خبرې (۲) وړم دیار د پاره — دعاګوی هم دنیك خواه هم د بدخواه یم (۳)

بې له عشقه که مې عیب که مې هنر دی (٤) — نه (٥) خبر په عبادت نه په ګناه یم

سباخ دزلفویې پخپله خدای راتهیت کړ — ګنهه زه دیار ترقد پورې کوتاه یم (٦)

ځان هرګوره ناګاه راخرګندیږي — له هغې ورځې راهیسې چې آګاه یم (۷)

بې صبری دیار په وصل کې مهجور کړم — د پسرلي په مرغزار کې وچ ګیاه یم

له اوله تهتر ووهم بیا آه کړم — په نارونارو (۸) خروس د صبحګاه یم

په جذبو جذبویې راښکم زه وځان ته — هغه یار مې کاه ربا دی زه یې کاه یم (۹)

لکه بار دونې پوخ شي ځنې رڼې — زه هم هسې بار ترلی سربراه یم

اوس مې ځای په داجهان کې پاتې نه شو — خوځیدلی تر (۱۰) چمل وتر پنجاه یم

---

د (۱۰۶) مخ د پایلیکونو پاته :

(٥) د "خ" په لومړی نسخه کې د "رخبته" پرځای " زینته " راغلی دی.

(٦) دامسری په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې داسې ده : " منت بار دهر سفید دهر سیاه یم ".
په "پ پ" او "ق ک" چاپ کې داسې ده : " منت بار دهر سفید او دسیاه یم ".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : " منت بار دهر سفید ودهر سیاه یم ".

---

(۱) دابیت په چاپي دیوانونو ، مصوره نسخه او د "خ" لومړی نسخه کې نشته ، د "خ" په دوهمه نسخه کې یې لومړی مسری داسې ده : " لکه څوك چې په خره سورشی مخ یې تور شی ".

(۲) د "پ" په نسخو او د "خ" لومړی نسخه کې "خبرې" راغلی دی او دامسری په مصوره نسخه کې داسې ده : " د رقیب خبره اوړم دیار دپاره ".

(۳) دامسری د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : " دوعاګوی هم دنیك خواه هوم بدخواه یم ".

(٤) دامسری د "خ" په لومړی نسخه کې داسې ده : " بې له عشقه که مې عشق که مې هنر دی ".

(٥) په "ق" چاپ کې د "نه" پرځای "زه" راغلی دی.

(٦) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کې داسې دی : " سباخ دن لفوخپل خدای راته تهیت کړ ګنهه زه دیار ترقد پورې کوتاه یم ".

(۷) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کې داسې دی : " ځان بنکاره راته هرګوره څرګندیږي له هغه ورځې راهیسې چې آګاه یم ".
په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې لومړی مسری داسې ده : " ځان هرګوره ناګاه راخرګندیږي ". د "خ" په دوهمه نسخه کې یې دوهم مسری داسې ده :
" له هغې ورځې راهیسې چې آګاه یم ". او په "ق ک" او "ق" چاپ کې داسې ده : " له هغې ورځې راهسې چې آګاه یم ".

(۸) د "خ" په دوهمه نسخه کې " نارو سورو " راغلی دی.

(۹) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته ، په "پ" چاپ ، "پ پ" چاپ او مصوره نسخه کې یې لومړی مسری داسې ده : " په جذبو جذبویې راکښوم وځان ته ".
د "پ" په لومړی نسخه کې داسې ده : " په جذبو جذبویې راوځکولم وځان ته ".
په "ق ک" چاپ کې داسې ده : " په جذبو یې راښکمه خپل ځان ته ".
او د "خ" په لومړی نسخه کې دابیت داسې دی : " په جذبه جذبه یې راکښوم وځان ته هغه یار مې کاه ربا دی زه ګیاه یم ".

(۱۰) د "خ" په لومړی نسخه کې د "تر" پرځای "له" راغلی دی.

۱۴۶

۱۹۷۱

## د رقیب علاج آسان دی بلا د اشوه[۱]
## زه یمه ان له خپله یاره نا وپساه یم

زه یودم د ستاله غمه بې غمه نه یم
بې غمه ستاله ذکره فکره یودم نه یم[۲]

هر زیارت لره چې درومم[۳] مراد مې ته یې
زه زایر[۴] د بت خانې د حرم نه یم

ستا د در په تور وخاورو باندې[۵] خوبن یم
بې تا خوبن په تماشا دارم[۶] نه یم

چې د[۶] ستا په تماشایم خبر شوی
نور خبر په تماشا د عالم نه یم

بې د ستاله زیبا مخه وبل مخ ته
منتظر دیوې ستنې قرسوم[۷] نه یم

که د ستا د سنګلي مخ عاشقان په پردي
زه په وار وکې اول یم دویم نه یم

که له غمه دې ونه مرم هاله[۸] وایه
چې یا دیوم یا د واب[۹] یم آدم نه یم

سم قامت لکه الف یم په راستې کې
لکه غشی څه[۱۰] فساد لره سم نه یم

زړه مې ستا په غمزه غوځ دی غزا وشوه
که په لاسو په پسنو روغ یمه کرم نه یم[۱۱]

خم د زلفوم[۱۲] محراب د کې و و روځو
څه[۱۳] د مار و د لرم په څېر خم نه یم

---

(۱) دا مصرع د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده : " د رقیب علاج آسان دی که یې خدای که ".

(۲) دا غزل په مصورۀ نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته .

(۳) په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړۍ نسخې کې " حُمه " راغلی دی .

(۴) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخې کې " زاهد " راغلی دی .

(۵) د " خ " په دوهمه نسخه کې "حرم" راغلی دی.

(۶) په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخې کې " دا " او د "خ" په لومړۍ نسخې کې "ن" راغلی دی .

(۷) په چاپي دیوانونو کې "سم" ، په "پ" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه کې " سیم " راغلی دی.

(۸) د "خ" په لومړۍ نسخې کې " راته " راغلی دی.

(۹) د "خ" په لومړۍ نسخه کې " دیوال" راغلی دی . .

(۱۰) په "پ" چاپ ، "پ پ" چاپ او "ق ، ک" چاپ کې " زه " او "ق" چاپ کې " و " راغلی دی.

(۱۱) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخې کې داسې دی : " زړه مې ستا په غمزه غوځ دی بلا د اشوه که په لاس په پسنو روغ یم کرم ندیم ".
د "خ" په دوهمه نسخې کې دوهمه مصرع داسې ده : " که په لاسو په پسنو روغ یم کرم ندیم ".
" په "ق ، ک" چاپ او "ق" چاپ کې داسې ده : " که په لاسو په پسنو روغ خوګرم ندیم ".

(۱۲) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخې کې "یې" راغلی دی .

(۱۳) په "پ" چاپ ، "پ پ" چاپ او "ق ، ک" چاپ کې "زه" راغلی دی او په "ق" چاپ کې دا مصرع داسې ده : " پیچ د غم په څېر د مار و د لرم ندیم ".



که مې کم وبیش له لاسه واقع کیږي[1] یم سړی شکم لرم بې شکم نه یم[2]




زه کاڼ[3] د بېلتانه له لاسه زاړم

واقعه ده د پرې ګرانه هېڅ ګرم نه یم[4]



سپې تېز د رومي دوران ګویا برق دی د رخشان[5]

د آسیا په څېر[6] ګردش کا په زمین باندې آسمان

ککړه دي د سړو یو چې وریږی تر دا میان

پیدا کېږي فنا کېږي نه یې سرشته نه سامان[7]

نه یې سرشته نه سامان شته نه یې حد شته نه پایان[8]

---

(۱) دامړی په چاپي دیوانونو کې داسې ده : "کم وبیش که مې له لاسه واقع کیږي".

(۲) دامړی د "خ" دوهمې نسخې کې داسې ده : "هم سړی یم نس لرم بې شکم نه یم".

(۳) په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "له لمړه" راغلې دی.

(٤) د "پ" نسخې : "دا واقع ده د پرې ګرانه هېڅ ګرم نه یم

د "خ" لومړۍ او دوهمې نسخې کې داسې ده : "دا واقعه ده د پرې ګرانه هېڅ ګرم نه یم".

(۵) د "پ" نسخې : "هسې چې تېز د رومي دوان ګویا برق دی د آسمان".

د "خ" دوهمې نسخې : هسې تېز د رومي دوران ګویا برق دی د اجهان".

مصورې نسخې : "هسې تېز د رومي دوان ګویا برق دی د اجهان".

د "خ" لومړۍ نسخې : "هسې تېز د رومي دوان ګویا برق دی د اسمان".

(۶) د "ق، ک" او "پ پ" چاپ کې "سیر" او د "خ" په دوهمې نسخې کې "دود" راغلی دی. (۷) قلمي نسخې : "نه یې سرشته نه سامان". (۸) "ق، ک" او "ق" چاپ

نه یې حد شته نه پایان شته نه یې سرشته نه سامان". "پ" چاپ : نه حد نه وې پایان شته نه یې سرشته نه سامان".

"پ پ" چاپ : "نه یې حد نه یې پایان شته نه یې سرشته نه سامان".

حُینې دِ ولې وهي بنادي کا　　حُینې ویرکا د خپل حُان

حُینې شمع غوندې ژاړي　　حُینۍ کل غوندې خندان

کې پې گورې یو گلزار دی　　کې پې گورې یو بیا بان (۱)

کې پې گورې یو گلشن دی　　کې پې گورې یو زندان (۲)

یوه هسې تماشا ده　　چې پې هیڅ نه شي بیان (۳)

کیفیت پې مونده نه شي　　په دلیل او په برهان

چې پې کومه خوا رفتن دی (٤)　　یا پې چېرته دی مکان

خدای خبر دی په داعلم (۵)

هیڅ خبر نه دی یحیان

۱۴۸

۱۹۹۶

دِ پر یاران وو دگل خان او جمال خان　　په کار نه شو یو په وخت د زارستان (۶)

دهمه وارو یارانو مخ دې تور شي (۷)　　کې به څوک وبله (۸) یاري کا په داشان

چې یو یار په سیوري پروت (۹) وي بل په اور کې　　وهغوته به څوک څه وایي یاران

هیڅ تعریف پې په داژبه وایه نه شي　　صد رحمت شه په یاری دگل خان (۱۰)

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه "ن ندان" . د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : "کې پې گورې یو بازار دی کې پې گورې یو بیابان".

(۲) دابیت په "پ" چاپ ، "ق ،ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته .

(۳) چاپې دیوانونه : "چې پې هیڅ نشته بیان" . د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : "چې پې هیڅ نه شی بیان". مصوره نسخه : "حُنې نه شي هیڅ بیان".

(٤) "ق ،ک" چاپ ، "ق" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کې : "چې پې کوم خوا ته رفتن دی".

(۵) قلمی نسخې : "خدای عالم دی په داعلم".

(۶) داغزل د "پ" په نسخو او مصوره نسخه کې نشته . دوهمه مسرې پې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده :

"یوهم نشته د ده کار په حُان راستان"

دوهمه نسخه : "یو پې هم په کار نه شو په حُای د راستان".

(۷) د "خ" دوهمه نسخه : "دهمه وارو یارانو مخ پې ورک شه".

(۸) ق" چاپ : "سره".

(۹) د "خ" دوهمه نسخه : "ناست دي".

(۱۰) "پ" چاپ : " هیڅ تعریف مې په داژبه وایه نه شی- صد رحمت شه په یارکه د گل خان".

د "خ" لومړی نسخه : " هیڅ تعریف پې نور په ژبه داوړی نه شی صد رحمت شه په یارکه د گل خان".

د "خ" دوهمه نسخه : " هیڅ تعریف به پې په ژبه را وه نه شی صد رحمت شه په یارکه د گل خان".

په داهورته[1] د یارۍ شرطونه څه وي — چې په اورکې دواړه وسوځي یکسان
چې له آله له اولاده سره و سول — خدای دې نه کاڅوك داهسې مظلومان
چې په اورکې یو د بل د پاره سوځي — مالپدلي نه ووهسې مخلصان
څه رنګ شوخ وو هغه اوراوهغه خلق — چې یې مړ نه کړ و داوښکو په باران[2]
الغیاث دی الغیاث دی الغیاث دی — چې انسان کاهسې ظلم په انسان
دنمرود چارې مې ولیدې په ستر ګو — چې یې اچول و اوروته نبیان[3]
هم دې څمکې دې آسمان ته تعجب کړم[4] — چې نه څمکه په ناروشوه نه آسمان
هم دې لویو لوپو غرونو ته حیران یم[5] — چې ونه لوښته له وڅه سرغلتان
له دې خپله سپینه نفسه مې زړه بد شو[6] — چې اوبه څښې یا خواړه خورې په جهان
عالَم وایي چې قیامت به په جمعه وي — ولې دا مه په یکشنبه په دا دوران
هزار حیف دی چې داهسې رنګه چارې — واقع کیږي د دنیا په سود و زیان
سر بنده نه وګویا د بنت کربلا وُ — چې سیلاب شو د سر و وینو پرې روان[7]
په عیسیٰ اوپه دجال کې ګناه نشته[8] — دا مکرونه دي د نفس و د شیطان

---

(۱) د "خ" دواړو قلمي نسخو، "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې "تر داهورته" راغلی دی.
(۲) د "خ" لومړۍ نسخه: "چې مړ نه کړم داوښکو په باران".
دوهمه نسخه: "چې یې اورمړ نه کړ داوښکو په باران".
(۳) "ق، ک" چاپ: "چې به یې اچول واوروته نبیان".
"پ" چاپ: "چې یې اچول واورته نبیان".
د "خ" لومړۍ نسخه: "چې یې اچول واورته مرسلان".
دوهمه نسخه: "چې یې اچول په اورکې مرسلان".
(۴) "پ" چاپ: "هم دې څمکې هم اسمان ته تعجب کړم".
د "خ" لومړۍ نسخه: "ودې څمکې واسمان ته تعجب یم".
دوهمه نسخه: "ودې څمکې واسمان وته حیران یم".
(۵) د "خ" لومړۍ اودوهمه نسخه: "ودې لویو لویو غرونو ته حیران یم".
(۶) د "خ" دوهمه نسخه: "له دې خپله کم بخت نفسه مې زړه بد شو".
(۷) دا بیت د "خ" له لومړۍ اودوهمې نسخې نه نقل شو، په چاپي دیوانونو اونورو نسخو کې نشته.
(۸) د "خ" لومړۍ اودوهمه نسخه: "ګناه نه وه".

عزیزان یې ځبله(۱) ووژل یخپله — داهمه واړه تقدیر دی د سُبحان(۲)

هسې نه چې ذ ایې وکړه نور به نه کړي — چې یې زړه شي هغه کاندي بادشاهان(۳)

شاه عالم اعظم وګوره چې یې سخاکړ — په خونو نو واړه ملک دهندوستان(۴)

وداراا واورنګ زیب وته حیران یم(۵) — چې یې څه چارې واقع شولې ترمیان(۶)

د حسن حسین غزا دې څوک په زړه کا — چې همه واړه په تیغ شول شهیدان(۷)

د د وی غوښې او ښکو وینو رغړولې — بې حسابه هسې خلق شو توفان(۸)

هرچې اهل د دنیا دې حال یې دا دی(۹) — که سړی دی که پیړی دی که حیوان

آدم زاد په څمکه یوبل سره وژني(۱۰) — په دریاب کې وبله غوښې خوري ماهیان

لکه غوښې چې ماهیان خوري په دریاب کې — په هوا کې هم د غه کا ندي مارغان

خزنده اوپرنده دي د د ې دهر(۱۱) — همه واړه یوتربل مشت وګربوان(۱۲)

مرداري د دې دنیا خوهم د غه ده — څکه بېرته ځني ګرځي دروپشان

---

(۱) د "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ : "سره ووژل".
نومورې مسری د "خ" په لومړۍ اودوهمه نسخه کې داسې ده : "عزیزانو به په څه وبله وژلو".

(۲) د "خ" دوهمه نسخه : "داهمه واړه تقدیر د پاک سبحان".

(۳) د "خ" لومړۍ نسخه : "چې یې زړه شي هغه کاندي په داشان".

(٤) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ : "شاه عالم اعظم وګوره چې یې سخاکړه — په خونو نو واړه ملک دهندوستان".
د "خ" لومړۍ نسخه : "شاه عالم واعظم ګوره چې یې فسادکړ — په خونو نو سره ملک دهندوستان".
د "خ" دوهمه نسخه : "شاه عالم اعظم وګوره چې بې خسا کړ — په خونو نو واړه ملک دهندوستان".

(۵) "ق، ک" چاپ : "بیا دارا او اورنګ زیب وته حیران یم".
د "خ" لومړۍ نسخه : "ودارا واورنګ زیب وته که ګورې".
د "خ" دوهمه نسخه : "ودارا واورنګ زیب ته دې څوک ګوري".

(۶) "ق" چاپ : "چې یې څه چارې واقع شوې په ځان".
د "خ" لومړۍ اودوهمه نسخه : "چې یې څه چارې واقع شوې ترډامیان".

(۷) د "خ" لومړۍ اودوهمه نسخه : "چې همه په توره ومړه شهیدان".

(۸) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته اودوهمه نسخه کې داسې راغلی دی : "دوه غا ښې او ښې یې په وینو رغړولو — هسې بې حساب خلق شوله توپان".

(۹) د "خ" دوهمه نسخه : "هرچې آل د دې دنیا دی حال یې دادی".

(۱۰) د "خ" لومړۍ اودوهمه نسخه : "آدم زاد په څ دځمکی وبله وژني".

(۱۱) د "خ" لومړۍ اودوهمه نسخه : "خزنده که پرنده دی د دې دهر".

(۱۲) د "خ" لومړۍ نسخه : "همګې دي وبله مشت وګریبان".
د "خ" دوهمه نسخه : "همګې دي واړه مشت و په ګریوان".

۱۴۹ مکاري دزمانې څه هومره نه ده
چې يې کمالان يې چاته وکاندي بيان[1] ۱۷۲۵

دنيا دار د دنيا کارکا زه د د ين خوانين زما په ملك دي خوشحالين[2]
هيڅ کم نه دي ترسپين مخيو دلبرانو بلکه سپه دي زما شعر نمکين[3]
مرادله تورو سپينو وا ړه د لبري ده موقوف نه دي دغه[4] کار په تورو سپين
چې رنګين رنګين مضمون پرې کښلی نه وي څه په کار دي دبياض ورق رنګين[5]
مرتبه دسليمان چې چاله ورشي هيڅ پوره نيمګړي نه دي په نګين
خوند په خوله دي نه په څښه نه په خواړه دي آب وخورکه دچا تلخ وي که شيرين
غرض خوب دي که په خس وي يا په خار وي څه حاجت دي په بستر وپه بالين[9]
مصري تورې هم په بدغلاف کې زنګ شي خداى څوك مدکړه دبدانوهم نشين

۱۵۰ څه عجب که په ورځ هم په شپه ماشي ۱۷۳۴
د يمان آشنا چنان دي يا چنين[10]

---

(۱) د "خ" لومړي نسخه : " چې يې زه رحمان کړم وچا ته بيان ".
د "خ" دوهمه نسخه : چې رحمان يې کړه وچا وته بيان ".
(۲) دا غزل په مصوره نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) د "پ" لومړي نسخه " بلکه به دي دا زما شعر نمکين ".
د "خ" لومړي نسخه : " بلکه به دي زما سبز نمکين ".
(۴) د "خ" لومړي نسخه : " دلسته ".
(۵) د "پ" لومړي نسخه " کار ما رنګين ".
(۶) د "پ" لومړي نسخه : " چې خداى چاله مرتبه دسليمان ورکا ".
د "خ" لومړي نسخه : " که خداى چاله پخه دسليمان ورکه ".
د "خ" دوهمه نسخه : " که خداى چاله نتيجه دسليمان ورکه ".
(۷) د "پ" لومړي نسخه : "خوند په خوله دي نه په خوله نه په خواړه دي ".
چاپې ديوانو نه "خوند په خوله دي نه په څښه نه په خواړه دي ".
د "خ" دوهمه نسخه : "خوند په خوله په ژبه په خواړه دي ".
(۸) "پ" چاپ ، د "پ پ" چاپ او "ق ك" چاپ : " خاوري ".
(۹) د "خ" دوهمه نسخه : " څه حاجت دي دبستر و د بالين ".
(۱۰) چاپې ديوانونه ، او د "خ" لومړي او دوهمه نسخه : " د رحمان اشنا چنان دي هم چنين ".

که تري ولوښته شاهان اوسلطانان — هېڅ نیمګړی په چا نه شو دا جهان[1]
که هزار هزار فنا شي په یو دم کې — بیا پیدا شي په یو دم کې هزارا ن
درفتن دآمدن حساب يې نشته — لکه بحر چې لهېږي بې پایا ن
یو دبل په غم نه ترم وي نه ګرم — هم دهغه زده چې وریې شي په ځان
پیغمبر غوندې صاحب تردنیا تېرشو[2] — دا دنیا يې ورانه نه شوه په هجران
چې داهسې عالم لاندې شو تر خاورو — دچا یادوي ما وتا غوندې سګان
که غلبیل کړم د تمامې دنیا خاورې — بیا به نه مومم دارا او شاه جهان[3]
بوی دنام ودنښان يې پاتې نه شو — چې دعوی يې کړه د نام اودنښان
که دروغ وایم ته ورشه نظر وکړه — دخپل پلار اود نیکه په ګورستان
چې يې ته په دوارو ستر ګو سنګلولې — ګوره څه شوې هغه خولې هغه لبان
چې مدام يې په قربان قربان بللې — اوس دې غږ درباندې وکا چې قربان!

## ۱۵۱ — ۱۷۴۶

د رحمان وسوزان شعرته حیران یم[4]
چې يې اوربل شوی نه دی په دیوان

ته چې هسې ګاه يې ترش ګاه يې خندان — له عاشق سره کینه کړې که احسان
له احواله دې چانه زده چې به څه کړې — کله جور کله لطف کړې عیان[5]
رنځ راحت دعاشقانو واړه ته يې — دادروغ دی که وصال دی یا هجران
هغه شونډې چې خوږې دي تر شکرو — له کنځلو يې عار نه کا عاشقان
رجوعات دبنایسته ؤ چاته نه وي — هرګز نه وي سرکوزي دسروې شان

---

(۱) داغزل د "پ" په نسخو اود "خ" په نیمګړې نسخه کې نشته. د "خ" په نورو قلمي نسخو کې د "ولوښته" پرځای "ولښل" راغلی دی.
(۲) "ق، ک" چاپ: "محمد علیه السلام تردنیا تېرشو".
(۳) قلمي نسخې: "که غلبیل کړې د تمامې دنیا خاورې بیا به نه مومې دارا اوشاه جهان".
(۴) "ق، ک" چاپ: "دهجران دې سوزان شعرته حیران یم".
(۵) د "خ" دوهمې نسخې اونیمګړې نسخه: "کله جور کله غوږې کړې عیان!" اوداغزل د "پ" په نسخو کې نشته.

دغه هسې رنګ ښایست لکه چې ستا دی — نشته دا رنګه ښایسته دهېڅ انسان[1]

قصد ترهسې حده ولې کړی ګل رخه — چې له دېره ناز وژنې عاشقان

د مړي صورت څه روغ له کانی نه وي — نشته کانې څخه ستا د جفا توان[2]

وهرچا وته[3] چې ستا قوت رسېږي — هلته نه رسي قوت د درست جهان[4]

ستاله جوړه زهره[5] نه لرې چې آه کا — که کشور د عاشقانو شي ویران

خواره حیران لکه عاشق دی ستاله درده — خدای دې هېڅوک هسې نه کا خوار حیران

لکه دېر وایي د وصل راحتونه — د غه هسې د فرقت دی سخت زندان

د رخسار نښې دې واړه د خورشید دي — چې یې د رست جهان له نوره دی روښان

له هوسه دې هر ګل کړه خندا شوه — چې یې ولېد ستا د حسن ګلستان

کله وي چې نصیحت کاندي عاشق ته — که له حسنه دې آګاه شي زاهدان[7]

رنګ د روی دې لرې رنګ د سرو ګلونو — توري څنې دې ښا خونه د ریحان

سیاهي د نوي خط دې هسې زیب کا — لکه سنبلې واړه توره د قرآن

وکوهي ته چې لغزش کا کل خطروي — که د ر تاریک شي چې ظاهر شي ستا د ندان[8]

ته سلطان د ښایسته رُوې د لبره[9] — دا نور واړه ښایسته دې نوکران

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(۲) دا بیت په "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته، د "خ" په قلمي نسخه کې د "مړي" پر ځای "سړی" راغلی دی.

(۳) په قلمي نسخه کې "وهرکارونه" راغلی دی.

(۴) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "شاه جهان" راغلی دی.

(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "چاره نه لري" راغلی دی.

(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته.

(۷) دا بیت او درېمې دوه بیته د "خ" په مصوره نسخه کې نشته.

(۸) "ق، ک" چاپ کې "خطر" راغلی دی.

(۹) د "خ" دوهمه نسخه کې "دا دا دره" راغلی دی.

۱۵۲

که دانور بنایسته ستوري ویل کیږي — ته خورشید غوندې صورت لري عیان[1]
له هرچا چې اوریده شي دغه وایي — چې بنایست دې زړه نه لري نقصان

۱۷۶۹

درولعل شو ویل درته همدلته خکه[2]
چې دی ستا دلعلو وشوند وشوګویان

۱۵۲

چېرته دیار شوندې چېرته غم ددل وجان — چېرته کمتی لال او چېرته لعل دبدخشان
پاك ومنزه دی عشق دنفس له خاصیته — چېرته چاه دګیدې چېرته چاه زنخدان
لږ تفاوت نه دی درندی د زاهدی ته — چېرته خلمي جونه چېرته کونډې یتیمان
واړه بې وقوف دي که څوك دین په دنیا پلوري — چېرته پنځه ورځې چېرته عمر جاودان
زارشه دهوا وحرص خیال ترقناعته — چېرته ملك د مصر چېرته ده د غلامان

۱۷۷۵

نه شي د ملنګو دخانانو سره کلی[3]
چېرته عزیز خان چېرته ملنګ عبدالرحمن

۱۵۳

فراموش مې دی دستا په مینه خان — خان لا څه دی بلکه عمر جاودان[4]
لکه زه چې ستا د درپه خاورو خوښ یم — هومره عیش وطرب نه لري شاهان
لکه زه چې ستا د غم پند ونه اخلم — هومره پند اخستی نه شي پهلوان[5]
هسې بې سروسامان یم ستا په عشق کې — چې آګاه نه یم په سر او په سامان
هسې بې شرابو مست یم ستا په مینه — چې خبر نه یم په څمکه په آسمان
دا به څرنګ شي چې ته دکال وعده کړې — په مانه تیریږي بې تا یو زمان

---

(۱) دابیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته ، په "پ" چاپ ، ق، چاپ ، "ق،ک" چاپ ، د "خ" دوهمې نسخه او نیمګړې نسخه کې "روښان" او مصورې نسخه کې "تابان" راغلی دی.
(۲) قلمي نسخې : " تر دې ویل دهمان درولعل شوه خکه"
(۳) چاپي دیوانونه : " نه شي دخانانو دملنګو سره کلی". د "خ" په لومړۍ نسخه کې "وبله کلی" راغلی دی.
(۴) واغزل د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته ، په نورو قلمي نسخو کې " عیش جاودان" راغلی دی.
(۵) دابیت د "خ" په نیمګړې نسخه کې نشته ، په "ق،ک" چاپ کې " دسر پند ونه" راغلی دی.

تمامي عمر دستا په طلب ورك يم  لټوم دي په هر بنهر په بيابان

۱۵۴

کله دره يې شې کيږي پرې بند دې ته (۱)

۱۷۸۳

د پرمين دي ستا پر مخ عبدالرحمان

خوبه شمېرم زه غمونه د هجران  هومره د پرې دي لکه ريګ د بيابان (۲)

دسې دد بنمنۍ توان مې نه ؤ  خداى را پيښه د بنمني کړه د آسمان

لکه څوك چې داوښ بار په مېږۍ کېږدي  هسې زه يم په خپل غم (۳) پورې ناتوان

لکه اور د بېلتانه چې په ما اورې (٤)  چالېدلى ګنه اور دى په داشان

د يار غم به مې هغه سړى په شمار کړې (۵)  چې شمېرلې يې وپښته وي د خپل ځان

که څوك والي حال دى څه دى په هجران کې  په خاطر دې تصور کا د وزخيان

ناقرار زړه (۶) مې د يار په هوا والووت  تش صورت مې په ځاى پاتې شو پرېشان (۷)

د يار يادمې (۸) زړه په غټو ستر ګو يووړ  لکه بت په د ديوال کښلى يم حيران

ما وې زړه د مومن عرش دى خبر نه وم  چې به عشق زما داعرش (۹) کاندې ويران

عاشقې ترهغه حده پې هوش کړم  چې نه هوښ لرم نه صبر نه سامان

لور دلوړه د تهمت په غوندې وېشت شم  ملامت را باندې والي درست جهان

۱۷۹۵

چې دا حال ور باندې نه وي د رغلى

۱۵۵

په ويل به څه ګروهېږي د رحمان

---

(۱) قلمي نسخې : "چې له دره يې شې ګناه يې کوم دى  د پرې دستا په مخ مين دى يو رحمان". (۲) قلمي نسخې : "خوبه شمېرم - د رد غمونه د هجران  هومره د پرې دي لکه شګې د بيابان". داغزل د "خ" په دوهمې نسخې کې نشته.

(۳) "ق ، ک" چاپ : "په خپل يار پورې ناتوان" راغلى دى. (٤) د "خ" په قلمي نسخې کې داسې دى : "لکه غم د بېلتانه چې په ما اورې". د "پ" لومړۍ نسخه : "لکه ستا د بېلتانه کاڼي په ما اورې". (۵) قلمي نسخې : "زما غم به د هغه سړي په شمار وي".

(۶) په "پ" چاپ او "ب پ" چاپ کې "روح" راغلى دى.

(۷) په چاپي ديوانونو ، د "خ" لومړۍ نسخه او نيمګړې نسخه کې "حيران" راغلى دى.

(۸) په "پ" چاپ ، "ب پ" چاپ کې "دم" ، "ق ، ک" چاپ کې "غم" راغلى دى او دا بيت د "خ" په نسخې کې نشته . دوهمې لومړۍ په چاپي ديوانونو کې داسې دى: "لکه بت چې په د ديوال کې وي حيران".

(۹) د "پ" په لومړۍ نسخه کې "زړه" راغلى دى.

ورکه عاشقي شه هم يې نوم هم يې نښان
زه دعشق په کارکې تېر ترسره هم ترمال يم (۲)

کښېوتم دعشق په آدم خور وگرداېونو
رنځ دعاشقي چې زه ظاهر کړم وطبيب نه

شم ياران ددنيا واړه گدايان دي
نه مې حال وچا نه وويې چې داخه دی

دعشق اور اباندې بل شو خدای خبر دی
راشه عاشقي مه کړه رحمان هم اوکه نه وي

تل په په اورناست يې که بادشاه يې دجهان
خان سلطان ددې جهان

دقضا په حُبل تر لی
شېرين حُان ورځخه دزومي

که سبندي مال وملک واړه
نه يې مل نه يې حامي وي

درمانده ورته ولاړ وي
هيڅ دارويې کړلی نه شي

زه يې هسې خوار کړم لکه شگې (۱) دبيابان
کشکې که په سرمې دامشکل کا خدای آسان

نه په وراندې تلی شم نه په بېرته گرېزان
هيڅ ويلی نه شي طبيبان او حکيمان

زه دعشق په اوږکې سوی سرگردان (۳)
عالم واړه په فکرت تللي حيران

اوس رسوا شوم په عالم کې چاک گريوان

۱۸۰۳

۱۵۶

آخر دزومي خوار حيران
په مثال د بند يوان

نه يې زور رسي نه توان
هيڅ رنگ نه مومي امان

دردې وړشي په خپل حُان
وزيران او وکيلان (٤)

کوز کوز گوري حکيمان

---

(۱) په چاپي ديوانونو کې "خاک" اود "خ" په دوعمدنسخو کې "لوتې" راغلی دی.

(۲) د "پ" لومړۍ نسخه: "زه دعشق په کارکې تېر ترسره مال يم".
د "خ" لومړۍ نسخه: "زه دعشق په کاردبارکې ترسره تېر يم".
د "خ" دوهمه نسخه: "زه دعشق په کارکې ترسره ترمال تېر يم".
مصوره نسخه: "زه دعشق په کاروزارکې ترسره تېر يم".
نيمگړې نسخه: "زه دعشق په کارکې ترسره تېر يم باری خه کړم".

(۳) دابيت اود پسې دوه بيتونه د "خ" له دريمې قلمی نسخې نه نقل شول. او په وزن کې له اصل غزل سره برابر نه برېښي.

(٤) د "خ" په نيمگړې نسخه کې "اميران" راغلی دی.

بادشاهي پاتي کيږي — زره يې چوي په ارمان
چې يې روح له تنه بېل شي — نور پرې ژاړي فرزندان
يوساعت وربانديې ژاړي — آخر صبر کا خوا ران
بيايې غسل لـره واخلي — په تخته باندې عريان
په جامو يې هوسيږي[1] — مړه شوی اوغسالان
چې له قبره يې بازگشت شي[2] — مال يې يوسي ميراثيان
په مسند يې دعوی کاندي — هم دوستان هم دښمنان
سهيلی به يې تالاکا[3] — هغه خپل مصاحبان
نام نښان يې هسې ورک شي — لکه عين بې نشان
نه يې نقش پاتي کيږي — نه يې اسم په جهان[4]
دا دنيا آب روان ده — نه شي نقش په آب روان
که هزار رنگ ابادي کا[5] — نهايت خانه ويران
لکه بادهسې به تېر شي — کاروبار دې دوران[6]

## دابيان دورود راز و کوتاه قطع کر رحمان

۱۸۲٤ — ۱۵۷

---

(۱) په چاپي ديوانونو کې "خوشالېږي" راغلی دی.
(۲) په قلمي نسخو کې "بازگشت کا" راغلی دی.
(۳) چاپي ديوانونه : "سهيلی يې تالا کاندي".
"خ" دوهمه نسخه : "سهيلی دده تالاکه".
مصوره نسخه : "سهيلی يې هم تالاکه".
(٤) په قلمي نسخو کې "زمان" راغلی دی.
(۵) "پ" لومړی نسخه : "که اباديې کر هزار رنگه".
"خ" دوهمه نسخه او نيمگړې نسخه : "که هزار آباداني که".
(۶) چاپي ديوانونه : "هغه دورهغه دوران".
"خ" په قلمي نسخو کې : "هغه دور ددوران".

که پخوا له آشنایی وی بېلتون[1] ما به نه وُ له چاکرۍ پیوستون
چې مې یار په ستر ګو ولید ما ګومان کړ چې هم د اساعت مې بیا مونده ژوندون
په نیمګړي داد خبرد فلك نه وم[2] چې به بیا شي په ستنه راشخه ستون
نن ساعت چې له دې حاله خبردار شوم سکه ترنن وه چې بهتره وه پرون
هر زحمت چې پرما راشي شکرانه کړم[3] عاشقي ترهسې حداه کړم زبون
اوس که لاس پر بله من م هیڅ سودنه کا هغه چار چې مې له لاسه شوه بیرون
لکه نمر په څلورم آسمان ځلېږي محبت یې له حجابه کړم بېرون[4]
چا چې رخه له سنه مخه را کوله اوس دې سوفر په نیلي ګرځي دګردون
په داهسې حال کې څرنګ صبور ې شي چې دښمن دې کامراني کا ته محزون
که په صبر سره تور کا مې لعل کېږي لعل یې مدکړې په داهسې شواخون[5]
د دنیا هوس په ما باندې حرام شو دهوسی هسې کړم شپه په مېږ تون[6]
د ریغه یوځله هغه زما په حال شوی چې وما وته لولوي صبر و سکون

وما ان ته څان هغه ګړۍ آسمان شي
چې د ستا په غم کې[7] ناست وي سرنګون

۱۸۳۷ ۱۵۸

---

(۱) داغزل د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته ، د پښور په چاپي دیوانونو کې لومړۍ مصرع داسې ده : " که پخوا له آشنایی نه وی بېلتون".
(۲) د "پ" لومړۍ نسخه : " په نیمګړی داد فلك د خبر نه یم".
(۳) دا بیت د "خ" په نیمګړی نسخه کې نشته ، په نورو قلمي نسخو کې " شکرانه" راغلی دی.
(٤) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(۵) په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې "ځیګر خون" راغلی دی.
(۶) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(۷) د "خ" په لومړۍ نسخه ، نیمګړی نسخه او مصوره نسخه کې "چې دیار په غم کې" راغلی دی.



څوك مه شه گرفتار د تورو زلفو — مه اسیر شه[1] په کفار د تورو زلفو
هم پریشان د تورو زلفو به پریشان وي — هرچې کاندي انتظار د تورو زلفو
د محشر په عالم کله قراري وي[2] — څوك به څه غواړي قرار د تورو زلفو
څوې صبح[3] د قیامت دمیده نه شي — ودځ به نه شي شب تار د تورو زلفو
مگر شمع[4] د سپین مخ شي باندې بله — گنه نشته بل انوار د تورو زلفو
تار په تار کا د عاشق د خاطر خونه — چې حلقې شي تار په تار د تورو زلفو[5]
چې تمام جهان یې نښتی دی په دام کې — څوك به څه کاندي انکار د تورو زلفو[6]
زه له کوم، یوه کمنده سي وکا نم — کمند و نه دي هزار[7] د تورو زلفو
هومره زړونه یې پیلي په هر تار دي[8] — چې تسبیح کړه خدای زنار د تورو زلفو
په تندي د محتسب کا د ره ماته — چې پرې راشي دره دار د تورو زلفو[9]

---

(۱) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : "اسیر مه شه".
(۲) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړی نسخه : "د محشر عالم به کله په قرار وي"، خو "پ" چاپ کی د "کله" پرځای "څرنګ" راغلی دی.
(۳) د "پ" نسخی او د "خ" دوهمه نسخه : "ولی صبح".
(٤) مصوره نسخه : "کله".
(۵) د "خ" دوهمه نسخه : "چې حلقه شي خلقه مار د تورو زلفو". او چاپي دیوانونه، مصوره نسخه او د "خ" لومړی نسخه کی "چې حلقه شی" راغلی دی.
(۶) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ : "څه به کاندي څوك انکار د د ر و پښانو".
(۷) د "پ پ" چاپ : "بسیار".
(۸) د "خ" لومړی نسخه : "هومره زړونه یې پیلی هر تار دي".
(۹) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کی نشته.

ملك دهند او دحبش يې واړه زېرکړ[1] چې پيدا شو شهر يار د تورو زلفو
سپاما را نوغوندې گرځي په گنجونو[2] نه شي هېڅ په زړه کې پاردتورو زلفو
که بل مار چيچل په لاسو يا پر پښو کا[3] په زړه خوله لگوي مار د تورو زلفو

۱۵۶ د ټاکلو ترقلم مښک وعنبر وو يې ۱۸۵۱
چې آغاز يې کړ اشعار دتورو زلفو

اوښکې نه لري حساب زما دستر گو بې حسابه شو سېلاب زما دستر گو
سياهي مې همه واړه سپېدي شوه هسې پر پولی شو کتاب زما دستر گو
که مې سره دي که مې سپين دي که مې تور دي[4] اوښکو يو وړ هر اسباب زما دستر گو
چې رخسار دهغه يار راتخنه پټ شو حبطه شو آب وتاب زما دستر گو[5]
چې گوزارې مې په داگرمو اوښکو نه شو[6] مگر کانی دی حباب زما دستر گو[7]
که نور خلق د آفتاب په رنا زيست کا[8] مخ د ترکو دی له افتاب زما دستر گو
مايې خيال لره ابلق د ستر گو زين کړ قدم نه ښدي په رکاب زما دستر گو

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه : "ملك دهند د حبش واړه زېر زبرکړ".
(۲) د "پ" په لومړی نسخه کی "ملکو نو" راغلی دی.
(۳) "ق ،ک" چاپ ، "ق" چاپ اود "خ" دوهمه نسخه : "که بل مار چيچل په لاسو په پښو کاندی".
مصوره نسخه : "دبل مار چيچل پرلاس و يا په پښو وي".
(٤) دابيت په مصوره نسخه کی نشته لومړی مسری يې د "پ" په لومړی نسخه کی داسی دی : "که مې سره دي که مې تور که مې سپين دي".
د "خ" لومړی نسخه : "که مې سره دي که يې سپين دي که يې تور دي".
د "خ" دوهمه نسخه : که مې سره دو که مې تور دو که مې سپين دو".
(۵) "پ" چاپ اود "پ پ" چاپ : "چې رخسار دهغه يار راتخنه پټ شي حبطه شي آب وتاب زما دستر گو".
"ق ،ک" چاپ : "پاتې نه شو آب وتاب زما دستر گو".
"ق" چاپ : "حيف چې پاتې شي آب وتاب زما دستر گو".
د "خ" دوهمه نسخه : "آبو ترشو آب وتاب زما دستر گو".
(۶) چاپی ديوانونه ، مصوره نسخه ، اود "خ" لومړی نسخه : چې گوزارې مې په داگرمو اوښکو نه شي".
د "خ" دوهمه نسخه : "چې گذران مې په داگرمو اوښکو نه شي.
(۷) مصوره نسخه اود "خ" دوهمه نسخه : "مگر کانی شه حباب زما دستر گو".
(۸) د "خ" دوهمه نسخه : "که نور خلک دافتاب په مخ کې گرځي".

چې مې[1] نقش په زړه سرې شوند دیار شوی — کان دلعلو شوګر داب زما دستر ګو

لکه تښتي وحشیان له مردمانو[2] — هسې وتښتېده خواب زما دستر ګو

۱۶۰ — ماران ماځ[3] چې ستر ګې رونې پخپل یار کړې

۱۸۶۱ — اوس محال شو[4] اجتناب زما دستر ګو

هر ساعت زما دغوږ په تاوولو — د فلاک لاسونه شنه شوه تر څنګلو

هومره غم دبېلتانه راباندې را غی[5] — چې حساب یې نه په خوله شي نه په کښلو

هغه ستر ګې چې نرګس وې هم بادام وې — تېرې تورې شوې زما په قتلولو

هغه شونډې چې شېرینې وې تر قند و — ماهیڅ فیض تر یې بیانه موند بې سنګ نخلو[6]

داکان ه کان ه بانه اوکښې ور وځې — نورڅه نه کا بې کښ وکښ و وهلو[7]

په شپه نوکې د عاشق په وینو سرې کا — سبا پورې کا نکر یزي په منګلو

دا زما د قاتل لاس دی نه پوهېږم — که تر باغ وتلی خانبس دی د سرو ګلو

د رېږه مرګ یې په دنیا کې نیمه خواشوی — سبا یسته غونچې یې پرې یسبتې د ګلو[8]

۱۶۱ — هسې بند شو په کمند د تورو زلفو

۱۸۷۰ — چې حیران یم د ماځ ن په خلاصولو[9]

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته، مصوره نسخه : "چې یې نقش".

(۲) د "پ پ" چاپ : "لکه وتښتي وحشیان له مردمانو".
"ق ،ک" چاپ : "لکه تښتي چې وحشیان له مردمانو".
مصوره نسخه : "لکه تیښتند و حشیان که له مردمانو".

(۳) د "خ" لومړی نسخه : "ماړحمان چې په ستر ګو دو نې په خپل یار کړې".

(۴) چاپي دیوانونه ، مصوره نسخه اود "خ" دوهمه نسخه کې "محال دی" راغلی دی.

(۵) په مصوره نسخه کې "اوریږه" راغلی دی.

(۶) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه : "لوڅه نه کړي بې کښ وون د ویلو".

(۷) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

(۸) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.

(۹) د "خ" دوهمه نسخه : "حق حیران یم زه رحمان په خلاصولو".

تا چې رنګ د مېو وګرځ ولبانو
اوديې پوديې کړې په کور د مېخوارانو

چې دې جوړه کړه لينده دکښ وورځ
خوبه شکار کړې په حرم د غزالانو[1]

چې دې اسمر د ځنځيرې په زلفو کښېنود
معطر دې کړ دماغ د ديوانګانو

په رخسار چې دې د خط غبار څرګند شو[2]
سر بلنده شوه خرقه د خاکسارانو

ګاښه غشي واړه بېرته ځي له نښې
زه از ار کړم ستا کښ وکښ و[3] مژګانو

چې زما د يار ترمنځه جدايي کا
کاڼي پر پوتي په خونه د بدانو[4]

که مې چېرې خواست د خدای په درقبلېږي
سوال به زه د عمر کړم د هوشانو

سوه پېزوان دې په سروشوند او هسې زېبکا
لکه جېم په قلم سنګلي کاتبانو

دسرو تېلګ دې شهزاده په جبين پروتدی
شينکی خال دې محاصل په بنديوانو

دواړه لېچې دې وکښلې مصرې تورې
د رپوهېږم سې به پرې کړې د خوارانو

ستاله غمه په ځان زړه د حرمان سوځي
لکه شمع په زيارت د شهيدانو

۱۶۲

۱۸۸۱

چې کوتلی وي په تېغ ستاد چشمانو
سر حلقه دی د جمله و شهيدانو

ستا وصال د سر پرېکړيو دی دلبره
ژوندي نه مومي جنت بې مردګانو

د پېرۍ سوری عاقل لره ضروری
دامقام دی د سرتور و ديوانګانو

په سرپوښ محل[5] کې نور د آفتاب نه وي
دا دولت دی نازل شوی په ډاګيانو

هم په دا زماله ستر ګو وينې څاڅي
چې دې نقش پېکې رنګ دی دلبانو

---

(۱) قلمی نسخی : "خوب دې ژوبن کړې د حرم په غزالانو".

(۲) د "خ" په دوهمه نسخه کی "پيدا شو" راغلی دی.

(۳) د "خ" لومړی نسخه : "زه اداکړم ستاکښ وکښ و مژګانو".
د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه : "زه اداکړم ستاکښ وکښ و مژګانو".
او د "پ" لومړی نسخه : "زه اداکړم ستاکښ و روځومژګانو".

(٤) دا بيت او ورپسی څلور بيتونه په قلمی نسخو کی نشته.

(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کی "بازار" راغلی دی.

۱۹۳

مشکین خال دې په سر ولبو هسې زېب کا  لکه مُهر په مخزن د درمرجا نو

۱۸۸۸

ماسیوالـه یاره هرچې دی رالـه نـه
واړه کفر دی په دین دعاشقانو

که نظر کا څوک په کار ددرویشانو  خو به وینې وقار ددرویشانو
په دغه لارې به ودرشي خدای رسول ته[1]  که څوک یون کا ندي په لار ددرویشانو
هر گفتار به یې دخدای په در قبول وي[2]  چې قبول یې[3] وي کفتار ددرویشانو
په یوه قدم تر عرشه پورې رسي  مالبدلی دی رفتار ددرویشانو
هسې گرم بازار بل په جهان نشته  لکه گرم دی بازار ددرویشانو
هرمن خلق یې زیارت[4] کا پس له مرګه  چې بازار وي په مزار ددرویشانو
بادشاهان ددنیا واړه پرې پراته دي[5]  لکه خاورې په دربار د درویشانو
هر بهار لـره خزان په جهان شته دی  خزان نه لري بهار د درویشانو
دجنت دباغ ګلونه به یې هېر شي[6]  که څوک وویني ګلزار ددرویشانو
چې دنیا یې کـره دخدای د پاره ترکه  صدرحمت شه په روزګار ددرویشانو
د قارون وحال ته ګوره حال یې څه شو  لاشه مه کوه انکار ددرویشانو
په هرچا چې دغضب لینده کا سنخه[7]  خطا نه در وي ګوزار ددرویشانو

---

(۱) دابیت په مصوره نسخه کی نشته د "پ" په نسخو او د "خ" په لومړی نسخه کی دامسری راغلی دی : "په دغې لارې به ودرشي وخدای ته".
(۲) "ق،ک" چاپ ، "ق" چاپ او د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه کی " قبول شی" راغلی دی.
(۳) "پ" چاپ ، "ق،ک" چاپ ، "ق" چاپ کې " چې قبول یې کـړه" راغلی دی.
(۴) قلمدنسخه : " طواف".
(۵) چاپې دیوانونه او د "خ" لومړی نسخه : " بادشاهان ددې دنیا واړه پراته دی".
د "خ" دوهمه نسخه : " بادشاهان ددنیا ورته پراته دی".
مصوره نسخه : " بادشاهان ددنیا واړه پراته دی".
(۶) "ق،ک" چاپ : "به دې هېر شي". د "خ" لومړی نسخه : "به یې هېر دي".
(۷) په قلمدنسخو او د "ق،ک" چاپ کی "غرکه" ، د "پ" چاپ او "ق" چاپ کی "کشه" راغلی دی.

۱۶۴

درست دیوان د ماتح زار تر داغزل شه (۱)
چې بیان یې کړ کردار د درویشانو

۱۹۰۱

د پښو وان غمی دې زیب کا پرلبانو
تو دې زلفې دې څنځیر د عاشقانو (۲)

داسو رتیک دې شهزاده پر اوربل پروت دی
شینکی خال دې معانی د بندیوانو

د واړه لب دې بنایسته ترسره یاقوتو
شر مولی ده ژبې ستا د ندانو

د وه رخساره دې دوه سیب دسم قند دي
پر سینه دې دوه نارنج د رنځورانو

د واړه لیچی دې کړې کښلې مصری تو ړې
د ر پوهیږم سر به غوښه کړې د خوارانو (*)

تو ړې وروځې دې کړې پر جبین (زیب کا) (۳)
لکه جیم پر کاغذ کښلی کاتبانو

د پیرۍ سیو ری عاقل لره خرو ردی
دا مقام دی د سر تو ره ملنګانو (*)

ستا وصال د سر پر یکړیو دی د لبره
ژوندي نه مومي جنت بې مردګانو (*)

دلیلی د کوڅې سپی پر مجنون پښتون شو
په بار بار یې شکلاوه پر دو وعینانو

۱۶۵

ما سوا له یاره هر چې وي باطل نه دی (*)
واړه کفر دی په دین د عاشقانو

۱۹۱۱

که هر څو په صحرا سر شوم هم په کلیو
بیا مې نه موند هیڅ خبر د هغو تللیو

خدای زده کومې خوا ته لاړل حال یې څوری
خبر نه یم د گرنګ له پریو تللیو (٤)

له دې غمه مې زړه چوي که څوک خبر وي (٥)
لږ په ما هم خبر وکړي څنګه ساتلیو

پس له دې به چاپیره د رومۍ خامو کوم دی (٦)
راته وایي د دنیا په سرای راغلیو

---

(۱) مصوره نسخه : "تر یو غزل شه".
(۲) د اغزل د "خ" له دریمې قلمی نسخې نه نقل شو.
(۳) په قلمی نسخه کې "پر جبین پروت" راغلی دی. (*) دا شعر جیتو نه په همکینیو غزلو کې تکرار راغلی دی.
(٤) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٥) د "خ" دوهمې نسخې "که څوک خبر اشی" او په مصوره نسخه کې "که څوک خبر یږی" راغلی دی.
(٦) دې نسخې او د "خ" لومړۍ نسخه : "پس له دې به چاپیره د رومۍ خامو کوم دی". مصوره نسخه : "پس له دې به چاپیره د رومۍ خامۍ کوم دی".
د "خ" لومړۍ نسخه : "پس له دې به چاپیره د رومۍ خامۍ دی کوم دی".

کوندې ستاسو په مخ زه هم بسنده شم[1]
لاس دخدای ودرته نیسی، پسند لیو

هیڅ خبرې په هیڅ لوري موندی نه شي
کدې غواړې شپه اوږدۍ په سپرو پلیو

له ناپوهه خلکه نه کیږي پوښتنه
زه وتاسې وته وایم پوهیدلیو[2]

خبر نه یم چې په باب مې کښلې څه دي؟
زه ماځ[ان] په اند پښنه یم له دې ښکلیو

۱۹۱۹ ۱۹۶۶

ددلبرو په درګاه
نه حرمت[3] لرم نه جاه

غوڅوي مې دزړه ولې[4]
دچمانو په نګاه

هومره قدر مې پرې نشته[5]
لکه قدر د ګیاه

یو[6] نظر راباندې نه کا
از برای عند الله

هیڅ له ځانه خبر نه یم
چې یې څه لرم ګناه[7]

کله غمه یې سر پټ کړم
بل سر نه لرم پناه[8]

د ماځ[ان] په خیر ومه شه[9]
حال احوال دچا تباه

۱۹۲۶ ۱۹۶۷

---

(۱) چاپي دیوانونه اود "خ" قلمي نسخې : " ګوندې ستاسو په مخ زه هم پسند یده شم".
(۲) دا دوه بیته د "خ" له دریمې نسخې نه نقل شول اود هم بیت د "ډوډن" په مجموعه کې هم شته.
(۳) د "خ" دوهمې نسخې : "عزت"
(۴) د "خ" دوهمې نسخې : "دزړه وینې"
(۵) چاپي دیوانونه : "هم نشته"
(۶) د "خ" لومړۍ نسخه : " تر دې نظر راباندې نه کا".
(۷) د "پ پ" چاپ اود "خ" دوهمې نسخې : "چې زه څه لرم ګناه". "ق ، ک" چاپ : "چې یې زه لرم ګناه".
(۸) دا بیت په معموره نسخه کې نشته.
(۹) چاپي دیوانونه اودنورې قلمي نسخې : " د ځان په خیر دې نه شي".

ورځ دې تېره په شومۍ کړه شپه له خوا به — خدای به کله یاد وې خانه خرابه
په شتاب شتاب دې تله دې که پوهېږې — غافل مه شه د دې عمر له شتابه
دلته دم او قدم دواړه په حساب دي — پل غلط له لاري مه ځه بې حسابه
راستولی خدای حساب دی په کتاب کې — خبر زده کړه له حسابه له کتابه (۱)
ته وخپلو نېکو بدو ته نظر کړه — چې بدي دې خوتېرې کړي له ثوابه (۲)
په هغه جهان به څرنګ ځواب وکړې (۳) — چې په دا جهان عاجز یې له جوابه
عاقبت به تور وخاور ولړه درومې — ځان به خوشحالې په ګوته له ترابه (٤)
زه دې پېژنم په اصل کې تراب یې — ته چې ځان څنډې په ګوتو له ترابه (٥)
خو په دا جهان او به له تندې نه شې — په قیامت به دې سینه نه شي سیرابه
چې آفتاب یوه نېزه شي بیا به څه کړې (٦) — چې نن (۷) سیوري لړه تښتې له آفتابه
دکاغذ په کشتۍ سیلۍ کوې رحمانه — دا کشتۍ به دې مرګي کاندې غرقابه (۸)

۱۹۶۸ — په ازاد دچا راضي مه شه کاله نه
۱۹۳۸ — که خلاصی په قیامت غواړې له عذابه

په ورځ ناست یې بې طلبه (۹) — په شپه خوب کړې بې ادبه
لاس دې وخاته له دواړو — هم له ورځه هم له شبه

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۲) قلمي نسخې: "ته دا خپل نېک وبد وتله مخپله چې ثواب دې خوتېرې کاله عذابه".
(۳) د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه: "په هغه جهان به څرنګه ځواب کړې". د "خ" دوهمه نسخه: "په هغه جهان به څرنګ ته ځواب کړې".
(٤) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(٥) دا بیت او ورپسې بیت له قلمي نسخې نه نقل شو.
(٦) قلمي نسخې: "ته دې به څه کړې".
(۷) چاپي دیوانونه: "اوس چې".
(۸) دا بیت د "خ" په ورور دار نسخو کې نشته. لومړۍ مسري یې په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "دکاغذ په کشتۍ سیلۍ به کړې ته کومه".
(۹) په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړۍ نسخه کې "بې مطلبه" راغلی دی.

نه دلي شوي نه هوري شوي ترمنځ(۱) ورک(۲) شوي مذبذبه
عبادت دي په ریا شو په مذهب کې بد مذهبه(۳)
مدام بند دي په سبب کې بې خبر له مسببه
واړه تشې شړومبې شاربې خبر نه شوې له مطلبه
ته اوده وربانده سور(۴)یې آس دې یون کا بې جلبه
تن دې تش په توره وسو آس دې داغ کړې منصبه(۵)
دراکب چې واک پردی شي سودیې څه وي له مرکبه
له ژوند یو سړه ناسته(۶) له مړ ده ؤ مرکبه
هلک لوی شوې په اوبو کې اوبه نه پېژنې کبه
لکه کانی یا کودری په دریاب کې تشنه لبه
ناآګاه ځان آګاه بولې(۷) دا خبره ده عجبه(۸)
مرادله زهده معرفتدی نه تش ځان وژل اقربه

۱۹۵۳ دمحمد شراب له عشقه ۱۶۹
نه له کدوله عنبه(۹)

ته شهاله(۱۰) یې شکر لبه کل رخساره سیم غبغبه

---

(۱) د "خ" دري واړه نسخې : " ترمیان".
(۲) چاپي دیوانونه : " ډوب شوې".
(۳) دا کلمه د "پ" په لومړۍ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې " بې مذهبه" راغلې دی.
(۴) قلمي نسخې : " وربانديې ناست یې".
(۵) دابیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۶) په "پ" چاپ ، "ق" چاپ ، "ق،ک" چاپ او د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه کې " ناست یې" او د "پ پ" چاپ کې "ناست دی" راغلی دی.
(۷) قلمي نسخې : " ناګاه خپله ناګاه بولې"
(۸) "ق،ک" چاپ او د "ق" چاپ : " دا خبره عجایبه".
(۹) چاپي دیوانونه : "ندانګوړ نه له عنبه".
(۱۰) د "پ پ" چاپ کې " شهلا" راغلی دی.

په نادرو کې نادره — په عجبو کې عجبه
په جمله ؤ معشوقو کې — بوالعجب يې منتخبه
بې زپوره بنايسته يې[1] — بې ترتيبه من تبه
دغه داد د الهی دی[2] — بې تا لاشه بې طلبه
آب حيات چې حيات بيا موند — ستا د شوندو له سببه[3]
مخ دې سپين تر سپين سبا دی — زلفې توړې تر تور شبه
ستا د مخ عرق دانه وو — ز ينت را نيو له کوکبه[4]
د بنايست مخی دې نشته — تر مشرقه تر مغربه[5]
د وصال مونده دې گران دی — مگر فضل شي له ربه[6]
چې د رب فضل پرې وشي — هغه خلاص شي له غضبه[7]
داد ولت د خدای پم داد دی — مونده نه شي له نسبه[8]
عشق څه هسې علم نه دی — چې حاصل[9] شي له مکتبه
مکتب حال د مذهب وايي — عشق سيوا دی له مذهبه
د عاشق مذهب هم دا دی — چې دم نه وي بې مطلبه[10]

ستاد حسن په تعريف کې
ټاټان گونگ دی[11] له ادبه

۱۷۰ ۱۹۶۹

(۱) قلمی نسخی : "بې زپوره دل فريبه".
(۲) د "خ" قلمی نسخی ، " دا يو داد الهی دی".
(۳) د " خ " لومړی او دوهمه نسخه او د "پ " لومړی نسخه : "آب حيا تو حيات بيا موند ستا د بوله سببه".
(٤) د پښتو چاپی ديوانونو : " ستاد مخ عرق دانه ده زينت دا ره له کوکبه".
(۵) دامسری په مصوره نسخه کی دا سی لوستل کيدای شی : " مگر مهر وشی له ربه".
(٦) دابيت په مصوره نسخه کی نشته ، په نوره قلمی نسخو کی دامسری دا سی ده : " مگر مهر وشی له ربه".
(۷) دابيت د " پ " په لومړی نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کی نشته.
(۸) د " خ " لومړی نسخه کی "منصب" راغلی دی.
(۹) په قلمی نسخو کی "حاصليږی" راغلی دی.
(۱۰) دابيت په مصوره نسخه کی نشته ، د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کی : "يو دم نه وی بې مطلبه". په "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ کی د "نه وی" پرځای "مه وځی" راغلی دی.
(۱۱) په چاپی ديوانونو کی "شو" او د "خ" په دوهمه نسخه کی "يم" راغلی دی.

په هر زړه چې دیار مینه شي غالبه — بله مینه یې هیڅ نه وي مناسبه
نوري واړه مرتبې به ورته هیڅ شي — که خبر شي خوک له هسې مراتبه
لیاقت یې هر وګړي څخه نشته — عاشقي یوه پایه ده عجایبه
د طلب له کوتاهۍ وېره وکړه[1] — که هر څوک دې لار کوتاهه ده طالبه
عشق څرګنده خزانه ده خوار هغه شو — چې څرګنده خزانه شوه ترې غایبه
غوره[2] خط د مهر ویانې تر خط نشته — که هزار رنګ کتابونه کړې کاتبه
هیڅ یې مه پوښته له فرضوله واجبو — په هغو چې عاشقي کړې خدای واجبه[3]
عاشقان ترسره ماله یاړته تیر دي — خدای دې دا طالفه نه کاندي کاذبه[4]

۱۷۱ — زه ګمان کړم دخپل صاحب په رضا زیست کړم
۱۹۷۸ — خه په کار دی بنده بې خپله صاحبه[5]

تا چې په دا تور و ستر ګو وکاته وماته — زړه دې زما تورکړله دې نوره مخلوقاته[6]
ما خو چې ته ولیدې هغه ساعت مې ووې — نوره به مې مینه د زړه نه شي له تا ماته
شیخان او زاهدان چې نصیحت وماته وایي[7] — نه دي خبر شوي ستا د مخ له محسناته
څه وشوکه زه انګشت نما شوم ستا په مینه — لا ترما نه خوښ یې وقاضي وهم ملاته[8]
مړم په دا چې ماله تاجار باسي هغه خلق — بیادې په دیدن ترما وړنۍ ځغلي وخواته[9]

---

(۱) د "خ" لومړۍ نسخه : "د مطلب له کوتاهي وېره وکړه".
(۲) د "پ" په لومړۍ نسخه کې "دور" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "لهاتر" راغلی دی او هم دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته..
(۳) د "خ" لومړۍ نسخه : "په هغو چې دیار مینه شوه واجبه".
(٤) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته ، په لوړو قلمي نسخو کې دوهم مسری دې ډول دی : "خدای به دا طایفه نه کاندی کاذبه".
(۵) چاپي دیوانونه : "خه په کار دی دا بنده بې خپل صاحبه".
(۶) دې ردیف قول بیتونه د "پ" په دوهمه او د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې نه دی راغلي.
(۷) دا مسری په "پ" چاپ او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې دې ډول دی : "شیخ وزاهدان چې نصیحت ولي وماته".
(۸) دا مسری په "پ" چاپ کې دې ډول راغلی دی : "لا ترما نه خوښ یې وقاضي وهم ملاته".
په "پ ب" چاپ کې دې ډول راغلی دی : "لا ترما ته خوښ یې وقاضي وهم ملاته".
د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې دې ډول راغلی دی : "لا ترما خو مینه کړه قاضي او وملاته".
(۹) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې دې ډول راغلی دی : "بیا دې په دیدن ترما وړنۍ زغلي وخواته".

۱۷۲

ز ه رحمان چې دې ویم یار ه وایم خدایه خیر کړې
گډه ښاپیرۍ ده دښې آدم له ذاته (۱)

۱۹۸٤

که د عقل څه اثر لرې وسر ته  لاس په سر مه شه دهر ګپۍ ودر ته
په نظر د هغو خاورې سره زر کیږي  هر چې نه لرې نظر (۲) وسیم وذر ته
بې منته جام د زهر و څښلی سپه دی  نه هغه چې منت بار (۳) وې وکوش ته
دیوسف له حاله زده کړه د غه پسه  وا یه حال د زمانې وبرا در ته
د ې فلك وچا ته هیڅ بسنلې نه دې  چې یې نه دی را پرودی ځنې بې پر ته
د خو وارد عوی یې وګنه ممکنه  که یې پوه وې دیوې جود انې (٤) در ته
که له خدایه دې وخلق وته مخ شې  له فردوسه به دې مخ شې وسقر ته
همیشه به د ې په درګه ځې رتلی  داستوګنې ځای به بیا نه مومې چې پر ته (۵)

۱۷۳

د دې سست بدن منت په کاندې باندې
چې له خپله د ه تلی نه شې بل د ر ته

۱۹۹۳

چې نظر کړم د خوبانو د رخسار ته  حق حیران د خدای په کړه شم و د ې کار ته (۶)
له دهشته یې دیبار پوسنتیدلے (۷) نه شم  خدای زده څه به یې ویلې وې دیبار ته
خلوتیان لکه برده پکې خرڅیږي  غږ یې نه خیږي د حسن وبازار ته

---

(۱) دا بیت په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "نه رحمان چې یار وویم وایم خدایه خیر کړې گډه ښاپیرۍ ده دښې آدم له ذاته".
په "پ پ" چاپ کې دا بیت داسې راغلی دی: "نه رحمان چې وویم یار وایم خدایه خیر کړې گډه ښاپیرۍ ده دښې آدم له ذاته".
د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې دا بیت داسې راغلی دی: "نه رحمان چې یار وویم خدایه خیر کړې گنهه ښاپیرۍ ده دښې آدم له ذاته!".

(۲) په مصوره نسخه کې "حاجت" راغلی دی.

(۳) په چاپي دیوانونو او د "خ" دوهمه نسخه کې "هنت بار شې" راغلی دی.

(٤) چاپي دیوانونه: "که رتې یا جوداند به یې وې در ته".

(۵) قلمي نسخې: "داستون یې ځای به نه مومې هیڅ پر ته".

(۶) چاپي دیوانونه: "آئینې غوندې حیران شم و د ې کار ته".

(۷) د "پ" لومړۍ نسخه: "له دهشته یې دیبار ته کتای نه شم".

ته چې ما پوښتې د يار له حقيقته — څوك د يار خبرې كاندې واغيار ته
د رد وغم د عاشقۍ څه هومره نه دي — چې يې عقل د چا رسي ومقدار ته
نه وياړ چې سره خپل غمونه شمار كړو — يار وما ته حيرانيږي نه وياړ ته
د دنيا چارې همه واړه په وار شي — ما د يار غمونه نه پرې بن دي ووار ته (۱)

۱۷۴ — ۲۰۰۱

تاسو ژاړن هسې وزګار چېرې دی له عشقه (۲)
چې غوږ ونيسي ناڅې غوندې وزګار ته

ما د دهر غم وهلی دی په لته — د پيالې د صراحۍ له برکته
که اوبه دي د حياتو په ظلمت کې (۳) — ساده رويو وما راکړې بې ظلمته (٤)
هغه يار چې وما جام د مينو راکړ — د سبنو وينې مې وڅښې بې شدته (۵)
بې خودۍ د دنيا له غمه خلاص کړم (٦) — لار مې بيا مونډه بيرون له شش جهته
د دښمن په دښمنۍ مې خندا کيږي (۷) — لکه شمع د مقراض له خصومته
بې خيرې مې کل په خير باندې شميرلې — دنمرې په خوله کې ناست يم فراغته
من بهتر دی تر هغه چې څوك بې پته شي (۸) — په يارۍ کې دې خداى نه کا څوك بې پته
داستې چې په اور سوځي مرادي دادی — چې په اور کې سوی نه يم نه بې پته (۹)
خداى هاله دسې ياد شي چې دردمند شي — کمه نده د دردمندې تر عبادته

---

(۱) دا بيت په چاپي ديوانونو کې نشته اود "پ" په لومړۍ نسخه کې د "وار" پرځای "يار" راغلی دی.
(۲) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۳) "پ" چاپ او د "پ پ" چاپ کې "په تودوم کې" راغلی دی.
(٤) د "خ" په لومړۍ اود دوهمه نسخه کې "بې منته" راغلی دی.
(۵) د "پ پ" چاپ او "ق ،ک" چاپ کې د "بې شدته" پرځای "بې شربته" راغلی دی.
(٦) د "خ" دوهمه نسخه : "بې خودۍ زه د دنيا له غمه خلاص کړم".
(۷) د "پ" نسخې اود "خ" لومړۍ نسخه : "خنداشي" اود "خ" دوهمه نسخه "خندا راشي".
(۸) مصوره نسخه کې "بې ننګ شي" راغلی دی.
(۹) د "خ" دوهمه نسخه : "داستې چې شيرين ځان سيزي په اور کې مرادي دادی چې په اور کې سوی نه يم نه بې پته". په چاپي ديوانونو کې دوهمې مسرې د "چې" پرځای "ز" راغلی دی.

پـه تـدبيـر وپـه تـلاش کـلـه مـونـده شـي　　چـې مـوقـوف وي هـغـه کـار پـه عـنـايـت[1]
کـه خـوک سـل نـصـيـحـتـونـه ورتـه وکـا　　غـوږ يـې نـه وي دهـيـڅـا پـه نـصـيـحـتـه

١٧٥　　زه تاسـان پـه سـل حـلـقـو د زلـفـو بـنـد يـم　　٢٠١٣
لادپاسه يو پـيـزوان شـو بـلـه نـتـه[2]

سـتـا پـه مـخ کـې خـه[3] حـسـاب د جـمـال نـشـتـه　　خـکـه مـا څـخـه د صـبـر مجـال نـشـتـه
تـه دسـي وډمـال وږه پـه مـا مـه کـړه　　وږه مـا څـخـه دسـي وډمـال نـشـتـه
زه پـه دا سـبـب لـه وږې سـره ږيـن دم　　چـې سـتـا وږه کـې ثـواب دی وبـال نـشـتـه[4]
کـه وعـده دې وي چـا سـره يـوسـاعـت کـړې　　دهـغـې چـا پـې امـيـد مـې پـه کـال نـشـتـه
د شـهـيـد وحـال تـه ګـوره حـال يـې څـه دی　　بـې تـاهـسـي حـال زمـا دی بـل حـال نـشـتـه
د وسـنـايـي مـې د چـشـمـانـو سـتـا ديـدن دی　　پـه دا کـور کـې بـل چـراغ اومشـال نـشـتـه
پـه جـوړيـان زمـا دسـتـرګـو سـره وتـه يـې　　پـه دا نـهـر باندې بـل څـه نـهـال نـشـتـه[5]
مـخ دې بـې خـطـه بـې خـالـه هـسـې زيـب کـا　　چـې يـې هـيڅ حـاجـت پـه خـط وپـه خـال نـشـتـه
مخامخ کـه راتـه ګـورې دلـــبـره　　پـه کـاتـه کـې دې ثـواب دی وبـال نـشـتـه[6]
د آفـتـاب پـه مـخ کـې هـره وړځ زوال وي　　سـتـا د حـسـن پـه آفـتـاب کـې زوال نـشـتـه
پـه جـذبـه د مـحـبـت مـې ځـان تـه راښـکـه　　نـور حـاجـت مـې پـه ريـيـاں او دلال نـشـتـه[7]

١٧٦　　سـتـا پـه يـاد و ګـمـان هـسـې رنـګ مشـغـول دی　　٢٠٢٥
چـې پـه زړه کـې يـې هـيڅ غـم د وصـال نـشـتـه

---

(١) دا بيت اوور لسي بيت له قلمي نسخې نه نقل شول.
(٢) چاپي ديوانونه : " لادپاسه سور پيزوان شو بله نته ".
(٣) په چاپي ديوانونو کې د " خه " پر ځای " چې " او په مصوره نسخه کې " هيڅ " راغلی دی.
(٤) قلمي نسخه : " چې ستا وږه د ثواب دی وبال نشته ".
(٥) قلمي نسخه : " په دانهر باندې خير نهال نشته ".
(٦) دا بيت په قلمي نسخو کې نشته.
(٧) دا بيت د " ق، ک " له چاپي ديوان نه نقل شو او په نورو چاپي ديوانونو او قلمي نسخو کې نشته.

مخ ته که دې نمس وایم دنمس زلفې تارتار نشته — سروکه ستاقد بولم دسروې یون رفتار نشته (۱)
هرخوك چې دې ستا وآتشین رخسار ته گل وایي — پوچ وایي داورپه مخ کې وقدرگلزار نشته (۲)
زلفې دې ناحقه خوك سنبل بولي دلبره (۳) — ولې چې له مسبکو سره هیڅ دکیاه کار نشته
ماچې غږ په غوږ وستاد در دسپیو واورېده — هسې رنگ بلبله په چمن کې په گفتار نشته (٤)
ستادېدن هغه کا چې یې سر په تنه نه وي — ولې چې دسر دخښتن حورو وته لار نشته (٥)

۱۷ — یار به درقیب په لوړې خدای نه کا رحمانه — ۲۰۳۱
ولې چې دسپیو فرښتو سره څه کار نشته

که خوك لاس له سوده وکان یې زیان نشته (۷) — په ملنگ باندې قلنگ اوتاوان نشته
دوفا خریدار ان دې بل خواد رومي (۸) — دامتاع د زمانې په دوکان نشته
جدایي له اشنایي نه پیدا کېږي — نا آشنا لره هیڅ غم د هجران نشته
مگرځان وخدای ته وسپارې امان شي (۹) — کنه بله خواد هیڅوا امان نشته

---

(۱) د "پ" نسخې : "قد که دی سرو بولم دسرو یون رفتار نشته".
"ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : "سروکه ستا قد بولم دسرو خوش رفتار نشته".
د "خ" لومړی، دوهمه او مصورې نسخې : "قد قدکه دې سرو وایم دسرو یون رفتار نشته".

(۲) د "خ" لومړی نسخې : "پوچ وایي داورپه مخ کې بل هسې گلزار نشته".
د "خ" دوهمې نسخې : "پوچ وایي داورپه مخ کې قدرد گلزار نشته".

(۳) چاپي دیوانونه : "زلفې دې ناحقه خلك بولي دسنبل صنم".

(٤) د "پ" لومړۍ نسخې : "ماچې واوریده غږ دستا د سپیو — هسې رنگ بلبل هیڅ په چمن کې خوش گفتار نشته".
د "خ" دریمې واړه قلمي نسخې : "ماچې غږ په غوږ و واوریدستا دسپیو — هسې رنگ بلبله په هیڅ چمن کې خوش گفتار نشته".

(٥) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې نشته ، په نورو نسخو کې دابیت داسې دی : "ستا دیدن هغه کا چې یې سر په تنه نه وي
ولې چې سر دخښتن حورو وته لار نشته".

(٦) د "پ" لومړۍ نسخې : "یار به درقیب په لوړې خدای نه کا رحمانه — ولې چې فرښتو سره دسپیو څه کار نشته".
د "خ" مصورې نسخې کې یې دوهمه مصرع داسې ده : "حق دی چې فرسپیو فرښتو سره روزگار نشته".
د "خ" لومړۍ نسخې : "حق دی چې فرسپیو فرښتو سره روزگار نشته".
د "خ" دوهمې نسخې : "حق دی چې دسپیو وفرښتو وته لار نشته".

(۷) د "خ" دوهمې نسخې : "که خوك لاس له سوده واخلي زیان یې نشته".

(۸) "پ" چاپ او "پ پ" چاپ : "دوفا خریدار بل خواته دې درومي".
د "پ" لومړۍ نسخې : "دوفا خریدلر وبله خواته درومي".

(۹) د "پ" او "پ پ" چاپ : "مگرځان وخدای ته پاسلي په امان شي".
"ق" چاپ : "مگرځان وسپارې خدای ته په امان شي".

هغه یار به زه ګومې خواته غواړم — چې یې هیچیرې منزل ومکان نشته
دلبران که هرڅو دبرشي په جهان کې — زما یار غوندې دلبر په جهان نشته
چې هم قدلرې هم زلفې هم سرې شوندې — د غه هسې رنګ آفتاب په آسمان نشته (۱)
عشق عاشق لره یوهسې ګلستان دی — چې وباغ وته یې (۲) لاړ دخزان نشته (۳)
عاشقان په عشق کې واړه سلطانان دي — په دا نبهر کې نپستګار او ناتوان نشته
که مجنون غوندې په عشق کې شوې صادق (۴) شې — دلیلی په دروازه کې دربان نشته

۲۰۴۲

۱۷۸

دانایان به د زمانې سره — په قال پوهیږي (۵)
دلته کار دهر نااهل ونادان نشته

په دنیا کې مخ دیار دی نورخه نشته — هرچې دی دپار دیدار دی نورخه نشته (۶)
چې وهجر ووصال ته یې نظر کړم — یو دوزخ دی بل ګلزار دی نورخه نشته
کارخانې چې ددې دهر لیدی کیږي — همګي دعشق سرکار دی نورخه نشته
هرمشرګان یې په ماهسې چاړې کاندي — وایم عین ذوالفقار دی نورخه نشته (۷)
بویه مرد چې یې له مخه زلفې وا خلي — دغه ګنج دی دغه مار دی نورخه نشته
دمحسن دحسنات صفت به څوک کړم — کوتاه وایم چې بې شمار دی نورخه نشته
وهر لوري چې دزړه په غوږ و ځیر شم — جوړ دمحبت بازار دی نورخه نشته
چې سپین مخ اوتوري زلفې یې لیدی شي — دغه ګنج دی دغه مار دی نورخه نشته (۸)

۲۰۵۲

۱۷۹

هرطبیب ته چې ځان وښیم دا وایي — چې له عشقه دې ازار دی نورخه نشته
خوار زمانې ته که بې تامینه په بل چاکه — عین دقتل سزاوار دی نورخه نشته

---

(۱) دا بیت په "ب" چاپ، "ق، ک" چاپ، د "خ" لوړی او دوهم نسخو او مصوره نسخه کې "جهان" او په "پ پ" چاپ کې "دوران" راغلی دی.
(۲) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. (۳) د "خ" لوړی نسخه: "چې هیڅ باغ وته لاړ دخزان نشته". (۴) "ق" چاپ او د "خ" دوهم نسخه کې "صادق وی" راغلی دی.
(۵) د "پ" لوړی نسخه: "دانایان درجان په قال پوهیږی دلته کار دهر نااهل دناتوان نشته". (۶) دا غزل د "خ" له دوهمې نسخې او د زلمی صیوادل د څخی کتابخانې له قلمی نسخې نه نقل شو په نورو قلمی نسخو او چاپي دیوانونو کې نشته. (۷) دا بیت او درې بیتونه د "خ" په نسخه کې نشته. (۸) دا بیت د زلمی صیوادل د څخی کتابخانې په نسخه کې نشته.

تاخو زده زما دزړه لـه احتیاجه — نور[1] مې څه پوښتې چې څه غواړې محتاجه
د طالب و مطلوب راز به مادر وښود — که ته نه وای خبردار له دې دواجه[2]
یار ته یار که حال په خوله نه وایي څه شو — وګیم ته پټ څرګند وي له مزاجه[3]
که زما له حاله ما پوښتې حال دادی — چې بې تامې ودځ تیاره ده ترشب داجه
اشنایي به ما په کوم قوت کـوله — که څبر وی ستا د هجر لـه تاراجه
که له سلو به یو خواست دچا قبلیږي[4] — خدای دې هیڅوک نه ځوړنه کا بې علاجه

په ړ ما ان بلا پسې که زهیرین ي
ته مشغول اوسه له خپله تخت وتاجه

چې خبر شوم د ساقي د جام له راحه — لکه مړی ملاقي شوم لـه ارواحه
زه چې زلفې دیار وویم په خوب کې — په شپه منښک را باندې وو دې تر صباحه
سبا زبری د وصال په هجود کاندې — د هیواد خبر مونده شي له سیاحه[5]
که د وا کا خون خوردن د عاشقانو — څوک وتې شي د خوبانو لـه صلاحه
هر ساقي چې جام د عشق لري په لاس کې — د اپیاله یې په مستانو ده مباحه
مخ بې مینې که څوک ستایي ستاید نه شي — د ممدوح له قدره چا زده بې مداحه[6]

---

(۱) د "پ" نسخې: "بیا مې څه پوښتې"، او د "خ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کې "تر دمې څه پوښتې" راغلی دی.

(۲) د "پ" نسخې: "د طالب و د مطلوب روش به ما د ر وښو که ته نه یې خبردار له دې د واجه".
د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "د طالب مطلوب روش به ما د ر وښود که ته نه وای خبردار له دې د واجه".
مصوره نسخه: " د طالب د مطلوب دود به ما د ر وښود که ته نه وای خبردار له دې د واجه".

(۳) د "خ" دوهمې نسخې: " وطبیب ته خو ر معلوم دي له مزاجه".

(٤) چاپي ډیوانونه: "که په سلو کې یو خواست دچا قبلیږي".

(۵) دا مصرې په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "د مهجور خبر مونده شي صباح".
همدا مصرې د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې ده: "دهوا خبر مونده شي له صباح".
د "پ" په دوهمه قلمي نسخه کې هم د "خ" دوهمې نسخې غوندې راغلې ده.

(۶) دا بیت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نه دی راغلی.

۱۸۱

د دنیا ناوې په عقل کې دین غواړي
ای ملا صاحب خان یې ژغوره له نکاحه (۱)

۲۰۶۶

ولې تللی یې له ما مدام په څه
ترهېدلی یې هر صبح وشام په څه (۲)

نه هر صبح وشام وتاوته دعا کړم
ته وما وته کوې دشنام په څه

همیشه لکه وحشي په وحشت گرځې
یو ساعت راسره نه یې رام په څه

دایماً راځمه درومې مخ په وراندې
لکه عمر بېرته نه بن دې گام په څه (۳)

راته وایه زه به هم هغه کومه
رقیبانو (۴) ته ښېي انعام په څه

لږ پرهېز کړه له رقیبه دخدای روی دې (۵)
گډ وې سره حلال حرام په څه

۱۸۲

ملا صاحب ستا په مخ بې څنوم (۶) مین دی

۲۰۷۳

بې هوده دې ورته کېښود دام په څه

ولې نه گوري وماته سم په څه
زیاته وې دغم زده وُ غم په څه

ستا په غم کې چې ما وینې عالم ژاړي
ژړوې راسره نور عالم په څه

په مطلب دې دسر وشونډ ونه پوهېږم
چې مې وینې د زړه څېنې هر دم په څه

ودې خپلو مستو (۷) ستر گوته دې وایه
چې ودژنې (۸) مې قلم قلم په څه

ستمگار چې ستم کا څه بهانه کا
ته په ما باندې کوې ستم په څه

---

(۱) دامسری په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی : " ای ملا صاحب خان تر ې ژغوره له نکاح ".
د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې داسې راغلی دی : " ای ملا صاحب خان ژغوره له نکاح ".

(۲) داغزل په مصوره نسخه کې نشته .

(۳) د "خ" لومړی نسخه : "لکه عمر په سرعت ن دې گام په څه".

(۴) په چاپي دیوانونو کې "خمازانو" راغلی دی.

(۵) چاپي دیوانونه اود "خ" لومړی نسخه : "لږ پرهېز کړه له رقیبه خدای دیارځ".

(۶) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "څنو" پرځای "زلفو" راغلی دی.

(۷) چاپي دیوانونو اود "خ" لومړی نسخه کې "بوندو ستر گو" راغلی دی.

(۸) د "پ پ" چاپ او "ق،ک" چاپ کې د "وشرنی" پرځای "داوژنی" راغلی دی.

مه کړه خدای چې څوک بې یاره خونږ خرم وی — زه به اوسم بې تا خوږ خرم په څه
زه رحمان پخپله ګرم یم چې مین شوم — دغه نور عالم مې بولي ګرم په څه (۱)

۱۸۳ — ۲۰۸۱

لږ یې وپوښته چې حال یې دزړه څه دی
د ماتح رحمان لږ ستړګو څاڅي نم په څه

که څه وایم له هجرانه وایم څه — له دې دردې درمانه وایم څه
توان دم وهلو نه لرم ویارته — چې توان نه لرم بې توانه وایم څه (۲)
چې یې وویني له ځانه خبر نه یم — چې خبر نه یم له ځانه وایم څه
دخپل زړه له حاله هیڅ راویل نه شي — له بې نامه بې نښانه وایم څه (۳)
د عشق راز چې هیڅا نه دی بیان کړی — تر وبه زه له دې بیانه وایم څه
دخپل یار له غمه درست په اوښکو وتم — له دې هسې رنګ تو فانه وایم څه
زه چې پروت یم د هجران په تنا ره کې — د وصال له ګلستانه وایم څه
سر و مال دسې یې لوټ کا زړه یې یوسي — له دې هسې دلستانه وایم څه
زاغان بولي بلبلان شړي له باغه — دې دې دهر له باغبانه وایم څه

۱۸۴ — ۲۰۹۱

هرچې وایم ترهمه وایه بهتر دی
زه ماتح رحمان به له جانانه وایم څه

څه شوکه خاموش یم ستاد عشق له آه سړه — ستا زمال له مینې خلقه وایه خبره
هیڅوک دې په خوله د عاشقې لافه ونه کا — کله هم پټیږي وچې شونډې ګونه زړه
اهل د دنیا وایه نامردي رنګ یې ورک شه — خدای دې ملاقات له هیڅا نه کا له نامرده

---

(۱) دا بیت د "خ" په قلمي نسخو کې نشته په چاپي دیوانونو کې داسې دی: "رحمان خود پخپله ګرم یم چې مین شوم  ولې نور عالم مې بولي ګرم په څه".
(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته
(۳) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه، د "خ" په دوهمه نسخه کې یې لومړۍ مصرې داسې ده: "دخپل زړه له حاله هیڅ ویلای نه شم".

کله بې دردانولره زړه دی چا ودکړی[1] — زه به صدقه کړم سل بې دردله اهل دردده
بې دستاد عشق د شهیدانو له خاکدانه — کله زرغونیږي سره لاله رهړه گردده[2]

١٨٥ یو خوشحال او یو کم سل ختک نور په طبیعت کې
٢٠٩٧ زار شه د ماتم ځان سره بنې له یوه فرده

که زما مینه په تاده خطا نه رده — که بې تاده نارواده روانه رده[3]
څوك چې بې دستاله مخه بل ته گوري[4] — آیینه یې ناصفاده صفا نه رده
هر عاشق چې په خپل یار پسې ژړا کا — داژړا واړه خنداده ژړانه رده
د دنیا په تماشا چې څوك نازیږي — خو هم نن یې تماشاده سبا نه رده
که ته سل ځله له ما سره جفا کړې — ستا جفا واړه وفاده جفا نه رده
هغه تږې شو چې مې مینه په غلا غلا کړه — اوس په درست جهان رسواده په غلا نه رده[5]

١٨٦ معشوقه که د خپل سره په بها مومي
٢١٠٤ و ماتم ځان وته وپریاده بها نه رده

له اغیار سره خندا څه په کار نه رده — له اغیار سره سودا څه په کار نه رده
سل یاري له دیوه یار دپاره کړې شي — آشنایي دهر آشنا څه په کار نه رده
بدله بد وسره بویه نیك له نیکو — د جفا په ځای وفا څه په کار نه رده[6]
هر بلبل به دې ثنا کا که ته ګل شې — په خپل ځان خپله ثنا څه په کار نه رده

---

(١) چاپي دیوانونه اود "خ" دړې واړه قلمي نسخې : "کله بې دردانولره زړه دچا وردرومي".
(٢) دا بیت د "خ" په دړې واړه دنسخو کې نشته .
(٣) "ق،ک" چاپ : " بې له تاکه په بل چا ده روانه ده .
(٤) د "پ" لومړۍ نسخه : " څوك چې بې دستاله مخه گوري وبل مخ نه".
د "خ" لومړۍ نسخه : " څوك چې بې دستاله مخ دبل سې گوري".
د "خ" دوهمه نسخه : " هر څوك چې بې داستاله مخه بل مخ گوري".
د "خ" مصوره نسخه : " څوك چې بې دستاله مخه بل خوا ته گوري".
(٥) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، په نورو قلمي نسخو کې : "هغه تږې شو چې مومینه په غلا غلا کړه اوس په درست جهان رسواشوه په غلا نه رده".
(٦) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته .

عشق دبوی[1] په خپرپه پټه خوله څرگندوی — په داچاروکې غوغا څه په کار نه ده
دعشق درد واړه عاشق لره راحت وی[2] — ددې هسې درد دوا څه په کار نه ده
عاشقان وحرص هوادي سره لـــړي[3] — دبیمار په ځان هوا څه په کار نه ده[4]
عاشقي نادره چاردې په جهان کې — ولې بې خدایه سودا څه په کار نه ده[5]
که یې کرم هم هیڅ یې نه گنم سوگند دی[6] — وابستگي ددې دنیا څه په کار نه ده
ددنیا مینه بې کاره اوربده شـــي — چې مې ولیده دښتیا څه په کار نه ده[7]

١٨٧ — که ماڼ[ان] په جهان دې پایم دلبره
زندگي زما بې تا څه په کار نه ده — ٢١١٥

کوه بیا به خوك ادا[8] کا په زړه غونده — چې داهسې مسته دروې مخ بې بنده
ته چې گل د آشنایئ له باغه غواړې — خبر زده کړه دهجران له خار وخنده
طالبان که مردي هم پخلا دي — بې مطلوبه دچا نه ژسي داهنده
مارستم ددهر ولیده په ستر گو — دخپل یار له جوړه ژاړي لکه کونده
دعاشق دلاغرۍ[9] سبب دادی — چې فرقه د معشوقو شوه په زړه تنده
زه به حوري دجنت بې یاره څه کړم — خدای دې سره دچا نه کاندې اړهنده
سخت ساعت دبېلتانه به مې هېر نه شي — که راڅه کړشي دتور لحد گورهنده

١٨٩ — زه ماڼ[ان] د هغه حسن دعاگوی[10] یم
چې جرگه دعاشقانو وي پرې پرېنده — ٢١٢٣

---

(١) په "ق" چاپ او "ق ،ک" چاپ کې "گل" او په مصوره نسخه کې "دبوه" راغلی دی.
(٢) "پ" چاپ ، "ق" چاپ او "ق ،ک" چاپ : "عشق ودرد واړه عاشق لره راحت دي"، د "خ" په لومړۍ نسخه کې "عشق ورنځ" راغلی دی.
(٣) چاپي دیوانونه : "عاشقي . حرص وهوادي سره لرې".
(٤) د "خ" لومړۍ نسخه : "دبیمار په ځای خندا څه په کار نه ده".
(٥) دابیت په "ق،ک" چاپ کې نشته ، د "خ" په دوهمه نسخه کې د "سودا" پرځای "سیوا" راغلی دی.
(٦) د "خ" لومړۍ نسخه : "که یې کرمه که یې نه کرمه سوگند هم دادی".
(٧) دابیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٨) د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې د "ادا" پرځای "انداز" راغلی دی.
(٩) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "لاغرۍ" پرځای "دل آزارۍ" راغلی دی
(١٠) په چاپي دیوانونو او د "خ" دوهمه نسخه کې د "دعاگوی" پرځای "ثناخوان" راغلی دی.

ما چې جور وجفا بیا مونږه له یاره — دوفا طمع به څه کړم له اغیاره (١)
له دښمنه به د دنیا ی طمع څوك څه کا (٢) — چې د دوست له لاسه غم شي وړ د ځان ه
دل آزار که دل آزار شي مانه نه شي — حیف خو دا ی چې دل دا شي دل آزار ه (٣)
دا گله هم (٤) د یږه د یږه له هغو شي — هر چې طمع تر چې د ښو کې بې بسیار ه
اوس دا ستا رضا جفا کړې چې که وفا کړې — د واړه لاس مې اوس ختلي له اختیار ه (٥)
طالبان خو ترمطلوبه پورې پرې د ی (٦) — خدای دې تا بې وفا نه کا وفادار ه (٧)
چې له دې بې حیا نه گوره چې وچا ته — څه خو مخ کړه د رحمان د زړه د پاره (٨)

١٨٠ ٢١٣٠

---

(١) دا غزل په مصوره نسخه کې نه دی راغلی .

(٢) دا مصرې د "خ" په لومړۍ نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی : " له دښنو به د دنیا ی امید څوك څه کا ".
په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی : " له دښنو به د دنیا ی طمع څوك څه کا ".
په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی : " له دښمن به د دنیا ی طمع څوك څه کا ".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی : " له دښمنه د دنیا ی طمع څوك څه کا ".

(٣) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی په "پ پ" چاپ کې دا بیت داسې دی : " دل آزار که دل آزار کړم مانه نه شي .
حیف خو دا ی چې دل دا شي دل آزار ".
د "پ" لومړۍ نسخه : " دل آزار که دل آزار کړم مانه تن نه شي
حیف خو دا ی چې دل سو ن شي دل آزار ".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی : " دل آزار که دل آزار مانه تن نه شي
حیف خو دا ی چې دل سو ن شي دل آزار ".
د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې دی : " دل آزار که دل آزار مانه نه شي ".
حیف خو دا ی چې دل سو ن شي دل آزار ".

(٤) په "پ پ" چاپ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "هم" پرځای "مې" راغلی دی .

(٥) دا بیت یوازې او یوازې د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې راغلی دی او نور د کې نشته .

(٦) د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې د "پورې دی" پرځای "پوره دی" راغلی دی .

(٧) دا مصرې په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی ده : " خدای دې څوك بې وفا نه کا وفادار ه ".

(٨) دا بیت د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی : " که له دې بې حیا نه گوره چې وچا ته
څه خو مخ کړه د رحمان د زړه د پاره ".
په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی : " که له دې بې حیا نه گورې وچا ته
څه خو مخ کړه د رحمان د زړه د پاره ".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی : " که له دې بې حیا نه شې کتې چا ته
څه خو مخ کړه د رحمان د زړه د پاره ".
دوهمه مصرې بې د "خ" په دوهمه نسخه او د "پ" په دریمه نسخه کې په پوره شکل راغلې ده .

وخت دنو بهار دی زه جدا له خپله یار ه
او د خون ودم و نوچې دغره په سر لاسې بې (٢)

داځه عاجزي ده چې زه کښم په کاغذ باندې
داځه او سنکې نه دي چې بهې بې له چشمانو

رنځ مې هسې سخت دی هر زمان په ما زیاتې بې
غروند دي نه پرې بې چې په حال زما خبر پې

نور څه نه دي واړه دانار چې د بلتانه دي
زه یو خو اړه ذاریمه تماځ په عاشقۍ کې

خپل دي که پردي دي را ته نه ګوري له علاړه

ستا په عشق کې د روځ نه یم سر تر سره
زه به ستا له غمه کله شو لا مړ وم

جدایي به مې یو دم قبوله نه کړه
شام سحر مې د غه ستا زلفې رخسار دي

د ریغه د ریغه چې بې یاره ځې بهاړه (١)
شنې لوخې مې خپې لې نسته له چناړه

راشه و وې پې ه دعاشقو له آزاره (٣)
وینې دي لهې بې د زما ګوتې له پرهاړه (٤)

راشه اې طبیبه ګوندې مرم د ربدیاړه (٥)
سینه داو سنکو د مې چې راغلی له کهساړه

راشه کې اودې د ریاب له دهره تاړه

١٩٠
٢١٣٨

چې له غمه دي ژوندی ګرزم دلبره (٦)
باری دم د خدای په لاس دی نازپې وړه

که چا مرګ او بلتون اسنې وې په غوړه (٧)
نور مې مد پوښته له شا مدله سحره (٨)

---

(١) داغزل په قلمي نسخو کې لنډه په "پ پ" چاپ او "ق" چاپ کې یې دوهمه مصرع داسې ده :
"د ریغه د ریغه چې بې یاره شې لهاړه".

(٢) په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې "بلپې بې" راغلی دی.

(٣) قلمي نسخې اولنۍ چاپي دیوانونه : "راشه و وې پې ه دعاشق له دل آزاره".
"ق" چاپ : "راشه و وې پې ه دعاجز و دل آزاره".

(٤) د "خ" دوهمې نسخې : "داځه او سنکې نه دي چې پرځ زما لهې بې دي".
دا مې د زړه وینې چې لهې بې له رخساره".

(٥) د "خ" دوهمې نسخې : "درد مې نه کمې بې په زمان زمان زیاتې بې".
راشه طبیبه ګنه مرم د خدای د یاره".

(٦) د "خ" دوهمې نسخې : "چې له غمه دي لا مړ نه یم دلبره".

(٧) دا بیت په "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته.

(٨) د "پ" قلمي نسخې : "شام سحر یاره ستا زلفې ورخسار دی
هیڅ مې مد پوښته له شا مدله سحره".
د "خ" په نورو درې واړو نسخو کې یې لومړی مصرع داسې ده : "شام سحر زما داستا زلفې رخسار دی".

چې خبر دې[1] په وصال وې په هجران شوم — خبر نه دیم له فردوسه له سقره
بې دستاله مخه ورځ رابانديې شپه ده — روښنايي دورځې چې وي بې نمره[2]
هسې بې سر وسامان دې هیڅوك نه شي[3] — لکه زه چې بې سامانديم بې سره
یوهنرمې منظور ستا په نظر نه دی[4] — که زه وکړم ستا په عشق کې سل هنره

هیڅ اثر د یار نه کا — اوښکې په یار نه کا
خدای دې اوښکې دچا نه کا بې اثره

١٩١ — ٢١٤٧

زه عار نه لرم په عشق کې له پیغوره — بې پروایم دستي په خپرله اوره[5]
بندي په خوله دسمندر هم دمومي[6] — څوك چې ما منع کوي د عشق له شوره
بې هجرانه زما بله خواري نشته — ولې نشته ترابله خواري نوره
لکه ته چې خدای هرګوره بنایسته کړې — زه یې هسې پرې بې صبره کړم هرګوره[7]
چې په تورو سپینو مې اړوي داڅوك دی — که قند ندې په مخ سپینه په زړه توره
درقیب له بدخویه به څه وایم — چې لا یار درسره مل شي هلته ګوره[8]

---

(١) په چاپي دیوانونو او مصوره نسخو کې "چې خبر یې" راغلی دی.

(٢) دابیت په "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ کې نشته. لومړۍ مصرع یې د "خ" په دوه نسخه کې دا سې ده:
"بې دستاله مخه ورځ رابانديې شپه شوه".

(٣) د "پ پ" چاپ کې "نشته" راغلی دی.

(٤) په چاپي دیوانونو کې "نه ستو" راغلی دی.

(٥) داغزل په مصوره نسخو کې نشته.

(٦) د "پ" په لومړۍ نسخې کې "موم" راغلی دی.

(٧) دا مصرع په دوارو چاپي دیوانونو کې، او د "خ" په دوه نسخه کې دا سې راغلی ده:
"زه یې هم هسې بې صبره کړم هرګوره".
د "خ" په لومړۍ او د "پ" په دوه نسخو: "زه هم هسې بې صبرې کوم هر ګوره".

(٨) دابیت په "پ" چاپ کې دا سې راغلی دی: "درقیب له بده خویه بده څه وایم — لا چې یار درسره مل شي هالله ګوره".
په "پ پ" چاپ او د "خ" په دوه نسخو کې: "درقیب له بده خویه بده څه وایم — چې لا یار درسره مل شي هلته ګوره".
د "پ" په دوه نسخو کې: "درقیب له بدخویه بدخوزایم — لا چې یار درسره مل شي هلته ګوره".
د "خ" لومړۍ نسخه: "درقیب له بدخویه بده څه وایم — لا چې یاد درسره بل شي هلته ګوره".

چې يې پور دمرګ ترپوره لابدتر وي[1]
هې توبه دبېلتانه له بده پوره

دامې خپل نصيب طالع دی دارسېږي
ګنه غم کله رسېږي له غم خوره[2]

قاف ترقافه بادشاهي بديې دوزي شي
چې په چاوشي داستاد زلفو سيوده

١٩٢ عاشقي سړی مجنون کاندي ٢١٥٧ ګمانونه
ګنه څوک په هوښياری وځي له کوره

نه رسېږي ستا وحسن وته حوره[3]
څه به رسي ومېږمن وته مزدوره

ستا ترقده ترقامته نه رسېږي
که نښتر که سپاري وي که کجوره[4]

ترقامت پورې دې سروه ده سرکوزې
ترخسار[5] پورې دې شمعه ده بې نوره

هرسړی چې دې وحسن ته نظر کا
سبا پرې يې په نظر وي نا منظوره

چې تامی دخپلو شوند و ودې خوله کړه
طايفه دې د صوفيانو کړه مخموره

اوس ته وايه چې په څرنګ دې وستايم[6]
زه خوستا په مينه لايم له شعوره

داجذبه دعاشقي نده نوره ده
ګنه کله څوک وځي له دستوره

اوس به زه دشب خېږی څه منت وکړم[7]
چې څهره دې کړه په خوب کې راحضوره

چې په ننګ وپه ناموس ترلوره کم وي[8]
صدقه شه ناقابله زوی له لوره

---

(١) دامسړی په چاپي ديوانونو کې دهې داغلی ده : "چې يې پور دمرګ ترپوره پورې چېخ دی".
د "پ" په دويمه نسخه کې : "چې يې پور دمرګ ترپوره هم بهتر وي".
د "خ" په لومړی نسخه کې : "چې يې پور دمرګ ترپور بهتر دی".
د "خ" په دويمه نسخه کې دهې داغلی ده : "چې يې پور دمرګ ترپوره لا بهتر دی".

(٢) دابيت او درېيمې بيتا په چاپي ديوانونو کې نشته.

(٣) داغزل د "پ" په لومړی نسخه کې نشته.

(٤) د "خ" دويمه نسخه : "که نښتر که صنوبر وي که کجوره".

(٥) د "خ" په دې واړو قلمي نسخو کې "ترصورت پورې" راغلی دی.

(٦) "ق،ک" چاپ : "اوس ته وايه چې په څرنګ به دې دوست کړم".

(٧) "ق" چاپ : "اوس به څه دشب خېږی منت باری کړم".

(٨) "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ : "چې په ننګ وپه ناموس ترلوره کم وي".
په مصوره نسخه او د "خ" په لومړی او دويمه نسخو کې دابيت دې ډول دی : "چې په ننګ وپه ناموس ترلوره کم وي خدای دی مور کاندی په هسې زوی له لوره".

که سل ځله زویه غوره وي ترلوړه — خدای دي مورکا په داهسي زویه بوړه (١)
که سل ځله زوی رویاړه وي ترلونو — صدقه شه ناقابله زوی ترلوړه (٢)
ننګیالي تر بروڼه سبه دي اوکه نه وي — ننګیالی ترله هم سبه ده له تر بوړه
خوږ رویي بې دلبرۍ څه په کار نه ده — لکه وڼي بې میوې په پانو کوړه (٣)
که د غلوزی لباس وکا غزا وشوه — شهد نه دي چا موندلي بې زنبوړه (٤)

١٩٣ — په ماڼ دبنایسته وُقدر پیر دی
٢١٧٢ — د طبیب له قدره چا زده بې رنځوړه

چې په وخت د ځنګدن وکا بې ژیړه — تر وڼ ولې هسي نا ست (٥) یې بې تدبیره
هر سړی چې ګانده غم (٦) په مخ کې وینې — له هغه غمه لا نن ګر ځي د لګیړه
چې سبا ارمانه وي پند د پیرانو — ولې نن د پیر طلب نه کړي بې پیړه
دیار یاد به دي ځای څرنګ په زړه نه بسي — یاد د غیر چې لرې نه کړي له ضمیره (٧)
چې د ټوک په طلب ګر ځي خدای دي هیر دی — فقیري (٨) داهسي چا پرې وي فقیره
د غه غم دي خدای بدل کړه په سنا دۍ — زهیر مه شې په آشنا پسې زهیره
که هر څو بنایسته د پردي په ځان کې — وهر چا ته خپل آشنا دی بې نظیره
هر سړی د هغه مخ په رنا ګر ځي — چې یې خونه د خاطر وي پرې منیره
همیشه پراته په اورو په اوبو وي (٩) — عاشقان د لعلو لبو له تاثیره

---

(١) دا بیت په "پ" چاپ ، "ق" چاپ ، "ق،ک" چاپ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې دې ډول دی : "که سل ځله زوی د رویدار وی ترلونو صدقه شه ناقابله زوی ترلوړه !"
(٢) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته.
(٣) په "ق" چاپ ، "ق،ک" چاپ او د "خ" په دوهمه او مصوره نسخه کې د "ګوړه" پرځای "پوړه" راغلی دی.
(٤) په "پ" چاپ ، د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې "له زنبوړه" راغلی دی.
(٥) په چاپي دیوانونو کې د "ناست" پرځای "رانګ" راغلی دی.
(٦) په "پ پ" چاپ کې "کان" ، "ق" چاپ او "ق ،ک" چاپ کې "وراندی" راغلی دی.
(٧) دا بیت په "ق ،ک" چاپ کې نشته.
(٨) په قلمي نسخو کې "فقیري" راغلی دی.
(٩) قلمي نسخې : "تمامي عمر په اورو په اوبو دی".

١٩٤ زه مامان دان آزادی په تالاش گرځم
باري نه دتودوزلفو ځنځيره ٢١٨٢

ستا په عشق کې هسې خلاص تم له شعوره
چې يوه خبره نه لرم منظوره

طبيبان وايي چې صبر دې دارو دی
خدای فرقه زمونږ پيدا کړه ناصبوره

توري هرچيرې ترلې په دښمن شي
ياره ستا ستر گې دوستان وژني په توره

معشوقې دزمانې شوې سره ټولې
دزړه خونه مې يې ولوټله چوره

زه تنها په خرورنه يم ستاله غمه
پيدا شوې عاشقي ده له خروره

هرې شپې لره ورځ شته په دنيا کې
زما عمر جدايی کړې بې لره نوره

هرويان وفاله هيڅا سره نه کا
داخبره په عالم کې ده مشهوره

چې خبر شي واړه گوتې په غاښ نيسي
په هجران کې خبر مه شي له مهجوره

درقيب له بد وستر گونه ځان ژغوري
هر عاشق چې نهره مند وي له حضوره

هومره توان او توفيق نه گنم په بخت کې
چې تائب کا ماله فسق اوله فجوره

په نظر د مدعيانو تود کودی وي
کله يې کښينوم دکټ د پاسه حوده

١٩٥ د مامان له ستر گونم به هاله وچ شي
٢١٩٤ که وچ شوی د چا نم وي له ناسوره

---

(١) په چاپي ديوانونو کې "طلب" راغلی دی.

(٢) د "پ" په دوهمه اوده "خ" په لومړۍ نسخه کې د "خلاص" پرځای " لاړ" راغلی دی.

(٣) دابيت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی او په چاپي ديوانونو کې يې دوهمه مصرې داسې راغلی ده : "خدای زمونږ فرقه پيدا کړه ناصبوره" د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "زمونږ" پرځای "زما" راغلی دی.

(٤) دابيت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی په پښتور چاپي ديوانونو کې "په توره" پرځای "بې توره" راغلی دی

(٥) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "پچوزه" ، په دوهمه نسخه کې "پې خښوره" ، د "پ" په لومړۍ نسخه کې "مخبوره" او په "پ پ" چاپ کې دمصرې داسې ده : "دزړه خونې يې اولوتلې بې صبوره".

(٦) دابيت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی.

(٧) دابيت په "پ" نسخه کې داسې دی : "هرې شپې لره ورځ شته په دنيا کې زما عمر جدايی کړې بې لره نوره" . په "پ پ" چاپ کې د "کړې بې له نوره" پرځای "کړلو بې نوره" راغلی دی.
د "خ" په لومړۍ نسخه کې يې ورځ شته مصرې داسې راغلی ده : "زما عمر جدايی کړې بې نوره" ، په دوهمه نسخه کې "جدايی زما عمر کړې بې نوره" راغلی ده.

(٨) دابيت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی. (٩) دابيت په "پ" چاپ کې داسې دی : "له حيرته واړه گوتې په غاښ نسې په هجران کې چې خبر شي له مهجوره".

(١٠) دابيت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی په "پ" چاپ کې : "درقيب له بد وستر گونه ځان ژغوري هر عاشق چې نهره مند شي له شعوره". (١١) د "خ" په لومړۍ اوده "پ" په دوهمه نسخه کې د "وي" پرځای "دی" راغلی دی. (١٢) په "پ" چاپ کې د "له" پرځای "د" راغلی دی. (١٣) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "هاله" پرځای "کله" راغلی دی.

زړه مدام راته ویل چې ژاړه ژاړه  په ژړا سره د تللی اشنا غواړه (١)
مسلي دبې ننګۍ وړ پسې لنګ کړه  بې چا و نه ځه د ننګ کښې ږده وې یې نغاړه
که دیار په سر لوټئ د استارضا وي  په خندا خندا راځه په لکه غاړه
د افلاک چې د آسیا په دود ګردش که  په دنیا کې به پرې نږدې دانه لواړه
په دنیا کې ګوره هر چې زنده سړی  د اجل په تیغ به پرې کړدوی غاړه

١٩٩٦  دمکې څنځیر حاجیان په لاس کې نیسي  ٢٢٠٠
ګاګې و نیوې * دیار زلفینې دوارې

ګاه په غارمه (٢) سوځې ګهې ږیږدې په ساړه  کله مړې له لوږې کله مړې په ډیر خواړه
واړه په غوغا دې چې راغلې په دنیا دې  نه یې هغه وې په قرار دې نه ماړه
کله لاس په سر ځبله کیږدې تواضع کا  کله وبله کیږدې لاس په توره په چاړه
خاوړې د آدم چې خمیر کړې فرشتګانو  درست یې په غمونو په درد و نو ولاړه
څه شوکه څوک نن ساعت واهه یا تر کله  پښې به په هغه شي چې واهه شي هم تاړه (٣)
خوبه وې تندرسته دا نمونه بنا سسته  زه یې درمانده یم په پښتې په اخاړه (٤)
بنایې چې څوک پسله مرګه خاندې په لحدکې  هرچا چې په داژوند کې خپسر وژاړه (٥)

---

(١) داغزل یوازې اویوازې د "خ" په دوهمه نسخه کې په عین شکل راغلی دی او په نورو چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې نشته . (*) اصل : نیولې دي .

(٢) په چاپي دیوانونو کې "نمر" راغلی دی.

(٣) د "پ" لومړۍ نسخه "څه شوکه څوک نن ساعت واهه ویا تاړه شی  پښې به شي هغه چې واهه شی هم تاړه".
د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه : "څه شوکه څوک نن ساعت واهه شی یا تاړه شی  پښې به شي هغه چې هم واهه شی هم تاړه".

(٤) دابیت په "پ" چاپ ، د "پ پ" چاپ ، د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته . "ق ، ک" چاپ : "خوبه وی تندرسته دا نمونه-
-و دا نه خونه  د بر یې درمانده شو په پښتې په اخاړه". "ق" چاپ : "خوبې د تندرسته دا نمونه بنایسته  زه یې درمانده یم په پښتې په اخاړه".

(٥) د "پ پ" چاپ : "هرچا چې ژوندون کې خپل پښې سر وژاړه". د "پ" لومړۍ نسخه : "هرچا چې په داژوند خپسر وژاړه".
"ق" چاپ : "هرچا چې په ژوندون کې خپسر وژاړه". "ق ، ک" چاپ : "هرچا چې په ژوند وکې ګوره خپل ځان وژاړه".
د "خ" لومړۍ نسخه : "هرچا چې په داژوند خپل پخپل سر وژاړه".
د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه : "هرچا چې په ژوندون خپل سر وژاړه".

وینم واړه تلوني هېڅوك نه دی پاتې شوني — یون دی په دالاری هم دځوان هم د زاړه
زلفې د دلدار[1] دی چې هر څوك پې طلبګار دی — لوی دی که هلك دی که غټان[2] دی که واړه
سخ دهغه چادی چې په درکې پې قبول شي — زار دهغه چا چې پې له دره وشاړه[3]

ما ربنا عزالرحمان غوندې جواب کړو ته سلو[4]
خدای خبر چې کوم یو هغه ترکي وپلاړه[5]

۱۹۷ — ۲۲۱۱

خوبه وران شي د دنیا بازاره ناره — هر نفس د بېلتانه په تاخت لتاړه[6]
لا غونچې په باغ کې ستر ګې سپړدې نه وی — بادخزان پې د زړه مینه کړه وبچاړه[7]
هسې باد پرې د فنا له لوري واوت — د لالې خوله[8] پې پرې نیسته لنډاړه[9]
څه بزرګي به پې د بازو د همای وی — زباني ذکر که سل رنګ کاخراړه[10]
که نه سل کاله پې تېر شي په اوبو کې[11] — په نرمه به نرمه نه شي وچه تراړه

---

(۱) "ق، ک" چاپ : "زلفې مې د یار دی" راغلی دی.
(۲) د "خ" په لومړی نسخه کې "پیران" راغلی دی.
(۳) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، په نورو قلمي نسخو کې پې دوهمه مصرې داسې ده : "زار دهغه چادی چې له دره پې شاړه".
(۴) "ق، ک" چاپ : "ما رحمان غوندې به سلو چې سلام ورته کولو".
په "پ" چاپ، "پ پ" چاپ، "ق" چاپ او مصوره نسخه کې د "جواب" پرځای "سلام" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "لبیک" راغلی دی. او د "خ" په لومړی نسخه کې دا مصرې داسې ده : "ما غوندې رحمان غوندې زاری وکړه ورته سلو".
(۵) په مقابله شوو کتابونو او قلمي نسخو کې "ولاړه" راغلی دی، خو "د عزم د په نظر کې نیولو او نیت" په معنی د "ویلاړه" په شکل سم دی چې دهمون د سر غلی "دوست" په قول پکې راغی.
(۶) دا غزل په مصوره نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. دوهم بیت لومړی مصرې یې په "پ" چاپ کې داسې ده : "خوبه وران شی د دنیا بازاره تاړه".
په دوهمه مصرې کې په "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ کې د "نفس" پرځای "ساعت" راغلی دی. لومړی مصرې پې په قلمي نسخو کې داسې ده : "خوبه وران شی د دنیا بازار لتاړ".
او د "پ" په دوهمه او د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی ده : "خوبه وران شی د دنیا بازار تاړ".
(۷) دا بیت د "پ" په لومړی نسخه کې داسې راغلی دی : "هغې غنچې لا په باغ ستر ګې سپړدې نه وی بد خزان پې د زړه مینه کړه وبچاړه".
"ق، ک" چاپ : "لا غنچو په باغ کې ستر ګې سپړدې نه وي . چې خزان پې د زړه مینه کړه وبچاړه".
د "خ" په لومړی او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی : "هغو غنچولا په باغ ستر ګې سپړې نه وی بدخزان پې د زړه مینه کړه وبچاړه".
(۸) په "پ" چاپ کې "قوله" راغلی دی.
(۹) د "پ" له دوهمې نسخې نه پرته په نورو نسخو کې "له تاړه" راغلی دی.
(۱۰) دا بیت په قلمي نسخو کې داسې راغلی دی : "څه بزرګي به پې د بازو د همای نه شی سر زباني ذکر که سل رنګه خراړه".
د "ق، ک" چاپ کې داسې راغلی دی : "څه بزرګي به پې د بازو د همای وی سر زباني ذکر که سل رنګ کړه خراړه".
(۱۱) "پ" چاپ : "که سل نه کاله پرې تېر شي په اوبو کې" او د "خ" لومړی نسخه کې "که پې سل کالونه تېر شی په اوبو کې".

تر داهسی عمره نه عمر بهتر دی  هر چې حال پې ژنکدن شي عمر وارې[1]

۱۹۸

تر خلاصي خني بندي سنه پې نه لاهې[2]
که د شها[3] د زلفو خیل دې شي په غاړه

۲۲۱۸

چې غرقاب شي تر ومژگان په یم دزړه  نور خراب شي خانمان په نم د زړه[4]
عبث وایي غم دزړه و بوالهوس ته  څه پوهیږي هلکان په غم د زړه
په بل مخ باندې سپوا دیارله مخه  ماتر لي دي چشمان محکم د زړه
چې یې عرش او کرسي لاندې تر قدم دي  بالاتر دی هسې شان قدم د زړه[5]
د خلیل تر کعبې د اکعبه ده لویه[6]  که آباد کا څوک ویران حرم دزړه
که نور خلق قدمونه بن دي په څمکه  ما دی اینبی په آسمان قدم دزړه
د امکان چې د آسمان څمکې تر میان دی  یو خلوت دی د امکان سلم[7] د زړه
نه ملهم دزړه له چا غواړم بې خدایه[8]  چې کړی نه شي طبیبان ملهم دزړه

۱۹۹

صورتي همدمان پیردي په جهان کې
ولې نه مومي ماران همدم[9] دزړه

۲۲۲۷

ساقي پورته شه دمیو جام تیار کړه  عمر هیڅ معطلي نه لري تلوار کړه[10]

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه : "تر ودهسي عمر نه عمر بهتر دی  هر چې حال په تنګدستی شی عمر وارې".

(۲) دامړی په تولو وارو د چاپي دیوانونو کې دغسې راغلی ده : "تر ولد خلاصه بندی بنده پې ای رحمانه" ؛ خو په "پ پ" چاپ کې د "اې" په ځای "ته" راغلی دی. د "خ" په لومړی نسخه کې " تر خلاصی نه بندي بنده پې ای رحمانه".

(۳) په چاپي دیوانونو کې "یار" راغلی دی.

(٤) داغزل په مصوره نسخه کې نه دی راغلی په "پ" چاپ کې دا بیت دغسې راغلی دی : "چې غرقاب شی تر ومژگان په یم دزړه  نور خراب شی خان ومان په نم دزړه".
د پښتو په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې دغسې راغلی دی : "چې غرقاب شی تر ومژگان په نم دزړه  نور خراب شی خان ومان په نم دزړه".
د "خ" په لومړی نسخه کې : "چې غرقاب شی ترمژگانو نم دزړه  نور خراب شی خان ومان په یم دزړه" راغلی دی.

(۵) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته او د "پ" په دوهمه نسخه کې دغسې راغلی دی : "چې یې عرش او کرسی لاندې څو ترسیوری  بالادی هسې شان حرم دزړه".

(۶) د "خ" په لومړی نسخه کې د "لویه" پر ځای "بویه" راغلی دی.

(۷) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "سلم" پر ځای "مسلم" راغلی دی.

(۸) په چاپي دیوانونو کې "بې ربه" راغلی دی.

(۹) د "پ" په لومړی نسخه کې "ملهم" راغلی دی.

(۱۰) داغزل د "خ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کې نه دی راغلی ، د دې بیت په دوهمه مړی کې د "نه لوی" پر ځای په "پ" چاپ کې "نه کاندی" او په "پ پ" چاپ کې "نه کوی" راغلی دی.

هر دم تیغ داستا زما په گلو گرځی — هر نفس دخپل نفس له تیغه ډار کړه
ترخوږی چه ورته بله بلا نشته — خادمي د بخوږانو په دربار کړه
دا پنځه ورځې ژوند ون چې غنیمت دی (۲) — شکرانه په دا نعمت دکردګار کړه
که غم خوار غواړې په غم اوپه اندوه کې (۳) — سبسبه دکه د شرابو اختیار کړه
فراغت پرې باندې ولې حرام نەوي — چې داخل پە سرا چە د دې دنیا دی

د مجنون د حال پوښتنە بە څوک څە کا — جهان وارە کورا کور مجنون لیلا دی

عشق یوهسې رنگ افسون پە عالم پوکړ — چې عاشق پە تود و ستر گو نابینا دی

دهرچا یې بخرە ودکرە گوښې گوښې — خپل قسمت دهر سړي جدا جدا دی

ودکرە راکرە حسابي د بل پە لاس دی — دلتە دخل نە زما دی نە دستا دی[3]

پە هرڅە[4] چې د صاحب دزرە رضا شي — پە بندە کە ناروا دی هم روا دی

خو ناخواکە یې رضا وي کە یې نە وي — د قسمت رسېدە[5] رضا او نارضا دی

څان جهان سپارلی بویە وهغە تە[6] — چې یې حکم جاری شوی پە هرچا دی

---

(۱) د "خ" پە دوهمە نسخە کې د "ولایت" پر ځای "زمانې" راغلی دی.

(۲) پە چاپی دیوانونو کې "حرام دی" راغلی دی.

(۳) دابیت د "خ" پە دوهمە نسخە کې نشتە پە "پ" چاپ کې دابیت داسې دی:

"ودکرە راپېرودە ټول دبل پە لاس دی  هلتە دخل نە ستا دی نە زما دی".

"ق، ک" چاپ: "ودکول او اخستل دبل پە لاس دی".

"پ، پ" چاپ او "ق" چاپ: "ودکول راپېرودل دبل پە لاس دی".

د "پ" لومړی نسخە او د "خ" لومړی نسخە: "ودکرە راپېرودە همە دبل پە لاس دی".

(۴) د "خ" پە دوهمە نسخە او نیمگړې نسخە کې "پە هرکار" راغلی دی.

(۵) د "خ" پە دوهمە نسخە کې "دقسمت شوی" راغلی دی.

(۶) د "خ" دوهمە او نیمگړې نسخە: "څان ایمان سپارلی بویە وهغە تە".

دهرچا په لاس چې حکم حاکم ورکا  جهان واړه دهغه په مدعا دی

چې مولا ورسره مل نه وي  که لښکر يې ورسره وي يک تنها دی

۲۴۹

۲۶۶۶

هسې رنګ نعمت راکړی خدائے وما دی  چې هيڅ خپل نشته بې بهادی (۱)

يوخوا چې يې په شکل د آدم کړم  دويم دا چې محمد صلعم مې رهنما دی

لاس وپښې غوږ وستړګې خوله اوژبه (۲)  يوصورت مې په خواسم مسما دی

آسمان څمکه، لمر، سپوږمۍ اوروښانۍ ستوری  درست جهان مې ونظر ته تماشا دی

شپه اوورځ دمياشت وهر له پرتوه  مخ د څمکې راته درست نقره طلا دی

په شپه مسلک په ورځ کافر راباندې وړی  درست صورت مې پکې غرق سرتاپا دی

په هردم زندګاني بخښي وما ته  هر نسيم ديار له لوري مسيحا دی (۳)

د چمن وس وګلونو ته چې ګورم  هرهر ګل راته د خدا يه په خندا دی

د ګلګونو مينو نا وې راته ناسته  زنګاري قميص اغوستی دمينا دی

خپلې وينې په ورغوې کې نيولې  هرساغر د مې فروش جان فدا دی (۴)

د شنه (۵) رود په غاړه ناست سرود په لاس کې  هرمطرب لکه بلبل هسې ګويا دی

سپين مخونه سرې لښتی ددلبرو  هر ديدن يې د آفتاب په څېر رڼا دی (۶)

---

(۱) قلمي نسخې : "چې هيڅ هيڅ بهادی نشته بې بهادی".
"ق، ک" چاپ : "چې بهادی هرګز نشته بې بهادی".

(۲) د "خ" دوهمه نسخه "لوړه" راغلی دی.

(۳) دابيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۴) د "پ" لومړی نسخه او د "خ" دوهمه نسخه : "هرساغر دمی پرستو جان فدا دی".
د "خ" لومړی نسخه : "هرساغر دمی پرخښکو ځان فدا دی".

(۵) په چاپي ديوانونو کې "سنه رود" راغلی دی.

(۶) دابيت په "پ" چاپ ، "ق" چاپ ، او "ق ، ک" چاپ کې نشته . په قلمي نسخو کې يې لومړی مصرع داسې ده :
"سپين مخونه سرې لښتې ددلبرو".

٢٤٧

چې داهسې معرفت يې پرې پېرزوکړ[1]
په ځان باندې منت دپاک مولا دی

٢٦٧٩

داچې مست په میو راغی یار دچا دی[2] بیا به تاخت کا په کوم غولي ولاړ دچا دی
چې زه سوی يې دحرم په صید هم نه شي دا يې درداونې صرفې گوزار دچا دی[3]
ما خو نه دي شوک بې وجې آزار کړي داچې ما آزار وي آزار دچا دی[4]
چې يې درست جهان دمخ په زنار زیست کا دا آفتاب غوندې روښان رخسار دچا دی
چې بلبل ته رسیدې تر گلو نه شي[5] دا دنه په حرم گلزار دچا دی

٢٤٨

چې هیڅ ترس په زړه کې نه لرې تاج[6]

٢٦٨٥

دانا ترس او نې پروا نگار دچا دی

غواصان که گوهر غواړي گوهر دا دی[7] بیدلان که دلبر غواړي دلبر دا دی
زما یار غوندې به بل یو دلبر نه وي دجمله و دلبرانو سرور دا دی[8]
خوند دلبو او دچاه زنخدان يې[9] داشه گوره زمزم دا دی گوش دا دی
چې يې وصل او هجران وته نظر کړم[10] زه گومان کړم جنت دا دی سقر دا دی

---

(١) د "خ" او همه نسخه : " چې نعمت دمعرفت يې پرې پېرزوکړ".
(٢) داغزل د "خ" په مصوره نسخه کې نشته او د "خ" په او همه نسخه کې د "غولي" پر ځای "لوړی" راغلی دی.
(٣) قلمي نسخې : " چې زه سوی يې دحرم په صید نه شي دا دغسې نې صرفې گوزار دچا دی".
د "خ" او همه نسخه : " دانې درلغه نې صرفې گوزار دچا دی".
(٤) دا بیت د "پ" په لومړی نسخه کې نشته".
(٥) د "پ" په قلمي نسخه کې " تر گله" راغلی دی . د "خ" لومړی نسخه : " چې بلبل يې رسیدی نه شی تر گلو".
(٦) د "خ" لومړی نسخه ، " چې هیڅ ترس يې په زړه نه کې نه رهمانه دانا ترسه نا فرمان نگار دچا دی".
د "ق ، ک" چاپ او "ق" چاپ : " دانا ترسه نې پروا گوزار دچا دی".
(٧) داغزل په مصوره نسخه او د "پ" په او همه نسخه کې نشته .
(٨) د "خ" او همه نسخه : "زما یار غوندې به بل پرجهان نه وی د جمله و دلبرانو سردار دادی".
(٩) د "خ" لومړی نسخه : " خوند دلبو و دچاه زنخدان دې".
د "خ" او همه نسخه : " خوند دلبو يې او چاه يې زنخدان دې".
(١٠) د "پ" نسخې : " چې ووصل وهجران ته يې نظر کړم".
د "خ" لومړی نسخه : " چې دوصل وهجران وته يې گورم".
د "خ" او همه نسخه : " چې وهجران ووصال وته يې نظر کړم".

ته خطبه په منبر څه لولې خطیبه — قدم کېږده په ځان باندې منبر ځادی
دکعبې سفر آسان دی مردهاله ځي — که له ځانه سفر وکړې سفر دادی (۱)
هرمنعم چې دلجوئي د قلندر کا — هغه نه دی قلندر ، قلندر دادی
چې توانګر د قناعت په خزانه شي — بل توانګر په جهان نشته توانګر دادی

۲۶۹۴ ۱۴۹

داهنر نه دی چې خاورې شوک سره ندکا
چې زرخاورې کا لاکانه هنر دادی

هغه زړه چې ستا د عشق په اور کباب دی — که مرهم ورباندې کېږدې د ثواب دی
حجابونه له اغیارو مناسب دي — دیارانو په یاري کې څه حجاب دی
بې له تا چې سنا یست ریې بې حسابه — نور سنا یست د جهان واړه په حساب دی (۲)
سنا پېرۍ که هرڅو د پرې سنا یسته دي — په هغو کې هم ستا حسن انتخاب دی
لکه ګل (۳) چې تر آفتاب پورې ځجل دی — د غه هسې ستا ترمخ پورې آفتاب دی

دادمیو څه مستي او سرخي نه ده (٤) — تېغ د ستر ګو دې په وینو کې غرقاب دی

۲۷۰۱ ۱۵۰

زه چې ځان به خواب څه کوم ویاړ ته
وځوندیو ته د مړیو څه خواب دی

د ساقي په لاس کې جام د میو ناب دی — مطرب ایښی په زانو باندې رباب دی
ته چې ما وته توبه والې ناصحه (۵) — په دا وخت کې چا څخه د تو نې تاب دی
زه چې ځان منعه کوم د عشق له کاره — په داهسې کار کې کوم سود او ثواب دی (۶)

---

(۱) چاپی دیوانونه : " دمکې سفر آسان دی مرد هغه دی چې له ځانه سفر کا ندی سفر دادی ".
(۲) چاپی دیوانونه : " په هغو کې هم ستا حسن انتخاب دی " یعنی دری بیت د هم مصری او درېمې بیت لومړی مصرې په چاپی دیوانونو کې نشته .
(۳) په قصه خوانی چاپ او " ق ، ک " چاپ کې د " ګل " پر ځای " شمع " راغلی ده .
(٤) قلمي نسخې : " دادمیو دمستۍ سرخي نه ده ".
(۵) د " خ " لومړی نسخه : " ته چې ما وته توبه فرمایې ناصحه ". مصوره نسخه : " ته چې ما وته توبه ښیې ناصحه ".
(۶) دا بیت اوله دې نه ورسته بیتونه په مصوره نسخه کې نشته . په " ق ، ک " چاپ او " ق " چاپ کې د " کاره " پر ځای " لاري " او د " خ " په دوهمه نسخه کې " اوره " راغلی دی .

د آسمان چې لوی په عقل کې بالـه شي — په محیط د عاشقی کې یو حباب دی (۱)
محتسب په رقص گډ شو باك یې نشته — صوفي پرې وت په میخانه کې مست خراب دی (۲)
هرچې ژغوري سر و مال په عاشقی کې — هغه کسری کور په مخ کې دسپلاب دی
په رقیب باندې غفلت راغی وېده شو — یار پلوله مخه واخیست بې حجاب دی (۳)
ته چې خوب غواړې (٤) په عشق کې راته وایه — کوم چاکړی دمزدې په خوله کې خواب دی
بې عمل که کتاب کېږدي په سرخه شو — گویا اینبی یې تر پښو لاندې کتاب دی
چې دشرله عملونو نه خیر غواړې — تشنه لب غوندې سرشوی په سراب دی (۵)
د دښمن له مکارۍ نه و ویږېږه — په نرمۍ یې غلط مه شه سنگ دراب دی

۲۵۱ — عبادت په شتاب هسې کړه (۹) — ۲۷۱۳
لکه غم چې دې تلونی په شتاب دی

چې ترسنگ وترآهنه یې زړه سخت دی — زړه هغه لره ورکړی مالک بخت دی
خدایه کله به هغه غل راته اسیل کړی (۷) — چې لوتلی یې زما د خاطر رخت دی
هومره غم به نور په هیڅا باندې نه وي — لکه غم چې د خپل یار په مایل لخت دی

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه : " په محیط د عاشقی یو حجاب دی ".
(۲) دا بیت د "خ" لومړی او دوهمې نسخې څخه نقل شو .
(۳) دا بیت د "خ" لومړی او دوهمې نسخې څخه نقل شو .
(٤) "ق ، ک" چاپ : "کوی" او "ق" چاپ کې " وایې " راغلی دی.
دا مصرع د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : " ته چې خوب په عاشقی کې له ما غواړې ".
(۵) د "خ" لومړی نسخه : " که س و لعلونه خبر خبر غواړی ".
د "خ" دوهمه نسخه : " چې دشر عې له عملونو خبر غواړی تشنه لب غوندې سر شوی په سراب دی ".
(۹) د "خ" دوهمه نسخه : " عبادت په شتاب کوه رحمانه ".
(۷) په قلمي نسخو کې " یاغیان " راغلی دی.

مگر بیل په تیره تیغ شي یاں له یاره  ګنه ښاخ له خپله شاخ سره درخت دی (۱)
د پالنګ او دپیرۍ (۲) حاجت یې نشته  د یارانو نشستن دنده په تخت دی

۲۵۲ ۲۷۱۹

چې له دې ډیره درده وخت پټ اندی نه شي
په ټولو (۳) باندې بې یاره هسې وخت دی

ستاله لاسه په ماجور دی که داد دی  زما مراد خو واړه ستاد خاطر مراد دی
ستا په مینه کې زماله مخه تښتي  که آفت دی که آسیب دی که فساد دی
هرهدا چې راکاوه شي ستا په مینه  په لیمه زما قبول هغه اهداد دی
که تمام جهان مې پر یوځي په لیمه کې  بې تا نه راخرګندیږي نه مې یاد دی
ماچې غوږ داستاد عشق په ترانه کې  نصیحت مې نوردزړه په غوږ ویاد دی
اوس زماله ننګ و نامه سره خبردي  چې دې نام د عاشقۍ رابانديږ زیاد دی
هر ګلشن چې له ګلرخه بې بهره وي  د عاشق په نظر غولی د صیاد دی

۲۵۳ ۲۷۲۷

د ټولو (۴) وتوان ته ګوره هومره نا آګه یې
چې داوسپنو روغ نه دی آدم زاد دی

ګرې هر د محبت که یې عنا دی  ما دیار په یاری کړی اعتماد (۵) دی
زه او یار که په تن دوه په معنی یو یو  هزار خونې واړه بنهر یو بغداد دی
هیڅ بې لتون زما دیار و بله نشته  کار همه واړه موقوف په خپل میعاد دی
زه خپل آه آتشین له خدایه غواړم  د آشنا خاطر که موم دی که فولاد دی
هیڅ موقوف د معشوقې په حسن نه دی  د عاشق خاطر په خپله مینه سناد دی

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته . په لنډو قلمي نسخو کې یې دوهمه مصرع داسې ده : "ګنه ښاخ له خپله درخته سره درخت دی".
(۲) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "شپرۍ" راغلی دی.
(۳) قلمي نسخې : "په دغسې دیار له غمه هسې وخت دی".
(۴) په چاپي دیوانونو کې "زړه" راغلی دی.
(۵) په قلمي نسخو کې "اعتقاد" راغلی دی.

چې د آه و د فریاد طاقت یې نه وي
هر سکوت دې طاقتوآه فریاد دی

سل په دا ډنګه نومونه د عشق نوم دي
لکه نوم چې د مجنون او د فرهاد دی

چې یې زړه شي هلته کښې هلته پاتې شي (۱)
عشق د عقل و دهن کړه دا ماد دی

بادشاهان په عاشقي کې ملنګان شي
ما او تا غوندې وګړی د چا یاد دی

چې پریشان دیار د زلفو په خبر نه وي
جمعیت د هغو زړونو لوی فساد دی

که د ستاله خرابه سره ګنج وي
خرابات دې بنیاد و بیخ بنیاد دی

که کمال د کمښې په اندازه دی
فوقیت د شاګردانو په استاد دی

که په یار پسې ترځان ترجمان تېر شي (۱)
په ډمان زمونږ هسې اعتقاد دی

۲۵۴ چې د انو شاعران کاندي هغه نه کا
۲۷۴۱ د ډمان کړی نوی نوی اجتهاد دی (۲)

په خاطر باندې مې ستا د غم غبار دی
همیشه مې په زړه پروت انبار انبار دی

که رهبر وي ګمراهانو لره خضر
عاشقانو لره خضر ستا ریبار دی

ګوندې چې چېرې خوک د خدای په در قبول وي
ستاله لاسه مې فریاد په هر دیار دی

د شهید و پرهار و نوته نظر کړه
هسې رنګه مې له دوستر ګو خونبار دی

چې د غم په بار تې زړه دی زما کښلی
هم هغه مې په زړه کښلی په بار بار دی (۳)

چې هر دم مې د غمزو په تورو وزني
لا مې زړه د هغه ستر ګو منت بار دی (۴)

د آسمان دې دهغو په مدعا وي
چې په ما باندې یې کړی ستا اجبار دی

۲۵۵ که یار سل ځله جفا و رسره کاندي
۲۷۴۹ د ډمان دا هسې کله اعتبار دی

---

(۱) دا بیت په "پ پ" چاپ او "ق ، ک" چاپ کې نشته.
(۲) دا بیت د "پ" په لومړی نسخه کې نشته.
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. د "پ" په لومړی نسخه کې دوهمه مصرع داسې ده: "لا مې زړه د هغه ستر ګو منت بار دی".
(۴) دا بیت د "پ" په لومړی نسخه کې نشته.

کمینې یو نادر کاردی — چې کمال ځنې اظهار دی
چې اختیار یې کمینې کړه — په دانه کې پټ خروار دی
چرګ په دوه پیسې حلال شي — بان په سل روپۍ مردار دی
چې آسمان شو سرګردان شو — چې زمین شو برقرار دی
نښتر ګوره سرکښې کا — انګور ګوره نګونسار دی
ذره خواره شوه آفتاب شوه — ابر خورب دی غبار دی (۱)
کوه بلند شو سیه سنګ شو — لعل وډېر شو بې ګواه دی (۲)
لوی آسمان تورې تبې شو — هلک لمر څوره انوار دی (۳)

۲۵۶ وډېر سړی ګوره ۲۷۵۸ دانه
چې لوی فیل یې بار برداری

زلفې دې له ډیرې دراز یې پای ترسره دی — یا د بنفشې لښتې خوږې په صنوبر دی
لب دې آب حیات دی یا شکرې یا نبات دی — یا خوږه غلط شوم (۴) ترهمه واړه وډه تر دی
قد ته دې خوک نه شي رسیدی له بلندی — ولې چې معراج وته خاتم د پیغمبر دی
ما چې ستا بنایست ولمرسیو ډېر سره په تول کړه — تللي په میزان کې تر آسمانه سپوږمۍ لمر دی
څاڅکي له آسمانه په هرچا وورې یکسانه — پرځه په واښه شي په صدفوکې ګوهر دی (۵)
بخت دې چې یې خوک متملق کړه په تخت باندې — خوک دغم په خار سره پاره پاره جګر دی (۶)

---

(۱) قلمي نسخې : " ذره ضعیف شوه افتاب شوه ابر خورب شو تش غبار دی".
(۲) په "ق، ک" چاپ کې "ابدار دی" راغلی دی.
(۳) "ق، ک" چاپ : " نمر هلک نور الانوار دی"
نور چاپي دیوانونه : " هلک لمر ځوره انوار دی".
د "پ" لومړی نسخه : "هلک لمر شو څوره انوار دی".
(۴) په قلمي نسخو کې "سیم" راغلی دی دې بیت لومړی مصرع په "ق" چاپ کې داسې ده : "لبې ستا آب حیات دی یا شکر دی یا نبات دی".
(۵) دا بیت د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې نشته.
(۶) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

۲۵۷ د

۲۷۶۷

با دچې دې په زلفو باندې قصد د پریشانۍ کړ — څله یې ګردونه د جمان واړه په سر دي
هله به سړی شې چې دې نوم عبدالرحمان شي — اوس سړی په څه یې که دې لوستی زیږوندی (۱)
سپینې اوښکې، زیړ خسار دې لړ دولتې (۲)
ای د ماضي انسانه دا د عاشقانو سیم وزر دي
دنیا دار که مستغني په سیم وزر دی (۳) — هنرمند و څخه ګنج د خپل هنر دی
بهوده به (٤) زوروړ وخان ته وایي — د دنیا سړی که هر څو زور و زر دی
هسې مه وایه چې زه یم په جهان کې — پیدا کړی خدای دس دپاسه سړی
حینې حینې یې ولیان پیغمبران کړل — نه چې هر سړی ولي اوپیغمبر دی (۵)
جودانه قدر یو لعل پکې پیدا شي (۶) — نور جهان واړه د تور وکانو نور غر دی (۷)
یو بادشاه دی چې لښکرې پسې د لاړې — نه په هر یوه سړي پسې لښکر دی (۸)
پیدا کړي خدای سړي په تفاوت دي — هسې نه چې جهان واړه برابر دی (۹)
که د عمر و رفتن ته څوک نظر کا — دا به وایي چې آفتاب د نماز دیګر دی (۱۰)
چې یې (۱۱) سر په حمکه اینبی وي و یار ته (۱۲) — په آسمان باندې ختلی لکه نمر دی

---

(۱) دا بیت په قلمی نسخو کې نشته.
(۲) دا بیت په "پ پ" چاپ کې نشته.
(۳) د "پ" لومړی نسخه: "دنیا دار که دنیا دار په سیم وزر دی".
(٤) د "پ" لومړی نسخې کې د "به" پر ځای "و" راغلی دی.
(۵) د "پ" لومړی نسخه: "حینې حینې یې ولیان پیغمبران کا هر سړی نه اولیا نه پیغمبر دی".
د "خ" لومړی نسخه: "نه چې هر یو اولیا، اوپیغمبر دی".
د "خ" دوهمه نسخه: "حینې حینې اولیا، حینې نبیان وو نه چې هر یو اولیا وپیغمبر دی".
مصوره نسخه: "حینې حینې اولیا و پیغمبران کړه نه چې هر یو اولیا وپیغمبر دی".
(۶) د "پ" لومړی نسخه: "جودانه قدر چې لعل پکښې پیدا کا".
نورې قلمي نسخې: "جودانه قدر یو لعل پکښې پیدا کړه".
(۷) د "خ" دوهمه نسخه: "نور جهان واړه تور کانې او نور غر دی".
(۸) د "پ" لومړی نسخه: "نه په هر چا پسې کړی خدای لښکر دی".
(۹) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. لومړی مصرع یې په "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې "سړي" پر ځای "هر څوک" راغلی دی.
(۱۰) د "خ" دوهمې نسخې: "دی به وایي چې رفتن د نماز دیګر دی".
(۱۱) "ق، ک" چاپ: "چا چې".
(۱۲) "پ پ" چاپ: "خپل یار ته".

۲۵۸

تعجب زما د پرو او سنکو مه کړه[1] — ما موندلی په دا بحر کې گوهر دی

دریا خرقه یې خدای مه کړه په غاړه[2] — ۲۷۷۸

دا ماح ژان کون دستار تر لی قلندر دی

۲۵۹

دوا ره ستر گې مې کړې د ستا په لور دي — مدام د وني د فراق په آب شو دي

زه یو سپی یم چار چشمه دستاله سپیو — چې مې ستا و در ته دوه ستر گې څلور دي[3]

کنه ولې مې دوو ستر گو ستا په طمع — وهر در[4] و ته نیولې کور په کور دي

چې مې خال د تر کو ولید په خپل زړه کې[5] — د وا ره کسي مې و نه ره و ته نسکور دي

اعتبار د زمانې په اشنا مه کړه — همگې وا ره د خپلو ر ختو چور دي[6]

ما قبول د رقیب نا زکر ستاد پاره — سود و زیان په دا جهان کې خو او ورته دي

۲۷۸۵

په ماح ژان باندې گمان دا هسې مه کړه[7] — چې بې تا په نور څه غولیږې هغه نور دي

ستاله غمه مې په سر کې هسې شو دي — گویا میشت[8] مې په سر شهر دلاهور دي

په افسون و په جادو د تو د و ستر گو — خراب دل مې له جمله عالمه تو ر دي

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه : " ته زما په د پرو او سنکو عیب مه کړه ".
د "خ" لومړی نسخه : " ته زما د د پرو او سنو ته عیب مه کړه ".
د "خ" دهمې نسخه : " ته زما د د پرو او سنکو غیبت مه کړه ".

(۲) د "خ" دهمې نسخه : " د ریا خرقه دې خدای مه کړه په غاړه ".

(۳) دا بیت په "پ" چاپ کې نشته. د "خ" لومړی نسخه کې لومړی مصرع داسې ده : " زه یو سپی چار چشمه یم دستا د سپیو ".
دهمې مصرع په مصوره نسخه کې داسې ده : " چې مې ستا د لور ته مې دوه ستر گې څلور دي ".

(٤) چاپي دیوانونه : " د هر لور ته ".

(٥) مصوره نسخه او د "خ" لومړی نسخه : " چې مې خیال د تر کو ولید په خپل ځان کې ".
د "خ" دهمې نسخه : " ما چې خیال د تر کو ولید په خپل ځان کې ".

(٦) دا بیت د "خ" دهمې قلمي نسخې نه نقل شو.

(۷) چاپي دیوانونه او نورې قلمي نسخې : " په رحمان باندې د اهسې گومان مه کړه ".
د دهمې مصرع د "خ" په دهمه قلمي نسخه کې داسې ده : " چې بې تا به په نور څه غولیږې نور دي ".

(۸) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "جور" راغلی دی.

کړي زده له غمه چې راته وايي — غم د هجر مه دغه لا نور دی
د هجران په بيماری کې را معلوم شو — چې اخستی مې آزار د پلار و مور دی
دا دنيا په مثال کور شو د غمونو — چې په هسې کور نا زين بې هغه کور دی
دا جهان نه د چا خپل دی نه به خپل شي — چا په خپله رضا پرېښو چا په زور دی
چې د مرګ په پور د يو کې يو مړی — دی د وا د يو پور د ين زوی او مور دی

۲۶۰ — ۲۷۹۳

که ډاډ ځ په عاشقی بې عزت کې يم (۲)
ما په ستر ګو قبول کړی دا پيغور دی

که دلدار په دلداری زما قدم ن دی — ګويا هر قدم په لاړې (۳) د حرم ن دی
ځای لړی که بې منته بوسه را کا — کوم کريم په چا منت د خپل کرم ن دی (۴)
معشوقه مشفقه بويه مهربانه (۵) — نه قارون چې په ځان اسم د حاتم ن دی
خلای وما وته ګلونه د جنت کړل — که دا غونډه مې په لمړه باندې د غم ن دی
هسې پټ الوتم (۶) دا نېړۍ د خسار له خلقو — لکه زه چې خوک له خلقو پټ پنهم ن دی
هېڅ مانه دې خوک له مستو (۷) ستر ګونه کا — کوم يو مست دی چې قدم په لاړې سم ن دی
راحت بې زحمته نه دی چا موندلی (۸) — کوم طبيب دی چې په لوغ صورت مرهم ن دی

---

(۱) د بيت د "خ" په دهمه نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" لومړی نسخه : "که رحمان په عاشقی کې غيرت نه کړی".
(۳) مصوره نسخه : "په لوړی".
(۴) د بيت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(۵) "ب" چاپ : "معشوقه شفيقه بويه مهربانه".
د "خ" دهمه نسخه : "معشوقې مشفقې بويه مهربانې"
(۶) "ق" چاپ او د "خ" دهمه نسخه : "پټ ګرځم".
"ق، ک" چاپ او مصوره نسخه : "پټ ساتم"
(۷) د "خ" لومړی نسخه : "بند وستی ګو".
(۸) چاپی دېوانونه : "راحت نه دی بې زحمته چا موندلے".

۲۶۱ زه هر گوډ ترخپل صمد پورې شرمېږم (۱) برهمن چې سر په پسنو دخپل صنم بندي
واسمان ته لاس دعقل نه رسېږي (۲) داخو عشق دی چې په عرش کرسي قدم بندي

۲۸۰۳ زه ځان یې تاج ګنم دیاں له لاسه
که مې پښه په سر د جود دستم بندي

۲۶۲ د دنیا کار ونه وارې غولول دي (۳) دا ګمان په هیڅ امر کې چې مې خپل دي
هیڅ مزه په داجهان کې پاتې نه شوه دا یخ خوري په اوبو پورې کول دي (٤)
که دي دوه کاسې دانې وي په کندو کې (٥) پس له شامه هسې وایه (٦) چې دبل دي
پوزه غوږ د غوښو شته په هرچا پورې که دشرم (٧) پوزه غوږ غواړي باطل دي
که ته دوه (٨) اودرې عیبونه دبل شمار کړې بل به تا ته هسې وایي چې ستا شل (٩) دي
نصیحت دناصحانو اثر نه کا دسړي اوسپنې خوشي ټاکول دي (١٠)

۲۸۱۰ دانا اهل همدمان دي نه پوهېږم
که مې د ځان پښې په ګوګل دي

---

(۱) "پ" چاپ او د "خ" لومړی نسخه : " زه هر ګوډه ترخپل صنم پوهېږم شرمېږم ".
"ق" چاپ : " زه هر ګوډه خپل صنم پورې شرمېږم".
"ق ک" چاپ : " زه هم ګوډه خپل صنم پورې شرمېږم".
"پ پ" چاپ : " زه هر ګوډه ترصنم پورې شرمېږم".
مصوره نسخه : " زه هر ګوډه ترخپل یار پورې شرمېږم ". لومړی بیت د "خ" په دوهمه قلمی نسخه کې نشته .

(۲) "پ، پ" چاپ : " واسمان ته لاس دعقل مه رسېږي".
"ق ک" چاپ : " دې اسمان ته لاس دهیڅا مه رسېږي".

(۳) "پ پ" چاپ : " د دنیا چاري همه واړه غولول دی". د "پ" لومړی نسخه : " د دنیا روزګار همه وبله غولول دی".
د "خ" لومړی نسخه : "د دنیا روزګار همه واړه غولول دی". د "خ" دوهمه نسخه : " د دنیا کار وبار واړه غولول دی".

(٤) د "خ" دوهمې اومصوره نسخې : "هیڅ مزه په داجهان کې طمع مه کړه دا یخ خوري په اوبو پورې کول دی". د "خ" لومړی نسخه :
"هیڅ مزه په داجهان کې طمع مه کړه یخ خوري دا اوبو پورې کول دی". چاپي دیوانونه : " دیخ سوري په اوبو پورې کول دی".

(٥) د "خ" لومړی نسخه : " په کندو دل کې".

(٦) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړی نسخه : "دایي".

(٧) مصوره نسخه : "سر".

(٨) چاپي دیوانونه : "یوا ودوه". د "خ" لومړی نسخه : " دوه دیرې". د "خ" دوهمه نسخه : " دوې نورې"، مصوره نسخه : " دوه ".

(٩) چاپي دیوانونه او توري نسخې : " سل ".

(١٠) قلمي نسخې : " بیهوده دسړي اوسپنې کوتل دی".

سپين رخسار ومشکين خال دی وبله ضم دے
(١)
که دی مخ په زلفو پټ شو باک يې نشته
ستا د زلفو له رخسار له سر و شوندو
په دهن کې دی غاښونه تجلی کا
نه چې اوس زمانه غوښتا په غمزه دی
بې ژړا وچاته نه ګوری سيه چشم
راحت نه دی چا موندلی بې زحمته

ستا جفا و وفا دواړه منقسم دي
(٣)
ستا د حسن د تعريف لپاره برکته
د ټولو ژبو د شعر کوکې پر عالم دي

٢٩٣

چې د څنګه مې دلبر په لاس کې جام دی
مدام کله وي دنيا د دنيا دارو
دهارون څرخ پای نيلی دی دسپهر
د دنيا چار په مثل دي د سيوري
که يې صبح ښايسته دی خنده رويه
نه په مهر کې آرام شته نه په ماه کې

نن او رنګ د نړۍ زما غلام دی
بې له عشقه چې دولت يې مستدام دی
(٤)
څوبه دوکا چې يې دو په سر د بام دی
د آفتاب په مخ د سيوري څه مقام دی
بيا يې هسې په هر صبح پسې شام دی
په دنيا را غلی هر يو بې آرام دی

٢٨١٨

بيغمي په دنيا چې يې ده ټولو ژبو
يو بيغم دي خوک را وښيي کدام دی

٢٩٤

ما د ستا وملن ته اچولی دا چيل خان دی
ستا دی زمانه دی که دانا دی که ناخان دی

٢٨٢٥

---

(١) د "خ" لومړی او دوهم نسخه : "که دي مخ په زلفو پټ دی باک يې نشته".
(٢) د "ق" چاپ او "ق ، ک" چاپ : "يا غوتی چې په غوټه کې د شبنم دی".
(٣) قلمي نسخې : "مغتنم".
(٤) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته .

خپله سرکشي لويي مې واړه خاموش دي
هسې مې ځان ستا ولوی قامت ته حيران دی

بې له تاکه سيل[1] په گلستان کې م دگلونو
نه پوهيږم هيڅ چې گلستان دے که زندان دی

چا پيژاندم زه چې عاشق ندوم په جهان کې
اوس مې ستا له رويه نوم رسوا په دست جهان دی

دې هم ولي تر شول د مجنون بې نام ونقشه[2]
عشق دی چې عاشق لره هم نام دی هم نشان دی

لوی ترکوم چينجی دے پس وانه چې افسانه ش
واړه په سبب د عاشقی دی نمايان دی

واړه د خپل ځان په نظر گوره که دانايي
اې عبدالرحمانه جهان دې عبدالرحمان دی

## ۲۶۵ ۲۸۳۲

په نامه د هغه خدائ مې دا بيان دی
چې يو نوم يې په نومونو کې سبحان دے

هم[3] بادشاه دی د جمله و بادشاهانو
هم د هريوه سلطان په سر سلطان دے

هغه کار چې وهرچا وته مشکل دی[4]
هغه کار واړه وده وته آسان دی

څوک آفتاب شي په آسمان د خپل ولی[5]
ده آفتاب د خپل ولی په آسمان دی

څوک د نمر په مخ حجاب شي غوږ ولی
ده پټ کړی نمر په ابر کې پنهان دی[6]

څوک په شپه کې شي مهتاب[7] پيدا کولی
ده په شپه کې پيدا کړی ماه تابان دی

څوک يو څاڅکی پرېستی شي له آسمانه
نزول[8] کړی ده په مونږ باندې باران دی

څوک شي روح نو پستی په يوه ما شي
ژوندی[9] کړی ده په روح تمام جهان دی

---

(۱) "پ" او "ق" چاپ کې "سير". او په قلمی نسخو کې "گذر" راغلی دی.
(۲) د "پ" په لومړی نسخه کې "نام ونشانه" راغلی دی.
(۳) د "پ" په لومړی نسخه کې د "هم" پر ځای "دی" راغلی دی په "پ پ" چاپ کې يې دويمه مصرع داسې ده: "هم د هريوه په سر باندې سلطان دی".
(۴) د "ق، ک" چاپ: "هغه کار واړه په ده باندې اسان دی".
(۵) "ق" چاپ: "څوک افتاب شی واسمان ته خپل ولے".
(۶) له مصوری نسخې نه پرته په لوړو نسخو کې "پنهان" راغلی دی.
(۷) د "خ" لومړی نسخه: "افتاب". او دا بيت په "ق، ک" چاپ کې داسې دی:
"څوک په شپه کے شي مهتاب د خپل ولے ده په شپه کے خپل ولی ماه تابان دی"
(۸) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې "نازل" راغلی دی.
(۹) قلمی نسخه: "زنده".

خوك وسنگ شي رنگ دگلو وركولی — ده وسنگ وركړی رنگ دارغوان دی (۱)
خوك له خاورو شي يو گل پيدا كولی — ده له خاورو پيدا (۲) كړی گلستان دی
خوك له اوره شي او به پيدا كولی — ده له اوره پيدا (۳) كړی زمستان دی
خوك له سنگه شي گوهر پيدا كولی — پيدا كړی ده له سنگ در و مرجان دی (٤)
خوك شي رزق وهر (٥) مخلوق ته رسولی — دی دهر يوه مخلوق روزی رسان دی
خوك بنده له ايمان شي وركولی — ده وركړی هر مؤمن له ايمان (٦) دی
خوك له خمكي و آسمان ته شي ختلی (٧) — ده عيسیٰ له وركړی دامكان دی
خوك له خدای سره خبرې شي كولی — ده موسیٰ مشرف كړی په داشان (٨) دی
خوك ايسنو دی په توسن دهوا زين شي (٩) — ايسنی ده په هوا تخت د سليمان دی
خوك په سپينه زمينه پاڼي تر قيامته (١٠) — ده په خضر باندې كړی دا احسان دی
چې په ده شي هغه كار په هيڅا نه شي — هر توانا د ده تر توان پورې ناتوان دی
په اوبو كې يې دكانی كوټ بنا كړ — ده وركړی پكې اوړلره امان (١١) دی

---

(۱) "ق، ک" چاپ: "خوك شي سنگ ته وركولی رنگ دگلو سنگ ته ده وركړی رنگ دارغوان دی".
"ق" چاپ: "خوك شي سنگ ته وركولی رنگ دگلو ده وسنگ وركړی رنگ دارغوان دی".
د "خ" لومړی نسخه: "خوك شي سنگ لره گلو رنگ وركولی ده وسنگ وركړی رنگ دزعفران دی".
د "خ" دوهمه نسخه: "ده وركړی سنگ ته رنگ دارغوان دی".

(۲) د "خ" له دوهمې نسخې نه پرته په لورو نسخو کې "زرغون کړی" راغلی دی.

(۳) دا بيت په "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته

(٤) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(٥) د "خ" دوهمه نسخه: "وكل مخلوق ته". په "ق" او "ق، ک" چاپ کې دا مصرع دغسې ده: "خوك شي رزق رسولی هر مړی ته".

(٦) دا بيت د "پ" په لومړۍ نسخه کې نشته. د "خ" لومړۍ او مصوره نسخه کې د "مومن" پرځای "بنده" راغلی دی.

(٧) قلمي نسخې: "خوك له خمكي و آسمان وته ختی شي".
"ق" او "ق، ک" چاپ: "خوك له خمكي و آسمان ته دی ختلي".

(٨) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(٩) په چاپي ديوانونو کې د "هوا" پرځای "اسمان" راغلی دی.

(١٠) "ق" چاپ: "خوك ته ډېره به وپاڼي تر قيامته".

(١١) چاپي ديوانونه: "مكان دی"
لومړی بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
په "پ" چاپ او ډېرو په چاپي ديوانونو کې د "كوټ" پرځای "گوټ" راغلی دی.

په سجده[1] یې څملې سردی لګولی — هم یې زورند په رکوع سره آسمانونه دی
هره ورنه په قیام ودته ولاړه — هر ګیاه یې په تسبیح سره زبانونه دی[2]
همه واړه په تسبیح دده مشغول دي — که ملک دی که پیری دی که انسانونه دی[3]
هرماهي یې په دریاب کې حمد[4] وایي — هرمرغه یې په چمن کې ثنا خوانونه دی
حق په حق یې ثنا هیڅوک کړې نه دده[5] — نه له هیڅوا واقع شوی دا بیانونه دی
مخلوقاتو هسې نه دی پیژندلی — لکه دده سره[6] چې قدر دخیل ځانونه دی
حد پایان یې هیڅ سړي موندلی نه دی — معرفت یې هسې بحر بې پایانونه دی
نه هیڅوک دده په خپرده په شان دي — او نه دی دچا په خپرده په شان دی[7]
نه یې زیان نه یې زوال نه یې نقصانشته — دی[8] بې زیانه بې زواله بې نقصانونه دی
نه یې مثل نه مثال نه یې مکانشته — دی بې مثله بې مثاله بې مکانونه دی[9]
پاک یې وګمنه بې شکه بې ګمانه — له هغوچې دچا شک دچا ګومانونه دی[10]
نه یې څوک په ستر ګو وینې نه لیدلی شي[11] — اونې چونه بې چوګونه نمایانونه دی
که څوک وایي لیدلی نه شي لیدلی نه شي[12] — اوکه وایي وهرچا ونه عیانونه دی

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې "سجود" راغلی دی.
"پ پ" چاپ کې دوهمه مصرع داسې ده: "زورند سره هم په رکوع سره آسمان دی".
(۲) د "خ" دوهمه نسخه: "ګویان دی"
(۳) قلمي نسخې: "که سړی دی که پیری دی که حیوان دی".
(٤) د "خ" دوهمه نسخه کې د "حمد" پرځای "ثنا" راغلی دی.
(۵) "پ" چاپ، "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ: "حق په حق یې هیڅوا نه دده ثنا کړې".
"ق، ک" چاپ کې دوهمه مصرع داسې ده: "نه هیڅوا نه واقع شوی دا بیان دی".
(۶) قلمي نسخو او "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې د "سره" پرځای "شخه" راغلی دی.
(۷) دا بیت په "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته.
(۸) د "خ" دوهمه نسخه کې د "دی" پرځای "او" راغلی دی.
(۹) دا بیت په "ق" چاپ کې داسې دی: "نه یې مثل نه مثال نه یې پایان شته دی بې مثله بې مثاله بې پایان دی".
په "ق، ک" چاپ کې یې دوهمه مصرع له "ق" چاپ سره یوشان ده په لوړو چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې یې لومړۍ مصرع داسې ده: "نه یې مثل نه مثال نه یې مکانشته".
(۱۰) مصوره نسخه: "له هغوچې دچا فکر په بل شان دی".
(۱۱) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "که یې څوک په ستر ګو وینې لیدی نه شي".
(۱۲) د "خ" دوهمه نسخه: "که څوک وایي چې لیدلی نه شي لیدلی نه شي".

منزه دی له جمله وجهتونو — او بیا هر جهت پرده باندې ودان دے (۱)
بې پردې به حسن چا نه وي لیدلی — که څوك وایي چې لیده شي تش ګومان دے (۲)

۲۶۶ له زر ګونو صفتونو راشه ګوره
۲۸۶۸ چې یې کړی نیم صفت عبدالرحمان دی (۳)

زړه مې ستا په ذکر فکر ګلستان دی — تن مې ستا له غمه پاڼه د خزان دی
ستا د غم له هجره هسې نهره مندیم — چې په ستر ګو کې مې جوړ د (۴) روان دے
ستا کتو (۵) مې عجب زخم په زړه وکړو — چې هم وینې تریې نهیبې هم خندان دی
هسې رنګ مې د خپل زړه له وینو واخست — چې ځان د هست راته په شکل د جانان دی
که د ستا د زلفو مار کاندي خونونه — ما موندلی ځنې عمر جاودان دی
ځنګدن که هر څومره تریخ وتلخ وایه شي — ستا د لبو په مدد آب حیوان دی
آشنایي تر جدایۍ کمزوري نه ده — معطر په بوی د مصر د رست کنعان دے
لکه لمر په خلو د م آسمان لیده شي — محبت په سل حجابه کې عیان دی
نور د شمع په فانوس کله پټیږي — عشق د عقل په پرده کې نمایان دے
که د ستا په مخ کې بوی د حجاب نشته — زه له دې ځلې (۶) واړم چې هیڅ نه دی

---

(۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۲) دا بیت د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو.
(۳) د "ب" لومړۍ نسخه: "له هزار وصفتونو باور مه کړه چې یې کړی دا صفت عبدالرحمان دی".
"ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "له زر ګونو صفتونو راشه ګوره یو صفت یې کړی ما عبدالرحمان دی".
د "خ" لومړۍ نسخه: "له هزار صفتو یې اډانه کړه چې یې کړی دا صفت عبدالرحمان دی".
د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه: "له هزار وصفتونو باور وکړی چې یې کړی نیم صفت عبدالرحمان دی".
(۴) دا بیت او وړاندې دوه بیتونه د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته په چاپي دیوانونو کې دا بیت داسې دی: "ستا د هجر په غم هسې نهره مندیم
چې په ستر ګو کې مې جوړ روان دی"
د "خ" په لومړۍ نسخه کې دوهمه مصرع داسې ده: "چې له ستر ګو مې د میوجوی روان دی".
(۵) په "ق، ک" چاپ کې "ستا لېدو" راغلی دی.
(۶) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "مینې" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "حیا" راغلی دی.

طاوس رنګې زلفې چادې سمې کړې (۱)
چې هر موی یې په خو رنګه په خوشادی

بې پردې چې بې حسن نه وي چا لېدلی
که خوک وایي چې لیدلې شي تش ګمان دی (۲)

سبا دې غم خوندې اسانه مونده نه شي
سود په خپلو وینو لعل دې بدخشان دی

که وصال په هر زمان وای هسې دریغه
لکه غم چې د هجران په هر زمان دی

بې دستاله ملاقاته چې مشکل شو
نور مشکل وا ره په ما باندې اسان دی

هم په دا راته اسان شوه نور غمونه
چې ستا غم د حد په هور ته راته ګران دی

قافله د صبر هیڅ وپسا پرې (۳) نه کا
ستاله غمه مې منزل دنده ویران دی

یو نفس به دې له دره بې برته نه شم
خو مې یو نفس (۴) باقي په دا جهان دی

لکه سر وسامان ستا د زلفو نشته
هسې زړه نما بې سر و بې سامان دی

لکه تا چې تور ګیسو په مخ پریشان کړه
هم مې هسې خراب زړه پسې پریشان دی

خوا ر خاطر به د صبا سلامت څوی
چې ګذر یې ستا په چاه زنخدان دی

۲۶۷

۲۸۸۹

ستا د عشق حرفونه تور نه دي ګلګون دي
هم په دا چې نوشته په جګر خون (۵) دي

تش به نه شي هغه غم د عشق له میو
چې یې خاوري د فرهاد و د مجنون (۶) دي

د دنیا چارې همه وا ره فاني دي
دا د ستا جور د وفا ولې افزون دي

مقتولان ستا د غمزو دي لاله نه دي
چې په سر ه کفن له خمکې را پورون دي

---

(۱) چاپي دیوانونه : " طاوس رنګه زلفې دې چا هسې ګړه کړې".
د "خ" دوهمه نسخه : " طاوس رنګه زلفې نه دي چا لېدلی که خوک وایي چې لیده شي تش ګمان دی".
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه اونیمګړي نسخو کې نشته.
(۳) د "پ" لومړی نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې : " را باندې نه کا" راغلی دی.
(۴) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "دم نفس" راغلی دی.
(۵) دا غزل په قلمي نسخو کې نشته.
(۶) "ق، ک" چاپ : "یاره ستا جور د جفا ولې افزون دی".

چې يې هيڅ بها زلمیو څخه نشته — جونه نه دي سکه ګنجونه دقارون دي
بادشاهان په يوه دم کې ګدايان کا — مالبدلي فسادونه دګربون دي

۲۶۸۰ د ځاځ دزړه خوناب مګر قبول شي
۲۹۹۶ چې مخونه د دلبرو پرې ګلګون دي

غم دې هسې غلبه شوې په ما باندې — چې مې ځای نه شي د ننه نه دباندې
له زګ پرويه مې نور خلق په عذاب شول — تل د وچولې کبله سوځي تاندې
زه د ستا په غم کې شمع غوندې ژاړم — ته زما په ژړا صبح غونډې خاندې
زړه مې هسې ستا په لورې آويزان دی — لکه زلفې دې په مخ دي آويزاندې
ما دې ستا دانه پښو په اوږه کې سوی — د دنيا اندپښې واړه لکه سپاندې
دا دستور دی چې لوی "غم په سړي ورځي — نور غمونه يې همځي تر پښو لاندې (1)
هر چې ما په نصيحت له تا جاريا سي — بيا دې ستا په لورې د روم تر ما وراندې (2)

۲۶۹ ۲۹۰۴ د ځاځ سړه لمبه ګوډه چې خه کا په وچ کې
مخ دیار په د ځاځ هسې چارې کاندې

په دنيا کې چې که څه کار دی خو دين دی — د دې کار په کنده ؤ آفرين دی
چې تقوی او ديندارۍ يې شي په بخره — دهغو د سعادت ستوری قرين دی
قناعت مې هسې خوند په خوله کې کښود — چې وچ تولک مې په دهن کې انګبين دی
بې هاتيانو بې اوسنانو بادشاهي کا — د زړه پوزې تر سکې قالين دی
چې په خواست د حاجت پورته کالاسونه — د آسمان د ملايکو پرې آمين دی
چې قبوله کهتری کا په دنيا کې — دهغو په بهتری باندې يقين دی

---

(1) په ټولو نسخو کې "يو" (غلی دی).
(2) د ځاځ "دوهمه نسخه": "هغه تله کا ستا ولورته ترما وراندې".

تل دلوړي اوبه دروي وڅڅدته ۔ حق تعالی کمال ودکړي وکمين دي
خاکساري دخاکسارانو مرتبه ده ۔ که نه دوکي يې خيرن وي زه يې سپين دي
دسرکښو سرکه وڅڅي وآسمان ته ۔ په دوه ودڅ پسې ځای زين زمين دي
چې سنبوړه يې وي په سر کې اولوي کا ۔ د رحمت لياقت نه لري لعين دي
که صورت يې ډير وي ، سړي بالڅي ۔ په معنی کې سړی نه دي شيطين دي

۲۷۰ که راځ کنې سره متاع د دنيا نشته ۲۹۱۶
شکر دا چې نه خودای دي نه خودبين دي

مخ د يار شمس وقمر د ې واړه يودي ۔ قد د سر وصنوبر د ې واړه يودي
حاجت نه لرم په شهد وپه شکر و(۱) ۔ لب د يار شهد وشکر د ې واړه يودي
که بې يار په بستر د پاسر پر وتيم ۔ نار وخار ودابستر د ې واړه يودي
چې ودرو ودبوار ته يې نظر کړم ۔ باغ بوستان اوغږد د ې واړه يودي
چې غبار يې د کوڅې را باندې راشي ۔ دا غبار مشک وعنبر د ې واړه يودي
خدای د يار له هجره هيڅوک خبر مه کړه ۔ تاخت وقتل دا خبر د ې واړه يودي
هغه دم چې سړی د روي له جهانه ۔ توړې خاورې سيم وزر د ې واړه يودي
قلندر چې په رښتيا قلندري کا ۔ خان ، سلطان وقلندر د ې واړه يودي
وړې نه شي په پرې د ي ملک د حمکه هيڅوک(۲) ۔ کور وکرا ومبصر د ې واړه يودي
چې د ې نه پکې يو يار نه د ې آشنا وي ۔ هغه بحر وبر د ې واړه يودي
په دکان د نابينا(۳) وجوهر يانو ۔ خرڅه د لعل وګوهر د ې واړه يودي
پسران د ې عار زما له عشقه نيکا ۔ پاک عاشق پسر(۳) پدر د ې واړه يودي

(۱) د "خ" لومړی نسخه : "حاجت نه لرې په شهدو په شکرو".
(۲) په قلمی نسخو ، "پ" چاپ ، "ق" چاپ ، او "پ پ" چاپ کی دا مصرع داسی ده : "وړې نه شي په پرې د ي حمکه هيڅوک".
(۳) دابيت په "پ" چاپ کی نشته او په مصوره نسخه کی د "پسر" پر ځای "پسير" راغلی دی.

۲۷۱

په سبب د ظالمانو حاکمانو — ګورواوبد او پښور دنړۍ واړه یودے (۱)

غزا وشوه که ځان ستایلی وی ګنه — ۲۹۳۰

بې هنره ګا وخر دې واړه یو دې

چې داهسې لاس په لاس دنیا پرې نسبو دې

دا دنیا په مثال پوله مرګ سیلاب دې

جل ځلمی لاوادۍ ندوي سره کوندې وي

قافلې چې په دنیا کې شوې داخلې

داسفر به په هغو باندې آسان وي

چې بې وخته ارمان کا په وخت اوده وي

په هر شان چې یار خوښ نه وي زه هغه کرم (۳)

دیار غم مې لکه تاج وي په سر البته

معشوقې چې په عاشقانو خود پوهیږي

۲۷۲

می خواران کدې خبر شي له مستۍ نه

د ۲۹۴۰ دمیخانې شراب دخښو دې

زه بلبل ستا د وصال یم بوستان خه دی

ستا د وصل په نسبت ګلستان خه دی

چې آشنا شي ستا له دره له د پواړه

انتظار یې په روضه د رضوان خه دی

چې روزي یې شهادت شي ستا له تیغه

احتیاج یې په چشمه د حیوان خه دی

چې مسکن یې د زړه ستا د زلفو نم شي

وهغوته د عطار د دکان خه دی

---

(۱) دا بیت د "خ" په نسخو کې نشته، په "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ کې د مصرې (۱۷) نه "ګورا وکورا وپښور دې واړه یودی".

(۲) "ق" چاپ، "ق،ک" چاپ، په "مصره" په او د "خ" په دو هم نسخو کې "دتلو دي" اغلی دی.

(۳) قلمي نسخې: "په هر رنګ چې یار خوښ نه وي زه کرم".

(۴) د "خ" دو هم نسخو کې "ابنودي" اغلی دی.

هرچې لاندې خپل وجود تر خپل قدمه کا
عرش یې لاندې تر قدمه شي آسمان خه دی

بوالهوس که بوسه غواړي له تا خه شو
هر رنګ هر رنګ ویل کاندې نادان خه دی

زه چې ستا له غمه ژاړم آه فریاد کړم
برق و رعد چې کا زه دې باران خه دی

ځان جهان مې هسې ستا په مینه هیر دے
نه پوهیږم چې ځان خه دی جهان خه دی

ته چې نه ګورې وما ته لږ مې پوه کړه
په داسې کار کې دې ضرر او نقصان خه دی

که ستا ستر ګې دې قاتلې زه مقتول یم
وایه نو ردې په خاطر کې ارمان خه دی

زه بې صبره یم که هر دستا نشته
له دې دوا رودې په زړه کې ګومان خه دی

چې مې وینې تر ومې خه پوښتې له حاله
له عیانه احتیاج دبیان خه دی

هرچې والي ستا رسې د ټولو ځان غاړه
وتوانا وته حجت دنا توان خه دی

(۱) مینځ مې ستا دبنو غشي په سینه دي
پورې وورې مې وتلي ترا ینه دي

تل یې مخ دیار په مخ باندې وي ایښی
هغه زړونه چې بې زنګه آیینه دي

هسې نه چې زه نن ورځ په تا شیدایم
ستا غمونه مې په زړه کې دېرینه دي

لکه ستوري چې بریښنا کا په آسمان کې
په تا مې ستا داغونه نګینه دي (۲)

درته وایم چې له آهه یې پرهېز کړه (۳)
دهغو چې پوشاکونه پشمینه دي

که دستا رخسار سوزاني لمبې نه وي
ولې کسي نه ما تود سوي نبنه دي

خه بد سم په صبحدم ګورې وچاته
چې دې ستر ګې په مې مستې شبینه دي (۴)

هغه ستر ګې چې پیدا کړې خدای خونړۍ
بې غضبه (۵) په غضب او په کینه دي

شرابیان (۶) چې شراب مومي خوږې شومي
کله منعه په اختر (۷) په آدینه دي

---

* . دې مخ پاڼیکو نه دې په (۲۰۵) مخ کې دکتل شي.

٢٧٤

چې تمام د شاخ ان د ښاخ خپل ځيګر په وينو رنګ ش
خپې حُله رنګينه دي

٢٩٦٣

(١) دعاشق نظر په خوږ دوپه خواب نه دی — مراد يې بې ديار له دره (٢) بل باب نه دی
ته نظر په خپل هنر په عقل مه کړه — دا اسباب په عاشقي کې اسباب نه دی (٣)
چې ديار سره حساب د دنيا کا ندي — د غه هيڅ په عاشقانو حساب نه دی (٤)
چې عاشق په عاشقي کې ارباب نه شي (٥) — که د دربستګان ارباب شي ارباب نه دی
هر چې يار منعه کوي له خپله يار ه — دا کتاب د عاشقانو کتاب نه دی
دا حجاب چې نور عالم يې حجاب بولي (٦) — دا زما د يار ترمينا نه حجاب نه دی
که ثواب دی هم سيوا د يار له مخه (٧) — ما ګناهلی د غه کار په ثواب نه دی
که لېدلی زليخا يوسف په خوب کې — ما په ويښه دی لېدلی په خواب نه دی
صبر و نيسه په مخ کې که مراد غواړې — هيڅ اګر د غه کار په شتاب نه دی

٢٧٥

٢٩٧٣

سوال د بوسې ګر دی له يار ه
لا يې هيڅ ځني موندلی جواب نه دی

د عشق زخم څه د زخم په شان نه دے — د بل زخم په څير سهل و آسان نه دی (٨)
عاشقان و معشوقې سره پوهيږي — د غه راز و نور عالم ته عيان نه دی (٩)
عاشقي نه ده که ګوډې حيراني ده — کوم سړی په د غه کار کې حيران نه دی (١٠)
يو عاشق دې خوک راوښيي په عشق کې — چې يې رود په مخ دا وښکو روان نه دی (١١)
هو نه راوښکې د عاشق په ګريوان وه دی (١٢) — ته به وايې چې يو سيند دی ګريوان نه دی
دا هجران دی چې يې مرګ په عاشق ګران کړ ما — که هجران و سړی نه وی هيڅ ګران نه دے (١٣)

---

* دې مخ د تن پاڼيکو نه دې په ( ٢٠٥ ) مخ کې وکتل شی.

نور غمونه که په ځان دسړي بد دی ۲۷۹ غم د ترکو بد دی چا په ځان نه دی (۱)

د دوزخ داوګه تا وایه حده تیر دی براېر د بېلتانه لـــه تیران نه دی (۲)

چې باله شي څوک په عشق کې کم عقل دا کم عقل د پېر هوښیار دی نادان نه دی

چې بې یاره ځمان وته نظر کړم ۲۹۸۳ تمام ځای وایم چې ویران دی ویران نه دی (۳)

---

د (۲۰۳) مخ د متن پایلیکونه :

(۱) په قلمی نسخو کې "څرخ" راغلی دی.

(۲) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته . په "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ کې د "داغونه" پرځای "غمونه" راغلی دی.

(۳) د "پ" لومړی نسخه او د "خ" لومړی نسخه : " ورته وایه چې له آهه مې پرهېز که".
د "خ" دوهمه نسخه : " ورته وایه چې له آهو یې پرهېز که".

(٤) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

(٥) "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ کې "بې سببه" راغلی دی.

(٦) د "خ" په دوهمه نسخه کې "می خوران" راغلی دی.

(۷) د "خ" په لومړی نسخه کې "به جمعه" راغلی دی.

د (۲۰٤) مخ د متن پایلیکونه :

(۱) داغزل د "پ" په نسخو او مصوره نسخه کې نشته.

(۲) "ق،ک" چاپ ، "ق" چاپ او د "خ" لومړی او دوهمه نسخه کې " دیار له پاره" راغلی دی.

(۳) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : " دا اسباب د عاشقۍ اسباب نه دی".

(٤) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : " دغه چېرې په عاشقۍ کې حساب نه دی.

(٥) د "خ" نسخې : " ارباب نه وی".

(٦) د "خ" دوهمه نسخه : " عام عالم"

(۷) د "خ" لومړی نسخه : " که ثواب دی هم ثواب دیار په عشق کې".

(۸) "ق،ک" چاپ : " د عاشق زخم د زخم په شان نه دی
دغه راز د نور عالم ته ځیان نه دی".
"ق" چاپ : " دغه راز د ښیانو عالم ته ځیان نه دی".
د "خ" دوهمه نسخه : " د عاشق زخم څه د زخم په شان نه دی".

(۹) "ق،ک" چاپ : " داد عشق اسرار په هاخلمان نه دی".
"ق" چاپ : " داد عشق اسرار په چا لمان نه دی".
د "خ" دوهمه نسخه : "دغه راز د هر سړي ته ځیان نه دی".

(۱۰) دابیت د "پ" په لومړی نسخه کې نشته.

(۱۱) "ق" چاپ : " باران نه دی".

(۱۲) د "پ" لومړی نسخه : " هومره اوښکې د عاشق په ګریوان درومي".
"ق،ک" چاپ : "هومره اوښکې د عاشق په مخ را درومي".
د "خ" دوهمه نسخه : "هومره اوښکې په ګریوان د عاشق درومي".

(۱۳) چاپ دیوانونه : " که هم طالب د ځنځه دمه مې څخه ځان نه دی" (پاتې په (۲۰۶) مخ کې)

هرنگار چې بې وفا دی نگار نه دی
په گلزار کې چې گل نه وي گلزار نه دی (۱)

هغه یار چې اخلاص نه لري یار نه دی
هغه کار چې بې فایدې دی څه کار نه دی (۲)

په تلخې دمیومست خلق (۳) مې خوښ دی
هغه خار چې بوی د گل لري خار نه دی (۴)

دیندار یې دنیا داري ده حُبله (۵) لرې
مالپدلی هیڅ دیندار دنیا دار نه دی

که روزګار دی پنهان کې عاشقي ده (۶)
ددې نور عالم روزګار څه روزګار نه دی

چې تصدیق یې په خپل زړه کې محکم نه وي
دا په خوله ظاهر اقرار څه اقرار نه دی (۷)

په هر زړه چې د خپل یار دغم غبار نه وي
د غه اېر د رحمت دی غبار نه دی

چا په کسب بې له عشقه نور څه نه کړ
باري ګنج دی چې هر چا په اظهار نه دی (۸)

معشوقه وفاله هیڅ سړی نه کا
ګنه کوم یو ددې سخت خریدار نه دی

---

د ۲۰۵ مخ د متن پا یلیکونه :

(۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته . د "خ" لومړی نسخې پې لومړی مصرې دا یې ده : " لور غمونه که په ځان دهر سړی دی ".
(۲) دا بیت او ورپسې بیت په قلمي نسخو کې نشته .
(۳) "ق،ک" چاپ : "زړه رحمان وایم چې وران دی ودان نه دی ".

ددې مخ د متن پا یلیکونه :

(۱) . دا غزل د "پ" په نسخو او مصوره نسخه کې نشته . ددې غزل لومړی بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا ډول دی : "هغه یار چې بې وفا دی څه یار نه دی
هغه کار چې بې بقا دی څه کار نه دی

د "خ" دوهمې نسخې : لدا غیار سره سودا څه په کار نه دی
له مکار سره روزګار څه روزګار نه دی

(۲) دا بیت د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو .
(۳) "ق،ک" چاپ : "انسان".
د "خ" دوهمه نسخه : "په تلخې دمیومست عالم خرم وي"
(۴) دا مصرې د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا ډول ده : "هغه کار چې بوی دخار لري خار نه دی".
(۵) "ق،ک" چاپ او "ق" چاپ : "سړه".
د "خ" لومړۍ نسخه : "وبله".
(۶) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه : "که روزګار دی په دنیا کې د عاشق دی "
(۷) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه : " چې بنا یې د تصدیق محکمه نه وی
د ظاهر په خوله اقرار څه په کار نه دی

(پاته په ۲۰۷ مخ کې)

دد لدار وصال دخدای په دادمونده شي (۱) دغه کار مې دهیڅا په اختیار نه دی

۲۷۷ په ټولو کې باندې منت د معشوقو دی (۲) ۲۹۹٤

دې حسن و معشوقو منت بار نه دی

هغه یار چې بې وفا دی څه یار نه دی (۳) هغه کار چې بې بقا دی څه کار نه دی

که دسې ښندل د شوا د په ما وتا دی دا په عشق کې سهل کار دی دشوار نه دی

اند پښه سړی بیدار کاندي لږ خوبه کم اند پښه که بیدار دی بیدار نه دی

که څه عمر دی عاشقانو وصال دی (٤) د هجران عمر د عمر په شمار نه دی

د چشمانو په څنبل (٥) کې تیر وبیر شي اعتبار د نامانې اعتبار نه دی (٦)

که دسلونو یو پلار شي به یې څه کا (۷) بې وقوفه زوی د پلار څه په کار نه دی (۸)

۲۷۸ معشوقې هیشه ناز په عاشق کاندي ۳۰۰۱

د هجران هیڅ لږ خپله یار آزار نه دی (۹)

عاشقان دې په اود سوی یاد یې که نه دي ستا د عشق په اود الوي دي که نه دی (۱۰)

---

د (۲۰۶) مخ د پایلیکونې یا ته پرخه :

(۸) "پ" چاپ ، "ق ، ک" چاپ او "ق" چاپ : "باري ګنج دی چې هر یوته اظهار نه دی".
د "خ" لومړی نسخه : "چا به کسب د عشق نه کړی باري څه کړی چې دا ګنج و هر یوه ته اظهار نه دی".

د دې مخ د متن پا یلیکونه :

(۱) "پ" چاپ او "ق ، ک" چاپ : "د خپل یار وصال دخدای په داد مونده شي".
"ق" چاپ : "د خپل یار وصال دخدای په امر مونده شي".
د "خ" لومړی نسخه : "د خپل یار وصال دخدای په داد مونده شی د غه کار و هیڅ بنده ته اظهار نه دی".

(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۳) د "خ" لومړی نسخه : "که دسې ښندل د شوا دی وتا ته".

(٤) د "پ" لومړی نسخه : "د هجران عمر په عمر څه شمار نه دی".
د "خ" لومړی نسخه : "د هجران عمر په عمر شمار نه دی".

(٥) د "خ" دوهمه نسخه : "وهل".

(٦) د "خ" دوهمه نسخه ، "ق ، ک" چاپ او "ق" چاپ : "اعتبار د نامانې څه اعتبار نه دی". او هم دا بیت اوورلیې بیتونه د "پ" په لومړی نسخه کې نشته.

(۷) "ق ، ک" چاپ : "که دسلونو ویو پلار شي څوک به یې څه کا". "ق" چاپ : "که دسلونو ویو پلار شي څوک به یې څه کاندی".
د "خ" دوهمه نسخه : "که دسلونو ویو پلار شي څه به یې څه کمي"

(۸) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه او مصوره نسخه : "بې وقوفه زویه زویه د پلار نه دی".

(۹) د "خ" لومړی نسخه : "معشوقه هیشه ناز په عاشق کاندی دا هم لږ خپله یار آزار نه دی". په "ق" چاپ کې مصرع معشوقه داخلی ده.

(۱۰) دا غزل د "خ" په لومړی نسخه ، مصوره نسخه او نیمګړی نسخه کې نشته.

زمتونه دهجران واړه په عشق کې — تاوما وته ښو ولې دې که نه دې
په دنیاکې خویاس ومال ویل شي — دواړه ما په تا بایللې[1] دې که نه دې
تل دودحو په لبدو د ښو غښي — تا په ما باندې راکښلې دې که نه دې
چې مدام یې زمانده له غمه چوي — تورې زلفې دې پیچوي دې که نه دې
راشه وګوره احوال د عاشقانو — مړه د عشق په تیغ کوتلې[2] دې که نه دې
ناصحان چې نصیحت وما ته[3] کاندي — چېرې دوی هم مین شوي دي که نه دي
ښایسته که په ښایست کې ملایك وي — په وکښه د زمونږ دوي دي که نه دي

٢٧٩ بلبلان پسې ناري وهي صباح نه — ٣٠١٠
دنهاران ګلونه شوې[4] دي که نه دي

داځوندي چې معلومېږي واړه مړه دي — که څه دي هم هسې وایه چې څه نه دي[5]
یاد باد په مخ کې خاوري دي داتورې — یاد اوده په مخ کې واړه وچ واښه دي
دخپل عمر شپې اوورځې چې په نه ده کړم — هسې د ړوي ګویا بهنده اوبه دي[6]
غافلان که وینې اودي به یې څه کړي[7] — دا یې خوب دی نه لیده نه اوربده دي
چې د خدای له معرفته خبر نه وي — هغه واړه که بیدار دي هم اوده دي[8]

٢٨٠ د ژوند ان دزړه له حاله خدای خبر دی — ٣٠١٦
چې په زړه کې یې دیار له غمه څرې[9]

---

(١) په قلمي نسخو کې "پاسلوي دی" راغلی دی.
(٢) د "ب" په لومړۍ نسخه کې "په شیر کوی دی" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "په ستر ګو کوي دي" راغلی دی.
(٣) په "پ" چاپ او "پ، ب" چاپ کې "دپاره ته" راغلی دی.
(٤) په قلمي نسخو کې "نوې دي" راغلی دی.
(٥) راغلی د "پ، ب" چاپ کې نشته.
(٦) د "پ" لومړۍ نسخه: "هسې د ړومي چې دسیند ګویا اوبه دی". د "خ" دوهمه نسخه: "هسې د ړومي ګویا بحردی اوبه دی".
(٧) "ق، ک" چاپ: "غافلان چې وینې اوري عمل نه کړي".
(٨) د "خ" لومړۍ نسخه: "بیدار نه دی".
(٩) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "چې په زړه کې داشنا په غمه څه دی".

په ظاهر صورت چې ستا د درګډای دی — په معنی کې د جمله وګډ خدای دی (۱)
مجنون بېد غوندې رونق د ګلستان شي — چې يې ستاله غمه سر په پشت پای دی
چې له غمه د جرس غوندې نالان دی — د جمله وګمراهانو رهنمای دی
چې څوک زده دستا وتوه وستر ګو وړکا (۲) — ستا دوړو څوتر محراب لاندې حای دی
چې مسکن يې د زده ستا د زلفو خم شي — دهغو ناستی په سيوري دهمای دی
چې تا وويني وما ته نصيحت کا — شک پرې مه کوه بې شکه چې خدای دی

۲۸۱ — کې زړدار دي آشنايان د زهدارانو
۳۰۲۳ — د ټولو د آشنايانو تکيه خدای دی

کې مطلب ومدعا سړي خدای دی — هر هر مړی د ژوندیو رهنمای دی
مسافر چې په رحلت کې حبله غن کا — هر اوان يې خواب آلود لره درای دی
کې سړی وحقيقت وته نظر کا — د ژوندی خلق واړه ناست دمړو په حای دی
د اخو بخت دی څوک يې سپين او څوک يې توره کړه — ګنه عيني لکه زاغ هسې همای دی
لکه فرق چې دهمای او د زاغ نشته — هم دغه دليل د شاه ودګدای دی
ته نظر د کار ګير وپه کار مه کړه — کار همه واړه موقوف په کارفرمای دی
سالکان چې د جهان تماشا کاندي — له جهانه يې مطلب جهان آرای دی
کې څوک خپل دست وپای وباسي له ميانه — خدای پخپله دبې دستو دست ويای دی
په هغه جهان ننګي وبدي نشته — هر مطلب د طالبانو په داسرای دی

۲۸۲ — زه د صالح يوازې نه يم په داکار کې
۳۰۳۳ — همېشه دیار په يار پسې وای وای دی

---

(۱) قلمي نسخې: "په معنی کې د جمله جهان کد خدای دی".
(۲) د "ب" په لومړۍ نسخه او د "خ" په نيګړۍ نسخه کې "توره و زلفې" راغلې دی.

که د خلقو ونظر ته آدمی دی — خوار عاشق د معشوقې دکوڅې سپی دی
هرچې خان دیار په سپیو کې داخل کا (1) — تر وهاله به ورته وایم چې سړی دی
ما د خدای دیار له غمه بې غمه نه کا — دا په ملاک د عاشقی کې لوی وړانی دی
زه دیار په غم کې زیړه خپه خوښیم — دا زما خزان خزان نه دی سپرلی دی
زه ژوندون دیار د وصلت ته وایم — گنه هریو د زخې په ژوند ژوندی دی
ته چې ما منعه کوې دیار له دره — کوم یو در له د غه دره بریالی دی (2)
زه دیار مینې په یار باندې شیدا کړم — که خوک ما گنې زه نه یم وایه دی دی
چې وحشي مجنون یې بنهر له راوست — دلیلی د زلفو هسې غرونه دی دی (3)
زردارانو که اوبه څښې په جام د زرو — خوښې زما داخپل د خاورو کندو لی دی
اورنگ زیب که د دهلي په تخت ناز ږدې — خپله خوښه هر گدای له ډیلی دی
چې له خپله کوره ووځي مسافر شي — خوک یې پرې نې ساهودی که من یې دی
چې یې خاوري شي له خاورو سره گډې — تر وچا خه زده چې دکوم نیکه لمسی دی
تو ره شپه په آشنا یانو رنها ورځ ده — رنها ورځ په ناآشنا و تر وډ نه دی
نه دې ستر گې پوزه غوږ دکم شناخت — په معنی کې یو د پوال سوری سوری دی (4)
عاشقان یې د دنیا له غمه خلاص کړه — عشق په مثل د سلیمان بادشاه غمی دی
هرچې حب د عاشقی لرې په زړه کې — که په قطع (5) صد ساله وې هم ځلمی دی
دا هلال دی چې لږه شي په شفق کې — که په لاس د گل ندامې سپین وینی دی
ناآشنا به بهره خشکل ځنې مومې — چې مدام یې په آشنا باندې غوږ نه دی (6)

---

(1) د "پ پ" چاپ کې "حساب کا" راغلی دی
(2) دا بیت د "خ" په نیگمړی نسخه کې نشته.
(3) دا بیت د "خ" په "ه" نسخه کې نشته.
(4) دا بیت په نیگمړی نسخه کې نشته.
(5) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "عمر" راغلی دی.
(6) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "نزدیګی" راغلی دی.

خربوي مې قربانۍ لرې پوهېږم — دا چې کړی دې په ما باندې زما سوی دی

چې په نوم باندې باله شي لپدې نه شي — معلومېږي چې نر حور یا ښاپیرۍ دی (١)

چې دخط په دود خلق یکې پرېږدي — زنخدان یې تر سبزې لاندې کوهی دی (٢)

٢٨٣ — زه یې تاسې له یارې خوښ یم که جفا کا — ٣٠٥٥ — که جفا نه کا وفا کا خو تېری دی

ستالې غمه مې په مخ باندې ولې دي — لږ مې وپوښته له حالې چې ولې دي؟

زه په تاسې مجنون یم قارون نه یم — چې مطلب مې غوا وغیلې یا غلې دي (٣)

هغه کوڅې لکه تا دي په ما کړې — کله کمې په مجنون باندې لیلې دي

لکه ما چې مصلي درسې لنګ کړې — کوم ملنګ هسې لنګ کړي مصلي دي

بوی هم ستا د وفا نه دی را الوتی (٤) — ما څېله خپلې کړې تسلي دي

نصیحت اثر په زړه د عاشق نه کا — ګڼه یادې زما د پېرې مسلي دي (٥)

٢٨٤ — که د عاشقی په تېغ شهیدشي — ٣٠٦٢ — د جنت حوري هم واړه دلې دي

چا چې کړي د دنیا وته اسرې دي — د هم واړو په سر خاورې اېرې دي (٦)

نادانان که د دنیا په چاړ نا زېږي — د دانا ته واړه وشتې (٧) مسخرې دي

چې بې خدایه محبت کا هغه خلق — نا پېنه یې واړه خره او ښځې خرې دي

د سپین زېږي وته مه وایه سپین زېږ یه — همګي واړه طفلان د ګوا ډې دي (٨)

---

(١) دا بیت په نیګړۍ نسخې کې نشته ، "خ" په لومړۍ نسخې کې دا مصرع دا سې ده : " معلومېږي چې نه حور نه ښاپیرۍ دی".

(٢) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته .

(٣) "پ" چاپ : " زه په تاسې موسی یم قارون نه یم — چې مطلب مې غوا وغیلې یا ګلې دي".
د پېښور چاپي دیوانونه : " زه په تاسې موسی یم قارون نه یم — چې مطلب مې غوا ، غلې او یا ګلې دي".

(٤) په قلمي نسخو کې "را بلودلی" راغلی دی .

(٥) دا بیت په "پ پ" چاپ کې نشته .

(٦) چاپي دیوانونه : "دهغو په سر هم خاورې اېرې دی" . (٧) "ق ، ک" چاپ : "تو کې" ، "خ" لومړۍ نسخه : "نشتی"

(٨) د "پ" لومړۍ نسخې : "دا هم واړه طفلان دګوا ډې دی". د "خ" دوهمې نسخې : "وسپین زېږي ته مه وایه چې سپین زېږ یې".

۲۸۵

هسې وایه چې څمې دې د زنانو — که یې اینې په دستار کې قرقې دې
نه څه فیض نه ظهره ځنې مونده شي[1] — همګې واړه بې فیضه بې بهره دې

۳۰۶۹

ذخیره د دنیا مه کوه یارانو — واړه واړه د خاوند ذخیره دې[2]

په هر ځای چې ستا ثنا شي ښیه ګرې — خو هره شي هلته د رومن غاړې
دهغوستر ګو به اوښکې وي ګلرنګې — هر چې ستا په ګل رخسار وي منتظرې
هغه کله دنا صحې خبرې اورې — هر چې اوري ستا خوبې خوبې خبرې[3]
مرور کاندې عاشق له جمله خلق — معشوقې له هیڅ مه شه مرورې
په ساعت کې سلګې مرګم یې ژوندۍ کا[4] — طایفې دې د خوبانو سحر ګرې
زه ځان د وب ګنم بې تا په خپلو وینو — که مې د وب کا څوک په شهد و په شکرې
لرې لرې غم دې واړه رانژدې کړم — چې له مخه دې حجاب کړم راته لرې
چې مې نوم دستا د تورو زلفو واخیست[5] — راپسې شوې د بلا تورې لښکرې
هیڅ په حق د خدا رانونه ګرځه یې — همیشه زما د زړه په وړومنکرې[6]
زما ستا مینه څرګنده په جهان ده — ولې دا رنګه څرګنده ګواهې[7] نغرې

---

(۱) چاپي دیوانونه : " چې نه فیض نه څه ظهره ځنې مونده شي ".
مصوره نسخه : " نه څه فیض نه څه ظهره ځنې مونده شي ".

(۲) د "پ" لومړۍ نسخې : " د همه واړو په سر خاورې ایرې دې ".
د "خ" دویمې نسخې : " د دنیا ذخیرې کل خاورې ایرې دي ".
مصوره نسخه : " د همه دا یرو خاورو ذخیرې دې ".

(۳) د "خ" په دویمه نسخه کې وړې وړې خبرې " راغلې دي.

(٤) چاپي دیوانونه : " په ساعت کې سلګې مرګم یې ژوندۍ کا ".
د "خ" دویمې نسخې : " په ساعت کې سلګې مرګم بیایې ژوندۍ کا ".

(۵) چاپي دیوانونه : " چې مې نوم دستا د زلفو په خوله واخیست ".

خه په کسب مونده نه شي[2] دغه کار دی عطايي
چې د عشق په لومړ کې نور يې نه وي رهايي
بې د يار له مخه نه شي د عاشق د لکشايي
د خپل يار په طلب ګرزي غار يې غرونه پيمايي
له عالمه وي وتلی لکه صيد صحرايي
تل تر تله يې وطن وي مدام سوی لوڅ ن وي
هر زمان يې په اوه نبسي د خپل يار تمنايي

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه : " ودانا نه دانايي".
(۲) چاپی ديوانونه : " خه په کسب موقوف نه دی".

نه يې ملك وې نه يې مال وې — نه يې زهد و پارسايي
په داهسې گرانو چارو — معشوقې يې از مايي
په يوه ديدن يې يوسي — د درست عمر کمايي
هم مې هسې رنگه وژني — يا ره ستا بې وفايي
چې په (١) نده کرم نده مې چوي — دغه ستا خودنمايي
هم خودي لرې بې قياسه — هم د حسن زيبايي
ضرر نه لري بې نفع — ستا دمينې سودايي
ستا سودا مالره سوده — حق به وايم خدايي
په هيڅ مخ کې ليده نه شي — ستا د حسن صفايي
لمر به څه له تا سيالي کا — په دابې سروپايي
ادراک نه رسي د سروې — ستا د قد په رعنايي
لکه ستا قد و بالا دی — نشته هسې بالايي
که د ستا وصال دريادی — زه ماهي يم د دريايي
د مګسو زندګي ده — په دوکان د حلوايي
زه تو تا شکرپرست يم — د استا شونډې متمايي

٣٦٨ دا ګمان په ما ترک مه کړه
٣٩٠٥ چې بې تا به وپايي

خو زما په وديعه ما تول شين يې — که په مرګ د رقيب هم هسې شمشير يې (٢)
مرګ خو د بې چې پخپله را پسې دی — څه محتاج زما د مرګ وته دومره پيرې يې
که د ن زما د قصد په بل پيرې يې (٣) — او که د ن زما د عادت دی

(١) له مصوری نسخې نه پرته په نورو قلمی نسخو کې "له نده کرم" راغلی دی.
(٢) دا غزل د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(٣) دا بيت په "ق ، ک" چاپ کې نشته.

د ابې شمارې عاقلان به شي کم عقله (۱)
ته چې دا رنګه په زړه وسنګه دلبر يې

ستا خويونه به پخپله ځان څرګند کا
زه به څه وايم چې ته ټ بلا تېر يې (۲)

له حيرته دې تعريف کولی نه شم
چې په څه رنګ دې ستايم دا چاپه څېر يې

ما چې ستا دلبر خوند بيا موند محظوظ شوم (۳)
که سل ځله په تا خه ويل ګناه ګير يې

دا ګمان مه کړه چې ما ته ګناه شي
خدای دې نه کا چې ته له دله هير يې

۳۶۹

۳۹۱۳

په يوه ذره به وزنې يا به مو يې (٤)
په يوه ذره به ګرم يا به سو يې

که ځوانې له خدايه غواړې ځوابه وې
او که پس له ځوانۍ پايې خوبه زوده يې (٥)

بندګان خو کله جوړ کله ناجوړ وي
څه خدای نه يې چې به تل ټ تله جوړ يې (٦)

عاشقي به دې آسمان غوندې څرګند کا
که مجنون غوندې هر څوک په صورت وي (۷)

بدي واړه په سنه ونيسه رحمانه
چې پای بند دياړ په هر يا به مړ يې (۸)

۳۷۰

۳۹۱۹

عاشقي بې جذبې چېرې ده ماته ګنه
ته مجذوب دياړ په هر کې لاوړ يې (۹)

---

(۱) د "پ" لومړی نسخه : "کم بخته".
(۲) دا بيت او درپسې دوه نور بيتونه د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته ، د "پ" په لومړی نسخه کې د "ته" پر ځای "څوک" راغلی دی.
(۳) "پ" چاپ : "محفوظ".
(٤) د "پ پ" چاپ او د "خ" دوهمې نسخې د "يې" پر ځای "وي" راغلی دی او نومورې غزل په مصوره نسخه کې نشته.
(٥) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٦) "پ" چاپ : "سړی کله خو يا جوړ کله ناجوړ وي خدای خو نه يې چې به تل ټ تله جوړ يې".
د "پ پ" چاپ : "سړی کله خو يا جوړ کله ناجوړ وي خدای خو نه دی چې به تل ټ تله جوړ وي".
(۷) د "پ پ" چاپ : "وي".
(۸) دا بيت په چاپي ديوانونو او لوړو قلمي نسخو کې نشته.
(۹) "پ" چاپ او "ق، ک" چاپ : "ته مجذوب دياړ په هر کې مړ يې".
د "پ پ" چاپ : "د مجذوب دياړ په هر کې مړ وي"
"ق" چاپ : "ته مجذوب دياړ په عشق کې کړ يې!
د "خ" لومړی نسخه : "بدی واړه په سنه ونيسه رحمانه چې پای بند دياړ په هر يا به مړ يې".
د "خ" دوهمه نسخه : "عاشقي بې جذبې چېرې وی رحمانه چې مجذوب دياړ په مينه کې مړ يې".

خدای دې وژغوړه له هري پريشانۍ — اې زما دکمړو کلي ودانۍ
عاشقي چې ماګنله نا داني وه[1] — اوس خبر شوم له دې خپلې نادانۍ
تر ودې تېرې اوبه بېرته نه جاړې — خه په کار ده پوچ بې ځايه پښېمانۍ
ودانۍ په يوه دم کې شي ويرانه — مړ دهغه چې کمې دورانې ودانۍ[2]
لکه بادې چې ځان وهي له کوه ودشته — نه په تا پسې کوم سر ګردانۍ
داخوزه دستالۍ غم سر لوخپېږم — څوک له دې سره کا پهلوانۍ[3]
چې په آب وه په آتش په خاک وبادې — خه اميد دی په هغې ژندګانۍ
ته چې دا رنګه اوبندې اوبندې وعدې کړې — کشکې راکړې وما خط دامانۍ
که نه ته په هغه وخت وې چا به نه کړې — د مجنون او د ليلى قصه خوانۍ
نه ماستا و نه ناري ته به حيران وو — که ژوندي وې آدم خان او درخانۍ

٣٧١ — وهر چا وته چې وايم حيرانېږي
٣٩٣٠ — خه به وايم د دې سالم له حيرانۍ

په خوانۍ کې بد دماغ بدګمان يې — چې پيرې در باندې درشي بيا ناتوان يې[4]
که په دادې زده سنه کې يې داخوشته — چې به تل تر تله ژوې هم به خوان يې[5]
چې هرګز دې په لاس نه دې کبوتو نې — بهوده دهغو چا و په ارمان يې
چې بې خدايه زده تې په نوخه پورې — هم په خداى هسې باور کړه چې نادان يې[6]
پښېماني تر پښېمانۍ لاړې خوا بويه — نه هغه چې بيا په تېر ساعت پښېمان يې[7]

---

(١) په قلمي نسخو کې "دانايي" راغلي ده او د "پ پ" چاپ کې د "ګنله" پر ځای "کوله" راغلي ده.
(٢) قلمي نسخې : "مړ دهغه دی چې ودانې کې ورانه".
(٣) دابيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "لوخپېږم" پر ځای "نخپېږم" راغلي دی.
(٤) په قلمي نسخو کې "درشي ناتوان يې" راغلي دی.
(٥) چاپي ديوانونه او د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه : "چې به هم تر دې ژوې هم به خوان يې".
(٦) دابيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته
(٧) دابيت او درپسې اوه بيتونه د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

هسې رنګ دې وهغه جهان ته شاکړه
گويا تل به مستقيم په داجهان يې

هومره سر دې وخپل خدای وته نيت نه دی
لکه نيت په لوی دخان ودسلطان يې

يوه شپه په طاعت نه شې ړوند نولی
هره شپه په مال وملك باندې پاسبان يې (۱)

په تسبيح دې تاندې ژبه وچ لرګی شي
پوچ ګويې لره بلبل غوندې ګويان يې

ولمانځه ترڅو لمر خپې هاله پاڅې
په قلبه پسې لانيمې شپې روان يې

اوداسه لره کوزه اخستی نه شې
چې په لوا و په لوی وډشې پهلوان يې (۲)

دهلك په خپرلاس اچوې واوړه ته
نه خبر په خپل ځان شه نه په نقصان يې

پټې ستر ګې لکه ستوري په ګانې ګرزې
که پرې پوزې وکوهې ته هم دوان يې (۳)

چې ويل ته نصيحت کا حان يې هيروې
نور څوك نه دی هغه ته عبدالرحمان يې

۳۷۲

۳۹۴٤

زه دستاله غمه ژاړم واړه وينې (٤)
واړه وينې ، واړه وينې ، واړه وينې

خو مې وينې چې په تش کاته دې من مه (٥)
لاخنجر په کاڼي من يې دل سنګينې

هر زمان مې په حضور دستګو وژنې
لا يقين دې دنده نه شې بې يقينې

عالم ستا په مينه ژوې نه پوهيږم
زه په څه سبب وژلې يم ستا مينې

د پرې عالم به نورې (٩) رنګ کا معلومېږي
تا چې هسې جامې واغوستې رنګينې

پښې يې نه وې چې ويله خواته درومې
هسې سکنې په غمزه د عاشق سپينې (۷)

که صورت مې پرې پورې معلومېږي
زه يې ستاله غمه چاودې نا نيسې (۸)

---

(۱) په چاپي ديوانونو کې "پسې" راغلې دی.
(۲) د "خ" دوهمې نسخې : "چې دلتو په لوړي وډشې پهلوان يې".
(۳) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٤) د "خ" لومړۍ نسخه : "زه ديار په غم کې ژاړم واړه وينې"
(٥) د "خ" په لومړۍ او د "پ" په لومړۍ نسخه کې "مې نيم" راغلی دی.
(٩) د "خ" په لومړۍ، دوهمه نسخه او "ق ،ک" چاپ کې "نمړۍ" راغلې دي.
(۷) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۸) دا بيت د "پ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

هغه شوك دی چې تر تا به هتې ښه وی — ای ټن وا ورو ورو یا نو بهتر ښه وی (۱)

چې دې زلفې د ماښام په ندره وخت کړې (۲) — ۳۷۳ — ۳۹۵۳

تر ښوې څکه څاڅې او به سپینې

ورك شو ورك شه بدکردار او بد سړی — کې دې وو ډک دې غږین وی کې پرې

تر هغه لاسپکو کار بېګانه سړه دی — چې بدکارشي د چا زوی او یا لمسی (۳)

لرګي لونبي همه واړه پرې مردار وي — بدکردار دی سوله لنډې یا وږې سپي (۴)

هغه خلق همه واړه لبونې کا (۵) — چې په کلي کې یو سپی شي لېونی

بل علاج د لېونیو سپیو نشته — بې له مرګه چې تر ډک کاندې کوهی (۶)

حرام خورد مخنثو په حساب دی — که په توره یا په تېغ وي مړ نی

مړ نی ویلی بونه وهغه ته — چې بې وجه آزار نه کاندي یوشی (۷)

دېګ پې اېښی په دېګدان ږدې تر تېغ وی — چې پې سوې په آه سړه نه شي نغری (۸)

هسې نبض پې وهرچا وته رسېږي — چې باله شي د خپل وخت حاتم ثانی

۳۷۴ — ای ماشه چې بدفهم بدکردارشي — ۳۹۶۳

راته وایه سپی بهتر دی که سړی

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

(۲) "ق، ک" چاپ: "چې دې زلفې درحمان په زندګی ویرې کړې".

(۳) د "پ" لومړنۍ نسخه: "چې بدکردارشي د چا زوی او یا لمسی"، "ق" چاپ، "ق، ک" چاپ او د "خ" لومړی نسخه: "چې بدکارشی د چا زوی چا لمسی".
د "خ" دوهمه نسخه: "چې بدکارشی د چا زویه یا لمسی".

(۴) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته. د "پ" لومړی نسخه: "لونبی لرګی همه واړه مردارشی بدکردارې که سولنډی یا وږی سپی".
"ق" چاپ: "ګونبي ګونبي پرې همه واړه مردار وي بدکردارې سولنډی او وږی سپی".
د "خ" دوهمه نسخه: "لونبي کودرې همه واړه مردار که بدکردارې لکه سولنډ وږي سپی".
مصوره نسخه: "بدکردار نه وي لکه وږی سپی".

(۵) د "خ" لومړی نسخه: "هغه خلك همه واړه پرې مردارشي"

(۶) د "پ" لومړی او د "خ" لومړی نسخه: "بې له مرګه چې ترې ډک کمی یو کوهی". د "خ" دوهمه او مصوره نسخه: "بې له مرګه چې پرې ډاشی یو کوهی".

(۷) "ق" چاپ: "چې بې وجه آزار نه کاندي سړی"
نور چاپي دیوانونه: "چې بې وجه آزار نه کا هیڅ سړی".

(۸) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، په "پ پ" چاپ کې د دوهمې سړۍ دی: "چې پې سوې په آه تېغ نه شي نغری".
د "خ" لومړی نسخه کې پې لومړۍ سړۍ دی: "دېګ پې اېښی پر دېګدان اور تر پې لاندې".

کله د پرهٔ غمد دم د چا ختی
نه مې هسې رنګ په تودو زلفو بایلو
په یوه ساعت مې د دم مې قبول کا
په یوه لاس یې مرهم په بل خنجر وي
که په مرګ د عاشقانو دې رضا وي
خون ناڅا مې دستي په مثل نشته
وکوم دم ته به ادراک د پاڅو رسي
شوک دې چې غم زما د پرې واوښکو نه خوري
د هجران په توره شپه کې نه وې پې م
دیار غم لکه من ري را باندې راشي
چې پرې غم غلطومه د شپې پاڅم
کاه کتاب ګمې رباب په لاس را واخلم
همسایه مې واړه وواته له خوبه
که عاشق ترمعشوقې پورې یوسې وي

زه به مرهم ستا په غم کې لرغونی (١)
لکه ودک په توره شپه کا خوک کالی
نه پوهیږم چې یې خپل یم که پردی
نه په مرهم کې حساب یم نه ژوندی (٢)
خدای دې ما کا ترهمه وا یوهه وې
ما پخپله قبول کړې دی خپل سوی (٣)
هر وپښته یې د کا کل شو منګری (٤)
کم به نه کا په خوږ دن سره نه دی
چې یې نه وینم د وصل سپین سپوږمی
خدای دې پلښ په هیڅ نه کاندې من ری
کله مې په شوند وکړ بند م کله نی
باري د ردمې په هیڅ رنګ نه کا کمی
که په سل کو تهو دنه کړم ځګیږی
خدای د هجر په تیغ مه وژنه یوسې

٣٧٥ زه دیار په غم کې هسې د وب یم
چې هیڅ نه وینم په سترګو مګر دی
٣٩٧٨ چې دارود رد و غم دې هغه می
می د خپلو لبو را نه د انګور د
ساقیې راکړه یو دو جامه پیاله
چې اوّل یې نوشیدن وي پسې قی

---

(١) په "پ" چاپ او "پ پ" چاپ کې : "زه به مرهم په عشق کې لرغونی".
"ق" او "ق ، ک" چاپ : "زه به مرهم په غم کې لرغونی". د "خ" لومړی او دوهم نسخه : "زه به مرهم په هجران کې لرغونی".
(٢) دا بیت په "ق ، ک" چاپ او د "خ" په دوهم نسخه کې نشته.
(٣) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٤) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

په هر تیغ کې چې آب نه وي د شرابو ... خوک د غم په غلیم نه موميي بن ی[1]

جام د میو چې غم خوار د کل جهان ش ... زه به اوسم[2] په دا غم کې تابکی

راشه یو ځله مې هسې مست خراب کړه ... چې خبر نه شم[3] له حاله د هیڅ شی

بیخودي هسې پناه ده زوروره ... چې له هره غمه خلاص کاندي سړی

زه هغه تحصیل تمام کړم په عشق کې ... چې یې روغ وګرځي بولي لیونی

٣٧٦ — له ان سوله له رقیب سره پیدا کړه

٣٩٨٦ — آشنا سه دی البته خو ونکی سې

د پرې خولې زما په یاد شکر خوږ شې ... بیا زما[4] په زمانه خاوند پاڅ شې

یوه بخره د خدای هر چا له وکړې ... د چا بخره خاموشي د چا ناپاڅ شې[5]

د چند نو وني و سولیدې لاړې ... هزار خانګې د شمشاد و په اړې شې

په هغو څمکو چې روغې پرې مانی وې[6] ... دایام په ګرد شونو هدیرې شې

په دنیا کې چې بنیاد د آشنایي کا ... د هجران تورې هغوله تیرې شې

دا فلک چې خدای پیدا کړ دا یې خو ځدی ... چې وچا وته دعا چاته بیړې شې

٣٧٧ — د دنیا د محلونو خښتې واړه[7]

٣٩٩٣ — و رحمان ته د سر ونو منارې شې

---

(١) د "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ : "خوک له غمه په غلیم موميي بړی".

(٢) په "ق، ک" چاپ کې "سوځم" راغلی دی.

(٣) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته په نورو قلمي نسخو کې د "نه شم" پر ځای "نه یم" راغلی دی.

(٤) د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "زهوبه" راغلی دی.

(٥) دا بیت د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې نشته.

(٦) قلمي نسخې : "په هغو څمکو چې روغې وې مانی".

(٧) د "خ" لومړۍ نسخه : "د دنیا د محلونو خښتې واړه ـ
و رحمان ته د سر ونو منارې شې"

د "خ" دوهمه نسخه : "د رحمان د محلونو خښتې واړه ـ
و عالم ته د سر ونو منارې شې"

بوصل تو ما را کجا ہاتھ ہے — کہ وصل تو خیلی بڑی بات ہے
ببوی تو گفتم کہ مسکن کنم — ولی کی مرا این درجات ہے
خم زلف تو گوشہ ابروان — دلم را عجائب مقامات ہے
مکن پیش من وصف خورشید و ماہ[1] — کہ از حسنت این کم علامات ہے
همی دادی دشنام و گالی مرا[2] — بسیم همین از تو سوغات ہے
نگاهت نه امروز خونم بریخت — کہ دائم ترا همچو عادات ہے
زآغوش رحمان مرو یار قریب — کہ این سفله بدخوی و بدذات ہے[3]

۳۷۸

# رباعیات

شه یا ز چه بایستدی ترا آفتابه — مخ به کله را ثرگند کاله نقابه[4]
بپلتانه پرنده نهیر کرم بی حسابه — یوسبب و کرمچ مسبب الاسبابه
چې نه ملاقات وشي له احبابه

---

(۱) در "پ" لومړی نسخه : "خورشید و ماه را".
(۲) در "پ" لومړی نسخه : "همه داد دشنام و گالی مدام".
(۳) در "پ" لومړی نسخه : "که این سفله بدکار و بدذات ہے".
(۴) در پېښور چاپی دیوان نه : "حجابه". د غزل په "پ" چاپ کی نشته.

ملاقات دښايسته ؤمې نصيب کړې　　دښايست په ګلستان مې عندليب کړې
عندليب مې په ګلشن دخپل حبيب کړې　　خدايه ما په دلبرانو کې قريب کړې

ومې ژغورې ددې اهل له عتابه

هغه يارچې زه يې مينه په ديدار کړم　　هميشه يې ودېدن ته انتظار کړم
شپه او ورځ پسې نارې وهم کو کار کړم　　که په دوی تمام جهان ودته ودېرېږم

ستړګې نه پوره کوي د نا نله خوبه

بېلتانه يې پټ پنجه په زړه تاراج کړم　　ودېدن تړې په هسې رنګ محتاج کړم
چې غرقاب يې د غمونو په امواج کړم　　هېڅ پاياب يې مونده نه شي خو علاج کړم

د آشنا دمينې غم شو نا پاياب به

ته چې کس يې د جمله ؤ نې کسانو　　هم کارساز يې د جمله ؤ کارسازانو (۱)
الهی (۲) په بزرګۍ د بزرګانو　　زه وصال په دعا غواړم د خوبانو

لا به کله داد عا کړې (۳) مستجا به

اسير کړې دې د زلفو په تناب يم　　تکبير کړې دې د ستړګو په قصاب يم
د کشتۍ (٤) غوندې مدام په اضطراب يم　　لکه زه چې ستاله غمه په عذاب يم

خبر مه شه هېڅ بنده له دې عذابه

د ريغه مه وی په دنيا کې پيدا شوی　　او که وی هم په داهسې شان خو مه وی
لکه زه يم د هجران په لمبو سوی　　خو به ګرزم په داهسې (٥) اور الوی

چې سينه مې په درست غمه شوه کبابه

---

(۱) په "پ" چاپ ، "پ پ" چاپ او د "خ" په قلمی نسخو کې "خام کارانو" راغلی دی.
(۲) د "پ پ" چاپ : "هم په روی او"
(۳) چاپی ديوانونه : "شي".
(٤) "پ پ" چاپ : "دماغي په شان"
(٥) چاپی ديوانونه : "د هجران په اور"

همی هی خه مې دا[1] خراب خاطر نا ښاد شو  زیست روزګار مې همیشه آه و فریاد شو
عمارت مې دنه هسې رنګ بن باد شو  چې حباب غوندې بې بنخه بې بنیاد شو
دبنیاد[2] طمع به خوکرم له حبا به

پت پت ګرزم د ناصح له نصیحته  راته کاندې نصیحت په خوصورته[3]
چې توبه کرم د خوبا نو له قربته  هیڅ جواب یې په مانه شي له غربته
درمانده وم ته ولا یم لا جواب به

دا جواب خه هسې نه دی چې په خوله شي  د عشق راز خه هسې نه دی چې وایه شي
دا مشکل حکایتونه په ما نه شي  د دې بحر بې پایان حساب په خه شي
چې یې زه وچاته وایم له حساب به

چا موندلی[4] د دې بحر پایان نه دی  د غم راز و هرسړی ته عیان نه دی
هیڅ کړی د دې چارې بیان نه دی  د غم واړه عاشقي ده ګمان نه دی
۳۷۹ چې په خوله کې در و لعل لري سیرابه ۴۰۲۷

ستا جفا تر حده پورته ده صنمه  تل مې اوښکې موج وهي د زړه له یمه[5]
خو به پته دا قصه اوسي پنمه  هسې دوب په فکر یې[6] و یمه بې دمه
نه پوهیږم چې په غږ یم که په سمه

که خبر وی[7] له دې هسې رنګ خوارۍ  ما به نوم اخستی نه وی د یارۍ
ستا د غم په دریاب دوب یم تر مړۍ  بې تا نه لرم هیڅوک د دستګیرۍ[8]
مګر ته په خپله لاس راکړې همدمه

---

(۱) د "پ پ" چاپ : "ستا په هجر می"
(۲) په چاپي دیوانونو او د "خ" په قلمي نسخو کې "بنادي" راغلی ده.
(۳) د "خ" دوهمه نسخه : "په خوکرته".
(٤) "ق" چاپ او "ق ،ک" چاپ : "ماموندلی"
(۵) "پ" لومړۍ نسخه : "د زړه له نخمه" ، "ق" چاپ ، "ق ،ک" چاپ او د "خ" قلمي نسخې : "د زړه له نمه".
(۶) "پ" چاپ ، "ق" چاپ ، "ق ،ک" چاپ او د "خ" قلمي نسخې : "هسې دوب په فکر تللی یم له خمه".
(۷) قلمي نسخې : "که مې نه وه دي" (۸) د "پ پ" چاپ : "دادګیري"

ما وې نور به آشنایي له هیڅ چا نه کړم — هم په دار رنګه مې نیت ق باري څه کړم
د قسمت علاج په چا شتې چې په نه کړم — که په سل رنګ تالاش وتدبیر کړم

خلاصی نه مومم له لوحه له قلمه

خو بر ویان که بې وفا یي خو هم وړه دي — عاشقان که وفادار دي خو هم په دي
ستا له غمه هر چې دي زما په زړه دي — اوس به حال وچاته (۱) وایم چې مړه دي

غرض دا دي چې نه ګرم یم ته ناګرمه

یو خو دا چې په صورت یې پرې لویه — هم په خوی وپه خصلت فرشته خویه
هم په قد وپه قامت هر ګوره لویه — بیا به نه مومې خوک تا غوندې دلجویه

که یې غواړې په هر ډه هزار عالمه

ستا له غمه (۲) زه په ځان کړم هسې چا ړې — چې د بنده یې ویله نه کا ګل عذارې
ته په څه سبب له مانه دل آزارې (۳) — دا زما ګناه راوښیه دلدارې (۴)

چې توبه کړم نصوحا غوندې محکمه

لاس ترغاړې له رقیب سره خندا کړې — چې ما وې وینې له قصده راته شاکړې
خدای یې وینې هغه چا ړې چې پرما کړې — ترا بدې وې چې پورې به جفا کړې

که (۵) به کلیم جاروزې له ستمه

تا چې هسې بې نیازي د ځان پیشکړه (۶) — په عاشق دې د خندا څمکه متړه کړه
بیا دې وې په غریبانو توره شپیلړه — نو د اهسې د جفا خویونه مه کړه

خلقه به دې له جوړه شي برهمه

---

(۱) د "مخمس" په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته. څلورمه مصرع یې په "پ" چاپ او د "خ" په قلمي نسخو کې داسې ده: "اوس به حال وچاته وایم چې څه دي".
(۲) قلمي نسخې او "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "ستا د پاره".
(۳) قلمي نسخې "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "له ما لاسته"
(۴) د "پ" لومړۍ نسخه: "ته یاړې"
(۵) د "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ: "ته به کله" (۶) "پ" چاپ، د "پ پ" چاپ او "ق، ک" چاپ: "تو سبد کړه"

زما ستاله مینې هر څوك خبر دارۍ  داخبرې کوه اګود په هر دیارۍ
چې فلانا فلانا سړي سره دوستدارۍ  اوس په بېرته جارواته وما ته عارۍ
چې رسوا شوم  تر عرب وتر عجمه
څغدۍ وي "چې په تا باندې مین وي  په ګډه ګډي کې رسوا لکه کوهکن وي
همېشه انګشت نما په مرد وزن وي  چې دا نبې پاکې نه وي دروغژن وي
که په هره ګډي مخوري هزار قسمه
نښانه د عاشقانو اول داده  چې مدام يې سر پر کار وي له خرڅ یاده
تل نامرد بدنامه وي پرې زیاده  نه وې پرې له پښوره له اهداده
بې دیاره جدایي له ما تمه "٢"
هر چې زده يې مبتلا شي په بیتانو  زیست يې نه شي یو ساعت بې هر دیانو
که څوك د کابادشاهي د بادشاهانو  په نسبت د هغو سو یو سوختګانو
دا متاع ده تر یوه خسني کمه
که سلیمان غوندې مسند يې په هوا وي  په سبب د عاشقۍ به خاکپا وي
همېشه به په فریاد و په غوغا وي  چې داهسې نښانې یکې پیدا وي
تر وهاله پرې عاشقي ده مسلمه
عاشقي دې هیڅوك نه ګڼي آسانه  داخبره ده له حد پرهون ته ګرانه
وصال نه دی چا موندلی بې هجرانه  ته له "خان" "٣" سره اتکل وکړه رحمانه
په دنیا کې سنا دي چې پاده بې غمه  ٣٨٠  ٤٠٦٢

(١) د پېښور چاپي دیوانونه : "هغه ته وېده".
(٢) د "خ" لومړي نسخه : " نه بنکارپرې دیوې ستنې تر سومه".
"ق، ک" چاپ : " بادشاهي ده له دې خسرې کمه".
(٣) په قلمي نسخو کې "له زړه سره" راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Pashto e-Library





# ویوستي لاسته راغلي

## غزلونه او بیتونه

٤٤

تېر شوپه داطمع په دستا عمر زما
گوندې چې ېې کېږدې يو قدم پسې زما (١)

تاوې چې د عشق پياله خوږه ده ترشه وه
وسو په هجران کې دې پيالې ځيګر زما

سل جفا که وې ونم په ستر ګو ستا له لاسه
ستا په جفا نه کې يې هر ګز باور نه زما

٣٨١ يا له ما سره د ستا جفا مه کړه دلبره
٤٠٦٩ يا بې تا راوښيه يو بل دلبر زما

٤٣

هر ګفتار هره ويناچې خوک عبس کا
تر عبس ويل دا بده چې يې بس کا (٢)

په هغې ويناچې د دوسته پښيمانې نه يې
له اوله دې خوله هسکه (له نفس) کا (٣)

هره چا نه له اختياره وي وتلي
بېهوده به يې خوک لاف د دست و درس کا

فقير يې د خدای په هر مونده کې نه يې
داهن په کې نه شي چې يې نس کا (٤)

آدم زاد په معنی وايه يو وجوددی
يو وجوددی هم يې پاک هم يې نجس کا

که يې اصل يو وجوددی (په دې) خه شو
د ګلونو هن کله خار و خس کا

په اخلاص د نماز ګذار ودی جنوبا دے
هر نماز نه چې (په) ريا تيمم (٥) اودس کا

٣٨٢ (که خو باين وې) ته بې خه کوې ګمانه
٤٠٧٤ د خو د بينو سزا خپله خو دې بس کا

---

(١) داغزل د زلمی هيوادل د شخصي کتابخانې له قلمي نسخې نه نقل شو.

(٢) داغزل د حبيب الله رفيع د شخصي کتابخانې له قلمي نسخې نه نقل شو په دې بيت کې د "عبث" کلمه د قافيې د سمون په غرض د "عبس" په شکل راوړل شوې ده.

(٣) اصله نسخه : " لا اول دې خوله هسک". چاپي ديوان : "لااوله دې يې نکه تر خوله هسکه

(٤) اصله نسخه : " داهن په کې نه شي چې يې نصق کا"

(٥) په اصله نسخه کې " تيمون " راغلی دی.

## ۳۸۳

دلربا که دخیل حسن مخ عیان کا — دین بې غمزه جمع زلفونه به لرزان کا
په کشور دصبا برانو به قیامت شي — اسرافیل غوندې آوازونه به هر نالان کا
چې یې چا جام دلعلو یې نوشلی — پیمانه چغلګیرې په دانادان کا[1]
دجبین په چین یې هسې رنګ پوهیږم — چې محراب به دګایلو زلفونه وران کا
دپریشان ګیسو دلیل یې عین دادی — چې وابست زلفونه په دا رنګ پریشان کا
که جلوه یې دجمال شي معینه — په شعله به لمن، سپوږمۍ سوي نانان کا
که دبادګذر (یې) وشي وخاکپای ته — دمرغانو ستر ګو دار وبه خدای اسمان کا
که شانه په تورو زلفو باندې کړې — مښک عنبر (به) دیوې پیسې دیران کا
تورې زلفې یې هم مښک دی هم عنبر دی — خو زمالګم بختی (یې) خدای ماران کا

۳۸۳

که پلوله مخدلرې که ګمانه — په دیدن به هندوان واړه مسلمان کا

۴۰۸۴

## ۳۸۴

که په بخت کم بختان ندوای خسته دل خوشک — په حضور به له تا ولې بې لیدل خوشک[2]
ودیدن وتړ دهرچا رضا کیږي — ولې حکم بې له تا ندلرې بل خوشک
که یې لاس دخدای په چا کې سپکه — بې مقصوده به یودم نه سهیدل خوشک
دا یوسر دی ما داستا شکرانه کړی — نور ناحق مې ویږي په سر وهل خوشک
دا همه زما شومیت دی چې را رسي — ګنه[3] تا او دچا نه وونه بدول خوشک

---

(۱) اصل نسخه: "پیمانه چغګیر په دانادان کا". او دا غزل در فیع دکتابخانې له نسخې نقل شو.
(۲) دا غزل در فیع د شخصي کتابخانې له چاپي دیوان او قلمي نسخې نه نقل شو (۳) در فیع کتابخانې چاپي دیوان: "نه"

ددیدن په طمع وغلیدم بندي شوم — گنهه زه او دهجران سختی زغمل څوك

په هیڅ رنگ بدي لهمینې منکر نه شم — هرشان قصدچې مې کوي په قتلول څوك

کرمې زده ستامینې نه وای (ا) پیدا ودی — په رضاله سره کله تپه بدل څوك

کراثر دمحبت ورسره نه وي — روغ صورت داهومره زده زهیر بدل څوك

که په مینه دلیلی مبتلا نه وای — (دا) غریب مجنون بیدیا، غروند څنگل څوك

٣٨٤ — مینه هره بلاکاندي (که باور کړې)(*) — ٤٠٩٥

٤٠٩٥ — گنهه زه عبدالرحمان هومره ویل څوك

## ٥

دخپل ځان له خاکساری (نه) بلند شوم — لکه گرد هسې شمسوان دهر هوایم (٢)

کمینی هسې کامل کرم چې زه درومم — لکه څمکه درست جهان راسره بیایم

ماچې خپل معراج دداں دپاسه ولیدو — دمنصور په څیر رښتیا وپنا (به) وایم

دمنصور او زما هومره تفاوت دی — چې دهغه نارې کرمې پاپه ځهر زه خفیایم

٣٨٥ — له عیانه هیڅ حاجت دبیان نشته — ٤١٠٠

٤١٠٠ — زه دنیا ته به په خوله څرګند وایم چې دایم

## ٦

هرچې خپلې مینې خوارکړې خوارې مه گنهه — عشق درحمت ابر دی غبار یې مه گنهه

کله تور سنبل کله تور مښك کله عنبر شي — زلفې کړمان په څیر دي ماریې مه گنهه

---

(١) قلمي نسخه : " زما پیدا ودلی "

(٢) دې غزل مطلع په نسخه کې نشته اوداغزل " په سینه خوی له بدخواهانو نې پروایم " له غزل نه وروسته راغلی دی.

(*) چاپي دیوان : " مینه هره بلاکړی پرعاشقانو — گنهه نده عزیب عبدالرحمان هومره ویل څوك ".

يو مخ يې د سوزدی سل مخه (يې) دسان دی — عشق په اصل نار دی نار يې مه ګڼه
د بې بېدا ر ويده دی لکه بت په غمو ستر ګو — بت که د تن غټ ګودي بېدار يې مه ګڼه
مراد خو يواځې د خوبا نو له رخسا ره — هرچې اثر نه لري رخسار يې مه ګڼه
خا ن چې په ګل پوري (وي) د ګلو په حساب کې — خو شوکه نام د خار دی خار يې مه ګڼه
په خلك هغه دي چې اقرار په ناپوهۍ کا — هرچې خان هوښيار ګڼي هوښيار يې مه ګڼه
بدخو هم هغه دی چې خپل بد و رځرګند نه وي — هرچې خان بدکار ګڼي بدکار يې مه ګڼه
هرچا چې اقرار د يار له زلفو سره وکړ — تل به ناقرار وي په قرار يې مه ګڼه

٣٨٦

هرچې کمال غواړي کمښي (دې) د چا ن کا — ٤١١٠
عين د غه چار ده بله چار يې مه ګڼه

٧٤

اې د نفس او د حرص په هوا لپوره — په ظاهر صورت ملك په معنی د پوره
شدادي خصلت دې و نپوه د ظلم — خبر نه شوې د مسکين د زړه له غږ پوره
تا چې خپل مخ د فرعون په دود تور کړ[1] — په دې خوی به برابر نه شې له نیکپوره
پس وجود به دې په څه رنګ حاصل پرې — چې لږ پرې د يار له د ره د د و د پوره
په ظاهر صورت تندرست په روح رنځور ه — د ريغه وسوی تر دغ پوست لاندې معتبوره[2]
د نبستی له مکافاتو هغه خلاص شول — چې هستي يې د فنا په مخ ا ير پوره

٣٨٧

اول دې پاڅا وه له خوبه (باور وکړه)
و[illegible] وته په خپله په نار پوره

٤١١٧

---

(١) اصل نسخ : "تا چې فرعون په دود مخ تور کړ". (٢) چاپي نسخ : "د ريغه وسوی تر دوغ پوست لاندې مختبوره"

## ۸۸

یاداستاچشم ابرو وینـم په خواب کې
یا مستان دي وېده شوی په محراب کې
یا په جام کې ستادمخ عکس لیده شي
یا خورشید دی تجلاکا په حباب کې
یا ترخط لاندې غوښتی ستا دخولو دي
یاکوکب دی را دوب شوی په شهاب کې
یادې زلفې په مخ دواړه راخوره ب کړې
یا سنبل دی کنجلکي داورې په تاب کې
یادې زلفو په مخ تورې تاریکي کړه
یا خوتندر خان څرګندکړ په آفتاب کې
یاداستا مژګان زما په خاطرخښ دي
یا سیخونه دي پټ شوي په کباب کې
یاخوستالهٔ غمه غرق زما صورت دی
یا خسړی دی جاروزي په ګرداب کې
تهددې رحمان خطاکړه وړمعافه
داوتر وچاره نه وي په حساب کې[1]

۳۸۸ چې د یار دمخ کاته له میانه ووزي
د تاج به څه عزت وي په حساب کې ۴۱۲۶

---

(۱) دابیت د ملی هیوادل د مخصی کتابخانی له قلمی نسخی څخه نقل شو .

## ٩٤

مست دهغه مخ يم چې مستانې لرې ستر گې
بې تو دې، بې تېغه، قاتلانې لرې ستر گې

بې ليدو کتو غايبانه زيږوونه وې لرخلکو
هسې چشمان بندې ساحرانې لرې ستر گې

هر څوک چې پې وينې نو وې ستر گې کتې نه شي
سنګلې پرې يوال غوندې حيرانې لرې ستر گې

لب آب حيات دې او نفس (يې) د عيسىٰ دې
هېڅ عجب نه دې که خوبانې لرې ستر گې

هر چې عاشقان دې هغه کله بل خوا گوري
واړه ستا په لور دې نگرانې لرې ستر گې

اې تاج ! د ٣٨٩ اوسنګې هم له تخمه د باران دې*
کښت د هغه شين شو چې ګريانې لرې ستر گې ٤١٣٢

## ١٠٤

چې په قطع د تمام جهان ملک يې
چې له حاله نه خبر نه يې لا هلک يې

آدميت خو څه په مال او په شال نه دې
تر چې خيال په شال په مال کې يې حکه سپک يې

منصفان دې د انصاف خبرې وايي
څه شو څه شو که په خپلو کې شريک يې

که دلم په خپل څرګند شي پر جهان کې
خو په زړونو پسند يده نه شي لا ورک يې

بزرګي په دلجوئي کې ده د خلکو
تر چې خلک د وبو يې څرنګ بزرګ يې

په لوئي کې لوئي چې ده لا يقه
کمينې روتر مت کمره که سالک يې

فلک تا غوندې پيدا کړي بيا فنا کړي (١)
تر لانوى خواست کوې په نا زنا زک يې

اې تاج ! د ٣٩٠ دانايان به په ديوان سنګلي پند خلې
چې تا غوندې به په خوار نظر ګوري فلک يې ٤١٤٠

---

(١) اصله نسخه : "فلک تا غوندې هزار پيدا کړي بيا فنا کړي". (*) چاپي ديوان : "اى رحمانه اوسنګې دې هم تخم هم باران دى".

دنده حال وتا تدخه والم په ژبه — ته خبر دخون و زړو نوپه منزل یې (۱)
هم دګل په څېر بلبل سېچې په مینه — هم مین لکه بلبل هسې په ګل یې
بې لپده و درخ ګند بن یې عیب واړه — په کمال د ښکلګی چار و کامل یې
هم قاضی یې هم ملا هم محتسب یې — هم ساقي دمی پرستو په محفل یې
یو دي ذات په دوا ډکونو کې شهره دی — بل په نام له هر چا لویه یو په سل یې
چې ته مخ په عبادت کې نه جار باسې — دا ستا شپه دي (نفس) بد کاته یې خپل یې
ډکول اوپه رو دل دي په خپل لاس دي — که وچایې ډکوې که یې اخل یې
جار ترهسې رنځ نبولوشه همانه — چې شهی یې په پوښتنه وي راغل یې

خدای طاعت، عبادت څه کوي ما ته
خوبې مینه دسړي ده ازمیل یې

۳۹۱ ۴۱۴۹

## بیتونه:

په "چې یې نقش په زړه خیال شي داشنا" غزل کی:

ترابده به یې بخره ملالي وي — له هغو چې زړه ملال شي داشنا

په "ته چې ماته وایې چې په څه کوې زړا" غزل کی دریم بیت:

خوبه دا جفا کړې نه پوهیږم څه بلاشوه — خوبه وي ترکومه دا جفا او دا بلا

په "سبه ده سبه ده دا دنیا" غزل کی له مقطع نه دمخه بیت:

(۲)
که یې مال د دنیا د پیسو وي — هیڅ پرې نه کاندي پروا

په "لاس مې وتړې دزلفو په تناب" غزل کی:

---

(۱) دډې غزل مطلع په اصل نسخو کی نشته.
(۲) اصله نسخه: "هیڅ ورنه کاندي پروا"

له فراقه چې يې آه کرم سوک په ستر گو  يو لستو نی مې گرداب (شي) بل گرداب

په "هر مطرب چې غوږ يې تاو کا در باب" غزل کې دوهم بيت :

هومره تاو د ښېلتا نه راباندې زور شي  چې حساب يې بيان نه شي په کتاب

په "چې می يار ولید په سيمه د اغيار گد" غزل کې لسم بيت :

سخت سفر د عاشقی خوک اوزه خوک  خدای ناخاپه پرې راگد کړم په دالان گد

په "نظر دې بصر" غزل کې اوه څلوېشتم بيت :

نه ښکلا نه مرور وي  پريشان گرزي د ر په د ر

په "زه تېر شوی يم تر سر" غزل کې ۱۶ - ۱۷ - ۱۸ بيتونه :

که مې غواوي که مې وژه وي  که مې آس وي که مې خر

که مې مين وي که مې من وي  که مې اوښ وي که غا تر

که په کوڅه کې مې کالي وي  که لنگی وي که تغر[1]

په "پس له مرگه که څوک ارت غواړی خپل گور" غزل کې يوولسم بيت :

په يقين به بدکردار بدکردار کا  کشيده شي د بدکردار سړي پېغور

په "بد اختر به نيک اختر نه شي هرگز" غزل کې اووم بيت :

که تغر د باندې وکړي کا به کېږي  مرغچه[2] به د گوهر نه شي هرگز

په "چې پای بند شه ليلی په اشتياق" غزل کې :

د ځمان خوښ دی د خپل يار په درد و غم کې  ته به وايې چې بادشاه دی د افاق

په "چې مشغول نه وی د ترکو په جمال څوک" غزل کې پنځلسم بيت :

بې بنده خو بيده مخ د روڼی له هېڅا نه شي  که هر څوک پاکيزه کا په د ويبال څوک

په "مه غوږ باسه د نا اهلو قيل و قال" غزل کې نولسم بيت :

---

(۱) اصل نسخه : "که د ښگی وی که تغر"

(۲) په اصل نسخه کې "مرغاچو" راغلی دی . پښتو قاموسونو "مرغچيچه" خښتی دی اصل شکل يې "مرغچه" دی چې د "مصنوعی مرو" يا "مشکنبو" معنی ورکوی.

خراب دل مې نهمې غواړي بلادا شوه — چې نهمې راسره معلومېږي کال په کال

په "په یوه غمزه دستر ګویې فنا شوم" غزل کې ۶-۷ بیتونه:

په خپل کلي په خپل کور کې مې غربت دی — په صدف کې دریتیم غوندې یکتا شوم
مستورې راشنه یوده مست وستر ګو — همان څکه په ګریو کې رسوا شوم

په "چې له مرګه ئې پروایې په هر دم" غزل کې ۲۸ بیت:

پس له مرګه به دې هوډې هم خانه وي — څه پوهیږې یا به ماروي یا لرم

په "ته چې مسې ګامې ترشر ګامې خندان" غزل کې اتم بیت:

دسړي صورت څه دروغ دکاني نه دی — نشته کاني څخه ستا دجور توان

په "څو به شهرم زه غمونه دهجران" غزل کې شپږم بیت:

لکه غم دآشنایۍ په ما وې بن یې — یاد به نه وي دچا هسې ګن باران

په "تا چې رنګ دمیو درکړو لبانو" غزل کې ۶-۷-۸ بیتونه:

ستا دخولې له حقیقته صوفي خه زده — لږ دې راته څوک خبر وي بې زندانو
د پښو وان غمې دې زیب کا پر لبانو — دوارې زلفې دې چوري دملنګانو
تورا وربل دې لکه ماران په جبین پرت دی — شینکی خال دی مواصل درنخورانو

په "که هر څو په صحرا سر شوم هم په کلیو" غزل کې دیرم بیت:

هر اشنا چې مخ پنهان کا ندې مو مم — که یې غولم شپه اوورځ په سپو پلیو

په "ورځ دې تیره په شومې کړه شپه له خوا به" غزل کې اتم اولهم بیتونه:

لندرون به دې له اوده هسې دک شي — چې نن دک شي په شرابو په کبابو
چې دمې وآب وتاب تریې نظر کړم — راته هیڅ شي دګلونو آب و تا به

په "ته شهالي شکرلبه" غزل کې:

نر دلې شوې نه هوډې شوې — ترمیان ولاړې مذبذبه

په "خود به وران شي د دنیا بازار التساره" غزل کی ٤-٥-٦-٧ بیتونه :

یوه هسې بې سوزي مې شوه په بن خه — چې سردي یې لا بتره ده ترسا ره
مصلي دنې ننګی د دې لنګ کړه — دهوس مصلی قطع کړه ویې نغا ړه
یار زما دستر ګو تود پس بې ګرزید لم — په هجران کې مې دستر ګو رنها لا ړه
په خوارحه موند نه شي له سګانو — په لوح س سره د روزي له بګا ړه

په "ما وې زه به نه کړم په خوبا نو باندی مینه" غزل کې پنځم بیت :

دا رشه نجومي زما د یار فال وګو ره — تللی یار به کله له سفره رایشینه

په "کشکې زه خاورې ایرې دستا د درواى" غزل کی نهم بیت :

یا شبنم د صبحدم یا عندلیب شوې — چې دا ستا په ګلشن زما ګذر واى

په "ستا له غمه مې په سر کې هسې شوری" غزل کی اووم بیت :

د ردو غم د عاشقی جوړه سړه کړه — خدای د ذکری د دنیا ته یې س ووری

په "زلفې دې له دیرې درازی پای تر سره دی" غزل کی اووم بیت :

دا خو زه له کم بختی له تا نه ارکړم — ستا له نیک خوی کا نې بو تې هم خبر دی

په "چې د څنګه مې د لبر په لاس کی جام دی" غزل کې اووم بیت :

ته چې خپل فراغت غواړې په هما ن کې — فراغت خاطر را وښیه کدام دی

په "چې د امسې لاس په لاس دنیا پریښو دې" غزل کې نهم بیت :

په خپل خای بدې هر هر کلام په کار شي — هما ن . . . . طالب لره د سنګو دی

په "خبر مې ستا د بنو غښی په سینه دی" غزل کی لسم بیت :

نه شما زما په ستر ګو کې جلوه کا — ماه وهر یې سینه مخې یې آینه دی

په "غم دې هسی غلبه شو په ما باندې" غزل کې اووم بیت :

زه ارمان یې شدنې په خان ګنمه — که یار سل خله ناشدې چار یې کاندې

په "آشنایي توره بلا ده آشنا مه شی" غزل کې څلورم بیت :

خپل څربسبت وهرځاروي وته قصاب دی  تواناییي دتن تاوان دی تواناسه شې

په "ولی ولی د عاشق ته نظر نه کړې" غزل کې دریم او اووم بیتونه :

خښتاتن لاس دسپیي په سر باندې راکاږي  ته تش سیوري د مخلصو په سر نه کړې

زماهر زمان په تاباندې گذر وي  ته یودم زما په لور یې گذر نه کړې

په "مغرور مه اوسه د عشق په کاروبار کې" غزل کې اووم او دوولسم بیتونه :

هیڅ صرف نه کړي دزړونو ازار اخلي  دچا سودی لږدی شوی په آزار کې

وهغوی چې خدای حق بینې ستر گې ورکا  دیوسف تجلی وینې په دیوار کې

په "دمخې بنا چې نوم محبت آباد وی" غزل کې شپږم بیت :

بیخ بنیاد به دهغوي په یاري کې  چې دتن په نابودی یې اعتقاد وي

په "که درستی دنیا غم مې په سر باروي" غزل کې ۶ ، ۷ او ۱۱ بیتونه :

زه به ستاله رقیبانو څه ماندکرم  دادستور دی چې له گلدسته خاروي

که یې هر زمان په آب زمزم ویښم  بې مینه مې په زړه باندې غبار وي

څوبې سل خانه خبښ نه شمې په تاش کې  گلدوي چې د بلبل وگل قدر لاروي

په "د وصال په هوا والوتی مرغه شوی" غزل کې شپږم بیت :

چې بېلتون ورته اسان دی هغه خلك  ازمیښت لره په بند د بېلتانه شوی

په "د پرې خولې زما په یاد شکر خوږې شوې" غزل کې څلورم بیت :

خپل قسمت په سړي کاندې هرچې کاندې  دچا برخه خاموشي دچا نارې شوې

په "چې په مخ باندې داد بنکو یو رسم وی" غزل کې ۱۴ بیت :

قاعده د دردمندۍ همسې نه ده
چې په درد کې یو درد من تر بله کم وي

په "ته چې ماته وایې چې په چا باندې شیدایې" غزل کې له څلورو بیتونو نه وروسته لاندې بیتونه:

هر چې په حیات صورت له مرګ سره اشنا شي
خلاص به د قیامت لیږ خبسو په دې دنیا ایې

سنځ دهغو ګلو چې برګ د ژمې په بهار وي
ګل سرا نبي وکا له خزانه استغنا یې

غم (خو) هم (هغه) ګډ چې هنځ غم د دې نه وي
ولې چې ناګاه به یو ډیر د باندې زیا یې

حکم د نیستۍ په هغو دی هر (چې) هست دي
هر چې هستي پر ې ن د ي له نیستۍ خبر وا یې

زړه د عاشقانو د دښمن له لاسه بېغم دی
لکه شمع د مقراض له خصومته په خندا یې

لوږه تنده نشته د قانع په قناعت کې
ډاکه میاچې زده کا په خرڅ د کې امرا یې

هیڅ اس چشمې د حاصلي نه کړي په خرمن کې
بلکه د قحطي په ملک کې شاه یې هم ګدا یې

ما به ر ښتیا نه وي اې یارانو باري څه کړم
حقه کلمه نغړه د هر ګوډ سخته بلا یې

زړه د خاموشۍ په ځای له نه (چې) ګویا یې
آه و فریاد وا ړه په مقدار د تمنا یې

بې خس او خاشاکه د آتش بقا په خدو یې
زلفې په نسبت د مار خو زلو اژدها یې

ای د ماتم د انبح هر راحت په اجر د زحمت دی
هر چې د ې ن (د ې ن) خاندې هسې د ې ن (د ې ن) په ژړا یې

په "چې پخته شې آشنا یې" غزل کې له مقطع نه ورسته بیت:

په پښتو کې رحمان وو ې
په فارسي کې سنا یې

په "یوه زړه به وږی یا به مور یې" غزل کې پنځم او شپږم بیتونه:

عبادت خو په ځوانۍ کې ې رحمانه
په پیرۍ کې به خدزهد کړي چې زوړ یې

بدي وا ړه په سړو نیسي نا نبح
چې پای بند د یار په هر یا په مرد یې

په "هر گفتارهره وینا چې څوک عبس کا" غزل کې شپږم بیت: [1]

معتقدله اعتقاده مقصود بیامونه  دهغوطاعت غلط دې چې وسوس کا

په "که پخت کم بختان نه وای خسته دل څوک" غزل کې ۹ او ۱۲ بیتونه:

زه لاړغد دستا په مینه کې شهره یم  ندچې نن کاندې خبرې پردې خپل څوک
ما دا یوسر دې ذاستا شکرانه کړې  که دسر ماغزه مې خورې په دا ویل څوک

په "دزړه حال وتا ته څه وایم په ژبه" غزل کې ٤ او ٥ بیتونه:

که یې لاس ددغه خدائ په چاروسپدلی  بدې بخرې به چا چیرې قبلول یې
څوک له خاورو وایږ وباڅوې تخت ودرکړې  څوک له تخته دایږ وپه ډیران ولې یې

د کمال بابا دیوان د (۱۳۵۵) لمړنۍ کال دنمرې په میاشت کې
د نصیرهنرې پښتون په قلم خطاطي او نقاشي څخه.

---

(۱) دا بیتونه د سبا غلي رفیع د شخصي کتب خانې له یوې زړې چاپي نسخې څخه لاس ته راغلل.

تنظیم و تنکی: خپرنیار محمد عارف غروال

# د پښتو ژبې د سرچینو یوه څېړنه

## لغت معنی

### لف

| | | |
|---|---|---|
| ابته (حبطه) | | عبث، بې معنی، بې ځایه. |
| ابلق | | آس، برګ. |
| اختلاط | | ګډون، خبرې کول |
| ارهنده | arhánda | بیدا نجیر. |
| آدینه | | جمعه. |
| اشام | | ؟ |
| اشراق | | د خاښت لمونځ، طلوع کول ځنډول. |
| الوی | aláway | وریت شوی. |
| اعراف | | د جنت او دوزخ ترمنځ ځای. |
| افسون | | جادو، اوده، دم. |
| الغیاث | | پناه غواړم، فریاد. |
| الوس (اولس) | | ټبر، قوم، طایفه. |

| | | |
|---|---|---|
| آماج | | موخه، هدف، د توپك غشی اونښان. |
| آماس | | پرسوب. |
| اوتاد (د لوتد جمع) | | یوه روحاني مرتبه، مون بې، میخونه. |
| اودنی | odánay | یو دول ښځینه پوډنی دی چې غالباً یې په وډولونکې پسروي |
| اوراد (د ورد جمع) | | دوعاګانې. |
| اورپښتی | orpəstay | پتنګ، پروانه. |
| اوزمکه | ozmáka | میاشت، ماه. |
| اولاق (اُلاغ) | | خر. |
| اهار | | داوړي د سختې ګرمۍ موسم. |
| اهداد (هیداد) | | سزا، پاداش، سزنش. |
| اياغ | | د شرابو پیاله اوګیلاسه. |

# ب

| | | |
|---|---|---|
| باده | | شراب. |
| بارۀ | bāṛá | یو مشهور خوږ. |
| بايي (بهایُی) | | ویروړ. |
| بتان (بت) | | مجازاً پوځي، سنګلي. |
| بدسګال | | بدذاته، بدجنس. |
| برنا | | ځوان، زلمی. |
| بساط | | د مکې خې فرش. |
| بطال | | بدویونکی، باطل ویونکی، غلط ویونکی. |

| | | |
|---|---|---|
| بگار (بگیر) | bagāṛ | لپوه، شرمنې. |
| بیچاونی (بیچاونه) | bičāwṇa | دعزت جامې، بستره، روجایي. |

## پ

| | | |
|---|---|---|
| پارسا | | پرهیزګار، زاهد. |
| پارځي | pārci | دجواړو کولو دانې. |
| پاسلل | | سپارل. |
| پایله | | پایښیب. |
| پخساك | | پریشانې، غم اوخپګان. |
| پراته | | پرته، بې ځایه، بې مورده. |
| پسندل | | غوره کول. |
| پکو | | په ځان پورې تنګ اوله ځانه ستړی. |
| پنم | | پټ. |
| پېښل | pecél | زغمل، حبر کول، تحمل کول. |
| پیچوي (پچوي) | | دمخنوغړې پړې (بچې) مجازاً اوږدې څنې اوږځه. |
| پیړی | | دکښناستو تخته، دناستې کښتګی کښتی. |
| پیشاب | | متیازې، بولې. |

## ټ

| | | |
|---|---|---|
| ټبرا | | بېزارېدل، تپراکېدل. |
| ټاره | trāṛa | تیږه، کانی، ډبره. |
| ټراهي | trāhí | ویره |

ترو — *tru* — نو.

توسن — نیلی.

تولا — محبت، دوستي، دستینگلوي، مینه.

تیزل — *tezál* — غلول، پرے سپر پدل.

## ټ

توکرکی — دپوزي یوه ټوټه یا ټوټکی.

تند — *tánd* — پرزه مور، سخت، محکم.

## چ

چلیکان — هغه کس وند گرچې په تاکلې خبره یا من دوري دچا ځمکه کري.

چندن — صندل.

چوړه — چوړه، چوارې.

چوک — یوکم شی، لنډ څه.

چوګان — نیزه، دړه، یا تونا دنده.

چووه — *čowá* — عطر، خوشبویه مواد.

## ح

حط — ایستر کول، لیرې کول، دیوبار کوزول، پرېښودل.

## خ

خاصا — نیک خویه، خاص الخاص، وتلی.

خاکروب — جاروکښ.

| | | |
|---|---|---|
| ختول | | ختلړوبکی، ناپاك. |
| خپسر | xpəsár | خپل ځان. |
| خدنګ | | غشی، خندق، |
| خړاړه | xrāṛa | یو ډول دښتي وړه مرغۍ ده. |
| خرام | | نازاونزاکت (غالباً له تګ سره اړیکی). |
| خمر | | شراب، مُل. |
| خمسور | xamsor | همزاز-همراه. |

## څ

| | | |
|---|---|---|
| څښکو | caṣko | یو بوتی دی چې میده کوي یې او په لیچنو ستر ګو کې یې اچوي (چشکو) |
| څړی | caṛáy | دکپړی دسراوږده وښتان. |
| څلې څولې | cale-cūle | ګنډه ګونډه، زوړ سامان، ګند او ګچکول. |

## ځ

| | | |
|---|---|---|
| ځبله | ǰabála | سړه، یولړ بله. |

## د

| | | |
|---|---|---|
| دد | | ځناور. |
| دښمن | daṣən | دښمن. |
| دراړ | | تنځړی (تړی) یو مارغه دی. |

| | | |
|---|---|---|
| درامے | | زنگوله، گونگرو، زنگ، جرس. |
| دلق ارزق فام | | زرغون کند، گودری. |
| دمک | | یوه لحظه |
| دواب | | څاروي، څلور پولي، بوده گان. |
| دوڅار | *ducār* | څرگند، ښکاره، ورڅخ، نمایان. |
| دیبا | | وریښمین ښکلی توکر. میلك |
| | **ډ** | |
| ډبر | *ḍabár* | تباه، تپس، کهول. |
| ډلیال | *ḍalyál* | د ډلې ملگری. |
| | **ړ** | |
| راج | | راجا (واکمن) |
| راڅ | | خوښي، نشاط، مجازاً شراب. |
| رتی | *raṭáy* | ډیرلږ، ناڅیز، کم وزنه شي. |
| رسن | | رسۍ، تناو. |
| رصاص | | قلعي، سرب. |
| رغنا | | ښکلی او متناسب اندام. |
| رنجړی | *ranjáṛay* | رنځور، ناروغ، علیل، مجازاً زیرنگی. |
| ریمن | *remán* | خیرن، بدرنگ، ناولی. |
| | **ز** | |
| زیاد | | اثبات. |

| | | |
|---|---|---|
| زبن | | یاد ، په یاد . |
| زمول | zmol | مړاوی ، بچی سپکه ، ضعیف . |
| زوند | zwəẓ | ژوند ، نابود ، جرام . |
| زوم | | کم ، کمی . |
| زیرمه | | تدبیر ، ذخیره ، پانګه ، پاسره . |

# ژ

| | | |
|---|---|---|
| ژغورل | zǧəw | ژغورلی . |

# س

| | | |
|---|---|---|
| سالکان | | زاهدان ، عارفان . |
| ساهو | sāhú | آزاد ، اصیل . |
| سترغلی | stərǧláy | کوتک ، دستر ګوغاتی ، (کاسهٔ چشم) |
| ستوه | stwar | خاوی |
| سنجاب | | نولی . |
| سرابین | srāẓ | حریص |
| سفال | | تیت ، بی قدره ، پستی او بی همتی ، کودړی |
| سقلات | | خپل خان پتول . |
| سکه | ska | نو ، ځکه ، ګویا ، لکه چې . |
| سمک | | کب ، ماهی . |
| سندرسي | | واندې کېدل ، ملنګ ، کیمیالتو نکی ملنګ . |
| سولند | swáland | حریص ، بخیل ، ممسک ؛ لکه سولند سپی . |

سوها — sohā — یو ډول ښوانی توکی دی.

سپپاري — sepāri — یو لوبه نږی دوه ډډې په تودو سیمو کې شنه کیږي.

سیم — یو ګران قیمته فلز دی.

## ش

شب داج — توره شپه، دتروږی شپه.

شط — سیند، هغه ستر رودخانې دریاب تر ګډیږي.

شهاب — ستور، ستوری.

## ط

طره — جوغه

طوق — غاړکی، امپل

## ع

عتاب — قهر او غصه

عرعر — سپیدار

## غ

غبغب — دچرګ جنجر ډبه، دچرګ ځوړه.

غربال — غلبیل، پرویځی.

غزا وشوه — اصل معنا: دایو شوق دی، په دې نوخدو شول؛ (یو تکیه کلام دی).

| | | |
|---|---|---|
| غور | ğor | برخه، نصیب، قسمت، مجازاً میراث. |
| غورځ | | په زوړه چینی ایستل، په اتن کې تویونه اوچتې ایستل. |
| غوښی | ğwazáy | سخت انتظار، غوښلکی، دچا د راتګ د زیږیدو انتظار. |
| غوك | | لویه څنګښه (چونګښه)، شلاندۍ. |
| غونډی | ğúnday | دوزغنو جوال. |
| غونډ ژبی | ğwənḍ_žəbay | فصیح، بلیغ. |

# ف

| | | |
|---|---|---|
| فلوس | | د فلس جمع، دیوې ونې میوه ده چې په تودوسیمو کې شنه کیږي زیږي ترڅو اوبه طب کې کارځې اخیستل کیږي |

# ق

| | | |
|---|---|---|
| قرقره | | د چرګ تاج، چرګ خولی، تاج، شوغه. |
| قنج (غنج) | | ناز. |

# ك

| | | |
|---|---|---|
| کار | | دوروکانو دیره. |
| کام | | هدف، مرام. |
| کاواك | | ډډ، ګوګ. |
| کړور | Kror | سخت، محکم. |
| کړیکه | Kríka | چیغه، وېرونکی غږ. |
| کښیده | | نقشه، انځور. |
| کلاب (کلب) | | سپی. |

| | | |
|---|---|---|
| کنگال | | مفلس، نیستمن، مپنځل شوی. |
| کوتل | Kutál | ذبح کول، حلالول، پوستکی تری ایستل |
| کودیکه | | یو دول خاورین دیګ دی. |
| کورمه | Kormá | کورنۍ، اهل بیت. |
| کوله | Kolá | دساتې د پاسه د ګل برخه. |
| کوی | | چم، کوخه، مالت. |
| کهی | Kaháy | ډنګر، لاغر. |

## ګ

| | | |
|---|---|---|
| ګانده | gánda | سبا، راتلونکې ورځ. |
| ګایل | | ژوبل، زخمی، پرهار ژلی. |
| ګرام | grām | کلی، سیمه، استوګنځی. |
| ګروهېدل | grohedə́l | عقیده لرل، معتقد کېدل. |
| ګریال | garyā́l | زنګ. |
| ګورهنده | gorhánda | وړه تیاره کوټه، په غره کې باندې دوله څپړی هجازاً قبر |
| ګونته | gontá | دشطرنج دانه. |
| ګوهار | | د غواوو پاده. |
| ګوی | | پنډوس، پنډ وسکه. |
| ګنګو | gongú | زعفران. |
| ګېدی | gedáy | ناپوه، بیرل، احمق. |

## ل

| | | |
|---|---|---|
| لاړغه | lāngá | د رنګ، ځنډ. |

| | | |
|---|---|---|
| لال | | گونگ ، یودول انگوردی . |
| لگام | | واگي ، قبضه . |
| لو | lu | لوگي . |
| لوخپدل | locedál | یوه داسي اوږده مبارزه کول چې یوه سیاله دله هم نهایي بریالیتوب ته نه رسیږي ، خو له مبارزې څخه هم لاس نه اخلي . |
| لوښتل | lostál | په کوچ پیل کول ، لیږد پدل . |
| لونل | | پاشل . |
| مال ومنال | | شته - هستي اودارایي . |
| ماوا | | استوګنځی ، مسکن . |
| متره | matrá | نایاب ، نشت ، زوږ . |
| مټ | mət | بازو ، هاند ، همت . |
| مجذوب | | جذب شوی ، عاشق شوی . |
| مجمر | | نغرې ، دیګدان . |
| مخمور | | مست ، نشه . |
| مخنث | | نر ښځی . |
| مذمت | | بدویل ، غیبت . |
| مرسته | | طلب ، لټون ، کومک |
| مرغچه (مرغچي) | | کونجکه ، خرموره . |

مستدام — همیشه، تل.

مشاطه — دمه، سینگار وونکی.

مشگیرك — دیو مار غه نوم دی.

مصحف — کتاب، هغه پانځه چې یوځای یې سر ته لولې کړې وي.

مطر — باران، ورښت.

معتیو (معتوه) — غیر مکلف، لیونی وړوکی.

مغاك — ګودال، ژور غالی.

مقراض — بیاتي، قیچي.

منجلاب — خوسا ډنډ.

منزه — پاك، سپېڅلی، پاکیزه.

مواس — چوغلګر.

میثاق — ژمنه، وعده، عهد، پیمان.

میزر — پروڼی، چادری.

معوت — پیلبه، پیل والا

معیشی — معاش - تنخوا.

## ن

ناروڼ (نارو) — یو ډول دانه ده چې دچتلو او بوله خسلو پیدا کېږي او په منځ کې یې د تار غوندې نری چینجي وي.

| | | |
|---|---|---|
| نار | | دندان، ساقه. |
| ناغه | | دستگوسه رگونه. |
| ناوك | | غشی، شتی |
| غل | | دخم ماوند، خجوړ. |
| ندا | | غږ، آواز |
| ندی | *nadáy* | ناوده، وړوکی سیند. |
| نغمول | | نغل، په یوه ساتپل. |
| نغوتل | | غوږ نیول، دخبرې منل. |
| نغوته | | اشاره، تلقین. |
| نمړي | | جامې، لباس، کالي. |
| نمط | | طریقه، نوع، روش، رویه |
| | | هغه ډله خلک چې په یوه فکر اوروش وي. |
| نول | | غم، پریشاني، اندوه. |
| نومس | | یادشوی، نومول شوی. |

# و

| | | |
|---|---|---|
| وار | *wārṇ* | غوړه، وړ |
| وبله | | یوتربله. |
| وډلی (وړل) | | ړېزه ړېزه کول، مړل. |
| وشتي | *wášte* | توکي تکالي، لطیفي. |

| | | |
|---|---|---|
| وقر ( وقار ) | | طاقت ، تحمل ، درنبت . |
| ویلار | welā́r | عزم ، اراده ، نیت اومراد . |

## ه

| | | |
|---|---|---|
| همیانه | | هغه تیلی چې پیسې پکې اچوول کیږي ، کیسه . |
| هنده | hánda | مضبوطه اراده ، دزړه غوښتنه ، پرېکړه یوه خبره غوښتل کول . |
| هوك | huk | نیغ ، شخ . |

## ی

| | | |
|---|---|---|
| یرغال | | بیړه ، یرغل ، حمله ، برید . |
| یسار | | کیڼ ، اسان . |
| یمین | | ښی . |

# پای

(c) kotabton.com: The Digital Library

# یادونه :

دتن ترتپا ، پدو دروسته ، درحمن بابا دديوان څېړنې نوري نوې خطي نسخې ترلاسه شوې ، په دغو نسخو کې څېړنې دهغې غزلونه دو چې دتن له غزلو يې بلیتونه زیات دو ، اویايې توپیر سره درلود ، نوځکه موږ نوې لاس ته راغلې غزلې په ضمیمه کې ونیولې ، په دې ضمیمه کې څېړنې دهغې غزلې ښودلې ، چې په تن کې يې نیمګړې شکل مسلم خوندي دی ، لکه دتن د ۸۷ مخ غزله ، چې بشپړه ضمیمې په ۲۸۳ مخ کې راغلې ده ، اویالکه دتن د ۲۴۶ مخ غزله ، چې په بشپړه توګه د ضمیمې په ۲۸۶ مخ کې راغلې ده ، نومحترم لوستونکي به دغه کار زموږ تېروتنه و نه ګڼي .

ادارہ

PROPERTY OF ACKU 4499

(c) kotabton.com: The Digital Library

# COLLECTIVE WORKS
# OF RAHMAN BABA

PUBLISHED

BY

PUSHTU ACADEMY

Government Printing House

1977

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**